# په هېواد کې
# د فقر ستونزه او مخنیوی یې

محصل غازي زاده

۱۳۹۹/۵/۱ لمریز

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب پېژندنه:**

په هېواد کې د فقر ستونزه او مخنیوی یې

لیکوال: محصل غازي زاده

نېټه: د اسد ۱/ ۱۳۹۹المریز

ایمیل: mghazizada@gmail.com

ګرځنده: ۰۷۸۳۵۹۸۵۶۳+

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سریزه** ........................................ ۱

**لومړی څپرکی** ........................................ ۶

**زمونږ په هېواد کې د فقر لاملونه** ........................................ ۶

**لومړی: د فقر طبیعي لاملونه** ........................................ ۷

**دویم: د فقر بهرني لاملونه** ........................................ ۱۲

**دریم: د فقر داخلي لاملونه** ........................................ ۱۶

**۱– د چارواکو او حاکمانو بې کفایتي:** ........................................ ۱۶

**۲– کمونستي کودتا :** ........................................ ۱۶

**۳– خپلمنځي جنګونه:** ........................................ ۱۷

**۵– په هېواد کې مسلسله ګډوډي:** ........................................ ۱۸

**۶– د هجرت او جهاد په مهال خیانتونه:** ........................................ ۱۸

**د حرامخوریو او درغلیو پایلې:** ........................................ ۱۹

**په دنیاکې د خیانت اغیزه :** ........................................ ۲۳

**۷– اوسنی یرغل:** ........................................ ۲۵

**۸– په حکومت کې درغلۍاو فساد :** ........................................ ۲۶

**هېواد ته راغلې مرستې او لګښت یې:** ........................................ ۲۶

**په هېواد کې د بې وزلۍ کچه:** ........................................ ۳۵

**الف– لومړي ۱۶ کلونه:** ........................................ ۳۵

**ب– ۱۳۹۷ لمریز کال:** ........................................ ۳۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج- ۱۳۹۸ لمریز کال: ........ ۳۹
د- ۱۳۹۹ لمریز کال: ........ ٤١
دویم څپرکی ........ ٤٣
د فقر ناوړه اغیزې اوناخوالې ........ ٤٣
لومړی: ناوړه اغیزې: ........ ٤٣
۱- د خلکو پر عقایدو د فقر اغیزه: ........ ٤٣
۲- پر اخلاقو او تګلارو د فقر اغیزه : ........ ٤٥
۳- پر فکر باندې د فقر اغیزه : ........ ٤٦
دویم: ستونزې او ناخوالې ........ ٤٧
۱- ناپوهي: ........ ٤٧
۲- بیکاري: ........ ٥١
۳- ګدایګري (سوال کول ): ........ ٥٢
د ګدایګرۍ د مخنیوي په موخه: ........ ٥٤
۴- ناروغي او مرضونه: ........ ٥٦
۵- خپلمنځي جنګونه : ........ ٥٩
۶- پردیسي او هیواد پرېښودنه: ........ ٦٠
۷-په نشه یې توکو روږدي کیدل: ........ ٦٢
په اړونده مبارزه کې مهم ګامونه: ........ ٦٥
۸- نورو ته احتیاج: ........ ٧١
دریم څپرکی ........ ٧٣
بې وزله او اړمنې طبقې ........ ٧٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړى: بې وزله ښځې:** ............................................ ٧٣

**١– په اسلام کې د ښځې مقام :** .................................... ٧٤

**٢– په ټولنه کې د ښځو محرومتيا:** ................................. ٧٨

**٣– د ښځو حقوقو ته پاملرنه:** .................................... ٧٩

**دويم:بې وزله ماشومان:** .......................................... ٨١

**د ماشومانو ژغورنې ته پاملرنه:** .................................. ٨٤

**دريم: يتيمان:** ................................................ ٨٥

**١– يتيم پالنه يوه مهمه فريضه ده:** ................................ ٨٥

**٢– د يتيم پالنې اجر او ثواب :** .................................. ٨٨

**٣– د يتيم پالنې په اړه احساس:** .................................. ٨٨

**٤– د يتيم ښوونې او روزنې ته پاملرنه:** ............................ ٩٢

**١– د عامو معيوبونو لپاره پروژې:** ................................. ٩٦

**٢– د نابينايانو لپاره پروژې :** ................................... ٩٧

**څلورم څپر کی** ................................................ ٩٩

**د کار او کسب په وسيله د فقر مخنيوى** ............................. ٩٩

**١– په اسلام کی د کار اهميت :** ................................... ١٠٠

**٢– د شتمنيو له سرچينو ګټه اخستل :** .............................. ١٠٤

**٣– د ښارو ځمکو آبادول:** ........................................ ١٠٦

**٤– مستحقو وګړو ته ځمکې ويشل:** ................................. ١١٠

**٥– د ځمکو د غصب مخه نيول:** .................................... ١١١

**٦– د ناروا کښت مخنيوى:** ........................................ ١١٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوکنارو د کرهنې شاليد: ........................ ۱۱۵
۷– د ناروا معاملاتو مخينوی: ........................ ۱۲۰
۸– صنعت ته وده ورکول: ........................ ۱۲٤
۹– سوداګرۍ پاملرنه کول: ........................ ۱۲۷
پنځم څپرکی ........................ ۱۳۰
د فقر په لمنځه وړلو کې د زکات اغيز ........................ ۱۳۰
۱– د زکات مفهوم: ........................ ۱۳۱
۲– د زکات هدف او مقصد: ........................ ۱۳۲
۳ – د زکات اهميت : ........................ ۱۳۳
۴– د زکات نه ورکولو سزا: ........................ ۱۳۵
۵– د زکات مستحقين: ........................ ۱۳۸
۶– د زکات نظام د سمون په موخه : ........................ ۱٤۲
۷– لازمو نوښتونو ته اړتيا: ........................ ۱٤٥
شپږم څپرکی ........................ ۱٤٦
د فقر په مخنيوي کې مسئول اړخونه ........................ ۱٤٦
۱ – شتمن وګړي: ........................ ۱٤٦
۲– عام ولس: ........................ ۱٤۹
۳ – حکومت: ........................ ۱٥٥
د ظالمانه نظام لمنځه وړلو په موخه: ........................ ۱٥٦
۴– خيريه موسسې او ټولنې: ........................ ۱٥۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د الله تعالى محاسبه را په ياد کړئ!** ........ ۱۶۳
**د کارونو د سمون په موخه:** ........ ۱۶۵
**۵ – مصلح شخصيتونه:** ........ ۱۶۶
**الف – د چارو واکو محاسبه کول:** ........ ۱۶۷
**ب – په اسلام کې د يو مامور حيثيت:** ........ ۱۶۹
**ج – د مامور وړتيا او امانتدري:** ........ ۱۷۰
**د – د مامور عبادتي اړخ قوي کول:** ........ ۱۷۱

**اووم څپرکى** ........ ۱۷۳

**په هېواد کې د عدل او انصاف تامينول** ........ ۱۷۳

**۱ – عدل او انصاف يو الهي سنت :** ........ ۱۷٤
**۲ – پرته له عدالته يو نظام نه پايي:** ........ ۱۷۵
**۳ – پرته له اسلامي عدالته بل عدالت نشته:** ........ ۱۸۰
**۴ – د ستونزو حل يوازې په اسلام کې دى:** ........ ۱۸۳
**۵ – د ظلم او زياتي مخنيوى:** ........ ۱۸۶
**۶ – مسئوليت اداء کولو ته بلنه:** ........ ۱۸۹
**الف – د مسئوليت احساس:** ........ ۱۹۰
**ب – د آخرت سزا راپه يادول:** ........ ۱۹۰
**ج – د خائن لپاره بده بيلګه:** ........ ۱۹۱
**د – د خائن حاکم په اړه بد دعائي:** ........ ۱۹۲
**هـ – د عادلو حاکمانو مقام:** ........ ۱۹۳
**و – ځان خادم او اجير ګڼل :** ........ ۱۹٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷-له حرامخوريو څخه پاکه ټولنه:** ............................................ ۱۹۶

**الف- د هر ډول ظلم پر ضد ريښتينې مبارزه:** ........................... ۱۹۸

**ب- د رشوت هره لار بندول:** .................................................. ۱۹۹

**۸- حقوقو سپارلو ته بلنه:** ................................................... ۲۰۱

**۹-مخکې له بيا رغونې انسان جوړونه:** ........................................ ۲۰۴

**۱۰- د لومړنيو خلکو د اصلاح لار خپلول:** ...................................... ۲۰۵

**۱۱- د نيکمرغه ژوندون په لور:** ................................................. ۲۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سريزه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين، وعلى آله و أصحابه و من تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، وبعد، ، ، ،

دغه ليکنه (په هېودا کې د فقر ستونزه او مخنيوی يې) په ټولنه او هېواد کې د عملي ليدل شوو حالاتو او د بې وزلو او فقيرو طبقو د لاس نيوي په پروژو کې د کار کولو د تجاربو له مخې يو داسې انځور دی چې هميش به مې سترګو ته ودرېد.

له نن څخه نولس کلونه مخکې (په ۱۳۸۰ لمريز کې) کله چې زه د هجرت په دِيار (پېښور) کې د يتيمانو د يو پالنځي او روزنتون (مَرکز رِعاية و خِدمة الايتام) مسئول وم، نوموړې پروژه د قطر خيريه ټولنې (جمعية قطر الخيرية) په وسيله د قطر له دولت او د هغې ځای د وګړو لخوا تمويل کيده.کله نا کله به زه د نوموړې ټولنې- چې مرکزي دفتر يې په اسلام آباد کې وه- په استازيتوب د پېښور د اسلامي موسسو د همغږۍ په مجلس (مجلس التنسيق) او د عامو موسساتو د بيړنيو مرستو په اړونده مجالسو کې حاضرېدم، هغه مهال د دې ليکنې فکر راسره پيدا شو، نو د بحث او څېړنې لپاره مې موضوعات ترتيب او تعين کړل.

د يتيمانو د پالنې او کفالت، روزنې او ښوونې، د خيريه موسساتو د بيړنيو مرستو د ويش په عمليه کې بوختيا، د هجرت په چاپيريال او بيا په داخل د هېواد کې د زياتو اړمنو خلکو لکه يتيمان، معذور، نابينايان او د داسې نورو بې وزلو د لاس نيوي په برنامو کې له اړونده حکومتي ادارو سره په همغږۍ د برخې اخستنې په نتيجه کې د دې لېکنې لپاره راسره اړونده مهم معلومات پيدا شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کال ۱۳۸۱ لمریز کې چې کله دغه لیکنه سرته ورسیده، نو د (سهار) په ورځ پاڼه کې چې ځینې بااحساسه افغانانو ورونو پر مخ بیوله او دفتر یې په پېښور کې ؤ، په سلسله وار ډول خپره شوه.

او کله مو چې په کال (۱۳۹۵لمریز) د عقرب میاشت په لومړیو ورځو کې خپل هېواد ته کډه راوکړه، دلته د کابل په کارته نو سیمه کې میشت او (دافغان ولس لپاره د سعودي مرستندویه کمیټې) په دفتر کې په کار باندې مشغول شوم، نو د ځینو ورونو وړاندیز دا وه چې باید دغه لیکنه له بیا کتنې وروسته چاپ او خپرونې ته چمتو شي، همداوه چې د لیکنې په بیا کتنه مې پیل وکړ او د مطالعې په بهیر کې یې په ځینو مطالبو کې د اضافاتو اړتیا ولیدل شوه، نو هغه موضوعات چې تازه کیدل یې غوښتل تازه او نوي شول، او د الله په فضل او مرسته د خپرولو لپاره چمتو شوه.

د کتاب په لومړنیو مبحثونو او موضوعاتو کې د دې ستونزې (فقر او بیچارګۍ) عوامل او لاملونه په ګوته شوي، په ورپسې مبحثونو کې د هغې له امله راپاتې ناخوالې او مشکلات څیړل شوي، او په وروستنیو مبحثونو کې یې د حل لارې یا د ستونزې د مخنیوي چارې تر څیړنې لاندې نیول شوي دي.

لکه څرنګه چې د فقر د ستونزې په عواملو کې د مادي عواملو ترڅنګ معنوي عوامل یاد شوي، نو د مخنیوي په باب کې یې هم د دواړو (مادي او معنوي) عواملو څیړنه او وضاحت شوی دی.

همدارازکه له یوه پلوه د دې څیړنې په بهیر کې د هېوادوالو او ټولنې د فقر او بیچاره ګۍ طبیعي او خارجي لاملونه په ګوته شوي، نو له بله پلوه داخلي لاملونه او اسباب هم څیړل شوي، چې په عامه توګه هغه: په هېواد کې مسلسلې ګډوډۍ، د مسئولینو او چارواکو بې کفایتي، حکومت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلو ټپلو ته د ځينو منسوبو وګړو درغلي او خيانتونه، په ټولنه او ولس کې په پراخه پيمانه ظلمونه، بې عدالتي او بې انصافي ده.

په ليکنه کې پدې باندې تاکيد شوى چې د هېواد په بيا رغونې پروسه کې بايد لومړى د اسلامي لارښوونو په رڼا کې انسان جوړونې ته پاملرنه وشي؛ دا ځکه چې موږ په خپل هېواد کې لومړى د انسان ناجوړې ستونزه لرو، افغانستان د خامو موادو، معدنياتو او عايداتو له پلوه ښه غني دى، خو داچې د کاري وړتيا لرونکو، ريښتينو او امينو وګړو په کار باندې له ګمارنې نه بې برخې دى ؛ نو ځکه له بېلابېلو ستونزو سره لاس په ګريوان دى، چې د هغې له جملې يوه هم اقتصادي ستونزه ده.

دا يو حقيقت دى چې الله تعالى څومره انسانان او مخلوقات پيدا کړي، د هغوى لپاره يې په همغه اندازه د روزۍ خزانې او سرچينې پرانستې دي، نو هغه تصور چې وايي: بايد نسل محدود شي چې روزي کمه نه شي، په پوره توګه غلط دى. دا سهي ده چې کله ناکله د نړۍ په ځينو برخو کې انسانان له قحطۍ او لوږې سره مخ کيږي چې دا يو الهي مصيبت او هم ازمايښت وي، خو د دې دا معنى نه ده چې د ځمکې په ټولو برخو کې دغسې حالت رامنځ ته کيږي او يا د انسانانو د روزۍ وسايل لمنځه وړل کيږي.

که موږ دنړۍ زياترو هېوادونو ته وګورو، نو دا به راته جوته شي چې د انسانانو د روزۍ لپاره پکې کافي سرچينې او زخيرې شتون لري. اوکه خپل ټاټوبي افغانستان ته وګورو، نو دا حقيقت به راته زيات روښانه شي چې د موجوده نفوسو،بلکې د دې څو شمېره زيات نفوسو ته به يې طبيعي سرچينې کفايت او بسنه وکړي.

کله چې داسې ده، نو ولې له اقتصادي ستونزو سره مخ يو ؟ معلومه خبره ده چې ځينې تيل شوي حالات د دې هېواد د خود کفايي په مخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خنډ دي، همداراز د ورتیا لرونکي او مناسبې رهبرۍ، سمې ادارې او امینو لاسونو نشتوالی، یا لږوالی د دی لامل شوی چې دا ملت دې د فقر او نیسمنۍ په لومو کې بند پاتې وي.

که موږ له یوه اړخه په خپل هېواد او ټولنه کې داسې خلک ګورو چې د ثروت او شمتنۍ په ډېروالي کې یو له بله سره سیالي اومسابقې کوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې وینا مصداق ګرځیدلي: ((**وَاللَّهِ لاَ الفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ – البخاري-** او قسم په الله دی چې پر تاسو باندې له فقر نه وېرېږم، لیکن پرتاسې باندې لدې وېره لرم چې دنیا به درته پراخه شي، لکه څرنګه چې پخوانیو خلکو ته پراخه شوې وه،او تاسې به پکې یو له بله سیالي وکړې لکه هغوی چې کوله، نو تاسې به هم داسې تباه کړي چې هغوی یې تباه کړي ؤ)). نو له بله اړخه داسې خلک هم شته چې بیچارګان د لوږې له لاسه مړه کیږي، یا د لوږې او بیچارګۍ له امله په راپاتې ناخوالو لکه: ناروغي، بیکاري، ګدایګري، جهل او ناپوهي او داسې نورو کې ژوند تیروي.

په هېواد کې د داسې ناانډوله حالاتو راتلل چې یو سړی دی د ډېر خورۍ له امله مړ کیږي او بل دې د لوږې او خوړو د نشتوالي له امله کړیږي ..دا په داسې حال کې چې د لومړۍ طبقې یو زیات شمېر د عام ملت د خَولو او زحمت په سر د ناجایزه شتمنیو په وسیله د ژوند لوړې کچې ته رسیدلي او د چارواکۍ، زورواکۍ، درغلۍ او خیانتونو له لارې یې بې شمېره مالونه او شتمنۍ تر لاسه کړي دي.

نو ترڅو چې په هېواد کې لومړیتوب انسان جوړونې ته ورنه کړ شي،د یرغل مخنیوی ونه شي، د بهرنیانو لاس پوځي ونه شړل شي، پر منصب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظیفې باندې ورټیا لرونکي، امین او ریښتونې وګړي ونه ګمارل شي، د زوراکیو، درغلیو، خیانتونو او غصبونو مخه ډب نه شي، بیت المال د ټولو هېوادوالو حق ونه ګڼل شي،د ظالمانه طبقاتي نظام جرړې ونه ویستل شي او په هېواد کې په واقعي معنی اسلامي نظام - چې یو مهم بنسټ یې عدالت او انصاف دی- قایم نه شي، نو پدې هېواد کې امن، د نظام پایښت، آرامي، سوکالي، اقتصادي پرمختیا رامنځ ته کیدل او د فقر او بې وزلۍ ختمیدل نا شوني او مستحیل دي.

له الله تعالی څخه غواړم چې چې زموږ دا څېړنه په خپل دربار کې قبول او منظور وګرځوي. او هغو ورونو او ملګرو چې د دې لیکنې د ځلیدو او ورڅخه د ګټې اخستنې په موخه راته لازمې لارښوونې کړې، یا یې د دې په ډیزاین کې برخه اخستې، او هغو ورونو چې د چاپ لګښت یې په غاړه اخلي، یا یې د موجوده رسنیو له لارې خپروي..دوی ټولو ته له الله تعالی څخه د دنیا او آخرت اجرونه غواړم.

محصل غازي زاده

نیټه: د اسد ۱, کال ۱۳۹۹ لمریز

(۱ ذو الحجة / ۱۴۴۲ هـ ق، ۲۲/ ۷/ ۲۰۲۰ز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## زمونږ په هېواد کې د فقر لاملونه

د فقر د مفهوم په هکله دنياوي فلسفي او فکري مذهبونه خپلې ځانګړې اراوې لري چې زياتره يې له حقيقته لرې دي، خو اسلام چې د هغې په باره کې کوم نظر وړاندې کړی پر حقيقت او واقعيت ولاړ دی .د اسلام د سپيڅلي دين له نصوصو او ويناو دا جوته کيږي چې: فقر يو طبيعي مصيبت او انسان ته ورپيښه ستونزه ده چې بايد وتنبولای شي.

پيغمبر صلى الله عليه وسلم له فقر څخه په الله تعالى باندې پناه غوښتې ده او دا دعا به يې کوله ((اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ [1]- ای الله زه درڅخه له کفر او نيسمنۍ پنا غواړم)).

د فقر مخالفه پديده شتمني ده کومه چې د انسان لپاره يو الهي نعمت او پيرزوينه بلل کيږي په قرآن کريم کې الله تعالى پرخپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم د دغه نعمت احسان کوي او فرمايي: ((وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى)). [2] ته يې نيسمن موندلی وې، نو شتمن يې کړې.

الله تعالى په دنيا کی خپلو نيکو بندګانو ته مال او شتمني عاجله ورکړه ګرځولې ده په قرانکريم کی يې داسې فرمايلي: ((فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ۝ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا ۝ وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا ۝ )) [3] نوح عليه السلام خپل قوم ته وويل پس ښښنه وغواړئ له خپل پالونکي بيشکه چې هغه ښښونکی دی پرتاسې به پرلپسې اورښت وکړي، او مرسته به مو وکړي په ورکړې د مالونو او اوزامنو

---

[1]. مسند أحمد , ابن ابي شيبه

[2]. الضحى ٢.

[3]- نوح ١٠-١٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اولادونو)، او وبه گرځوي تاسې ته باغونه او ويالې.او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:((نِعْمَ المَالُ الصَّالِحُ للمَرءِ الصَالِحِ)).[٤] د نيك وگړي لپاره پاک او بهترين مال ښه دی.

په بشري ټولنو کې د فقر او نيسمنۍ لاملونه او عوامل يو تر بله سره يو څه توپير لري، ليکن ځيني يې سره شريک دي، چې هغه طبيعي پيښې دي لکه : زلزلې، وچکالي، سيلابونه او داسې نور.

ترکومه ځايه چې زمونږ ټولنې پورې اړه لري، نو په عمومي توگه د طبيعي لاملونو سربېره دوه عمده لاملونه هم شته، چې هغه عبارت دي له: خارجي تيري، او دوېيم له داخلي گډوډيو او درغليو څخه چې په لاندې کرښو کې يې ځرگندونه او څېړنه شوې ده.

## لومړی: د فقر طبيعي لاملونه

فقر او نيسمني د انسان لپاره يو ازمايښت او ستونزه ده، او په ځيني حالاتو کې د انسانانو لپاره الهي نيونه ، او عذاب وي چې د هغوی د بدو کړنو له امله رامنځ ته کيږي. زمونږ په ټولنه کې د فقر طبيعي لاملونه کوم چې تر اوسه پورې واقع شوي او يو شمېر هېوادوال يې له نيسمنۍ او نورو ناخوالو سره مخ کړي مهم يې پدې توگه دي:

۱ -زلزلې: له پخوا راهسې د هېواد په بيلابيلو برخو کې زلزلې واقع شوي دي،او د ځينو خطرناکو او سختو زلزلو له امله په زرونو خلک مړه، کورونه ړنګ او ابادې او زراعتي ځمکې زيانمنې شوې.

۲ - وچکالي: زمونږ هېواد کې د وچ کاليو له خطرونو سره مخ دی او د انقلاب پدې څلورو لسيزو کې يې هم څو ځلې ځپلی اوهېواد والو ته يې ډېر ځاني او

---

[٤] - مسند امام احمد، الأدب المفرد للبخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مالي تلفات اړولي دي.

۳ - سیلابونه او ملخان: د هېواد په بیلابیلو برخو کې د سیلابونو راتلل چې کورونو او ابادو ځمکو ته یې ډېر تاوانونه اړولي. همدارنګه د هېواد په ځینو سیمو کې د ملخانو راپیداکیدل، چې زراعت ته زیات تاوانونه رسوي، د ولس د نیستئ او فقر له طبیعي لاملونو څخه دي.

د دې طبیعي پېښو او ناخوالو عوامل څه دي، او د هغې د مخنیوی لپاره باید کوم اسباب وکارول شي؟

ځواب دادی چې طبیعي ناخوالې او مصیبتونه په زیاترو حالاتو کې د انسانانو د بدو عملونو له امله رامنځ ته کیږي لکه څرنګه چې بې د الله تعالی او د هغه د استازي (صلی الله علیه وسلم) په ویناوو کې څرګندونه شوې ده:

الله تعالی فرمايي: ((وَمَآ أَرۡسَلۡنَا فِي قَرۡيَةٖ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذۡنَآ أَهۡلَهَا بِٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾))[٥] او موږ هیڅ یوې سیمې ته پیغمبر نه دی لیږلی، مګر داچې د هغې اوسیدونکي مو په سختیو (لکه فقر) او تکلیفونو (لکه ناروغیو) اخته کړي و، د دې لپاره چې هغوی عاجزي وکړي او ایمان راوړي.

الله تعالی فرمايي: ((وَلَقَدۡ أَخَذۡنَآ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾)).[٦] یقینا چې موږ د فرعون قوم د وچکالئ او په نقصان د میوو سره مواخذه کړي ؤ، د دې لپاره چې پند واخلي.

[٥]. الاعراف ۹۴
[٦]. الأعراف ۱۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمايي:((فَٱرۡتَقِبۡ يَوۡمَ تَأۡتِي ٱلسَّمَآءُ بِدُخَانٖ مُّبِينٖ ۝ يَغۡشَى ٱلنَّاسَۖ هَٰذَا عَذَابٌ أَلِيمٞ ۝)).[7] پس منتظر اوسه (ای محمده! دې قريشو ته) د هغه ورځې چې اسمان ورته لوګی ښکاره کړي ، پداسې حال کې چې هغوی به پټ کړي او دا به دردناك عذاب وي.

د دې آيت په تفسير کې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ويلي :((کله چې قريشو اسلام ونه مانه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دښمنۍ کې مستمر پاتې شول، نو هغه ورته داسې خيرا (بد دعائي) وکړه چې الله تعالی دې پر هغوی باندې د يوسف (عليه السلام) د وخت وچکالي راوړي ، نو همداسې وشول قريش دومره لوږې او تکليف را واخيستل چې هډوکي او مردارې يې وخوړلې، او چې بره اسمان ته به يې کتل، نو لوګی به يې په نظر راته، لکه څرنګه چې الله تعالی پدې وينا کې ذکر کړي دي)).[8]

د حديثو په روايتونو کې د ځينو ګناهونو په وجه د مختلف قسمه عذابونو او مصيبتونو د راتللو خبر ورکړ شوی:

په يو روايت کې داسې ذکر شوي دي ((عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ,أَنَّهُ قَالَ: مَاظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلاَّ أُلْقِيَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبُ، وَلاَ فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلاَّ كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ، وَلاَ نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلاَّ قُطِعَ عَنْهُمُ القطر، وَلاَ حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ الْحَقِّ إِلاَّ فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ، وَلاَ خَتَرَ قَوْمٌ بِالْعَهْدِ إِلاَّ سَلَّطَ عَلَيْهِمُ الْعَدُوَّ.))[9] له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه وايي:(( په هيڅ يو قوم کې خيانت او درغلي نه ده څرګنده شوې، مګر داچې د هغوی په زړونو کې وېره اچولی شي، په هيڅ

---

٦- الدخان ١٠ - ١١

[8]- وګوره: تفسير ابن کثير ۴ / ۱۴۹، چاپ: مکتبه حقانيه.

[9]-- موطأ إمام مالك :كتاب الجهاد ، باب ماجاء في الغلول

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو قوم کې زنا نه ده خپرېږي مګر داچې د هغوی تر منځ به مرګ ډېر شي، هيڅ يو قوم په پيمانه، او تله کې کمې نه کوي مګر داچې له هغوی څخه به روزي پرې شي او هيڅ يو قوم په ناحقه سره پريکړه نه کوي مګر داچې د هغوی ترمنځ به په خپلو کې وينه تويدنه زياته شي، او هيڅ يو قوم تړون نه ماتوي مګر داچې الله تعالی به پرې دښمن مسلط کړي)).

يو بل روايت پدی مفهوم دی چې:((کله په يو قوم کی په ښکاره سره زنا او فاحش کارونه وشي، نو هغوی به په طاعون، اوداسې ناروغيو وازمايل شي د کومو پواسطه چې پخواني خلک نه و ازمايل شوي، او کله چې خلک په تله او پيمانه کې کمی وکړي، نو په وچکالۍ، رزق تنګۍ، او د پاچا په تيري کولو به اخته شي، او که چېرته له زکات ورکولو څخه انکار وکړي، نو له بره اسمانه به ورباندې باران بند شي، او که څاروي نه وي نو هيڅکله به پرې اورښت ونه شي، او که تړون ماتول شروع کړي، نو دښمنان به پرې مسلط شي او لدوی څخه به هغه څه هم واخلي چی ددوی په لاسونو (ملکيت) کی دي، او که چېرته د هغوی مشران او حاکمان پرهغه څه باندې پريکړه ونه کړي څه چې الله تعالی په خپل کتاب کې رانازل کړي، نو الله تعالی به ددوی ترمنځ جنګ خپلمنځي وګرځوي))[۱۰]

زلزلې چې د فقر او خوارۍ او د قومونو د تباهۍ يو مهم لامل بلل کيږي، او داسې يو عذاب دی چې الله تعالی د هغې پواسطه ځينې پخواني قومونه د مکملې تباهۍ سره مخ کړي دي او د دې امت په بدو خلکو چې راځي دهغوی لپاره به عذاب ، او د نيکانو خلکو لپاره به يو ازماينښت وي، ترڅو توبه وباسي او دالله تعالی طاعت او بندګۍ ته سهي رجوع وکړي.

---

[۱۰]- سنن ابن ماجه: کتاب الفتن باب ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يو روايت کی راغلي چې: ((کله چې د موٌمنانو مور عائشه رضي الله عنها د زلزلې اړوند وپوښتل شوه، نو هغې وويل:کله چې خلک زنا روا وګڼي، شراب وڅښل شي، د موسيقي الات ( په زياته اندازه ) وغږول شي الله تعالی به غيرت ونيسي (په غصه شي) ځمکې ته به ووايي پدوي باندې وخوځېږه (زلزله شه) نو پرې وبه وخوځېږي)). په يو بل روايت کې راغلي چې :((د عمر رضي الله عنه د خلافت په وخت کې ځمکه وخوځيدله، نو هغه وويل :ای خلکو داڅه وشول؟ څومره په جلتۍ سره مو نوي کارونه (ګناهونه) وکړل .که چېرته دا (ځمکه) دې حالت ته بيا راوګرځيدله، نو له تاسې سره به بيا ونه اوسم)). او کعب الاحبار رحمه الله ويلي: ((کله چې په ځمکه کې ګناهونه وشي، نو د الله تعالی له ويرې ځمکه په خوځيدو شي))[11]

د طبيعو پيښو څخه د ژغورنې او له آفتونو څخه د خلاصون لارې چارې دادي چې خلک په انفرادي او ټولنيز شکل سره د الله تعالی طاعت او بندګي ته وروګرځي، په اخلاص سره توبه وباسي،خپل عملونه سم کړي، چې همدا يې لومړی او اساسي حل بلل کيږي، همدارنګه له الله تعالی نه ښښنه و غواړي لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: (( **فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا، يُرْسِلِ السَّمَاء عَلَيْكُم مِّدْرَارًا، وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا** ().[12]ما (نوح عليه السلام) وويل (خپل قوم ته): له خپل رب نه ښښنه وغواړئ، بيشکه چې هغه خورا ډېر ښښونکی دی، هغه به پرتاسې له آسمان څخه ښه ورښتونه وکړي، مال به درکړي، اولادونه به درپه برخه کړي، ستاسې لپاره به باغونه پيدا کړي، او ستاسې لپاره به ويالې وبهوي.

---

[11]-- دغه روايتونه د امام ابن قيم الجوزيه په کتاب: الجواب الکافي لمن سأل عن الدواء الشافي) کې ذکر شوي دي.

[12]. نوح ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم: د فقر بهرني لاملونه

زمونږ د ټولنې د فقر او بې وزلۍ خارجي عوامل پر هېواد باندې د خارجیانو تیری، او یرغل دی، په ځانګړې توګه د روسانو یرغل او تیری کومو چې غوښتل افغانستان د خپلې امپراطورۍ تابع کړي، د هېوادوالو دین او کلتور بدل او پکې د الحاد، سوسیالستۍ او بې دینۍ پر بنسټ رامنځ ته شوي رژیم ته پایښت ورکړي.

دا هم د ولس په وړاندې د لمر په څیر روښانه ده چې له روسانو پرته نورو پردیو خاصتًا ځینې ګاونډیو زمونږ د هېواد د کمزورتیا چې پکې اقتصادي کمزورتیا او د افغانانو نورو ته محتاج کول هم شامل دي پوره هڅې کړي دي.او د امریکا او ناټو په مشرۍ برید او یرغل چې لا تر اوسه پورې د خپلو لاس پوڅو په مرسته د هېواد په پرمختیا او پیاوړتیا کې مهم خنډ دی؟

پدې ځای کې یوه پوښتنه مطرح کوو چې بهرنیانو ته دغه لاره چا هواره کړې او د هېواد په بربادۍ او تباهۍ کې لومړني مسئولین څوک دي ؟

ددې ځواب د لمر په څیر روښانه دی، هغه دا چې په خپله ددې خاورې ځینې بچیان ؤ چې پردیو ته یې د یرغلونو لارې هوارې کړې دي، او متاسفانه چې دغه لړۍ لا تر اوسه روانه ده. نو لومړی باید همدغه خاین او غدار وګړي ملامت کړی شي، او پدې لړۍ کې له ټولو ترمخه لومړی خلقیانو او پرچمیانو غداري کړې، همدوی ؤ چې د روسانو پر مټ باندې یې کودتا وکړه او د هغوی یرغل لپاره پول وګرځیدل.

روسانو چې زمونږ په هېواد کې هر اخیزه جنایتونه وکړل، د اقتصادي جنایت په برخه کې هغوی مخکې له راتګه د تجارت او سوداګرۍ له لارې دا هڅې کړې وې څو زمونږ د هېواد سوداګریز او اقتصادي چارې انحصار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خپلو ګټو لپاره مهار کړي، هغوی زموږ د ملت ترټولو لویه شتمني او طبیعي منابع په خپل واک کې کړې ؤ؛ د دې لپاره چې له یوې خوا زموږ هېواد فقیر او نورو ته اړمن پاتې شي او له بلې خوا هغه طبیعي منابع او زخایر د خپلو ګټو لپاره وکاري.

له دویم نړیوال جنګ نه مخکې زموږ د هېواد په شمال کې د نفتو تر ټولو سترې منابع د یوې کمپنۍ په نوم د (انلاند اکسپلوریشن) لخوا کشف او د راویستلو ټولې چارې یې سر ته ورسیدې، لیکن د روسانو د مزاحمتونو له مله هغه کمپنۍ له ساحې وویستل شوه، ټول اوراق او معلومات یې د کمونستي بوډاګیانو په لاس کې ولویدل او بیا چې کله عملا پدې هېواد باندې روسانو یرغل وکړ او تر خپلې ولکې لاندې یې راوړ، نو زموږ له هېواده یې زیات نفت اوګاز خپلو مستعمرو ته نقل کړل.

روسانو چې د ګازو د پیمایش او اندازه ګیرۍ لپاره کوم مایشینونه د آمو د سیند پر غاړه ځای پر ځای کړي و د همغوی په اختیار کې و، بل چا دا حق نه درلود چې وپوښتي هره ورځ څومره اندازه ګاز تولید او انتقال مومي. هغو نفت خام نقلول او هلته په شوروي کې به تصفیه کیدل او له همغه ځایه به بیرته پر افغانستان باندې د پیسو په بدل کې خرڅیدل، په دې معنې چې زموږ له زخایرو به پر موږ باندې پلورل کیدل او پیسې به یې د روسانو لاسونو ته ورتللې.[۱۳]

زموږ پر هېواد باندې د روسانو د مستقیم یرغل او استعمار په موده کې هېوادوالو ته خورا زیات هر اړخیز تاوانونه واړول. د اقتصاد په ډګر کې د هغوی د نهو کلونو د تیري د لګښت اندازه ۷۰ بلیونه ډالر ښودل شوې، چې دغه ټول لګښتونه یې زمونږ د هېواد له اقتصادي سرچینو

[۱۳] وګوره: جنایات روسیه در افغانستان، دکتور حق شناس، ص ۶۲- ۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه پوره کړي دي؛ ځکه چې روسان په خپله د اقتصادي بحران سره مخ ؤ او دې ته اماده نه ؤ چې د جنګ مصارف پر ځانونو ومني .

هغو چې د افغانستان د ویجاړولو لپاره کوم ټانکونه ، الوتکې ، عراده جات او ماشینونه راوړي ؤ په بدل کې یې د دې هېواد طبیعي موارد لکه: معدنونه، طبیعي ګاز او داسې نور په زیات ښکته او ارزان نرخ سره ځانونه ته حساب کړل او یوړل.

د ځینو څېړنو له مخې د روسانو او کمونستي رژیم په وخت کې تر ۱۹۹۰ زیږدیز کال پورې د افغانستان د اقتصادي مواردو بنسټیزو سرچینو ته د تاوان کچه په لاندې شکل سره ښودل شوې:

۱ - له ۲۳٪ څخه تر ۸۵٪ پورې د هېواد په اطرافي سیمو او زراعتي ځمکو کې د دهقانانو کموالی.

۲ - له ۵۵٪ څخه تر ۷۷٪ پورې د زراعتي پیداوار او وسایلو ویجاړېدل او لمنځه تلل.

۳ - ۴۷٪ په زراعتي پیداوار کې کموالی .

۴ - ۷۵٪ د صنعتي پروژو په توانایي کې کموالی .

۵ - ۷۰٪ د پخو (قیر شوو) لویو سرکونو خرابیدل او لمنځه تلل.

۷ - ۲۵٪ د فرعي او خامو سرکونو لمنځه تلل.

۸ - ۵۰٪ د زراعتي ځمکو کموالی .

۹ - ۶۰٪ د اوبو او ابیاری د سیستم لمنځه تلل .

۱۰ - ۵۴، ۵٪ په مکمل ډول د قریه جاتو او کورونو ورانول او بربادول.

۱۱ - ۴۷، ۵٪ د سترو څارویو (غوایان ، اوښان اونور) لمنځه تلل.

۱۲ - ۶۸٪ د کوچنیو څارویو (وزو او میږو) تلف کیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ - ۵۹٪ د روغتونونو او روغتيايي مرکزونو ړنګېدل او لمنځه تلل.

۱۳ - نژدې د ( ۲۰۰۰ ) ښوونځيو د ودانيو (تعميرونو) ړنګېدل.

۱۴ - ۵۰٪ د بريښنا د ليږد (انتقال) د تارونو پرې کېدل او لمنځه تلل.

۱۵ - ۷۹٪ د ساتل شوي (زخيره شوي) طبيعي ګاز کموالى.

۱۶ - ۵۰٪ د ولسي پيداوار کموالى.[۱۴]

او داسې نور هغه تاوانونه چې د روسانو او کمونستانو د تيري په نتيجه کې زموږ ولس او ملت ته ورسيدل.

د مرغومي تر شپږمې وراندې افغانستان د سرو لښکرو د يرغل لپاره د بشپړېدو پړاوونه وهل د دې پړاوونو لوبغاړي کمونستان و چې د ظاهرشاه او داودخان په دورو کښې يې پالنه د وخت د حکومتونو په غاړه وه

روسانو د مرغومي(جدي) په شپږم د يو نيم لک وحشي سرو لښکرو په بدرګه پر افغانستان د بمونو باران او سور سيلاب جوړ او پوځي يرغل وکړ او ببرک کارمل يې په ټانګ سپور تر ارګه را ورساوه. د ۱۳۵۸ کال د جدى شپږم تور ماښام د افغانستان په تاريخ کې هغه کرغېړن ماښام دى چې هيڅکله به د هغه د وحشت صحنې د افغانانو له ذهن څخه ونه وځي.

د روسي يرغلګرو په افغانستان کې د اشغال ټوله موده لس کلونه وه, په ياده موده کې دوه ميلونه افغانان شهيدان او په همدومره شمير ئې معيوب او يتيمان کړل ، ترلسو ميلونو زيات افغانان يې دخپلو وحشتونو په دوام د خپل وطن ، کليو او کورونو پريښودلو ته اړ کړل.

۱۴ - وګوره: اقتصاد افغانستان و ۱۲ عاما من الحرب ، د توفيق غانم، ص ۲۰۶ - ۲۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم: د فقر داخلي لاملونه

لدې لاملونو څخه زموږ مراد هغه عوامل دي چې د هېواد له دننه څخه د ولس د بچیانو او په ځانګړي ډول د چارواکو او حاکمانو له پلوه د رعیت په هکله د مسئولیت په سمه او سهي توګه نه ادا کولو، او د هغوي د بې کفایتئ له امله منځ ته راغلي، همدارانګه کمونستي کودتاه، له هغې وروسته د چوکۍ او منصب لاس ته کولو په خاطر د کشمکشونو او پرلپسې خپلمنځي جګړو له امله منځ ته راغلي دي، په لاندې نقاطو کې د دې لاملونو وضاحت شوی دی:

### ۱- د چارواکو او حاکمانو بي کفایتي:

زموږ د هېواد د فقر او نیستمنۍ پدېده له کمونستیي کرغېړنې کودتا نه ترمخه هم شتون درلود، د ظاهر شاه د حکومت په دوران کې افغانستان د نړۍ له غریبو او نیستمنو هېوادونو له جملې شمېرل کیده، سره لدې چې په شلمې میلادي پیړۍ کې د ټیکنالوژۍ د پرمختګ له لارې کیدای شو د هېواد د خامو موادو، معادنو او صادراتو له لارې دا هېواد خود کفاء شي، خو د حاکمانو د بې کفایتۍ له امله داسې ونه شو، نو هغه مهال د هېوادوالو د فقر او نیسمتنۍ زیاتره پړه پر چارواکو او حکومتي اداري باندې اچول کیږي.

### ۲- کمونستي کودتا:

په کال ۱۳۵۷المریز د ثور د میاشتې په ۷ مه نیټه چې کمونستانو کودتا وکړه او د ښاغلي سرداراداود حکومت یې د زور له لارې نسکور کړ، د دې کرغېړنې کودتا موخه او هدف معلوم ؤ، ملت او ولس د هغې عاملین او پیروان هم پیژندل چې څه غواړي او څه کوي...

له نوموړې کودتا وروسته د مرغومي په شپږمه نیټه ( کال ۱۳۵۸المریز) په افغانستان باندې د داخلي کمونستانو په پلوئ د روسانو مستقیم یرغل او

(c) ketabton.com: The Digital Library


تيری د افغان مسلمان ولس د دين، هېواد او هويت لمنځه وړنې په موخه پيل کيدل، د افغانستان په تاريخ کې يوه لويه پيښه وه چې د الله تعالی په مرسته او د سپېڅلي جهاد په برکت باندې په شاه وتمبول شو..

د مرغومي تر شپږمې وړاندې افغانستان د سرو لښکرو د يرغل لپاره د بشپړېدو پړاوونه وهل د دې پړاوونو لوبغاړي کمونستان ؤ چې د ظاهرشاه او داودخان په دورو کښې يې پالنه د وخت د حکومتونو په غاړه وه.

د هېواد د فقر اوبې وزلۍ د مخنيوي او د اقتصادي پرمختګ په ميدان کې د کمونستانو د اشعار (کور کالي او ډوډۍ) په حقيقت کې يوه تير ايستنه او دوکه وه، هغوی پر ځای د دې چې دغه ژمنه او شعار پوره کړي، زياتره هېوادوال يې له کور کاليو او ډوډۍ څخه بې برخې کړل.

دکمونستي سپيره نظام له امله زموږ په هېواد کې فقر او بيچاره ګي لا پسې زياته شوه او هغه مخکې ذکر شوې تاوانونه چې روسانو زموږ هېواد ته اړولي دي د هغې اصلي علت او لامل همدغه بدبخته کمونستان ؤ؛ ځکه همدوی د روسانو مداخلې لپاره لار هواره کړه او زموږ د مسلمان ملت دين، ابرو، وطن او شتمني يې له خطر سره مخ کړه..

**۳- خپلمنځي جنګونه:**

کله چې له افغانستان څخه د کمونستانو د رژيم ټغر ټول شو او په کال ۱۳۷۱ لمريز د ثور په اتمه مجاهدين کابل ته راننوتل، په هېواد کې د آزادۍ شعارونه ورکړل شول.. نو د مجاهدينو د تش په نامه حکومت رامنځ ته کيدو سره يوه نوې مرحله پيل شوه. هغه مهال د دې تمه کيده چې هېوادوال به له هوسايي، آرامي او په خپل وطن کې د ابرو او عزت ژوند کولو څخه برخمن شي او فقر او بې وزلي به د صفر په لور حرکت وکړي، خو متاسفانه داسې ونه شول، بلکې د هيلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



توقع خلاف ولس او ملت د سترو ګډوډیو، ستونزو او ناورینونو ښکار وګرځید چې دغه لړۍ لا تراوسه پای ته نه ده رسیدلې. الله تعالی دې بې په خپل فضل او کرم سره ختمه کړي!

**۴– په هېواد کې مسلسله ګډوډي:**

د هېواد د پرلپسې جنګونو، نا امنیو او ګډوډیو په نتیجه کې د دولت ځینې مالونه او شتمني (بیت المال) شخصي جیبونو ته ولاړ، او ددې زمینه برابره شوه چې ځینې خاین عناصر، ګوندونه او باندونه حکومتي بانکونه او مئوسسې چور کړي، بیت المال او حکومتي عایدات لوټ کړي، همداراز د ملت په عامه ملکیتونو او پانګو کې د ناوړه تصرفاتو لپاره لارې هوارې شي.

**۵– د هجرت او جهاد په مهال خیانتونه:**

د یادولو وړ ده چې د روسانو او کمونستانو په مقابل کې د جهاد او سپیڅلي مقاومت پر مهال زموږ یو زیات شمېر هېوادوال مهاجرین شول، او هلته د هجرت په دیار کې د مهاجرینو په سر باندې په پیسو راټولولو کې هم پوره درغلۍ، اوخیانتونه وشول.د ځینې جهادي تنظیمونو یا ډلو ټپلو د مشرانو او لوړ پوړو مامورینو لخوا هغه مالونه چې د بې وزله مهاجرینو، کونډو او یتیمانو او یا په سنګر کې د پاتې کیدونکو مجاهدینو کورنیو لپاره رالیږل شوي وه، د هغوی شخصي جیبونو ته ولاړل، او د دې ستر مسئولیت په اداء کولو او د دغسې امانت خپلو حقدارانو ته په سپارلو کې پاتې راغلل. همدارنګه یو تعداد داسې وګړي هم وه، چې د جهاد او جنګ په اسلحو او وسایلو کې یې درغلۍ وکړې او یو زیات شمېر نورو بیا د غنیمت په مالونو کې خیانت وکړ..

نو د مهاجرینو او یا هېوادوالو په حقونو کې دغسې ناوړه تصرفات د دې لامل شول چې ځینې هېوادوال په فقر او بې چارګۍ کې ښکېل او ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا کړي، او يا د فقر له ناوړه ستونزو او ناخوالو سره مخ شي.

**د حرامخوريو او درغليو پايلې:**

پدې شک نشته او مسلمان پدې باندې کلک باور لري چې حرام کار ناوړه انجام او بدې پايلې لري. د آخرت ترڅنګ په دنيا کې هم ګناه بد اثر لري، نو بايد چې يو مسلمان له هر راز ګناه څخه ډډه وکړي.

د حرامخور مسلمان دعاء نه قبليږي، همدارنګه د حرامو له امله يې په کور کې بې برکتي رامنځ ته کيږي، له پريشانيو او ستونزو سره مخ کيږي، او هر چې د آخرت سزا ده، نو هغه ډېره خطرناکه او سخته ده. رسول الله صلی الله عليه فرمايلي: (( وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ, فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ )).[۱۵] او د چا غوښه چې پر حرامو راغټه شي، نو د دوزخ زيات وړ دی. ( چې پکې داخل شي).

نو هغه وګړي چې بيت المال يې لوټ کړی وي، د ولس په عامو ملکيتونو کې يې لاس وهنې کړي وي، د بې وزلو، يتيمانو او کونډو، مجاهدينو او مهاجرينو مالونه يې په ناجايزه طريقه اخستي وي د جهاد په غنيمتونو کې يې خيانتونه کړي وي.. لدې حقونو څخه دې په دنياکې ځانونه خلاص کړي ، او که داسې ونه کړي، نو د آخرت د محاسبې او مواخذې انتظار دې باسي.

بايد چې يو مسلمان د حرامخورۍ، درغلۍ او په بيت المال کې د ناوړه استفادو په وړاندې هغه سخت وعيدات را په يا د کړي، توبه وباسي، هغه غلاء کړي مالونه د مسلمانانو په عامو مصالحو کې ولګوي او يا يې بيت المال ته وسپاري.

علماء وايي: هغه ګناه چې د بنده حق سره تړاو لري، نو دتوبې يو شرط يې دادی چې حقدار ته يې حق وروګرځول شي او که د ټاکلي شخص حق نه وي، بلکې د بيت المال پورې اړه لري، نو که بيت المال وي هغې ته يې ورګرځوي او

---

[۱۵]. المعجم الاوسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نه وي، نو د مسلمانانو په عامه کارونو کې یې مصرف کړي.

د خیانت د بدوالي په هلکه الله تعالی فرمایي: (( وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ)).[16] پیغمبر هیڅ شی نه پټوي او هر څوک چې کوم شی پټ کړي، نو د قیامت په ورځ به یې راوړي او بیا به هر چا ته د هغه د عمل بدل پوره ورکړ شي او هیڅ ظلم به پرې ونه کړای شي)). پدې آیت کریمه کې دغسې وعید د هر خائن لپاره دی برابره خبره ده چې له غنیمت او یا بیت المال څخه یې لږ څه غلاء کړي وي او یا ډېر.

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي: (( یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ په منځ کې ودرید او د خیانت په باره کې یې خبرې اترې وکړې، خیانت یې ډېره لویه او بده ګناه وګڼله تر دې یې وفرمایل: له تاسونه دې څوک داسې ونه ګورم چې د قیامت په ورځ په داسې حال کې راشي چې پر څټ باندې یې اوښ وي او هغه بړېږي. هغه سړی به ما ته وایي ای د الله رسوله ما خلاص کړئ، زه به ورته وایم: تا ته هیڅ ګټه نه شم رسولی، ما خو په دنیا کې د الله حکم درسولی و. زه دې په تاسو کې داسې څوک ونه ګورم چې د قیامت په ورځ پداسې حال کې راشي چې پر څټ باندې یې آس وي او هغه خنېږي. هغه سړی به ما ته وایي ای د الله رسوله له ما سره مدد او مرسته وکړئ! زه به ورته وایم زه هیڅ واک او اختیار نه لرم چې له تاسره مرسته وکړم.ما د الله حکم در رسولی و.

زه دې په تاسو کې داسې څوک ونه ګورم چې د قیامت په ورځ پداسې حالت کې راشي چې پر څټ باندې یې ګډه (یا چیلئ) وي او هغه باء باء آواز کوي، دای به وایي ای د الله رسوله له ماسره مرسته وکړه، زه به ورته وایم زه هیڅ ډول اختیار نه لرم په دنیا کې مې د الله حکمونه درته بیان کړي و.

[16]. آل عمران ۱۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تاسو کې داسې څوک ونه وينم چې د قيامت په ورځ پداسې حالت کې راشي چې په څټ يې يو انساني نفس (غلام يا وينځه) وي او هغه چيغې وهي. ما ته به ووايي ای د الله رسوله مرسته راسره وکړه او لدې حالت نه مې خلاص کړه، زه به ورته ووايم: زه هيڅ واک او اختيار نه لرم، ما په دنيا کې د الله پيغام درسولی وه.

او زه دې په تاسو کې داسې څوک ونه وينم چې د قيامت په ورځ راشي او پر څټ باندې يې هغه پاڼې وي چې د خلکو حقوق پکې ليکل کيږي (يا جامې وي) هغه به حرکت کوي او خوځيږي به، دای به ما ته وايي ای د الله رسوله مدد راسره وکړه! زه به ورته ووايم: زه له تاسره هيڅ نه شم کولی، ما تا ته په دنيا کې د الله حکم درسولی و.

همدارنګه زه دې په تاسو کې داسې څوک ونه مومم چې په قيامت کې راشي پر څټ باندې يې سره زر او سپين زر ( يا بې روحه مال) وي، ما ته به وايي يا رسول الله! له ما سره مرسته وکړه، زه به ورته وايم چې له تا سره هيڅ نشم کولی ما تا ته د الله دين بيان کړی و)).[۱۷]

د حديثو شارحين وايي: د څناورو په آوازونو او د کاغذونو د پاڼو په حرکت او خوځيدو کې دا حکمت دی چې کوم څيز يې پټ کړی وي هغه به په خپل آواز او په خپله ژبه سره شور کوي. چې په دې سره به دغه خائن انسان له ويرې سره مخ شي او د خلکو ترمنځ به رسوا شي. ټول خلک به د هغه خيانت په خپلو سترګو ويني او د هغو څيزونو په بارولو به ورته ډېر سخت تکليف رسيږي.

په يو روايت کې ذکر شوي: د خيبر له غزا څخه دراګرځيدو په مهال کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وادي القُری ځای ته روان و يو مريې صحابي په غشي باندې ولګيداو مړ شو، اصحابو وويل: شهيد شو او جنت دې يې مبارک

۱۷. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: داسې هیڅکله نه ده، زما دې قسم وي په هغه ذات چې د محمدنفس یې په لاس کی دی یقینا هغه څادر چې د خیبر په ورځ یې د غنیمت له تقسیم څخه مخکې اخستی اور ورباندې بلوي.پدې وینا اوریدو سره خلک ووېریدل، یوسړي د بوټ (یا موزې) یو مزی یا دوه مزي راوړل، وې ویل: دا مې د خیبر په ورځ (په جنګ) کې ترلاسه کړي دي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا د اور یو مزی او یا دوه مزي دي.[۱۸]

امام نووي رحمه الله وايي: پدې حدیث کې د غنیمت په مال کې د خیانت کولو زیات قباحت ذکر شوی دی چې هغه لویه ګناه ده او کوونکی یې د اور مستحق ګرځي. همداراز که غلا شوی څیز لږ وي او یا ډېر وي دغسې وعید ورباندې مرتب کیږي.[۱۹]

شهید عبدالله عزام رحمه الله د دې حدیث له ذکر کولو وروسته د هغې په تعقیب سره وايي: (کله چې یو څوک د غنیمت له ویش څخه مخکې د هغې په غلا کولو باندې اور ته داخلیږي، نو د هغه چا به څه حال وي چې د جهاد هغه مالونه او روپۍ خوري چې یوه او دوه دوه یتیمانو کونډو او د مجاهدینو میرمنو ته راټولیږي چې پرې خپلې ملاګانې نیغې وساتي او د ژوند له نا آرامیو څخه پرې بچ شي؟ او د هغه چا به څه حال وي چې دلته او هلته د مجاهدینو مالونه په اسراف سره لګوي او د هغې په لګولو کې د الله تعالی حکم ته نه ګوري؟..له الله تعالی څخه غواړو چې د مجاهدینو په مالونو کې مو له بې ځایه تصرف څخه وساتي، معاف مو کړي او ګناهونه مو وبښي. یا الله له هېرې او خطا څخه مو هم وساتې![۲۰]

---

[۱۸]. متفق علیه

[۱۹].وګوره: شرح مسلم، نووي ۱/ ۲۲۹. چاپ: دار الکتب العلمیة بیروت

[۲۰]. وګوره: في الجهاد آداب واحکام، شهید عبد الله عزام، ص ۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دنیاکې د خیانت اغیزه :**

په دنیاکې دخیانت پایله او اثر دادی چې کله په یو قوم کې دا کړنلاره پیداشي، نو الله تعالی د هغوی په زړونو کې رعب اچوي او خپله مرسته ورڅخه بندوي لکه څرنګه چې د حدیثو په یو روایت کې ذکر شوي عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي: ((مَا ظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا أُلْقِيَ فِي قُلُوبِهِمْ الرُّعْبُ، وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ قَطُّ إِلَّا كَثُرَ فِيهِمْ الْمَوْتُ، وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا قُطِعَ عَنْهُمْ الرِّزْقُ، وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ الْحَقِّ إِلَّا فَشَا فِيهِمْ الدَّمُ، وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ بِالْعَهْدِ إِلَّا سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ الْعَدُوّ)).[۲۱] په هیڅ یو قوم کی خیانت او درغلي نه ده څرګنده شوې مګر داچې د هغوي په زړونو کی به وېره واچول شي، په هیڅ یو ولس کی زنا نه ده خپره شوې مګر داچې د هغوي تر منځ به مرګ ډېر شي، یو قوم په پیمانه او تله کې کمی نه دی کړی مګر داچې له هغوی څخه به روزي قطعه شي او هیڅ یو قوم په ناحقه سره پریکړه نه ده کړې مګر داچې د هغوی ترمنځ به په خپلو کی وینه تویدنه خپره شي او هیڅ یو قوم تړون نه دی مات کړی مګر داچې الله تعالی به وربانديې دښمن مسلط کړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي ((**إن لم تغل أمتي لم يقم لهم عدو أبدا**)).[۲۲] - که چیرې زما امت په مال غنیمت کې خیانت ونه کړي، نو دښمن به د همیش لپاره د هغوی مخې ته ونه شي دریدلی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((إنَّ رجالًا يَتَخَوَّضونَ في مالِ اللهِ بغيرِ حقٍّ، فلَهُمُ النارُ يومَ القيامَةِ)).[۲۳] ځینې سړي د مسلمانانو په مالونو ( بیت المال ) کې په ناحقه سره تصرف او چلند کوي، نو پوهه دې شي چې په قیامت کی به د دوی لپاره اور وي.

---

۲۱-- موطأ إمام مالك:كتاب الجهاد، باب ماجاء في الغلول

۲۲. المعجم الاوسط للطبراني (وفي مجمع الزوائد رجاله ثقات).

۲۳. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حدیثو په یو روایت کې ذکر شوي:((وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ, فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ» [٢٤] او د چا چې غوښه پر حرامو راغټه شي، نو د دوزخ زیات ور دی.

نو هغو وګړو چې د مسلمانانو عامه مالونه یې په خپلو جیبونو کې اچولي، په خپلو لګښتونو کې یې لګولي او یا د خپلو کورنیو او اولادونو دخوشحالولو او عیش کولو لپاره یې له ځانونو سره ساتلي دي، دا مخکې وعیدونه دې را په یاد کړي او د آخرت له مواخذې څخه دې وډار شي.

همداراز هغه خلک چې حرام مالونه یې خپلو اولادونو ته جمع کړي، لدې وېرې چې هغوی فقیران نه شي، پدې دې کلک باور ولري چې د بل چا دنیا ښه کولو لپاره خپل آخرت بربادول او ځان د عذاب مستحق ګرځول لوی حماقت دی. یو مسلمان باید پدې مورد کې د اسلام د پنځم عادل خلیفه عمر بن عبد العزیز-رحمه الله - دغه موقف را په یاد کړي چې کله د مرګ په مهال یو مشاور یې ورته وویل: خپلو زامنو – چې شمېر یې دولس ؤ- ته له بیت المال څخه د څه مال وصیت وکړه ؛ځکه چې دوی نیستمن دي، نو هغه په ځواب کې دا آیت ولوست: ((إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَـٰبَۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾)).[٢٥] بیشکه زمادوست او ساتونکی الله دی، هغه ذات چې کتاب یې نازل کړی او د نیکانو ساتنه کوي او د هغوی مددګار او کارجوړونکی دی)). بیایې وویل : زما زامن له دوو حالاتو خالي نه دي ، که چېرې نیکان وي، نو الله تعالی د نیکانو ښه ساتنه کوي او که بدان وي، نو زه نه غواړم چې په بدکارۍ او نافرمانۍ کې له هغوی

٢٤. المعجم الاوسط للطبراني
٢٥- الأعراف١٩٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مرسته وکړم.[۲۶]

## ۷- اوسنی يرغل:

بايد وويل شي چې د لومړي يرغل «روسي ښکيلاک» په څير دا اوسنی يرغل هم زموږ د هېواد د بې وزلې، بربادۍ لامل وګرځيد.

د روسي لښکرو لس کلن يرغل په ميليونونو افغانان شهيدان کړل او هيواد يې په بشپړه کنډواله بدل کړ او يو تعليمي نسل چې روسانو او کمونستانو په بشپړه توګه په شهادت ورسولو هېواد له يوه ستر بحران سره مخ کړ او مونږ د هېواد زياتره وتلی او د کار خلک له کمونيزم او روسی يرغل سره د مقابلی په ترخ کښې له لاسه ورکړل د جدي د همدی نادودو او ناخوالو په پايله کښې امريکايي يرغل ته لاره جوړه شوه او امريکايانو د روسانو تر وتلو مخکې دلته خپل لاسونه راغځولي ؤ،

د روسي يرغلګرو پوځونو خونړۍ جګړې دوهم پړاو امريکايي يرغلګرو ته ورپه غاړه شو هغوی د افغانستان د ورانولو لپاره تر شلو کلونو پورې پر افغانستان بمونه وورل په لکونو افغانان ووژل شول، خو لا هم د هغو ماتې بهير تغير ونه خوړلو کوم چې روسان ورسره مخ شول، تر شلو کلونو وروسته اوس امريکايي يرغلګر د خپلې ماتې په اړه هلته دلته څرګندونې لري.[۲۷]

---

۲۶- وګوره: البداية والنهاية،ابن كثير ۲۲۵/۹ (المكتبة الشاملة).

۲۷. وګوره: د جدي شپېړمه د ميزان د پنځلسمې په سيوري کې! | اصلاح انلاين

https://www.eslahonline.net/۲۰۱۹/۱۲/۲۹/jadi-and-mizan/

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸– په حکومت کې درغلۍاو فساد :

ایا د امریکا او ناټو په راتګ سره زموږ د هېواد اقتصادي وضعیت ښه شو؟

ځواب دادی چې د امریکا او د ناټو په راتګ سره زموږ د هېواد اقتصادي حالت که له یوه پلوه په نسبي شکل د هغوی د یرغل په لومړۍ موده کې یو څه ښه شو، نو له بله پلوه بیا له بدو بدتر وګرځید؛ دا ځکه چې هغو دلته د جنګ لپاره راغلل او زموږ هېواد یې د جنګ او یرغل له لارې ونیوه او دا طبیعي خبره ده چې په کوم ځای کې جنګ او جګړې وشي، هغه ځای د ځاني تلفاتو ترڅنګ مالي او اقتصادي تلفات هم لري.

او که وویل شي چې د دې نوي استعمار په راتللو سره خو دې هېواد ته بې شمېره مرستې ورکړل شوې، نو ایا دې مرستو د هېواد اقتصادي وضعیت ښه نه کړ کړ او ایا کوم مثبت بدلون یې په رامنځ ته نکړ؟

ځواب یې دادی چې هغه مرستې لومړی په همدې جنګي لګښتونوکې حساب شوې او کومو بهرنیانو چې دلته مرستې راوړې همغوی ورڅخه زیاته برخه په یو نامه او بل نامه واخیسته.

دویم داچې دا مرستې د داسې یو نظام په واک کې ورکړل شوې چې له سر نه تر پښنو پورې په درغلۍ، فساد او خیانت کې ډوب ؤ.

راځئ چې دغه واقعیت او حققیت په اړونده راپورونو کې وګورو:

### هېواد ته راغلې مرستې او لګښت یې:

په ۱۳۹۳ لمریز کال، د زمري میاشت په ۹ نېټه [28] د افغانستان د بیا رغونې په برخه کې د امریکا ځانګړې څېړونکې ادارې (SIGAR) لخوا په خپور شوي راپور کې راغلي ؤ: افغانستان ته یوازې د امریکا د متحده ایالاتو لخوا له

---

[28]. د ۲۰۱۴زیږدیز کال د جولای په ۳۰ مه نیټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۰۴) ملیارده ډالرو نه زیاتې مرستې ورکړ شوې، او لدې سربېره نورو هېوادونو هم ورسره مرستې کړې. چې دا مرسته د پیسو د تورم (انفلاسیون) په پام کې نیونې سره له هغو مرستو زیاتې دي چې د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د مارشال پلان د پلي کولو لپاره په اروپا کې مصرف شوي.[29]

خېرونکي وايي: افغانستان ډېر فرصتونه له لاسه ورکړل او دا فرصتونه د غوره مدیریت د نشتون له امله. که چیرې دا مرستې په سمه توګه کارول شوې وای، نو افغانستان به کم تر کمه د سیمې د هېوادونو سره د پرتله کیدو وړ ؤ، هم د بیارغونې له پلوه او هم د اقتصاد له پلوه.

د افغانستان د بیا رغونې د لګښتونو په خلاف د اروپا مارشال پلان دامنیتي ځواکونو ( پر پوځ او پولیسو باندې) متمرکزه نه و، خو له افغانستان سره د ۱۰۴) ملیارد ډالره مرستو له جملې ( ۶۲ ) ملیارده ډالره د پوځ او پولیسو په جوړښت کې مصرف، او ( ۶، ۷ ) ملیارده ډالره د مخدره توکو سره د جګړې په برخه کې لګول شوي چې د سیګار په وینا له دې سره هم په افغانستان کې د مخدره توکو سره د جګړې تګلاره په جدي توګه پوښتنې راپارونکې ده.

په دې لړ کې د افغانستان د حکومت مدیریت ځو ځو ځلې تر نیوکو لاندې راغلی، او له همدې سره سره د حساب ورکوونې په برخه کې د روښتیا نشتون د مرستو په ناسمه توګه د لګیدو یو بل لامل ښودل شوی ؤ.[30]

په کال ۱۳۹۵ لمریز کې افغانستان ته د راغلو مرستو اندازه ۱۱۷ ملیارده ډالره ښودل شوې وه، پدغه کال کې د سیګار مشر (جان سوپکو) ویلي ؤ چې دا د امریکا نوې ادارې ته ( د ټرمپ په مشرۍ) ښه فرصت دی چې په افغانستان

---

[29]. وګوره:... July ۳۰, ۲۰۱٤ Quarterly Report to Congress - Special

[30]. بي بي سي پښتو (۱۰/۵/ ۱۳۹۳، لمریز) او طلوع نیوز خبر ویب سایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې له ۲۰۰۲ څخه تر اوسه پورې ۱۱۷ میلیارد ډالره لګولې پیسې وارزوي.

خو د اقتصاد کارپوهانو په اند: اداري فساد، د انجوګانو له لارې د پیسو لګول او په دولتي بنسټونو کې د لازمي وړتیا نشتون؛ ددې لامل شوی چې دا مرستې په سمه توګه و نه لګول شي. څېړونکي وايي چې په تیرو څو کلونو کې دولت نه دی توانیدلی چې د بودیجې کسر - چې په بهرنیو مرستو ولاړ و- کم کړي، په تیرو څو کلونو کې ډېر فرصتونه رامنځته شوي و څو دغه مرستې د هېواد په بیارغونې او زیربناوو کې مصرف شوی وای، خو داسې و نشو.[31]

په حکومتي بودیجو کې د لاس وهنو له امله زموږ هېواد دملل متحد سازمان د ۲۰۱۳ م کلن راپور پر بنسټ د نړۍ په کچه د کوریای شمالي او صومال ترڅنګ په فاسدترین دولتونو کې وشمېرل شو.

او په کال ۱۳۹۵ لمریز کې افغانستان او نایجریا ډېر فاسد هېوادونه ګڼل شوي ؤ، چې بیا د هېواد جمهور رئیس (اشرف غني) په لندن کې د فساد په وړاندې نړیواله سرمشریزه کې د ګډون پر مهال وویل چې افغانستان د فساد ورکولو په برخه کې هڅو ته ژمن دی، خو په تړاو د نړیوالې ټولنې همکارۍ ته اړتیا لري. او په همدغه کال کې دافغانستان پر بیا رغونه د څار امریکایي اداره(سیګار) ویلي ؤ چې په دغه هېواد کې د اداري فساد د پراختیا یو مهم لامل د امریکا بې غوري او د سم څار نشتوالی و.

نوموړې ادارې په خپل یو نوي رپوټ کې ویلي ؤ: امریکا افغانستان ته په تېره یوه نیمه لسیزه کې لسګونه میلیارده ډالر استولي خو دا پیسې په داسې ډول لګول شوي چې د اداري فساد له لارې د تاوتریخوالي د زیاتولو لامل شوي دي. راپور وايي: متحده ایالتونو له نومبدو څواکمنو کسانو سره د

[31]. تلویزون یک (خبر روز دوشنبه ۱۵/ ۳/ ۱۳۹۶ ه ش، (۵/ ۶/ ۲۰۱۷م)..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرتیا او هغوی ته د قراردادونو د ورکړې له امله هغوی هم هغسې معاف پاتې او فساد ته لار اواره شوې.

افغان ولسمشر اشرف غني هم په دې باور دی چې مختلف لاملونه په افغانستان کې د اداري فساد زیاتېدلو او پراخېدو ته لار برابره کړې چې یو هم په‌لوېدیځو هېوادونو کې د نشه‌یي توکو ناقانونه غوښتنه ده.

د امریکایي قراردادونو د کمزوري څار له امله سیګار په خپل راپور کې اشاره کوي چې د امریکا د متحده ایالتونو د تګلارو یوه برخه د افغان چارواکو په مفسدولو لګیا وه او بله یې په دې چې څرنګه وکړی شي د فساد ربښې وباسي. دې راپور په ښکاره هغه مسئلې راسپړلې چې له کلونو راهیسې افغانانو ترې سر ټکوي او رسنۍ یې وخت نا وخته راسپړي.

په یاد شوي راپور کې دا هم ویل شوي ؤ: د افغانستان اوسنۍ ستونزې چې فساد، بې ثباتي، د وسله والو او قدرت کې ښکېلو ډلو ناقانونه کړنې دي، دا ټول له یوه بل سره داسې تړلي چې له منځه وړل یې ټول نظام ګواښولی شي.[۳۲]

د امریکایې سرچینو د یوه راپور له مخې (د جدي ۲۷مه، کال ۱۳۹۷ لمریز (۱۷/ ۱/ ۲۰۱۹م پورې د افغانستان د بیا رغونې په خاطر د امریکا متحده آیالتونو ۱۳۲ ملیارده ډالر ورکړي دي.[۳۳] دا مبلغ چې دعوه یې کیږي غیر نظامي برخو لپاره ورکړ شوی دی، او د (الجزیرة) خبر له مخې د افغان دولت دنظامي برخې

---

[۳۲]. بي بي سي پشتو، نېټه: ۲۵/ ۶/ ۱۳۹۵ لمریز

[۳۳]. وګوره: Prepared Remarks of John F. Sopko Special Inspector General for
“Lessons from Afghanistan’s Reconstruction: ۲۰۰۱-،Afghanistan Reconstruction
January ۱۷, ۲۰۱۹،Annapolis, Maryland ۲۰۱۹”United States Naval Academy

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره متحده ایالاتو له (۲۰۰۱م) څخه تر (۲۰۱۹م) پورې ( ۹۷۵ ) ملیارده ډالر تخصیص او مصرف کړي دي.[٣٤]

په لنډه توګه ویلای شو چې او سني حکومت ته د امریکا متحده آیالاتو او نورو هېوادونو لخوا د افغانستان د دولت د نظامي اړخ په شمول د بېلابیلو برخو او د ټولنې د عام شموله اړتیاو لپاره کومې پیسې ورکړ شوي دي هغه د ترېلونو په اندازه سره وې، لیکن د هغې ۳۰٪ اثر او نتیجه هم ونه لیدل شوه.او نه د عام ملت په درد باندې دغسې مرستي دواء شوې..

## د فساد اندیښنې او ښکاره بیلګې:

د موجوده (اسلامي جمهوري) حکومت له پیل څخه تر دې وخته په دولت کې د فساد او درغلیو لپاره ډېرې ښکاره بیلګې شته دی چې د هغې له جملې څخه یې تازه دم[٣٥] د کورونا په بودیجه کې لاس وهنې او د تداوئ اړونده ماشین آلاتو غلا کول او پلورل دي:

د راپورنو له مخې په بېلابېلو ولایتونو کې د کورونا د ناروغانو لپاره په ورته چمتوالي بېلابېل لګښتونه راغلي دي. دغه لګوښتونه په یوه بستر باندې د ۳۵۰ زرو او ۱۴۲ زرو افغانیو ترمنځ دي. خلک شکایت کوي چې د یوې اونۍ په تېرېدو سره یې د کورونا د ټېسټ پایلې نه دي راوتلې. د مشرانو جرګې د شکایتونو کمېسیون هم په ولایتونو کې د کورونا بودجې په لګښت نیوکه کوي او وایي چې د یادو پیسو په مصرف کې فساد کیږي.

د شکایتونو اورېدو کمېسیون هم په ولایتونو کې له کورونا سره د

---

٣٤. وګوره: الجزیرة، تمویل حروب أمیرکا بالخارج.. أرقام فلکیة ونتائج غیر محسوسة، ۴/۱۲/۲۰۱۸

٣٥. دتیر کال ۱۳۸۹ل، په وروستیو او د روان ۱۳۹۹ل کال په لومړیو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارزې بودجې د لګښت په اړه اندېښنې لري او وايي چې په ولايتونو کې د يادو پيسو په لګولو کې پراخ فساد موجود دی. د دغه کمېسيون مشر وايي، په ولايتونو کې له کورونا سره د مبارزې په موخه چې کومه بودجه لګول کيږي پر هغه څارنه کمزورې ده او فساد پکې موجود دی، په هغه پيسو کې چې د حکومت له خوا ولايتونو ته ورکړل شوې، په هغه کې پراخ فساد دی او په ښه توګه څارنه ترې نه کيږي، ورته اسناد او ليستونه له نورو ولايتونو هم خپريږي چې ځينې جنسونه په ډېرو لوړو بيو اخيستل شوي دي.

په همدې حال کې د ولسي جرګې يو شمير غړي هم په ولايتونو کې د کورونا بودجې د لګښت په اړه اندېښنې لري او وايي، چې په ولايتونو کې د کورونا سره د مبارزې په بودجه کې فساد کيږي. د دغه جرګې يو غړی وايي: له افغانستان سره شاوخوا يو ميليارد ډالر نقدي مرستې وشوي خو اوس حکومت له نړيوالو پور هم اخلي، نو په دغو پيسو کې فساد کيږي او په وينا يې، د کابل ښاروالي له ماليې وزارت څخه دوه ميليوونه ډالر اخلي او په بدل کې يې ۲۵ زره کورنيو ته د ورځې لس ډوډۍ ورکوي چې په خبره يې يوه ډوډۍ په نوي افغانۍ تماميږي،څه کم يو ميليارد ډالر له افغانستان سره نقدي مرسته وشوه او حکومت د بودجې تعديل هم غوښتی او اوس له نړيوالو پور هم اخلي، نو دا پيسې چيرته ځي ..[۳۶]

په هېواد کې د کورنايي حالاتو په بهير کې پاکستان ته د ۳۲ وينټيلاټورونو قاچاق کيدل د حکومت لپاره يو ستره د رسوايي قضيه او دولت کې د فساد شتون لپاره يوه زياته روښانه بيلګ ده. د چنګاښ په دويمه نيټه (۱۳۹۹المريز) د پژواک موندنې ښيي، په داسې حال چې هېواد کې د کرونا

[۳۶] وګوره: کورونا ويروس ته په ځانګړې شوې بودجه کې د فساد په اړه اندېښنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغان د اکسیجن د کمښت له امله مري، خو له افغانستان سره د کرونا ویروس مقابلې لپاره د مصنوعي تنفس له مرسته شویو الو ۳۲ پاکستان ته قاچاق شوي او روغتیا وزارت یې پلټنه کوي.

یو افغان سوداګر هڅه کوي چې دغه د مصنوعي تنفس مرسته شوې الې چې د بېلابېلو سرچینو د معلوماتو له مخې یې په منځنۍ کچه ټولیز ارزښت نږدې شپږ سوه زره امریکایي ډالره دی، پېښور کې بېرته له «قاچاق کوونکو» وپیري او د افغانستان حکومت ته یې وسپاري.

پژواک هغه غړونه او انځورونه ترلاسه کړي چې ښیي له عامې روغتیا وزارت څخه ۳۲ د مصنوعي تنفس الې پېښور ته قاچاق شوي، دا معامله د وتس آپ له لارې مخ ته تللې او قاچاق کوونکي له یو بل سره د دغو الو د قیمت او ځای په اړه معلومات تبادله کوي. دغه غړونه ښیي چې یو تن وایي: ۳۲ دانې وینټلاټورې شته، ایس۱۱۰۰ماډل؛ خو ګوره دا شی د افغانستان له روغتیا وزارت څخه په صفا الفاظو کې دا چې را پټ شوي دي." دغه کس خپل مخاطب ته په دې خبرو کې وایي:" چا چې دا را لیږدولي هغه په دې ټینګار لري چې د روغتیا وزارت هېڅوک باید په دې پوه نه شي او دا ماډل وینټلاټورونه له ۱۸زرو تر ۲۵ زرو ډالرو پورې بیې لري، نووګوره که دا یې لګېږي نو بیا به ورسره خبره جوړه کړو."[۳۷]

په هېواد کې له نړیوال پیسو صندوق ( International Monetary Fund) څخه د( ۲۲۰ میلیونه ډالر) پور اخستنې قضیه چې مطرح شوې او د هېواد زیاتره سیاسیون او عام ولس یې مخالفت کوي- الله تعالی دې نه کړي – که دا کار وشي، نو ولس او هېواد ته به یې له ګټې څخه تاوان خورا زیات ، بلکې درغلۍ کوونکي عناصر به ورڅخه ګټه واخلي..

---

[۳۷]. وګوره: dlvr.it/rzhdr

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځینو اقتصاد پوهانو د نظر او شنني له مخې:اوسني سیاسي او اقتصادي وضعیت ته په کتو یاد قرض له آی ایم ایف څخه اخیستل د ملت سره ظلم او جفا ده، د لاندې عواملو په اساس:ا- د نا امنۍ له وجهې ۲- سیاسي ثبات نشتون.۳- په دولت کې د فساد شتون.

۴- عموما دغه رنګه قرضونه (که څه هم سودي نه دي) باید په عایداتي منابعو کې په مصرف ورسیږي څو بیرته مصرف کړل شوی رقم پوره او تادیه کړلی شي. ولې متاسفانه مونږ لا تر اوسه د دې جوګه شوي نه یو چې داسې سرمایه ګزاري ولرو کوم چې وکولی شو بیرته ترې یاد مبلغ ترلاسه کړو.

د ۱۳۹۸ هـ ش کال د مالیې وزارت د راپور په اساس افغانستان د ۸.۲۶۵ میلیارده افغانیو په اندازه له مختلفو جهتونو قرضدار دی، په کوم کې چې (International Monetary Fund ) IMF، Asian Development Bank (ADB)، Organization of the Petroleum Exporting Countries (OPEC)، Islamic Development Bank (IDB)، او نورو نړیوالو ادارو قرضونه هم شامل دي او په ځینو یې د سود په ورکړې مجبور او مکلف یو.

دولت په ۱۳۹۸ م کال کې ۱.۱ میلیارده افغانیو په اندازه د قرض قسطونه تادیه کړي او ۹.۴۲ میلیونو په اندازه یې سودیا هم ربحه تادیه کړې. که چیرته دې ارقامو ته وکتل شي نو پوه به شو چې واقعا هم له آی ایم ایف د پور اخیستلو زیان نسبت ګټې ته زیات دی. له آي ایم ایف څخه پور اخیستل مونږ ته هغه وخت په ګټه و چې سیاسي ثبات، امنیت، عدالت، شفافیت او د سرمایه ګذارۍ چانسونه مو له ځآنه سره لرل.متاسفانه که پدې وضعیت کې پور واخیستل شي نو د یو څو مشخصو کړیو تر منځ به

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویشل شي او هیڅ کومه بله نتیجه به پرې مرتبه نشي او دا به د راتلونکي نسل سره ستره جفا وي.[۳۸]

همدا اوس د تازه راپوررونو له مخې په افغانستان کې د فساد ضد سفیرانو ډلې د هغه څه په اړه اندېښنه ښودلې چې دوی یې د فساد ضد هڅو پیکه کیدل بولي. دغې ډلې له حکومت غوښتي چې د فساد ضد هڅې د سمونونو د اجنډا سر ته راولي. دا اندېښنې د یوناما له کلني راپور وروسته څرګندې شوې چې پکې په افغانستان کې د فساد ضد اوږدمهالو تګلارو پلي کېدو او د د دغه هدف لپاره د بنسټونو په رغېدو کې په بیا بیا ځنډ اندېښنه ښودل شوې.

د یوناما راپور او د سفیرانو ډلې دواړو د فساد پر ضد د مبارزې د پښوالي پایلې د سولې را روان بهیر او په جینوا کې له افغانستان سره د مرستو را روان کنفرانس ته زیان اړوونکې بللې. دغې ډلې په افغانستان کې د پراخ فساد له منځه وړل او د سولې او پرمختګ لپاره مهم بللی او ویلي یې دي چې د سولې را روانې خبرې له ټولو لورو غواړي چې پر یوه او بل د پړې اچولو پر ځای د روڼتیا، حساب ورکولو او د قانون واکمنۍ لپاره بنسټیزو ګامونو ته ژمن پاتې شي.

د بریتانیا او اروپایي ټولنې په پراویزه مشرۍ د یوناما،ډنمارک، جرمني،جاپان،امریکا،استرالیا،کاناډا،ایټالیا، ناروې، نړیوال بانک، ناټو ملکي استازولۍ،بریتانیا او اروپایي ټولنې د استازولیو د مشرانو ګډ فساد ضد ګروپ په افغانستان کې له فساد سره د مبارزې د هڅو پښوالی د سولې د روانو هڅو لپاره زیان اړوونکی بللی.

---

[۳۸]. وګوره: له IMF څخه پور اخیستل په ګټه دی او که په تاوان؟ | اصلاح انلاین

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېره مياشت په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د استازۍ دفتر يا يوناما په خپل تازه راپور کې ويلي له فساد سره د مبارزې لپاره د اوږدمهالو او بنسټيزو جوړښتونو رامنځته کېدل بيا بيا ځنډېدلي او په تېره بيا د فساد د لويو مواردو په برخه کې د مؤثرو څېړنو او څارنو په نشتون يې اندېښنه ښودلې وه.[39]

## په هېواد کې د بې وزلۍ کچه:

### الف– لومړي ۱۶ کلونه:

د افغانستان د اقتصاد وزارت او نړيوال بانک د څېړنو له مخې په هېواد کې له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۶زيږديز پورې[40] د خلکو بې وزلي او اقتصادي وضعيت پدې توګه ښودل شوی دی:

لومړی: په افغانستان کې اوسمهال د ټول نفوس ۳۶ سلنه خلک د بې‌وزلۍ له کرښې ټيټ ژوند تېروي او په خپله د افغان ولسمشر اشرف غنی په وينا: هره شپه د هېواد ۱۵ سلنه وګړی وږی ويده کېږی.

له ۲۰۰۱ز وروسته په افغانستان کې تر يو څو کلونو پورې امنيت ټينګ شو، د بهرنيانو مرستې زياتې شوې او له همدې کبله په يو شمېر ټولنيزو او اقتصادی سکتورونو او برخو کې پرمختګونه وليدل شول؛ خو بيا هم د نړيوال بانک د ارقامو له مخې، په نړۍ کې د فقر د کچې په پرتله، په افغانستان کې د فقر کچه تقريباً ثابته پاتې ده او تر اوسه پورې د فقر کچه کمه شوې نه ده .له ۲۰۰۱ ز کال وروسته، په هېواد کې د آزاد بازار او

---

[39]. وګوره: د' فساد ضد سفيران 'افغانستان کې فساد ضد مبارزه پڅه بولي...
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-۵۳۳۵۹۰۷۶

[40].وګوره: د ستراتيژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز ( ۱۶- ۲۳ ثور کال ۱۳۹۶ لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمایه دارۍ نظام یوه نیمګړتیا دا هم وه چې شتمنی یې د محدودو کسانو په ولکه کې ورکړه.

دویم: په ۲۰۰۷ز او ۲۰۰۸ز کلونو کې د افغانستان د ټول نفوس ۳.۳٦ سلنه خلک د غربت له کرښې لاندې وو. که څه هم په ۲۰۱۱ز او ۲۰۱۲ز کال کې د غربت سلنه تر یوه بریده کمه شوه، خو په ټوله کې بیا هم تر ډېره ثابته بلل کېدای شی. په ۲۰۱۱ز کې دا کچه ۸.۳۵ سلنه شوه او معنا یې دا وه چې د افغانستان ۹ میلیونه وګړي بېوزله وو (له هرو ۸ کسانو څخه ۳ تنو یې په غربت کې ژوند تېراوه.

دربیم: د افغانستان ډېری نفوس په لرې پرتو سیمو کې مېشت دي او د فقر کچه هم په همدغو لرې پرتو او کلیوالو سیمو کې تر ټولو زیاته ده.د نړیوال بانک او د افغانستان د اقتصاد وزارت د ګډې څېړنې او سروې له مخې په دغو لرې پرتو سیمو کې له هرو پنځو تنو څخه څلور تنه د فقر ژوند تېروی. د دې ترڅنګ د کوچیانو له نیم څخه زیات (۸.۵۱ سلنه) هم د غربت له کچې ټیټ ژوند تېروي.

څلورم: د فقر کچه تر ټولو زیاته په شمال ختیزو، مرکزي لوېدیزو، ختیزو او سوېلی ولایتونو کې ده او تر ټولو کمه بیا مرکزي او سوېل لویدیزو ولایتونو کې ده. سره له دې چې په مجموعی ډول په ټولو زونونو کې له شمال ختیزې حوزې پرته، د ۲۰۰۷ز په پرتله په ۲۰۱۱ز کې د غربت کچه ټیټه شوه

پنځم: په (۲۰۰۷ز-۲۰۱۲ز کلونو کې د افغانستان په بېلابېلو حوزو کې د فقر کچه، چې د حوزو ویش یې په دا ډول دی :سوېل لوېدیځ :نیمروز، هلمند، کندهار، زابل، ارزګان. مرکز: کابل، کاپیسا، پروان، وردګ، لوګر، پنجشیر.

لوېدیځ :بادغیس، هرات، فراه؛ شمال :سمنګان، بلخ، جوزجان، سرپل، فریاب؛ سوېل :غزنی، پکتیکا، پکتیا، خوست. ختیځ :ننګرهار، کنړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لغمان، نورستان؛ مرکزی لوېدیز :غور، بامیان، ډایکونډی؛ شمال ختیز :بدخشان، تخار، بغلان، کندز.

د ولایتونو په کچه تر ټولو زیاته بېوزلي په کابل کې ده او دغه شمېره له یو میلیون څخه زیاته ده، ورپسې په نورو ولایتونو کې.

د غربت دغه کچه په لاندې جدول کې کتلی شئ.




شېبرم: په کال ۲۰۱۱ز کې افغانستان اقتصاد وزارت او د نړیوال بانک د ګډې څېړنې او سروې له مخې د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د غربت کچه په لاندې جدول کې ښودل شوې ده:

| ولایت | د بېوزله کسانو شمېره | د افغانستان په کچه سلنه | د ولایت په کچه سلنه |
|---|---|---|---|
| کابل | 1033730 | 11.37 | 24.4 |
| ننګرهار | 663455 | 7.3 | 38.2 |
| هرات | 660397 | 7.26 | 35.3 |
| تخار | 610028 | 6.71 | 65.4 |
| بدخشان | 588060 | 6.47 | 62.7 |
| غزني | 582792 | 6.41 | 45.8 |
| کندز | 398554 | 4.38 | 40.2 |
| غور | 378068 | 4.16 | 53.0 |
| لغمان | 310730 | 3.42 | 63.8 |
| سرپل | 308048 | 3.39 | 59.1 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم: په افغانستان کې د فقر راتلونکی وضعيت: په افغانستان کې له ۱۵ کلونو څخه د کم عمر لرونکو ماشومانو ۵۳ سلنه هم په فقر کې شپې ورځې تېروي، چې د خورا بد وضعيت ښودنه کوي. که افغان حکومت دوی ته د زده کړو او له ځوانۍ وروسته د کار زمينې برابرې کړي، نو په هېواد کې به د غربت کچه ډېره راښکته شي؛ ځکه د هغو غريبو کورنيو ماشومانو چې عمرونه يې له ۱۵ کلونو پورته وي، ۶.۷۵ سلنه يې بې‌سواده دي. او د هغو غريبو کورنيو اولادونو چې عمرونه يې له ۱۵ کلونو څخه پورته وي، يوازې ۱.۷ سلنه يې ابتدايي ښوونځي بشپړ کړي دي. همدارنګه په بې‌وزله او غريب پاړکي کې د بې‌کارۍ شرحه هم ۴.۸ سلنه او د نسبي بې‌کارۍ شرحه ۱.۴۱ سلنه ده.

په بل اړخ کې له هرو ۱۰۰۰ نويو زيږېدلو ماشومانو څخه ۶۶ يې له زيږېدو لږ موده وروسته مړه کېږي او د کرنې او مالدارۍ وزارت په اند ۴۰ سلنه افغانان غذايي مصؤنيت نه لري. له همدې کبله د فقر کچه د اقتصادي پرمختګ، د زده کړو له زياتېدو، د بې‌کارۍ له کمېدو او زراعت سکتور ته په ځانګړې پاملرنې سره کمېدلای شي.

## ب– ۱۳۹۷ لمريز کال:

په کال (۱۳۹۷ لمريز) د غوائي په مياشت کې د يو خبر له مخې ولسمشر غني د بې وزله هېوادوالو د شمېر زياتوالی د شرم وړ وباله. ده وويل چې هېواد کې د بې‌وزلۍ کچې زياتوالی لامل شوی چې ټيکاو رامنځته نه شي. دې وړاندې ويلي و:«کله چې بې‌وزلي له پنځوس سلنې زياته شي، ټولنه به څنګه ټيکاو ته ورسيږي؟ فقر د ټيکاو دښمن دی».

دا په داسې حال کې چې د غويي مياشت په۱۶ مه نېټه د احصايي ادارې افغانستان کې د بې‌وزلۍ کچې په اړه د خپلې څېړنې پايلې اعلان کړې.

د دې څېړنې له مخې تير کال (۱۳۹۶ل) د افغانستان ۵۴ سلنه وګړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کاوه.

د څېړنې له مخې هغه کسان چې د ورځې له سلو افغانيو لږ عايد ولري ژوند يې د بې وزلې له کرښې لاندې دی. دې بنسټ دا څېړنې دوه کاله مخکې کړې او ښايي د هغو کسانو شمېر زيات شي چې د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کوي.که څه هم ولسمشر په دې وروستيو کې ويلي وو چې ۳ ميليونه هېوادوالو ته به کار پيدا کوي، خو بيا هم د بې وزله کسانو تازه راوتلې شمېرې يې د شرم وړ بللې وي.له دې سره ځينې بې وزله کورنۍ وايي د ملي يووالي حکومت له رامنځته کېدو وروسته يې اقتصادي حالت خراب شوی.[٤١]

## ج- ۱۳۹۸ لمريز کال:

د چنګاښ په ۳۰مه، کال ۱۳۹۸ لمريز ( ۲۰۱۹ /۷/۲۱) د نړيوال بانک لخوا د افغانستان پر اقتصادی حالت نوی خپور شوی راپور ښيي چې د افغانستان اقتصاد په ۲۰۱۸ ز کال کې په اقتصادي پاليسيو کې پر اصلاحاتو سربېره، نږدې دوه سلنه وده لرله، چې له دې سره به بېوزلي لاپسې زياته شي او د ژوند شرايط به نور هم ستونزمن شي. دغه شپږمياشتنی راپور چې نن خپور شو د افغانستان پر اقتصادي ودې د جګړې، وچکالۍ او ناڅرګند سياسي وضعيت ګډې اغېزې، چې له کبله يې افغانستان په سويلي اسيا کې تر هر بل هېواد لږه اقتصادي وده موندلې، په ډاګه کوي.

په افغانستان کې د نړيوال بانک رييس هينري کرالی وايي:" افغانستان د وچکالۍ سربيره ډېربدونکې ناامنۍ، ټاکنو پورې تړلي مبهم سياسي وضعيت او په امنيتي مرستو کې احتمالي کموالي جدي ننګونې سره مخ

[٤١]. طلوع نيوز ، ۱۸ غوايي، کال ۱۳۹۷ لمريز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. له دغو جټکو هره يوه د ودې پر وړاندې قوي خنډونه جوړوي، او افغانستان له دې ټولو جټکو سره په يو وار مخ دی". دغه راپور وايي چې په افغانستان کې لا اقتصادي مديريت پياوړی دی. د دولت پاليسيو په انفلاسيون کمولو، عوايدو راټولولو او خورا کم بوديجوي کسر په ساتنه کې مرسته کړې.

د نړې وال بانک د کال (۱۳۹۸لمريز) راپور له مخې د افغانستان اقتصاد د ۲۰۱۸ م کال په لومړيو شپږو مياشتو کې، نږدې دوه سلنه وده لرله. دغه شپږ مياشتنی راپور چې د چنګابښ مياشتې په ۳۰ مه نېټه باندې خپور شوی، د افغانستان پر اقتصادي ودې د جګړې، وچکالۍ او ناڅرګند سياسي وضعيت ګډې اغېزې، هغه عوامل په کې ګوته شوي دي چې له کبله يې افغانستان په سويلي اسيا کې تر هر بل هېواد لږه اقتصادي وده کړې. د دې عواملو سر بېره د ټاکنو مبهم وضعيت، سياسي بې‌ثباتي، اداري فساد، بيکاري، له هېواد نه د شخصي پانګې تېښته او په امنيتي مرستو کې احتمالي کموالی هغه څه دي چې د اقتصاد وده يې دې حالت ته رسولې ده.

اوس‌مهال افغانستان نه يوازې دا چې له امنيتي او سياسي بې‌ثباتۍ سره مخ دی، بلکې له يوه بد اقتصادي وضعيت سره هم مخ دی. اقتصادي وده کمه ده، بې‌کاري ورځ تر بلې زياتېږي، مالي بحران روان دی، شخصي پانګونه له نشت سره برابره ده او افغانۍ هم ورځ تر بلې خپل ارزښت بايلي.

که چېرې په تېره يوه مياشت کې د افغانۍ د ارزښت ټيټېدو ته ځېر شو، نو په تېرو ۱۸ کلونو کې لومړی ځل دی، چې افغانۍ د ډالر په مقابل کې په دومره لويه کچه خپل ارزښت بايلي...په اوږده مهال کې ډېرې چټکې ودې ته اړتيا ده چې د بېوزلۍ په اوسنۍ لوړه کچه کې د پام وړ ټيټوالی راولي. د دې راپور له مخې، د ډېرې چټکې ودې امکانات شتون لري، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځته کېدل يې ځانګړو شرايطو ته اړتيا لري.

ښاغلي کرالی وويل: "دولت بايد ډېر کار وکړي چې د سوداګرۍ چاپېريال ښه کړي، د ټاکنو پروسه پرته له خنډه پلې کړي او په راروانو سختو مياشتو کې د اداري فساد او کمو شويو مالي منابعو د خراب مديريت مخنيوی وکړي. نړيواله ټولنه هم د خصوصي سکتور او ودې د تقويې په برخه کې يو حياتي نقش لوبولای شي، هغه داسې چې د امنيت او پراختيايي چارو لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي او يقيني کړي چې دا مرستې د دولت له پلانونو سره ډېرې همغږې او تړلې دي".

دغه راپور څرګندوي چې له طالبانو سره هر راز سياسي جوړجاړی به مهمې اقتصادي ګټې ولري ځکه چې له دې سره به د باور فضا رامنځته شي او په بهر کې مېشت افغانان به وهڅوي چې له خپلو پانګو او تخصصي مهارتونو سره افغانستان ته راستانه شي. د دې ګټو ترلاسې په امنيتي حالاتو کې له پايدار او ژور ښه والي وروسته رامنځته کېدای شي.

ښاغلي کرالی زياته کړه: "که هر څه پېښ شي، چټکه وده به يوازې هغه وخت شونې وي چې امنيت ښه شي او دولت د خصوصي سکتور ودې ته ژمن وي، داسې چې د پانګوالو حقونو ته درناوی ولري او د افغانستان هغه لاسته راوړنې، چې په تېرو شاوخوا دوو لسيزو کې يې د پياوړو او بې پرې دولتي بنسټونو د رامنځته کېدو لپاره کړي، وساتي".[42]

## د- ۱۳۹۹ لمريز کال:

د تير کال (۱۳۹۸) په وروستيو او د سږ کال ( ۱۳۹۹المريز) په لومړيو کې زموږ هېواد د نړۍ د ځينې نورو هېوادونو په څير د کورونا (کويد ۱۹) وبائي

[42]. نړيوال بانک: د افغانستان اقتصادي وده له جدي ننګونو سره مخ ده د مطبوعاتي خپرونې شمېره۲۰۱۹/SAR:: ۲۰۱۹/۰۷/۲۱ › https://www.worldbank.org › press-release

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغۍ تر پوښښ لاندې راتلل، د یو شمېر هیوادوالو پدې ناروغۍ اخته کیدل، دحکومت لخوا په بیلابیلو ښارونوکې د محدودیتونو او ګرځبندیز اعلانیدل، د وضعې له امله د بیکارئ زیاتیدل او د زیاتو هېوادوالو پر اقتصادي ژوند باندې ستره اغیزه کیدل، دا ټول په هېواد کې یو غیر مترقبه حالات وه چې د زیاترو هېوادوالو بې وزلي ورسره زیاته شوه.

د اقتصاد وزارت د شمېرو پر بنسټ، د هېواد له نیم نفوذ څخه زیات خلک د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کوي.[۴۳] کرونا ویروس او ګرځبندیز نړیوال اقتصاد ته سخته ضربه رسولې ده. پر افغانستان یې اغیزې ډیرې دي، ځکه چې زیات شمېر خلک په ورځني مزد ګوزاره کوي.[۴۴]

په ځای د دې چې حکومت د ناروغۍ او د اقتصادي بد وضعیت په وړاندې صادقانه چلند کړای وای، متاسفانه پدې سختو حالاتو او بوګنونکو شرائطو کې حکومتي چارواکو پر ځای د دې چې ځان پالنه او ځان ځرونه پریږدي، د شته امکاناتو په رڼا کې د ولس خدمت وکړي او آن که اړتیا شي خپل شخصي امکانات هم د بې وزلو په خدمت کې ولګوي، ددې توقع برخلاف هغوی ستر خیانتونه وکړل لکه څرنګه چې یې مخکې یادونه وشوه.[۴۵]

او د موجوده نظام په لمنه کې د عام ولس د فقر او بې وزلئ کچه راکمول به څومره امکان ولري؛ ځکه چې دا نظام وازمایل شو، سره د هغو زیاتو امکاناتو چې نړیوالو ورته برابر کړل دغه موخه ترلاسه نه شوه، نو لدې وروسته به څنګه امکان ولري!؟ مګر داچې د الله تعالی په فضل او مرسته لومړی په ولس او بیا په دولت کې جزري بدلون رامنځ ته شي.

---

۴۳. وګوره: د کورونا ویروس د خپرېدو په لړ کې د بې وزلۍ او ناداری زیاتوالی...

۴۴. وګوره: د کرونا ویروس پر مهال روژه او د بې وزلۍ زیاتیدلDW - ... All media |

۴۵. وګوره: صفحه ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويم څپرکی

## د فقر ناوړه اغيزې او ناخوالې

داچې نيستمني او فقر مصيبت او ستونزې دی، نوطبيعي ده چې په ټولنه کې ناوړه اغيزې پريږدي او د خلکو عقايد، افکار او سلوک اغيزمن کړي، همدارنګه بيلابيلې ناخوالې رامنځ ته کوي لکه: کفر، ناپوهي، جنګونه، رنځونه، بيکاري او داسې نور، چې په لاندې توګه د دې ټولو يادونه شوې:

### لومړی: ناوړه اغيزې:

#### ۱– د خلکو پر عقايدو د فقر اغيزه:

فقر او خواري د انسان په عقيده باندې منفي اغيز او تاثير لري، او دا تاثير بې په هغه چاپيريال کې خورا زيات وي چېرته چې طبقاتي نظام، طغيان او سرکشي خپل اوج ته رسيدلی وي او نيستمن وګړي د مغرورو شتمنو تر څنګ ژوند کوي. دغوره پيرېو لويانو (سلف صالحينو) ترمنځ دا خبره مشهوره وه چې: ((**إذا ذهب الفقر إلى بلد قال له الكفر خذني معك** –کله چې فقر کوم وطن ته د تللو اراده وکړي، نو کفر ورته واي چې ماهم له ځان سره يوسه )). او په يوې ماثوره وينا کې راغلي چې: (( كاد االفقر أن يكون كفرا - نژدې ده چې فقيري کفر وګرځي)). [۴۶]

نو داچې د فقر او نيستمنۍ اغيزه زياته ده، آن تر دې چې کله نا کله د يو مسلمان د کفر لا مل هم ګرځي، بايد چې يو مسلمان لدغسې مصيبت او بلا څخه په الله تعالی باندې پناه وغواړي لکه څرنګه چې په حديث کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دغسې دعاء کوله: ((اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ

---

[٤٦] - وګوره: مشکله الفقر وکيف عالجها الاسلام، د استاذ القرضاوي ليکنه ۱۵ مخ ، چاپ : مطبعة النهضة الجديدة .

۲۰- - صحيح البخاري : كتاب الزكاة باب (۱۴) إذا تصدق على غني و هو لايعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْفَقْرِ [۴۷] - ای الله زه له کفر او فقر نه پر تا باندې پناه نيسم)).

بايد چې يو مسلمان د دغسې دعاء ګانو سره سره د فقر د مخنيوي لپاره هم زياتې هلې ځلې وکړي، پدې باب کې د ځان او خپلې ټولنې په وړاندې مسئوليت ادا کړي، او پرينږدي چې يرغلګر او کفري ځواکونه د اړتياوو پوره کولو او نيستمنۍ لمنځه وړلو په بهانه مسلمانانو ته په شهدو کې زهر ورکړي، لکه څرنګه چې په ځينې مسلمانو ټولنې کې داسې عملا وشول، او زموږ د هېواد د دې نژدې تاريخ په اوږدو کې دکمونستي نظريه خپريدل او د کمونستانو هغه شعار زمزمه کيدل چې (کور، کالي او ډوډۍ)، د نوموړې پدې لپاره يو ښکاره بيلګه ده، خو الحمد لله چې پدې اسلامي هېواد کې پدغسې شعارونو او ژمنو ورکولو کمونستان او بوډاګيان يې کامياب نه شول، او د نوموړې مفکورې علمبردارانو ته په دې ټاټوبي کې د کور په مقابل کې ګور، د کالو په بدل کې کفن، او د ډوډۍ په مقابل کې خاورې ورپه برخه شوې.

او داچې له کمونستي تيري وروسته په هېواد کې د پرلپسې ګډوډيو په نتيجه کې غربي موسساتو، مسيحي تبشيريانو او نورو بې لاره کوونکو ځواکونو د ځينې افغانانو د بې لارې کولو لپاره کومې هلې ځلې کړي[۴۸] او په ځينې کمو حالاتو کې خپلو شومو اهدافو ته رسيدلي دي، دا هم يو واقعيت دی چې بايد سترګې ورڅخه پټې نه شي، بلکې د دې او دېته ورته د نورو پېښو او حالاتو د مخنيوي لپاره بايد با احساسه مومن هوډمن افغانان متې را بډوهي،همدارنګه پدې اړه دعوتګران او علماء کرام خپل مسئوليت او فريضه تر سره کړي..

---

[۴۷]. صحيح ابن خزيمة

[۴۸]. پدې اړه زموږ ليکنه (د افغانانو ترمنځ د مسيحيت په نامه فتنه او مخنيوی يې) کې يو څه تفصيلات شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې مسیحي محرف دین ته د بلنې په وسایلو کې یو هم غریبو او بیچاره وګړو ته د معیشیت وسایل برابرول او یا مادیات ورکول دي، نو باید چې مسلمانان د هغو خلکو لاس نیوي ته زیاته پاملرنه وکړي چې د فقر او یا لوږې له مصیبتونو سره لاس په ګریوان وي، همدارنګه په اسلامي ټولنو کې د اسلامي عقیدې د اسلامي دین د حقانیت او د نورو دینونو د بطلان شرحه کولو لپاره په امت کې د یوې د عامې بیدارۍ رامنځ ته کولو هلې ځلې ډېرې شي.

## ۲- پر اخلاقو او ټګلارو د فقر اغېزه:

په یو حدیث شریف کې ذکر شوي :"یو سړي د شپې زکات ورکاوه، نو داسې چا ته یې لاس وراوږد کړ چې هغه غل و، سبا مهال چې خلک خبر شول ورته یې وویل تا خو نن شپه غل ته زکات ورکړی، بیایې بل وارچې زکات ویشه، نو په تصادفي ډول زناکارې ښځې ته یې ورکړ، کله چې سبا شو خلکو خبرې کولې چې فلانکي نن شپه هغسې ښځې ته زکات ورکړی دی ، نو په خوب کې ورته ځوك راغی ورته یې وویل : ستا زکات ورکول غل ته کیدای شي هغه له غلا نه منع کړي او زناکارې ته ورکول کیدای شي هغه له زنا څخه منع کړي.[49]

په یو حدیث کې ذکر شوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به له قرض نه پر الله باندې زیاته پناه غوښتله، نو یو چا ورته وویل: ای د الله پیغمبره څه وجه ده چې له قرض څخه پر الله باندې زیاته پناه غواړې؟ نو هغه وفرمایل: ((إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ)).[50] کله چې یو سړی قرض واخلي او (احیانا) دهغې متعلق خبره کوي، نو دروغ وایي او که وعده کیږدي، نو نه یې پرځای کوي.[51]

---

[49]. صحیح البخاري ، کتاب الاستقراض و الحجر ، باب (۱) من استعاذ من الدین

[50]. متفق علیه

[51]. وګوره: مشکلة الفقر، د یوسف القرضاوي ،ص ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو معلومه شوه چې د قرض له وجې د يو سړي اخلاق منفي لور ته روانيږي او قرض او پور ته زياتره هغه خلک اړ کيږي چې بې وزله وي. او که مونږ د خپلې ټولنې ځينې هغو بدو وګړو ته وګورو چې په بيلابيلو بداخلاقيو کې اخته دي، نو وبه وينو چې د هغوی د بدعملۍ او بد سلوکۍ يو ستر لامل فقر او بې وزلي ده.

**۳- پر فکر باندې د فقر اغيزه:**

فکر ته هم نيستمني يو ګواښ او خطر دی، د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګرد امام محمد بن الحسن الشيباني رحمه الله په هکله نقل شوي: يوه ورځ هغه په مجلس کې ناست و، وينځه يې ورته راغله خبر يې ورکړ چې وړه ختم شوي، نوهغه ورته وويل: خواره شئ زما له ذهن څخه دې د فقهې څلويښت مسئلې وويستلې. او په خپله د امام صاحب په هکله ويل شوي چې هغه به ويل: ((له هغه چا نه مشوره مه اخلئ د چا په کور کې چې وړه موجود نه وي)).

دا ځکه چې د دغسې شخص فکر به پرګنده او متشتت وي .

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: ((**لا يَقْضِي الْقَاضِي بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ**[52]- د غصې په حالت کې دې قاضي د دوو کسانو ترمنځ فيصله نه کوي )).او فقهاو په غصه او غضب باندی د قاضي سخته لوږه، تنده او نور اغيزناك انفعالات هم قياس کړي دي.[53]

پر وګړو باندې د فقر د دې ذکر شوو منفي اغيزو سربېره پر ولسونو او ټولنو باندې هم بيلابيلې اغيزې لري، همداراز د غه پديده د بيلابيلو ناخوالو او ستونزو زيږوونکی ده. په راتلونکې موضوع کې زمونږ په ټولنه کې د موضوع اړونده مهمو ستونزو او ناخوالو څيړنه او څرګندونه شوې ده.

[52]. متفق عليه

[53]. وګوره: مشکلة الفقر، د يوسف القرضاوي ،ص ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم: ستونزې او ناخوالې

هغه ناخوالې او ستونزې چې زموږ په هېواد کې د فقر او بې وزلې له امله را پاتې دي او پر ټولنه باندې یې ناوړه اغیزه کړې مهم یې: ناپوهي ، بیکاري، ګدایګري، رنځوري، خپلمنځي جنګونه، پردیسي او هېواد پرېښودنه، او نورو ته احتیاج دی، چې وضاحت او څرګندونه یې پدې توګه ده:

### ۱- ناپوهي:

د روسانو د تجاوز او تیري له امله زموږ د هېواد یو زیات شمېر ښونځي ړنګ شول. او هغه کوم ښونځي چې د کمونستانو په وخت کی موجود وه، ډېرو یې خپل د نصاب او زدکړې معیار له لاسه ورکړی ؤ..همدا راز پر کمونستي نظام باندې د خلکو د بې اعتمادئ او د هغوی د مفکورې د نه منلو له امله زیات شمېر زدکوونکو درسونه پرېښودل. د ثانوي مرحلې څخه پورته د دار المعلمینو په شاګردانو کې هم کافي کموالی راغی او یو زیات شمېر د لوړو زده کړو محصلین د بندي کیدو، جهاد کې د برخه اخستو او یا له هېواد څخه د هجرت کولو په سبب له لوړو زدکړو پاتې شول.

متاسفانه چې د کمونستي رژیم له سقوط څخه وروسته زموږ د هېواد تعلیمي وضعه څرنګه چې لازم وه هغسې ښه نه شوه، بلکې په ځینو هغو سیمو کې چې داخلي جنګونو په کې زور واخیست د زدکړې بهیر ته یکې زیات تاوانونه ورسیدل.

د روسانو او کمونستانو د یرغل له امله چې زموږ ولس له بیلابیلو ستونزو او کړاوونو سره مخ شو د هغه مهال په انقلابي شرائطو کې دځینو احصائیو له مخې په هېواد کې د بې سوادئ کچه ۹۰ سلنې ته رسیدلې وه،چې لدې امله زموږ هېواد په تعلیم او فرهنګ کې له ډېرو غریبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد ونو څخه شمېرل کيده.[٥٤]

که له يوه پلوه د روسانو تيري او په هېواد کې جنګونو زمونږ د ولس په تعليم او تربيې باندې اغيزه وکړه، نو له بله پلوه فقر او بې وزلي هم د وطن د بچيانو د بې سوادئ او له تعليم څخه د محروم کيدولامل شو. زمونږ د ولس هغه زده کوونکي چې تعليم يې نه ؤ پوره کړی د فقر له امله ونتوانيدل چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. د هجرت د چاپيريال په هغو شرائطو کی چې يو څه ناڅه د نوي نسل لپاره د زدکړې زمينه برابره وه ځينو بې وزله کورنيو خپل ماشومان د يو کپ مړئ تر لاسه کولو لپاره په کارونو کې مصروف کړل چې پدې طريقه د زده کړو له نعمت څخه بې برخې پاتې شول.

د کمونستي رژيم له سقوط نه وروسته خپل هېواد ته د يو شمېر مهاجرينو د راستنيدو او په هېواد کې د شته هېوادوالو د ښوونې او روزنې په خاطر بايد چې جدي اقدامات شوي وای، ترڅو په هېواد کې د زده کړې يو مناسب چاپيريال برابر او په دې برخه کې لازم پرمختګ رامينځ ته شوی وای، خو هسې ونه شول؛ ځکه چې داخلي مسلسلو جنګونو او ګډوډيو د دې کار مخنيوی کړ.

د طالبانو د اسلامي امارت په مهال هم د ښوونې او روزنې په بهير کې کوم پرمختګ ونه شو؛ځکه چې د هېواد شرايط جنګي او له سترو ګواښونو سره مخ ؤ..

د اسلامي امارت له سقوط نه وروسته او په اوسنۍ مرحلې کې چې زمونږ هېواد ته بې شمېره پيسۍ هم راغلی خو دادی پدې برخه کې لازم انکشاف رامنځ ته نه شو. لکه څرنګه چې په کال ۱۳۹۵ المريز د سنبلې مياشت په ۱۵مه

---

[٥٤]. وګوره: افغانستان در سايه سياست ،اقتصاد و فرهنك محمد حليم تنوير، ص ۱۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیټه د یونسکو د سازمان په یو راپور کې ویل شوي ؤ: ((لږ تر لږه یوولس میلیونه افغانان چې عمرونه یې له ۱۵ کالو لوړ دي د بیسوادۍ له کبله زورېږي، د سواد زده کړې د ملي پروګرام له مخې هغه کسان چې عمرونه یې له ۱۵ کلونو پورته دي څلور دیرش سلنه چې اتلس سلنه یې مېرمنې د سواد له زده کړې بې برخې دي)).

په کال ( ۱۳۹۶ لمریز) کې په همدې مناسبت د پوهنې وزارت په جوړې شوې غونډه کې وویل شول چې لس میلیونه افغانان بې سواده دي، خو (په کال ۱۳۹۷ل) د یو نسکو د موندونو له مخې د بې سوادو په شمېر کې یو میلیون زیاتوالی راغلی ؤ او د پوهنې وزارت په ټول هېواد کې د بې سوادۍ کچه ۶۳ سلنه یاده کړې وه.[۵۵]

په کال (۱۳۹۸لمریز) کې د ملګرو ملتونو د سواد زده کړې د نړیوالې ورځې 'سپټمبر اتمه (۲۰۱۹ز) لپاره شعار دا ؤ چې هرچاته باید په خپله ژبه د سواد زده کړې زمینه برابره شي. دغه نړېوال بنسټ د دغه ورځې لمانځنه د حکومتونو، ولسي ټولنو او نړیوالو مرسته کوونکو ته یو فرصت وګاڼه چې په وینا یې کولی شي په نړۍ کې د سواد زده کړې کچه لوړه کړي .افغان حکومت هغه مهال وویل تر ۲۰۳۰ پورې به، دغه هېواد کې شته لس میلیونه بې لوستو، له ډلې ۷۰ سلنه د زده کړو خاوندان کړي .

د پوهنې وزارت وایي، دغې موخې ته د رسېدو لپاره یې د سواد زده کړې اوسنۍ عملي کېدونکې پالیسي باندې له سره کتنه کړې او د لا ډېرو مرستو او امکاناتو جلبولو په پار یې له لوړو افغان چارواکو او بهرنیو موسسو سره لیدنې، کتنې هم پیل کړي او هغوی ورسره د مرستو او امکاناتو ژمنې کړي دي .

دې وزارت په ۲۰۱۳ کې ژمنه کړې وه چې تر ۲۰۲۰ میلادي کاله پورې به په

[۵۵]. روزنامه صبح افغانستان,۲۳ جوزا، ۱۳۹۶ هـ ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې د لوستو کسانو شمېر له ۳۱سلنې څخه ۴۶ سلنې ته لوړوي، خو اوس چې ۲۰۲۰ میلادي کال ته چې یوازې څلور میاشتې وخت پاتې د دغه وزارت چارواکي مني چې ټاکلي موخې ته نه دي رسېدلي خو په وینا یې د لوستو وګړو کچه یې ۴۲ سلنې ته لوړه کړې ده.

دغه مهال یو ځل بیا د یاد وزارت د سواد زده کړې معینت سلاکار ژمنه وکړه چې تر ۲۰۳۰ پورې به په افغانستان کې د هغو شته لس میلیونو نالوستو له شمېره ۷۰سلنه به یې د لیک او لوست خاوندان کړي. د هغه په وینا هرکال په افغانستان کې سل زره هغو کسانو ته چې عمر یې لوړ وي د سواد زده کړې معینت ورته د لوړو زده کړو زمینه برابروي.

د ۱۳۸۸ لمریز کال د یو راپور له مخې د پوهنې وزارت د یو شمېر نادولتي بنسټونو په مرسته پدې کال په هېواد کې د سواد زده کړې ۱۵ زره کورسونه لرل چې شاوخو ۴۵۰۰زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت ؤ. د پوهنې وزارت د معلوماتو له مخې هغه وخت د هېواد شاوخوا ۶۰ سلنه خلک نالوستي ؤ، او په چټکۍ سره د نفوس زیاتېدا، بې وزلي، ناسم دودونه او جګړه هغه لوی لاملونه دي چې په افغانستان کې د شته لس میلیونه بې سوادو پر شمېر درې اعشاریه اووه میلیونه نور هم ور زیات شوي ؤ.[۵۶]

---

[۵۶]. د سواد نړیواله ورځ: هرچاته په مورنۍ ژبه زده کړه غواړو- بي بي سي پښتو ۸ سپتمبر ۲۰۱۹ -( ۱۷ وږی ۱۳۹۸ل).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- بیکاري:

بیکاري هم زمونږ د ولس هغه ستونزه ده چې فقر پکې زیات رول اداء کوي؛ د ا ځکه چې کله د یو هېواد یا د ټولنې اداري نظام- چې حکومت دی- فلج شي او له کاره ولوېږي، نو بیا به هلته څنګه خلکو ته د کار زمینې او د روزۍ ګټلو فرصتونه برابر شي؟

افغانستان یو له هغو مملکتونو څخه دی چې د پرمختیایې هېوادونو په ډله کې راځي او نظر د نورو پرمختیایي هېوادونو په پرتله باندې پدې هېواد کې بیکاري په زیاته اندازه سره شتون لري.

بیکاري یوه داسې پدیده ده چې د یو مملکت په اقتصاد باندې ناوړه اغیزه او منفي اثرات لري او ددې په وسیله پر نورو اقتصادي تحولاتو باندې اغیزه کوي یعنې که چیرې په یو مملکت کې بیکاري شتون ولري، نو یقینا هلته د خلکو تقاضا نظر اجناسو ته نه وي؛ ځکه چې عاید شتون نه لري او چې عاید شتون ونه لري، نو خلک د اجناسو د اخیستلو توان نه لري او کله چې تقاضا شتون ونه لري نو عرضه هم نه وي یعنې تولید صورت نه نیسي او ددې باعث ګرځي چې د مملکت کورني ناخالص تولیدات او ملي عاید کمیږي چې د یو مملکت اقتصاد د رکود حالت سره مخامخ کوي، نو کله چې اقتصادي رکود رامنځ ته شي دغه مملکت د بودیجوي کسر سره مخامخ کیږی بیا په دغه حالت کې د دې مملکت حکومت کچکول په لاس د نورو مملکتونو څخه کومک غواړي او یا هم له نړیوالو موسسو نه قرضه غواړي، دا هم په هغه صورت کې د امکان وړ ده چې نړیوالو سره رجسټر وي چې دا هم ځانګړی شرایط لري.[57]

[57]. ټول افغان،درې نیٔ د ۱۳۹۲ لمریز کال د غبرګولي ۲۳ ،په افغانستان کی بیکاري او د هغه څخه د خلاصون لاري چارې،محمد اعظم (زکریا ۳۰/ ۶/ ۲۰۱۶م

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هېواد کې د ظالمانه طبقاتي وضعيت له امله ډېر وړتيا لرونکي وګړي له کارونو او وظيفو محروم دي، په حکومتي ادارو کې پوستونه او ماموريتونه په زياترو حالاتو کې د خپلوۍ، رشوت او ډله بازۍ پر بنسټ ترلاسه کېږي، همداراز ځينې هغه کارونه او قراردادونه چې د حکومتي ادارو له پلوه اعلانېږي يوازې زور واکي او زرلرونکي ورته رسيدګي کولای شي، نه عام خلک.

او که له حکومت نه اخوا خصوصي سکتور ته راشو، نو دا به راته جوته شي چې پدې ميدان کې هم په مامورينو، اجيرانو او مزدورانو باندې ظلم کېږي، يا خو هغوی ته د کار برابر اجرت نه ورکول کېږي، او يا د کار له ټاکل شوي وخت نه په زيات وخت کار کولو باندې مکلف کېږي...

زموږ په اند ضرور نه ده چې هر تعليم يافته شخص دې په دولت کې پر وظيفه باندې وګمارل شي. د اسلامي لارښوونو په رڼا کې خلک بايد دحکومتي وظيفو ترلاسه کولو هڅه ونه کړي؛ ځکه چې هغه يو مسئوليت دی او سبا د قيامت په ورځ د هغې په اړه پوښتنه کېږي. بلکې په ټولنه کې بايد د کارونو لپاره لارې هوارې شي، ترڅو هر وګړی په آسانۍ سره د خپل مسلک برابر ځان ته کار انتخاب کړي او دهغې له لارې ځان او خپلې کورنۍ ته حلاله روزي وګټي.

## ۳- ګدايګري (سوال کول):

زموږ د هېواد په داخل او بهر کې بيلابيل وګړي لکه:سپينږيري، ځوانان، ماشومان، معيوب او ښځې نورو د سوال لپاره لاسونه اوږدوي ترڅو يو کپ ډوډۍ لاس ته راوړي او ګدايګري کوي. يو زيات شمېر ګدايګر داسې هم دي چې اړمن او محتاج نه دي يا د کار کولو توانايي لري، خو ګدايګري يې يو عادت او پيشه ګرځيدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ددغسې وګړو حالاتو ته وکتل شي، نو وبه لیدل شي چې ځینې یې د خلکو د خواخوږۍ د راجلبولو په خاطر دروغ وایي، ځینې یې ځانونه داسې ښیې چې ګویا رنځوران او یا ټپیان دي، یا خپل ماشومان د ناروغۍ او یا ټپ په حالت کې د سرک یا د لارې پر غاړه تم اچوي، او پدې طریقه هغوی د بیمارۍ او صحت خرابۍ له ګواښ سره مخ کوي..

د ګدایګرۍ له لامله زموږ د ټولنې یو شمېر خلک چې بېلابېلې طبقې دي په بیکارۍ ، تنبلۍ ، ځان بې اعتمادۍ، بد سلوکۍ، د نفس په بې عزتۍ او داسې نورو تباه کوونکو معنوي او مادي ناروغیو کې اخته شول.

نو ایا زموږ د ټولنې حاکمه طبقه او توانمند خلک به د دغسې ناجایزه ګدایګرۍ په مخنیوي کې خپل مسئولیت اداء کړي او یا به زموږ ولس د هغو ګدایګرو په مخنیوي او معالجې کې څه وکړای شي کوم چې پر ځانونو یا خپلو ماشومانو.. باندې ظلم کوي او د یو کپ مړۍ په خاطر د خپلو ماشومانو ژوند په نیشه کولو.. او دې ته په ورته چارو سره ځانونه په خطر کې اچوي؟ یقینا چې د دغسې ناروا کار منع کول نه یوازې چې د حاکمانو مسئولیت دی، بلکې د ټولنې ټول وګړي پکې شریک دي.

موږ مسلمانان داسې یو دین ته منسوب یو چې د کار و کسب، همت راپیدا کولو، پر ځان اعتماد کولو او ځان په عزت کې ساتلو باندې راته امر کوي، زموږ سپیڅلی دین په دې باندې امر کوي چې مسلمان باید غښتلی او قوي وي، یو مسلمان بې له سختۍ اړتیا سوال ونه کړي داسې نه چې د قیامت له شرمندګۍ او سزا سره مخ نه شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:((الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَالْيَدُ الْعُلْيَا الْمُنْفِقَىُ، وَالسُّفْلَى السَّائِلَىُ)).[58] د پاسه لاس له لاندې لاس نه بهتر دی او د پاسه

---

۵۸- صحیح مسلم ، کتاب الزکات

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس ورکونکی دی او لاندې لاس سوال کوونکی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا، فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ». [٥٩] څوك چې له خلكو څخه د هغوي مالونه د خپل مال زياتوالي په خاطر وغواړي، نو په حقيقت كې دا د اور يوه سكروټه غواړي، نو خپله خوښه يې ده چې ډېره غواړي او كه لږه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «**لَا تَزَالُ الْمَسْأَلَةُ بِأَحَدِكُمْ حَتَّى يَلْقَى اللَّهَ، وَلَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ**». [٦٠] له تاسې به د يو چا (ګدايګر) باندې د سوال كولو حالت هميش تر دې پورې وي چې (په قيامت كې) له الله تعالی سره داسې مخ شي چې پر مخ باندې به يې د غوښې كومه ټكړه نه وي پاتې.

### د ګدايګرۍ د مخنيوي په موخه:

انس بن مالك رضي الله عنه ويلي: له انصارو نه يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او د يو څه غوښتنه يې ورڅخه وكړه، نو هغه ورته وفرمايل: ايا په كور كې څه نه لرې ؟ هغه وويل د خره يوه كټه شته چې يې اغوندو، او څه يې له ځان لاندې اچوو، همداراز د اوبو لوښی لرو چې اوبه پكې څښو. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: هغه دواړه راوړه ! نو هغه سړي دواړه شيان راوړل. رسول الله صلی الله عليه وسلم دواړه په لاس كې ونيول او اعلان يې وكړ چې: څوك دا دواړه اخلي؟ يو سړي وويل زه دواړه په يو دِرهَم اخلم، هغه بيا اواز وكړ چې څوك يې له يو درهم نه په زياتو پيسو اخلي ؟ نو يو بل سړي وويل زه يې په دوه درهمو اخلم. رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته هغه شيان وركړل دوه درهمه يې ورڅخه واخستل هغه انصاري ته يې وركړل او ورته يې وفرمايل: پدې يو درهم خواړه واخله او كورته يې يوسه

---

[٥٩] - صحيح مسلم ، كتاب الزكاة

[٦٠] - صحيح مسلم ، كتاب الزكاة ، باب النهی عن المسئلة

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پدې بل باندې تر خځ واخله او ماته يې راوړه . . نو چې کله يې ترخځ راوسته ورته يې وفرمايل ولاړ شه خس راوړه او خرڅوه يې او بايد چې پنځلس ورځې دې ونه گورم! هغه سړي همداسې وکړل. بيا وروسته له هغه مودې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته پداسې حال کې راغی چې لس درهمه يې لاس ته راوړي و چې په ځينو يې جامې واخستې او په ځينو خواړه.

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: دا کار تاته لدې بهتر دی چې سئوال کول ستا پر مخ باندې په قيامت کې داغ وي؛ دا ځکه چې سئوال کول پرته له دريو کسانو بل چا ته روا نه دي: هغه څوک چې ډېر محتاج وي او هيڅ نه لري، بل هغه څوک چې د بل چا (د سولې) په خاطر يې مال لگولی وي اوبل هغه څوک چې د وينې او قتل په بدل کې ديت ورباندې لازم شوی وي او هغه يې له پوره کولو نه بې وسې وي.[٦١]

علامه يوسف قرضاوي صاحب وايي: په پورتني حديث کی مونږ گورو چې:

الف- د الله تعالی استازي صلی الله عليه وسلم هغه سړي ته له زکات يا صدقاتو له مال نه څه ورنه کړل؛ ځکه چې هغه قوي او پر کسب باندې قادر و.

ب- حديث شريف د بيکارئ د منځه وړلو پداسې يو گام باندې مشتمل دی چې انساني نظامونو د اسلام له ظهور څخه وروسته له اوږدو پيړيو وپيژاند.

ت- د الله تعالی استازي صلی الله عليه وسلم گدايگر په مادي موقتي مرستې ځواب نه کړ او نه يې يوازې د گدايگرئ نه د منع کيدو وعظ ورته وکړ، بلکې د ستونزې د حل طريقه يې ورته وښوده او هغه مشکل يې ورته په کاميابه طريقه حل کړ.

ث- ددې ښودنه يې ورته وکړه چې څرنگه کولای شي د خپل توان برابر وسايل -

---

[٦١] - حديث په: (سنن أبي داود ، كتاب الزكاة، باب ۲۵) کې ذکر شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لږ وي او که زیات وي- په کار واچوي، ترڅو له ګدایګرۍ منع شي او خپله اړتیا په هغه څه رفعه کړي چې ورسره شتون لري .

ج- ددې ښودانه یې ورته وکړه چې دکوم کار په واسطه حلاله روزي لاس ته راوړل کیږي هغه عزتمند کسب دی، که څه هم د خسو ګیډیو راوړل او خرڅول وي، ترڅو په سوال کولو سره د مخ د اوبو له تویولو څخه انسان بچ شي.

ح- داسې کار ته یې وهڅاوه چې دهغه دشخصیت، توان، شرایطو او چاپیریال سره مناسب و او د کار آله یې ورته په ګوته کړه چې په تردد او حیرانتیا کې پاتې نه شي.

خ- پنځلس ورځې فرصت یې ورته ورکړ تر څو له هغې نه وروسته د الله تعالی استازي صلی الله علیه وسلم ته معلومه شي چې نوموړی کار ورته مناسب دی او که نه او غوښتنه یې وربادې پوره کیږي او که نه؟ نو که چیرته مناسب نه وي او یایې غوښتنه نه پوره کوي بله طریقه ورته وښایې.[٦٢]

نو د ګدایګرې د مخنیوي په میدان کې دا هم اړینه ده چې اړونده ګدایګرو لپاره د حکومتي او موسساتي ارګانونو له لورې د هغوی د وضعیت برابر کارونه مهیه کړل شي، ترڅو یو له یوې خوا د هغوي اقتصاد ښه شي او له بلې خوایې د کار او زحمت انتاج ټولنې ته ګټه ورسوي.

همدارنګه د ګدایګرو او فقیرو وګړو د پالنې او تعلیم لپاره ځانګړې تعلیمي پروژې په کار واچول شي..

**۴- ناروغي او مرضونه:**

په دې کې شک نشته چې زمونږ په هېواد کې د پردیو ګټو او پر موږ باندې تپل شوو جنګونو له د ژوند د نورو برخو په څیر پر صحت او

۳۰- وګوره: فقه الزکات، د یوسف القرضاوي ۲/۸۹۴- ۸۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغتیا باندې هم ناوړه اغیزې پرېباسلې دي.

دا څرګنده ده چې زمونږ د ولس د فقر او خوارئ له وجې له پخوا راهسې هېواد د رنځونو او بیماریانو پر ضد مقاومت کې پاتې راغلی او له پخوا راهسې مو ټولنه د ډاکټرانو او د طبي وسایلو له نشتوالی او یا کمبود سره مخ وه.

په ډېر تاسف سره باید ووایو چې د هېواد د بیارغاونې په ډګر کې لکه د نورو برخو په څیر په صحي برخه کې هم ډېرې بودیجې مصرف شوي او مصرفیږي، خو هغه مطلوبه نتیجهورباندې مرتب نه شوه او په هېواد کې د بیا رغاونې په پروسې پیل کیدو باندې د کافي وخت په تیریدو اوس لا هم زموږ هېواد وال د ډېرو عادي ناروغیو لکه د معدې، ګردې، توبرکلوز، محرقې او داسې نورو ناروغیو د درملنې په موخه له هېواد نه بهر سفرونه کوي.

ایا موږ د دې ناروغیو متخصصین ډاکټران نه لرو؟ او که ستونزه په دویانو کې ده؟ که هر څه وي، خو بیا هم ملامتیا مو حکومت او چارواکو ته ورګرځي، چې ولې د موجوده ستونزو حلولو ته پوره پاملرنه نه کوي؟ او ولې د شخصي ګټو په نظر کې نیولو سره د خلکو په حیاتي مسایلو باندې لوبې کوي.

باید ووایو چې که له یوه اړخه د هېواد د ورانې او ویجاړېدو د راپاتې اثراتو له امله مو ټولنه د ناروغیو په مهار کولو کې پاتې راغلې، نو له بله اړه د عامو هېواد والو فقر او بې وزلې هم د ناروغیو په زیاتیدو او خپریدو کې له پوره زوره کار اخلي. او دغه پدیده د فقر او نیستئ یوه ناخواله او بده اغیزه ګڼل کیږي، د دې حقیقت له ډېرو بیلګو څخه یوه بیلګه (په ۱۱/ ۸/ ۱۳۹۶ لمریز کې) د صحت عامې هغه راپور دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: له (۱۵۰۰۰۰) هېواد ولو څخه زيات د هيپيتات په ويروس اخته دي، چې دا شمېره د وخت په تيريدو سره زياتيږي؛ ځکه چې په هېواد کې د دې ناروغۍ (او دې ته ورته) په هکله دخلکو د آګاهۍ کموالی، د تعليم کموالی، او د ټولنې فقر دی.

د ناروغيو او صحت په برخه کې چې په کال ۱۳۹۷ل د سرطان د ناروغانو په اړه کوم شمېر ښودل شوی چې (۲۰،۰۰۰) وګړې پرې اخته دي او هر کال (۱۶۰۰۰) هېواد وال د دې ناروغۍ له امله مړه کيږي دا هم د ځانګړې اندېښنې وړ خبر دی.[۶۳]

د يوې څېړنې له مخې په افغانستان کې ۲۱ سلنه مړينه د زړه د ناروغۍ له امله ده. د روغتيا د نړيوال سازمان له خوا د افغانستان د عامې روغتيا وزارت له لارې د هېواد په ۲۲ ولايتونو کې د زړه د ناروغۍ په اړه څېړنه شوې، وروستي معلومات ښيې چې په افغانستان کې ۴۴ سلنه مړينه د غير ساري ناروغۍ له امله چې په هغې کې شکر، تنفسي ناروغۍ، د زړه ناروغي او سرطاني ناروغۍ دي چې ۲۱ سلنه مرګونه يې بيا د زړه د ناروغۍ له امله دي.[۶۴]

د کال ۱۳۹۸لمريز په وروستيو کې چې کله زموږ هېواد ته د کورونا ناروغي (کويد ۱۹ )[۶۵] راداخل شوه، نو د دې وبائي ناروغۍ په مخنيوي او درملنه کې حکومت لازم ګامونه وانه خستل،او له بهر نه چې د دې

---

[۶۳]. وګوره: MoPH reports ۱۲,۰۰۰ cancer deaths per year – Afghanistan.

[۶۴]. بي بي سي پښتو، ۱۳۹۸/۷/۱۴ لمريز ( څېړنه: هرو سلو کې ۲۱ افغانان د زړه له ناروغۍ مري).

[۶۵]. د کرونا يا کويد ۱۹ ناروغي د ۲۰۱۹ زېږديز کال په وروستيو کې د چين هېواد په اوهان ښار کې پيدا شوه او په ډېرې چټکۍ سره په ټوله نړۍ کې خپره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروغۍ د مخنیوي او درملنې لپاره کومې پیسۍ او وسایل راغلي ؤ،دا هر څه د خاینو وګړو د خیانت ښکار وګرځېدل..بلکې د ځینو شنونکو په اند دکرونا ویرس زموږ په هېواد کې د فساد لپاره لاره هواره کړه.[٦٦]

د الله تعالی په فضل پرته له دولتي او حکومتي مرستې د عام ولس بې شمېره ناروغان په خپلو شخصي امکاناتو سره روغ او جوړ شول.

## ٥- خپلمنځي جنګونه :

د روسانو له شکست او کمونستي رژیم له سقوط څخه وروسته په هېواد کې د جنګ او جګړو لپاره کوم شرعي مبرر او دلیل موجود نه و چې یو مسلمان دې د بل مسلمان وینه توی کړي. لکن د قوم او ولس د ځینو وګړو د بدو تصرفاتو او شخصي مصلحتونو مخکې کولو پر بنسټ هېواد یو ځل بیا د داسې مصیبت او عذاب سره مخ شو چې له هغه ړومبني څخه څو ځله ستر او خطرناك و او پدغو جنګونو کې زیاتره د ولس د عامو وګړو برخه اخستل د فقر او نیستۍ په وجه و، چې لدې لارې ځان ته مال او پیسې پیداکړي او خپل اقتصادي مشکل پرې حل کړي.

هغو وګړو چې په ناحقه سره یې د یو مسلمان په قتل کې برخه اخستې وي باید چې په خپلو کړو وړو پښیمانتیا ښکاره کړي، الله تعالی ته توبه وباسي او که داسې ونکړي، نو له الهي ګرفت او عذاب نه به خلاص نه شي.

او د هغه وګړو کار هم الله تعالی ته سپارو کومو چې جنګونو ته د ثواب ترلاسه کولو یا د وضعې د سمون په بنیاد وردانګلي وي الله تعالی به د

---

[٦٦]. وګوره: راديو آزادي، ثور ۰۱, ۱۳۹۹،

او وګوره: کورونا ویروس ته په ځانګړې شوې بودجه کې د فساد په اړه اندېښنې

https://tkg.af/pashto/۲۰۲۰/۰۵/۱٤/%DA%A۹٪D۹٪۸۸٪D۸٪B۱٪D۹٪۸۸٪D۹٪۸٦٪D

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی فیصله کوي او نژدې ده تاریخ او راروان شرایط او حالات داهم راپه ګوته کړي چې څوک پر حق او څوک پر ناحقه ۆ.

### ۶– پردیسي او هېواد پریښودنه:

له پخوا راهسې زموږ د وطن ډېر ځوانان به د غریبۍ او بد اقتصادي وضعیت له کبله زیاتره دوو ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران ته تلل، چې ایران ته به په تګ کې ډېر ستونزي موجود ۆ، او تر اوسه پورې دغه مشکل لا نه دی حل شوی..

بلکې یادو دواړو ګاونډیو هېوادونو ته زموږ د ولس یو زیات شمېر وطنوال ځانګړې اړتیا لري، او هلته د ورتللو لپاره بیلابیل ستونزي او کړاوونه ګالي، چې پدې نژدې وخت کې ایران ته نن ټکی اسیا (شنبه، ۱۳ دغوایي په ۱۳ مه، ۱۳۹۹ل): د ایران سرحدي پولیسو د هغو پنځوسو تنو افغان کارګرانو په سیند لاهو کول،کومو چې غوښتل د ذوالفقار سیمې له لارې ایران ته په قاچاقي ډول واوړي،[۶۷] همدارنګه له یادې پېښې وروسته د نوموړي هېواد په یزد ولایت کې دګډوالو په ګاډي باندې د پولیسو ډزې کول، د هغې اور اخستل، او د افغانانو تېږې کیدل یا سوځیدل دا هم یوه خورا زیاته بوګنونکی پیښه ده.[۶۸]

حقیقت دادی چې موجوده حکومت د هېوادوالو په غم کې نه دی، او نه داسې مطلوب ګامونه اخلي چې په وسیله یې په داخل او بهر کې هېوادوالو ته هوسایي ورسیږي. دا په بې شمېره پیسئ او بودجې او امکانات چې حکومت ته ورکړل شول ایا نه شو کیدای د یو معقول او ګټور پلان له مخې یې په ایران او

[۶۷]. وګوره: د ایران سرحدي پولیسو ۵۰ افغان کارګران په سیند لاهو کړي – نن...

[۶۸]. وګوره: ایران کې د سوځېدلي افغان فریاد؛ "لږ اوبه راوړه، وسوځېدم... BBC - "

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان کې مهاجرين په خپل هېواد کې ميشته کړي واى؟
اصلاً موږ له خواخوږو او وړتيا لرونکو چارواکو څخه بې پرخه يو، هغه چارواکي چې د رعيت په وړاندې د خپل مسئوليت احساس وکړي، او خپل ماموريت په سمه توګه اداء کړي، او مخکې لدې چې د خپل کور د آبادۍ په فکر کې شي، د رعيت د آبادۍ لپاره هلې ځلې کوي..

کله چې په ١٣٩٥ لمريز کې د حکومت لخوا په پاکستان کې د مهاجرينو د راستنيدو غوښتنه وشوه، او هلته پر مهاجرينو باندې د هغه ځای حکومت لخوا ډېرې بدې ورځې راغلې، نو يو زيات شمېر مهاجر وطنوال خپل هېواد ته راستانه شول، حکومت او اړونده مئوسساتو چې د راستنو شوو هېوادوالو لپاره يو څه مرستې په نظر کې نيولې وې څه يې ورکړې شوې، خو بيا وروسته هغه مرستې هم د درغليو ښکار وګرځيدې، او له هغوی سره چې د حکومت لخوا د ځمکو او نمرو و کومې وعدې شوې وې، هغه تش پر کاغذ او يا په خوله باندې وينا پاتې شوه.

له بده مرغه چې پدغسې او هغسې وعدو او برنامو کې په خپله ځينې حکومتي جهاګيرداران، غصب کوونکي او درغلي کوونکي لاسونه داخليږي چې په يو نامه او بل نامه د خپلو ځانونو لپاره وهنې او جهاګيردارۍ کوي، الله تعالى دې دغسې خاين، غاصب او درغلي کوونکي لاسونه لنډ کړي!

له ذکر شوي کال راهسې ډېر راستانه شوي هېوادوال وليدل شول چې لدې بدې ورځې - چې په خپل ټاټوبي کې له لوږې، بيچارګۍ او بيکارۍ سره مخ شول- بيرته د پاسپورټونو په وسيله پاکستان ته ولاړل..!

پدې کې شک نشته چې هېوادول مو له له هر بله ځايه زيات دوو رقيبو ګاونډيو هېواد ونو (ايران او پاکستان) ته زياته اړتيا لري، ترڅو پکې واوسيږي او يوکپ مړۍ پکې پيدا کړي او هغه وګړي چې غربي او کفري

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو ته ورځي، که څه هم ځيني يې له شتمنو کورنيو څخه دي، خو بيا هم د هغوی وطن پرېښودنه او هلته ځای پر ځای کيدل يا اقامت غوره کول زموږ د ټولنې او هېواد په ګټه نه دي، او د نوو او تنکيو ځوانانو د انحراف او بد اخلاقه کيدو حقيقت خو له هيڅا پټ نه دی.

له رب العالمين څخه سوال کوو چې: زموږ په هېواد کې داسې يو اسلامي عادلانه او پياوړی نظام رامينځ ته کړی، څو د نورو ستونزو د مخنيوي سربېره د مهاجرينو بيرته راستنيدو او په هېواد کې يې ميشته کولو ته پاملرنه وکړي او هم د وطن او هېواد پرېښودنې مشکل ته د پای ټکی کيږدي!

**٧–په نشه يي توکو روږدي کيدل:**

د افغانستان په ګڼ مېشتو ښارونو په ځانګړې توګه کابل ښار- د هېواد پايتخت دی- په چوکونو، کوڅو او کنډوالو کې هغه ځوانان تر سترګو کيږي چې لويه بهانه يې بيکاري او غريبي ده، او يا هغه ځوانان چې د سياسي يا هم اقتصادي مشکلاتو له امله له افغانستان نه همسايه او يا هم د نړۍ نورو هېوادونو ته کډوال شوي ؤ. چې اوس يې زياتره بېرته له بهرنيو هېوادونو په زور يا هم په خوښه افغانستان ته راستانه شوي ي. زياته برخه يې په مخدره توکو روږدي شوي ؛ نه سرپناه لري او نه هم د روزمره ژوند د پر مخ بېولو لپاره اړين توکي. نه د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې له لوري د دوی ژوند ته کومه توجه شوې.

که څه هم هر کال د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې په ميليونونو ډالره لګول کيږي، خو پر دې سربېره هر کال د نشه يي توکو کاروبار زور اخلي او په نشه يي توکو د روږدو کسانو شمېر زياتيږي. وروستي راپورونه ښيي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اوس مهال د لويانو تر څنګ په دغه ناوړه پديده ماشومان او مېرمنې هم روږدې شوې دي.[٦٩]

همدارنګه په زندانونو کې پر نشه يي توکو باندې د بنديانو اخته کيدل، او هغوی ته نشه يي توکې په آسانۍ باندې رسيدل داسې يوه پديده چې سل په سلو کې يې حکومتي اړونده چارواکي مسوول ګڼل کيږي، پدې اړه د افغانستان د مشرانو جرګې د شکايتونو اوريدو کميسون د افغانستان د زندانونو مشر د يو لړ پوښتنو لپاره د ملي شورا ودانۍ ته بللې و. د سناتورانو لومړۍ نيوکه دا وه،چې ګواکې د افغانستان زندانونه د روږدو کسانو پر استوګن ځايونو بدل شوې دي.

د مشرانو جرګې د شکايتونو اورېدو د کميسيون مرستيال وويل چې زندانونه روزنځي وي، خو په افغانستان چې ځوک زندان ته ولويږي ددې پر ځای چې وروزل شي، په نشو ککړيږي: زندانونه روزنځي دي، سمه ده کنه، خو کوم کسان چې د افغانستان زندانونو ته ځي نه يوازې دا چې روزل کيږي نه، بلکې ډيری يې پر نشو روږدي کيږي..[٧٠]

يو شمېر خلک وايي له يوه پلوه که زندان د کړاو ځای دی، نو بل پلو يو روزنځی هم دی چې زندانيان په کې د نشيي توکيو او نورو ناوړو بوختياوو څخه ژغورل کيږي. خو د افغانستان په ځرخي پله زندان کې حالت بل راز دی. نه يوازې دا چې روږدي کسان په کې له روږديتوبه نه ژغورل کيږي، بلکې روغ رمټ ورغلي زندانيان هم په کې په هيروينو، اپينو، چرسو او نورو نشو روږدي

---

[٦٩]. وګوره: په نشه يي توکو روږدي ماشومان ډېر شوي pashto -

[٧٠]. وګوره: ګڼ افغان بنديان په نشو روږدي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي. د کابل د څرخي پله زندان روغتیایي څانګې ته ورغلیو یو شمېر روږد زندانیانو و ویل چې دوی دننه په زندان کې په نشو روږدي شوي دي.
له دوی نه یوۀ تن داسې وویل: "خراب شو نو، په زندان کې خراب شو، زندان له نشیي توکیو ډک دی په کیلو کیلو موندل کیږي څومره دې چې په کار وي پیدا کیږي، خو چې پیسې درسره وي، زه هم په زندان کې په هیروینو روږدی شوی یم، دا نشیي توکي ملاقاتیان او پولیس راوړي، که خپله پولیس په کې ښکیل نه وي، څوک یې راوړي، اوه تړلې دروازې دي، پر کومه لاره راځي که پیسې ورکړي د نشیي توکیو ډکه لارۍ هم رالیږدولای شې".د څرخي پله په روغتیایي مرکز کې پر دنده بوخت ډاکټر چې د خپل نوم له خپرولو یې ډډه کوله ومنله چې لږ شمیر روږدي کسان له بهر څا پیریاله روږدي رالیږدیدلي او ډیر شمیر په زندان کې دننه روږدي شوي دي.[71]
دعامې روغتیا وزارت د راپور له مخې په کال (۱۳۹۷المریز د غوایې په میاشت کې) په هېواد کې د نه شیانو شمېر دریو ملیونو ته رسیدلې دی. او په یو بل راپور کې- چې د همدې کال د جدي په ۲۹ مه نیټه خپور شوی ؤ - د نومورې وزارت د سروې له مخې تازه شمېرې ښودلې وه چې د هېواد په سلو کې ۱۱سلنه خلکو په معایناتو کې د نشه یي موادو د استعمال نښې نښانې لیدل شوي دي، دا کسان په مستقیم او غیر مستقیم ډول د نشه یي موادو له زیان سره مخ دي. دا یوه لویه ستونزه ده چې د ځینو عواملو له مخې د نشه یي موادو استعمال ورځ په ورځ ډېرېږي. د طبي خدمتونو او نشه یي موادو د غوښتنې را کمولو پر وړاندې یوه بله ستونزه داده چې ځیني معتادین طبي درمل او صنعتي مواد د نشه یي موادو په ډول استعمالوي.[72]

---

[71]. وګوره: BBC Pashto - افغانستان - په څرخي پله زندان کې نشیي توکي...
[72]. ازادي رادیو جدي ۲۹, ۱۳۹۷ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اړونده مبارزه کې مهم ګامونه:**

دموجوده حکومت له پیله تر اوسه پورې د مخدره موادو پر ضد مبارزې په نتیجه کې څه ځانګړې لاس ته راوړنه نه ده شوې. د ځینې راپورونو پر اساس ویل کیږي چې له هغه راهسې چې دامریکا په مشرۍ بهرنیو عسکرو پر افغانستان لښکر کشي کړې ده په دغه هېواد کښې د کوکنارو کر او تولید زیات شوی دی. سره لدې چې په تیرو کلونو کښې دنشه ایزو موادو د جرړې د ایستلو لپاره زیاتې ژمنې شوی وې او پر افغانستان باندې د برید پر مهال د امریکا یو شعار دا وو چې په افغانستان کښې به دنشه ایزو موادو تولید له مینځه یوسي، خو څرنګه چې دامریکا لخوا دافغانستان د جنګ د ختمیدا شعار متحقق نشو، نو هغه شعار هم تحقق ونه موند ، بلکې په دغه هېواد کښې دنشه ایزو موادو تولید څو برابره زیات او لا په زیاتیدو دی..[٧٣]

پدې ځای کې د مخدره او نشه یزو توکو د مخنیوي په موخه دا لاندې وړاندیزونه د پام وړ ګڼو:

١. د الله تعالی د رضاء لپاره او د د ینې وجیبې او مسئولیت له مخې باید چې هر مسلمان د دې ناروا کار په مخنیوي کې هلې ځلې وکړي.

د ایماني وجدان او احساس له مخې یو مسلما باید پرانسان باندې ترحم او مهرباني ولري، همدارنګه یومسلمان یوازې د بل مسلمان د نجات او ژغورنې لپاره نه بلکې د ټول انسانیت د لارښوونې او هوساینې لپاره هلې ځلې او کوښښونه وکړي.

موږ د داسې یو پیغمبر صلی الله علیه وسلم امتیان یو چې الله تعالی د ټولو عالمینو لپاره رحمت رالیږلی او پر لارښوونو کې یې یوازې پر

---

[٧٣]. وګوره: Pars Today ویبپاڼه ١٧/ ٥ / ٢٠١٧م

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانيت نه بلکې پر حيوانيت باندې هم د رحم کولو تاکيد شوې دی. نو مسلمان ته د هغه په پيروۍ کې دا مسئوليت هم سپارل شوې چې د خلکو لپاره د رحمت او مهربانۍ پيغام ولري.

ايا دا به مناسبه وي چې يو مسلمان دې په خپل شاوخوا کې روږدي کسان (لکه شرابيان، پوډريان او چرسيان) ګوري او د هغوی په وړاندې دې خپل مسئوليت ته پاملرنه نه کوي؟

همدارنګه يو مسلمان دې ځينې داسې د پوډرو معتادين ګوري چې له حيواناتو څخه هم زيات ذليله ګرځي او بيا دې ورته فکر من کيږي نه، د هغه پر حالت دې د ده په زړه کې پر انسانيت باندې د ترحم ولوله او جذبه نه راپيداکيږي، د داسې پريوتو او ځپل شوو وګړو د ژغورنې لپاره دې کوښښ نه کوي، يا لدې تباهۍ څخه د نورو مسلمانانو او انسانانو د ژغورنې او ساتنې لپاره دې کوښښ نه کوي؟

٢ – د حکومت لخوا په اخلاص او ريښتيولۍ سره پر مخدره موادو پابندي او هغه يو ستر جرم ګڼل.

بايد چې حکومت د شرعي قوانينو د نافذولو د ژمنې له مخې د نورو جنايتونو او جرمونو ترڅنګ د نشه يې او مخدره موادو د استعمال، پير او پلور او پر هر ډول معاملاتو باندې په صدق سره بنديز ولګوي، نه داچې د حکومتي دوايرو له لارې د داسې جرايمو د ترسره کولو لپاره لارې هوارې شي..

ايا زموږ حکومت به د ځينو هغو اسلامي هېوادونو غوندې - لکه د سعودي شاهي حکومت- داسې يو اقدام وکړي چې له مخې يې د مخدره موادو معامله کونکو ته سخته سزا ورکړل شي؟

د نوموړي حکومت د علماو مجلس او اړونده ديني سرچينې دمخدره

(c) ketabton.com: The Digital Library



موادو سوداګرئ، ترويج او بيلابيلو معاملاتو په وړاندې د شرعي دلايلو په رڼا کې دې لاندې نتايجو ته رسيدلي دي:
الف. هغه څوک چې مخدره مواد قاچاق کوي د هغه سزا وژنه ده؛دا ځکه چې د دې توکو په ليږد او قاچاق کولو باندې پر هدفي سيمو کې ستر زيانونه او تاوانونه رامنځ ته کيږي.
ب. هغه څوک چې مخدره شيان ترويج کوي، برابره خبره ده چې د روږدو د استعمال لپاره يې مهيه کوي، يا يې راواردوي، يا يې ډالۍ کوي، که يو څوک داسې کار د لومړي ځل لپاره وکړي، نو پر بند، درو وهلو، مالي تاوان او يا پر بدني سزا (درو وهلو) او مالي تاوان ورکولو دواړو باندې به مجازات کيږي. او که چيرې دا کار بيا هم تکرار کړي، د هغې تعزير او سزا زياتيږي او کيدای شي د هغه پر وژنه باندې تمامه شي.
دغسې سخته سزا چې بالآخره پر وژنه باندې تماميږي دا د دې لپاره چې د مخدره موادو کارو بار او ترويجول په ځمکه کې له هغه فساد او تخريب څخه کم نه دی چې له امله يې خلک لوټلی او وژلی شي.
د فقهې په کتابونو کې ذکر شوي دي هغه بريد کونکی (لوټمار) چې له خپل کار (لوټماری جرم) لاس وانخلي، نو هغه دې وتمبول شي که څه هم پر وژنه سره وي.[٧٤]
او دکتور دوهبه الزحيلي صاحب وايي: فقهاء پدې متفق دي چې څوک بې له عذره (د درملنې له اړتيا څخه پرته) کوم مخدر شی استعمال کړي، د هغې لپاره تعزير (اړونده لازمه سزا) ده، که هغه يې پر رټلو، وهلو، بندي کولو، د خلکو پر وړاندې اعلانولو، مالي غرامت او داسې نورو سره وي، هره کومه سزا چې قاضي او يا حاکم يې ورته تجويز کوي؛ د دې

---

[٧٤]. وګوره: فتاوی إسلامية:٣٧٩/٣ ( الإسلام سؤال و جواب (www.islamQA.ifor).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې نور خلک ورځخه عبرت واخلي او څوک هم د جرم او ناروا شيانو په کولو سره جرات ونه کړي. حنفي او مالکي فقهاوو دا روا ګڼلې چې دغسې تعزير کيدای شي وژنه هم وي، چې هغې ته سياسي وژنه ويل کيږي، کله چې حاکم پکې مصلحت وګوري او د جرم نوعيت د وژنې موجب وي لکه داچې يو څوک په تکرار سره د نشه يې يا مخدره موادو کار ترسره کوي (او خپل عادت يې ګرځولی وي) يا داچې د هغې له امله په جرمونو کې اخته وي، يا د لواطت او يا قتل په کارونو کې ملوث وي.. نو پدغسې حالاتو کې د روږدي کس وژنه د ځينې معاصرو هغو مفتيانو لپاره دليل دی کومو چې د داسې يو قانون مشروع ګرځولو وړانديز کړی چې د هغې پر بنسټ د مخدره موادو استعمالونکي او يا معامله کوونکي په دار ځړولو سره اعدام شي، چې پدغسې کړنلاره کې به د مخدره موادو سوداګرو، قاچاق کبرو او د هغې استعمالونکو لپاره پوره عبرت او درس اختسنه وي.[٧٥]

٣ – د روږدو د درملنې او د هغوی د مشغولولو لپاره خاص بنسټونه او مزکزونه جوړول:

په موجوده وخت کې د روږدو او معتادينو ددرملنې لپاره چې کومې هڅې رواني دي هغه کمې دي، نو بايد چې حکومت او اړونده ارګانونه پدې هکله جدي پاملرنه وکړي او کيدای شي د ځينو هېوادونو له تجاربو څخه پدې هکله استفاده وشي او د يو ځانګړې برنامې له لارې له يوه اړخه د روږدو د تداوې لپاره روغتونونه زيات شي او له بله اړخه داسې بنسټونه جوړ شي چې په هغې کې روږدې کسان تر هغه وخته وساتل شي چې د اعتياد له حالته ووځي او پدې اثناء کې د هغوی د جسمي ظروفو

[٧٥] وګوره: الفقه الإسلامي وأدلته, وهبة الزحيلي ٧/ ٤٥٠-٤٥١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابر د مناسبو کسبونو په زده کولو باندې هم بوخت شي..

۴- د هېواد هغه سیمې چې د کوکنارو په کر باندې یې زیاته اتکا وي، باید چې د دې کښت په معاوضه کې ورته مناسب بدیل ولټول شي، لکه د هرات په ځینې ولسوالیو کې چې د زعفران بوټي کښت او کر رامنځ ته شو، همداراز له دهقانانو سره لازمې مرستې وشي، چې د هغوی اقتصادي ستونزې حل شي او دغسې ناروا کښت ته بیا اړ نه شي.

۵- د اسلامي سپیڅلي دین له مخې قانون د حاکم او رعیت ټولو لپاره دی، نو پدې اساس هغه چارواکي چې د شرابو په کارو بار یا د هغې په څښلو کې ملوث دي هغوی هم د مجازاتو لپاره د قانون منګلو ته وسپارل شي، همداراز لکه څرنګه چې د رعیت عام وګړي د نشه یې او مخدره توکو پر کاروبار باندې مجازات کیږي، باید چې چارواکي او یا زورواکي هم ورباندې مجازات شي.

۶- د مخدره او نشه یې توکو پر ضد مبارزه کې باید چې د شرابو پر معاملاتو باندې هم سخت بندیزونه ولګول شي او د اسلامي سپیڅلي شریعت له مخې پر شرابیانو باندې حد جاري کړای شي، څو د دې ستر جرم پر مخنیوی کې لازم پرمختګ وشي.

۷- د چرسو په کارو بار باندې سخت بندیزونه ولګول شي، د چرسو معتادینو ته هم د اسلامي شریعت له مخې اړونده سزا ګانې اعلان او ورباندې تطبیق شي، همدرانګه چرسیانو ته د درملنې پر موخه مناسبې لارې چارې ولټول شي، توبه ویستلو ته اړ شي او دهغوی له ځواک څخه دهېواد او ټولنې په دیني او دنیاوي پرمختګ کې لازمي ګټې واخستل شي.

۸- که زموږ په هېواد کې شرعي حدود نافذ شي مثلا د غل لاس پرې شي، شرابخور په درو ووهل شي، زناکار ته هم خپل ټاکلې سزا ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، خائنان او رشوت خواره د تعزیري سزا له مخې په مجازات شي، د شرعي لارښوونو په رڼا کې د غاصبانو، لوټمارانو او دوکه مارانو.. مخنیوی وشي، د مخدره موادو قاچاق بران محاکمه شي، نو تاسې څه فکر کوئ، په ټولنه کې به دا موجوده ناخوالې لمنځه ولاړې نه شي او یا لږ ترلږه کمې به نه شي؟

زموږ د هېواد د قانون او دستور په ځینې مادو کې پر اسلامي شریعت باندې د عمل او دهغې د پلې کیدو ژمنه شوي، لیکن هغې ته د عمل جامې نه وراغوستل کیږي او ځینې هغه موارد چې د بشر حقوقو سره په ټکر کې راځي او د غیر سیاسي جرمونو پورې اړه لري لکه په ناحقه سره وژنه، زنا، شرابخوري، نو د هغې پر تنفیذ کې اړونده ارګانونه او محاکم ناغیږي کوي، کله چې په هېواد کې داسې وضعیت دی چې قانون تش د کاغذ پرمخ شتون لري او عملي بڼه یې نه لیدل کیږي، نو څرنګه به مو هېواد او ټولنه لداسې سختو او سترو جرمونو څخه پاکه شي او څنګه کیدای شي د ناکراریو، جګړو او بې اتفاقیو له ناخوالو او ستونزو څخه وژغورل شوو؟

۹- هېوادوال پدې پوخ باور ولري چې زموږ د ټولو مشکلاتو او ستونزو حَل یوازې د خپل سپیڅلي دین د لارښوونو په پیروۍ کې دی او له کومو ناخوالو او نامناسبو حالتونو سره چې مخ یو اساسي علت یې د خپل دین له ښوونو څخه وروسته والی دی. او په هېواد کې مو چې کومې ناکرارۍ، ناآمنۍ او بیلابیل مشکلات دي لومړۍ لامل یې دانسان جوړیدنې ته نه پاملرنه او د مطلوب نظام نشتوالی دی، نو ترڅو چې په هېواد کې لومړیتوب انسان جوړونې ته ورنکړ شي، سم نظام جوړ نه شي، پر منصب او وظیفې باندې وړ، امین او ریښتونې وګړي ونه ګمارل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، مافيايي کړۍ ماتې او ختمې نه شي، د زوراکيو، درغليو، خيانتونو او غصبونو مخه ډب نه شي، بيت المال د ټولو هېوادوالو حق ونه ګڼل شي، د ظالمانه طبقاتي نظام جرړې ونه ويستل شي او په هېواد کې په واقعي معنی سره اسلامي نظام - چې بنسټ يې عدالت او انصاف دی- قايم نه شي، نو بيا پدې هېواد کې امن، د نظام پايښت، آرامي، سوکالي، اقتصادي پرمختيا رامنځ ته کيدل ، د فقر او بيچاره ګئ، د نشه يې توکو او نورو ناخوالو او ستونزو ختميدل نا شوني او مستحيل دي.

نو راځئ چې د هېواد او ټولنې د ستونزو او ناخوالو لمنځه وړلو، ثبات او استقرار راوستلو، امن، هوساينې او ژغورنې په خاطر د خپل سپيڅلي دين د اقامې او د هغې د شريعت او قانون د پلي کولو لپاره يو بل ته په اخلاص سره لاسونه ورکړو او پدې لار کې رغنده هلې ځلې او کوښښونه وکړو.

## ۸- نورو ته احتياج:

د يوانسان بل داسې يو انسان ته اړتيا چې هغه يې له مجبوريت نه بده استفاده وکړي، يا يې مرسته او تعاون مشروط کړي، همداراز د يوې ټولنې يا يو هېواد بل هېواد دغه ډول احتياج ځينې وخت له ستونزو او مشکلاتو سره مخ کوي، لکه عملا وليدل شول چې ځينې ګاونډي هېوادونه – په ځانګړې توګه رقيبان هېوادونه – د خپلو ګاونډيانو له مجبوريت او اړتيا نه بده استفاده کوي. زموږ په هېواد کې د کمونستي کودتا نه وروسته کله چې اسلامي مقاومت او د کفر او الحاد پر ضد باندې مبارزې ته سخته اړتيا وه او پدې مورد کې د ځينې ګاونډي هېوادونو مرستې او کومک ته اشد ضرورت راپيداشو، نو بيا وليدل شول چې له مقاومت او جهادي بهير سره د مرسته کوکلو په بدله کې يې خپلې ځينې داسې ګټې په نظر کې نيولې وې کومې چې زموږ د ملت او هېواد په تاوان او ضرر تماميدې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو د فقر او نيستمنئ يوه ناخواله او منفي اغيز په انفرادي کچه او د هېواد په کچه نورو ته احتياج او اړتيا ده، الله تعالی دې زموږ د هېواوالو اړتياوې له خپلو لا محدودو خزانو څخه پوره کړي!

بايد چې يو مسلمان د حاجتونو د رفع کولو او د استغناء په نيت سره چې الله تعالی يې مستغني او له خلکو بې پروا کړي دغه دعاء ووايي: ((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى.[۷۲] ای الله زه له تا څخه د هدايت، پرهيزګارئ، پاکدامنئ، موړوالي او بې حاجتئ سوال کوم)). په حديث کې راغلي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به دغه دعاء کوله.

د دې لپاره چې له پورتنيو ناخوالو – چې يو عمده سبب يې فقر او نيستي ده او له بله پلوه د يرغل دوام دی- زموږ ټولنه وژغورل شي پکار ده چې قوم او ولس ته يو ښه بديل وړاندې کړو چې هغه اسلامي حکومت قايمول او شرعي نظام نافذول دي، داسې حکومت چې په ټولنه کې عدل او انصاف رامنځ کول ته لومړيتوب ورکړي، د رعيت هوساينه او آرامي يې له مهمو موخو څخه وي ، د هېواد د بيارغاونې لپاره پداسې يو اقتصادي شامل پلان باندې کار وکړي چې له يوه اړخه هېواد آباد شي او له بله اړه بيکاره هېواد والو ته د روزۍ دلاس ته راوړلو لارې هوارې شي، په هېواد کې د طبقاتي نظام جرړې وباسي د ظلم درغليو او شخصي ګټو پاللو پرمخ کلک ديوالونه ودروي.

---

[۷٦] .صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم څپرکی

## بې وزله او اړمنې طبقې

قرآن کریم د ټولنې هغه وګړو ته چې مالي توانایي ونه لري، اړمن او محتاج وي د فقیر او مسکین اصطلاح کارولې ده، همدارنګه ځینې اړمنې طبیقې یې هم په ګوته کړي چې هغه یتیمان او معیوبین دي. نو محتاج او اړمن خلک بیلابیلې ډولونه دي: برابر خبره ده که هغه سوالګر وي یا سوال نه کوي ، په بدن روغ وي ، ناروغ او معذور وي، سړی وي او که ښځه وي.

داچې زموږ په هېواد کې له څلورو لسیزو زیات دوامداره جنګونه وشول، دوو لویو یرغلګرو (روسانو، امریکایانو او متحدینو یې) پدې بې چاره اوبې دفاع ولس باندې بیلابیلې اسلحې وازمایلې.. چې له امله یې بشري ناورینونو رامنځ ته شول، افغان ولس ته یې د ځاني تاوانونو ترڅنګ زیات مالي تاوانونه هم واړول، او یو زیات شمېر هېواد وال یې له له بیچاره ګۍ او فقیرۍ سره مخ کړل.

په لاندې نقاطو کې د هېواد د زیاتو بیچاره طبقو د احتیاج څرګندونه او د هغوی د لاس نیوي او مرستې کولو لارې چارې ذکر شوي دي:

### لومړی: بې وزله ښځې:

داچې د اسلامي دین او د وطن د ساتنې په خاطر د یرغلګرو په دفعه کولو کې زیاته ونډه د ځوانانو وه، نو د ځوان نسل د شهادتونو او مړینو له امله په هېواد کې یو زیات شمېر ځوانې کونډې پاتې شوې چې د محتاجو خلکو په کتار کې لومړی همدغه طبقه ښځې راځي، بیا ورپسې هغه ښځې د میړونو په شتون کې هم په کار او کسب باندې مکلفې دي یا سوال او ګدایګري کوي. پدې لاندې نقاطو کې د دې موضوع وضاحت شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱– په اسلام کی د ښځې مقام :**

د طبیعت او واقعیت په بنا سره ښځه نیمه ټولنه، نیم ولس او د ماشوم لومړی مدرسه او ښونځی دی. د اسلام سپیځلی دین چې د بشریت د لارښوونې او د ژوند مکمل نظام دی، د ژوند د نورو اړخونو او برخو په څیر یې د ښځې په هکله هم پوره لارښونې کړي دي. له اسلام نه مخکې په جاهلي ټولنه کې ښځې ته د حیوان په څیر هم نه کتل کیدل .کفارو مشرکانو د ښځو وجود نه منلو او نه ورته په کوم حیثیت باندې قایل ؤ، نو الله تعالی په خپل کتاب کې دغه کار وغنده او ویې وفرمایل: ((وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِٱلۡأُنثَىٰ ظَلَّ وَجۡهُهُۥ مُسۡوَدّٗا وَهُوَ كَظِيمٞ ﴿٥٨﴾ يَتَوَٰرَىٰ مِنَ ٱلۡقَوۡمِ مِن سُوٓءِ مَا بُشِّرَ بِهِۦٓۚ أَيُمۡسِكُهُۥ عَلَىٰ هُونٍ أَمۡ يَدُسُّهُۥ فِي ٱلتُّرَابِۗ أَلَا سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ﴿٥٩﴾ )).[۷۷] او کله به چې لدوی نه یو چا ته د لور (زیږېدو) زیری ورکړ شو، نو مخ به یې (له خفګانه) تک تور واوخت او له غصې به ډ شو، له خلکو به پټ شو د هغه څه د ناخوښۍ له امله چې خبر یې ورکړ شوی (بیا به یې پدې فکر کولو چې دغه لور) سره د سپکاوي (د خلکو له پیغور سره سره ) وساتي او که په خاورو کې یې (ژوندې) ښښنه کړي؟ خبردار! بد دي هغه څه چې دوی یې پریکړه کوي .

د ښځې د مقام اوچتولو او پر هغوی باندې د ناخوښۍ د منځه وړلو لپاره د اسلام دین هغه حقیقت رابرسیره کړ چې په ټولنه کې نر او ښځه یو له بله څخه دي چې پر همدې دواړو باندې دنیا آباده ده، الله تعالی فرمایي: ((يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ

---

[۷۷]- النحل ۵۸ - ۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالاً كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبًا ﴿١﴾ )). [78] اې خلکو! له خپل هغه رب څخه وويرېږئ چې له يوه نفس يې راپيدا کړئ او له هغه يې د ده جوړه راپيدا کړه او له دواړو يې ډېر نارينه او ښځې خواره کړل، هم د هغه الله په نسبت تقوی ولرئ چې په خپلو کې غوښتنې پرې کوئ او هم د خپلوۍ په اړه، بې شکه چې الله ستاسو څارونکی دی.

د هغه بدې انګيرنې د منځه وړلو لپاره چې ناپوهه خلک د لوڼو په زيږيدو خفه کيږي، الله تعالی هغه حقيقت رابرسيره کړ چې دا زما کار دی چې چا ته زوې ورکوم او که لور (( لِّلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ۚ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ يَهَبُ لِمَن يَشَآءُ إِنَٰثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَآءُ ٱلذُّكُورَ ﴿٤٩﴾ )). [79] باچاهي خاص الله تعالی لره ده، هر څه ته چې يې اراده وشي پيدا کوي يې، چا ته چې يې خوښه شي لوڼې ورکوي او چا ته چې يې خوښه شي زامن ورکوي.

لکه څرنګه چې الله تعالی په دنيا کې ښځه له سړي سره د هغه د حيثيت او مقام برابر د خپلو حقوقو خاونده کړې، د آخرت په لحاظ هم الله تعالی ورته د عمل برابر ثواب او پاداش ورکوي، پدې معنی چې څرنګه ښځه له سړي سره په دنيا کې د خپل حيثيت برابر حقوق لري په آخرت کې هم دخپل عمل برابر حقوق (ثواب او پاداش) ورکول کيږي الله تعالی فرمايلي:((وَمَن يَعۡمَلۡ مِنَ

---

[78]. النساء ۱
[79]- الشوری ۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا ﴿١٢٤﴾». [80] او څوک چې نیک عمل وکړي له نارینو او ښځینو، پداسې حال کې چې ایمان لرونکی وي، نو دا کسان جنت ته بوځم، چې د نقیر (خرما د زړي شا داغ) په اندازه تیری به وربانديې ونه شي.

له اسلام نه مخکې په عربي جاهلي ټولنه کې ښځه له مدني او مالي حقوقو څخه بې برخې او محرومه وه او هغې ته به د یو حیوان په څیر کتل کیدل، همداوه چې د اسلام د لمر په راختلو سره هغه له خپلو ټولو حقوقو برخورداره شوه او په قران عظیم الشان کې د ښځو په نامه یو سوت (النساء سورت) رانازل شو په کوم کې چې د ښځو زیاتره هغه حقونه په ګوته شوي چې دوی ورڅخه محرومې وې لکه مهر، میراث او د اسې نور مالي او مدني حقونه.

او داچې په سړو کې د ښځو په وړاندې د ترحم عاطفه پیدا او لاپسې قوي شي، د اسلام د ستر پیشوا او د الله تعالی د استازي صلی الله علیه وسلم په عمل او ویناو سره ډېر داسې څه بیان او څرګند شو چې د دې محروم مخلوق د حقوقو پر ساتنې باندې تاکید کوي، د حدیثو په یو راویت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ: الْيَتِيمِ، وَالْمَرْأَةِ». [81] ای الله زه ډاروم او ملامتوم هغه څوک چې د دوه کمزورو: یتیم او ښځې حق اخلي.

له عایشې رضي الله عنها نه پوښتنه وشوه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کورکې څه کول هغه وویل د خپل کوروالو (بیبیانو) په خدمت (او دهغوي سره په کارکی مرسته کولو) کې به مشغول ؤ او کله به چې د لمانځه وخت داخل

---

[80]- النساء ۱۲۳
۳۸- سنن ابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او دس به يې وکړ (مسجد ته) دلمانځه لپاره به ولاړ.[۸۲]

دا چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم بيبيانی له ثلورو څخه زياتې وې پدې کې د نورو حکمتونو ترڅنګ يو حکمت دا هم ؤ چې په عملي ژوندګۍ کې د هغوی مالي سرپرستي له هغوی سره مرسته، تعاون، ښه چلند او اخلاق د هغوی له لارې امت ته انتقال شي، څو هغوی هم ورپسې اقتدا وکړي.

د مومنانو مور عايشه رضي الله عنها فرمايي (( يوه ورځ يوه ښځه چې دوه لونۍ ورسره وې زموږ کورته راننوتله او څه خوراک يې وغوښت، نو ما په خپل کور کې پرته له يوې کجورې بل څه ونه موندل. هغه کجوره مې ورته ورکړه، هغې دوه ټوټې کړه يوه ټوټه يې خپلې يوې لور ته ورکړه او بله يې بلې ته او پر خپله مخه ولاړه .کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغی ما د غه کيسه ورته وکړه، نو هغه وفرمايل: چا ته چې الله تعالی لونۍ په برخه کړي او بيا د هغوی ښه پالنه وکړي، هغه لونۍ به ورته په آخرت کې له اور نه نجات او پرده وګرځي)).[۸۳]

د حديثو په يو راويت کې راغلي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ((څوک چې درې لونۍ، يا درې خويندې، او يا دوه لونۍ ولري او پر هغوی لګښت (خرچه) کوي، هغوی ته ادب ورزده کړي، د هغوی ښه سرپرستي او پالنه وکړي، تر هغه وخت پورې د هغوی پالنه وکړي چې د واده مهال ته ورسيږي او بيا يې د واده انتظام وکړي، نو هغه ته جنت لازم شو)).[۸۴]

---

۳۹- صحيح البخاري ، كتاب النفقات ، باب ( ۸) خدمة الرجل في أهله
۴۰-- صحيح البخاري ، كتاب الزكاة ، باب ( ۱۰ )
۴۱- - سنن أبي داود : كتاب الأدب ، باب (۱۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲– په ټولنه کې د ښځو محرومتيا:**

دا په ډاګه ده چې زموږ د ټولنې د تيري يوه زياته برخه پر ښځو باندې تحميل شوې، موږ په خپله ټولنه کې ګورو چې زياتره ښځې له ميراث نه بې برخي دي، او ځينې ښځې له مهر څخه محرومې دي، همدارنګه د هېواد په ځينې قبايلي سيمو کې ښځې د يو سامان او يا څاروي په څير پلورل کيږي، چې لدې امله دغسې خلک د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د هغه وعيد مصداق ګرځيدلي چې فرمايي: ((قالَ اللهُ: ثلاثةٌ أنا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيامَةِ: رجُلٌ أعطى بي ثم غدر، ورجلٌ باعَ حُرّاً، فأكَلَ ثمَنَهُ، ورجُلٌ استأْجَرَ أجيراً، فاستوفى منهُ، ولم يُعْطِهِ أجْرَهُ.[۸۵] الله تعالى داسې فرمايلي: درې کسان داسې دي چې زه به ورسره د قيامت په ورځ جنګ کوم: يو هغه سړى چې زما په نامه عهد (ترون) وکړي او بيايې مات کړي، بل هغه سړى چې ازاد انسان د پيسو په مقابل کې وپلوري او (هغه پيسې) مصرف کړي، او بل هغه چې په مزدور باندې کار وکړي او د کار بدله او مزدوري ورنکړي)).

نو راځئ چې د خپل دين د تعليماتو سره سم خپلو خويندو ته د هغوى حقوق ورکړو، ترڅو مو د الله په وړاندې مسئوليت اداء شي او د دښمنانو له نيوکو هم خلاص شو. زموږ دښمنان چې کله دغه ظالمانه چلند ګوري، نو بيا د اسلام پر دين باندې نيوکې کوي، د هغوى اکثريت د اسلام د سپيڅلي دين حقانيت د مسلمان په عمل باندې پيژني او دې ته نه ګوري چې د اسلام دين د وګړو په کردار نه پيژندل کيږي، بلکه لومړى بايد حق وپيژندل شي او بيا پر هغې باندې د خلکو عملونه وتلل شي.

---

۴۲- صحيح البخاري، كتاب البيوع ، باب (۱۰۶ ) اثم من باع حرا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- د ښځو حقوقو ته پاملرنه:**

الله تعالی فرمايي: ((وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ)).[۸۶] د ښځو هم (پرنارينه و) څه حقونه دي چې په غوره توګه يې اداء کړي لکه د نارينه وو چې پر هغوي دي.

په حِجّة الوِداع (د وداعې او رخصتيدو حج) کې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د عرفات او لوی اختر په ورځ کومه خطبه ولوستله، په هغې کې يې اسلامي امت ته ډېرې مهمې توصيې او سپارښتنې وکړې چې يو ه توصيه له ښځو سره د ښه چلند کولو او هغوی ته د حقوقو ورکولو په هکله وه، رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ((**فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ، وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ، فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ وَلَهُنَّ عَلَيْكُمْ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**)).[۸۷]

نو له الله څخه د ښځو په حق کې وډار شئ، يقينا چې تاسې هغوی د شريعت د پيروۍ د امانت په اساس اخستې دي (نکاح مو ورسره کړې ده) او د هغوی عورتونه مو د الله تعالی د حکم پر بنسټ ځانونو ته روا کړي دي، پر هغوی ستاسو دا حق دی چې په خپلو کورونوکې داسې چا ته اجازه ورنکړي چې تاسې يې بد ګڼئ، نو که داسې يې وکړل بيا يې داسې ووهئ چې ډېر سخت نه وي، او پر تاسې د هغوی حق خوراک او په ښه طريقې سره جامه ورکول دي.

زمونږ په ټولنه کې دې ته ډېره اړتيا ده چې ښځو ته خپل حقوق ورکړل شي او هغه ښځې چې له خوارئ او غريبۍ سره مخ دي په سهي توګه د هغوی پالنه او کفالت وشي په ځانګړې توګه بې وزله کونډې، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ((**السَّاعِي على الأرْمَلَةِ وَالمِسكينِ كالمُجاهِدِ في سَبيلِ الله، أو كالَّذي**

---

۸۶ . البقرة ۲۲۸.

[۸۷] صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يَصُومُ النَّهارَ، ويَقُومُ اللَّيْلَ**».[88] کونډې او بې وزله ته پاملرونکی (په اجرکې) د الله تعالی په لار کې د جهاد کوونکی سره يو برابر دی او يا د هغه چا په څير دی چې ورځ يې په روژې او شپه يې په لمانځه تيريږي.

په هېواد کې بايد د دې هڅه وشي چې بې وسه او بې وزلو ښځو لپاره د يو منظم پلان له لارې د کفالت لړۍ پيل شي، ترڅو وکولاشو له يوه پلوه د ښځو د ګدايګرۍ – چې خورا زيات ناوړه نتايج پرې مرتب کيږي – مخنيوی وشي او له بله پلوه شرعي مکلفيت او مسئوليت اداء شي.

د حکومت اونظام لخوا د کفالت او مالي مرستو ترڅنګ بايد په ټولنه کې دعامو خلکو آګاهي ته هم پاملرنه وشي، په کلو، قريو او د ښارګوټو په داخل کې د بې وزلو ښځو د مرستې لپاره صندقونه کيښودل شي، همداراز د بې وزلو ښځو خپلوان د هغوی لازمې سرپرستئ او کفالت ته وهڅول شي.

د ښځو د بې وزله پاتې کيدو د مخنيوي په برنامه کې بايد دا انګيزه هم راپيدا شي چې د ښځو ګدايګري کول او د بې وزله ښځو مرسته نه کول يو ټولنيز ظلم دی چې توانمند خلک ورباندې ماخوذ دي، بايد دغه ظلم او تيري ته نور د پای ټکی کيښودل شي. او هغه ښځې چې دکار او کسب توان لري، نو بايد چې حکومت هغوی ته مناسبې پروژې په کار واچوي لکه: د لاسي ګنډنې، ماشيني ګنډنې، اوبدل او داسې نور، چې لدې لارې له يوه اړخه د هغوی اقتصادي ستونزې د کار او کسب کولو له په وسيله حل شي او له بله اړخه د هغوی د کار او کسب انتاج د ټولنې په پرمختيا او ترقۍ کې ولګول شي.

بايد د اسلامي مکلفيت پر بنسټ د حکومت له پلوه د ښځو د شان برابر او د شرعي لارښوونو سره سم داسې پروژې په کار واچول شي چې اساسي هدف يې د ښځو د مشکلاتو حل کول او د هغوی عزت

---

٤٤- صحيح البخاري، كتاب الأدب ، باب الساعي على الأرملة

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوږول وي، او د پروژو په تطبيق کې داسې اړخونو يا موسساتو ته اجازت ورنکړ شي چې د ښځې عزت او مقام ته صدمه رسوي او که داسې نه وي، نو زموږ د ټولنې د بې وزله ښځو ستونزي به حل نه، بلکې زيات به شي. دې او دې ته ورته نورو سپېڅلو موخو ته موږ هله رسيداى شو چې په هېواد کې مو په واقعي معنى سره اسلامي شريعت حاکم او واکمن وي.

## دويم:بې وزله ماشومان:

د اسلام سپېڅلى دين د انساني ټولنې د غوښتنو په لړ کې د ماشوم پالنې او تربيې ته هم پوره پاملرنه کړې او د هغې د عزت او ساتنې په هکله يې لازمې لارښوونې کړې دي. له اسلام نه مخکې د جاهليت په زمانه کې مشرکانو خپل اولادونه د فقر او لوږې له ويرې وژول، نو الله تعالى په قرانکريم کې د دې کار غندنه او مخنيوى وکړ، الله تعالى فرمايي: (( وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَـٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَـٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾ )).[۸۹] تاسې خپل بچيان د لوږې له وېرې مه وژنئ هغوى او تاسې ته خو روزي موږ درکوو. بيشکه د هغوى وژل لويه ګناه ده. همدارنګه فرمايي: ((وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَوْلَـٰدَكُم مِّنْ إِمْلَـٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ )). [۹۰] او تاسې خپل اولادونه د لوږې له ويرې مه وژنئ مونږ تاسې او هغوى ټولو ته روزي درکوو.

په اسلام کې د ماشوم سرپرستي او د هغه د پالنې مسئوليت لومړى د هغه د پلار مور او بيا د هغوى د نه موجوديت په صورت کې د هغه پر

[۸۹]- الاسراء ۳۱
[۹۰]- الأنعام ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلوانو باندې دى، مګر د خپلوانو د نشتوالي يا د بې وزلۍ په صورت کې دغه مسئوليت حاکم ته راجع کيږي او د دې مسئوليت په اړه به پوښتل کيږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((کلُّکم راعٍ، وکلُّکم مسؤُولٌ عنْ رَعِيَّتِهِ)).[۹۱] هر يو له تاسې شپونکى دى او له هر يو به د هغه د رعيت او ماتحت په هکله پوښتل کيږي.

په عمومې توګه په فقيرو او نيستمنو ټولنو کې د ماشومانو په وړاندې په درسته او سهي طريقه مسئوليت نه ادا کيږي، نو داچې ټولنه او هېواد له غربت سره مخې دلته ماشومان د خورا زياتو ستونزو او مشکلاتو سره لاس په ګريوان دي، د هغوى حقوق ورکول خو لا پرېږده، بلکې پر هغوى باندې ظلم او تيرى کيږي. ځينې هغه ماشومان چې د منډې او تړړې جوګه دي د روزۍ او رزق تر لاسه کولو په خاطر د لوى خطر سره مخ دي. د تنکي ماشومانو په سختو کارونو کې مشغوليدل، د هغوى ناوړه استخدام، ګدايګري کول، دا ټولې هغه ناخوالى دي چې زموږ د ولس د بې وزلۍ او فقر له امله رامنځ ته شوي دي.

د يو راپور له مخې (( کال ۱۳۹۶ لمريز، د قوس په ۶مه نيټه)) د افغانستان د کار او ټولنيزو چارو وزارت ويلي: په هېواد کې ۱.۳ ميليونه ماشومان د بېلابېلو خطرونو له ګواښ سره مخ دي. د ځينو ارقامو له مخې، ۱، ۲ ميليونه ماشومان دا مهال په درنو کارونو بوخت دي. افغان ماشومان وايي چې لا هم له سختو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، د دولت لخوا يې لاسنيوى نه دى شوى او د خپل ژوند د تأمين لپاره خپل راتلونکي ته اند ښمن دي.

تاسې څه فکر کوئ زموږ د ټولنې هغه ماشومان چې د سختو کارونو په کولو مجبور شوي او يا له خپل توان څخه څو چنده زيات بار وړي ايا هغوى د خواخوږۍ، همدردۍ او ترحم زيات وړ نه دي ؟

---

[۹۱]. متفق عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دادی چې مور په خپله ټولنه کې دغه ماشومانو ته د څارویو په څیر هم ونه کتل، اسلام چې کله څاروي باندې د مهربانۍ امر کوي، څو یې خاوند ورباندې د هغه له توان څخه پورته بار یو نه سي، نو په طریقه اولی سره دغه مهرباني او ترحم پر یو ماشوم باندې په کار دی .

زمور د ټولنې هغه ماشومان چې د ژوند یوه برخه یې په ډېرانونو کې د کبار راټولو په خاطر تیریږي، د صحت ، او روغتیا د خرابوالي له یو ستر ګواښ سره هم مخ دي او څه فکر کیږي هغه ماشومان چې ګدایګري او سوال کول یې پیشه ګرځیدلې او یا د قاچاق په نقلولو کې استخدامیږي انساني طبیعت به یې روغ او سالم پاتې شي او که داچې ټولنه دې له هغوي نه صرف نظر شي ؟

باید یادونه یې وکړو چې زمور د هېواد د بې وزلیو په لړیو کې ماشومان هم په زیاته کچه له بې وزلیو او زیانمن کیدو سره مخ کیږي، د کورونا ناروغۍ پدې اوسنیو شرایطو کې چې په هېواد کې بې وزلې لا پسې زیاته شو، د هغې ل جلمې یې ماشومانو ته هم یو زیاته برخه رسیدلې.

د اقتصاد وزارت د شمېرو پر بنسټ، د هېواد له نیم نفوذ څخه زیات خلک د بې وزلۍ له کرښې لاندې ژوند کوي. ورته مهال، د ملګرو متلونو سازمان له ماشومانو د ملاتړ صندوق (یونېسېف) وایي اندېښنه لري چې د قرنطین په لړ کې ماشومان له لوږې سره مخ شي.

په افغانستان کې د یونېسېف ویاند وایي: (( مور اندېښمن یوو چې کورونا ویروس هغوی د لوږې له خطر سره مخامخ کړي دي)).افغانستان د نړۍ تر ټولو بې وزله او ناداره هېواد دی.

دماشومانو دملاتړ نړیوال دفتر پدې وروستیو کې ریوټ ورکړی چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې اوه نيم مېليون ماشومان له خوارځواکۍ او لوږې سره مخ دي.[92]

**د ماشومانو ژغورنې ته پاملرنه:**

بايد چې حکومت او عام ولس د بې وزلو د لاس نيوي په برنامه کې د بې وزله ماشومانو لاس نيوي ته هم پوره پاملرنه وکړي،هغه چارواکي چې د حکومت او بيت المال په مالونو او شتمنيو کې ناوړه تصرفات کوي، خيانت او درغلي پکې کوي، يا داچې خپل مسئوليتونه په پوره توګه نه داء کوي، پدې باندې دې باور ولري چې الله تعالی به ورځخه د دې بې وزلو پوښتنه کوي..

راځئ چې د خپلو بچيانو د پالنې په څېر د ولس د بې وزله ماشومانو غم وخورو، د هغوی حقونه ورکړو ،د هغوی د ژغورنی لپاره متې را بډ وهو، او پداسې لارو چارو باندې غور وکړو چې د هغوی بې وزلي او خوارځواکي ختمه او احتياج يې رفع شي.

د و لس او هېواد د بې زولو ماشومانو د زده کړې او پالنې په لړۍ کې بايد چې دا لاندې نکات په نظر کې ونيول شي:

الف- د قوم او ولس هر ماشوم د تعليم او تربيې له اساسي زده کړو برخمن شي.

ب- هغه خيريه بنسټونه چې د ماشومانو د ژغورنې لپاره کار کوي لږ او محدود دي، نو دې ته اړتيا ده چې د ماشومانو د ژغورنې لپاره کافي او مطلوب خيريه بنسټونه تاسيس شي.

ج- د ماشوم د پالنې او هغې ته د روزۍ د ګټلو د کسبونو ترڅنګ د هغوی د سالمې تربيې او روزنې لپاره لارې چارې هوارې شي.

د- که يو بنسټ يا يا کومه موسسه غواړي د بې وزله ماشومانو لپاره د حرفوي

---

[92]. وګوره: د کورونا ويروس د خپرېدو په لړ کې د بې وزلۍ او ناداری زياتوالی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړو مرکز پرانيځي، نو د هغوى د توان برابر کسبونه او پروګرامونه ورته داير کړي، چې د هغوي د عمر او جسمي طاقت په نظر کې نه نيولو سره پداسې څه مکلف نه کړای شي چې له وسې او توان يې پورته وي، څو پرهغوی باندې د ظلم کولو په وعيد کې رانه شي، اود دښمنانو د هغې نيوکې مورد ونه ګرځي چې وايي: په اسلامي هېوادونو کې ماشومان په درنو کارونو مکلف کيږي.

## دريم: يتيمان:

په اسلامي شريعت کې يتيم هغه چا ته وايي چې پلار يې مړ شوي وي، پداسې حال کې چې دې بلوغ ته نه وي رسيدلای.[۹۳]

يتيمان او يا پلار مړي د ټولنې د زياتو بې وزلو او محتاجو طبقو څخه شمېرل کيږي؛ دا ځکه چې يتيم د پلار له نعمت او د هغې له سرپرستۍ نه بې برخې او محروم وي او پدې طبقه کې ځينې هغه ماشومان چې پرته له مور نه د کورنۍ بل کوم سرپرست هم نلري زيات محتاج بلل کيږي؛ ځکه چې د ژوند له سختو تکليفونو او کړاوونو سره مخ وي.

نو راځئ چې د دې بې وزله طبقې په لاس نيوي او ژغورنه کې دا لاندې مهم نکات په نظر کې ونيسو:

### ۱ – يتيم پالنه يوه مهمه فريضه ده:

د اسلام سپيڅلي دين د داسې بې وزلو ماشومانو سره په غوره چلند، ښې سرپرستې او هغوی ته په پوره پاملرنې باندې تاکيد کوي، له هغوی سره د هر ډول بدچلند مخنيوي کوي او د هغوی د حقونو د ضايع کولو په کلکه سره غندي، چې دغه مفهوم د قرانکريم او نبوي احاديثو په يو شمېر نصوصو کې ذکر شوی دی، د نمونې په توګه:

---

[۹۳]- وګوره :الفقه الاسلامي وأدلته د کتور وهبة الزحيلي ، ۸ \ ۷۹ ،چاپ دارالفکر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- الله تعالی فرمايي: «وَلْيَخْشَ ٱلَّذِينَ لَوْ تَرَكُواْ مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعَٰفًا خَافُواْ عَلَيْهِمْ فَلْيَتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلْيَقُولُواْ قَوْلًا سَدِيدًا ﴿٩﴾».[94] او ودې ويرېږي هغه خلک که چيرته د هغوی له مړينې وروسته د هغوی کمزوري اولادونه (ماشومان) پاتې شي، نو د هغوی په هکله به انديښنه وکړي، همداسې دې د نورو د اولادونو په هکله له الله تعالی څخه وډارشي او له هغوی سره دې سم چلند وکړي او سمه خبره دې ورته کوي.

ب- الله تعالی فرمايلي: «وَلَا تَقْرَبُواْ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ».[95] او مه نژدې کيږئ د يتيم مال ته، مګر په هغه طريقه چې سمه وي، څو چې زلميتوب ته ورسيږي.

پدې آيت شريف کې الله تعالی د يتيم د مال په ساتنه امر کوي او پدې تاکيد کوي چې سرپرست يې بايد په مال کې ناجايزه تصرف ونکړي، مال يې په پوره امانتدارۍ ورته وساتي او چې کله له يتيمتوب څخه ووځي (بالغ شي) په پوره توګه يې ورته وسپاري لکه چې پدې بل آيت کې يې هم وضاحت شوی دی:

«وَٱبْتَلُواْ ٱلْيَتَٰمَىٰ حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَٱدْفَعُوٓاْ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ وَلَا تَأْكُلُوهَآ إِسْرَافًا وَبِدَارًا أَن يَكْبَرُواْ».[96] "تاسې يتيمان وازمايې تردې چې کله زلميتوب ته ورسيږي، نوکه هوښيارتيا مو ورڅخه وليده خپل مالونه ورته وسپارئ او د هغوی مالونه په اسراف سره مه خورئ؛ ددې له وېرې چې ستر به شي (او مالونه به يې ستاسې له تصرف نه ووځي).

---

[94]- النساء ۹
[95]- الأنعام ۱۵۲
[96]- النساء ۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فقهي پوهانو پدې خبره باندې اتفاق کړی چې کوم یتیم تصرف نه شي کولی د هغه سرپرست به یې په سمه طریقه په مال کې تصرف کوي. همدارنګه علماء پدې خبره اتفاق لري چې شتمن او غني سرپرست به د هغه له مال نه د ځان لپاره څه نه اخلي او نه مصرفوي او نه به ورځخه خوراک کوي او فقیر او نیستمن سرپرست ( څوک چې یې مال په کار اچوي) پداسې توګه به ورځخه خوراک کوي چې اسراف او زیاتی پکې نه وي، لکه څرنګه چې الله تعالی د همدغه مخکیني آیت په اخر کی فرمایي: (( وَمَن كَانَ غَنِيًّا فَلۡيَسۡتَعۡفِفۡۖ وَمَن كَانَ فَقِيرًا فَلۡيَأۡكُلۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِۚ .او هغه څوک چې غني وي، نو ځان دې د هغه له ماله وساتي، او که څوک فقیر وي، نو په جایزه طریقه دې (د حق زحمې برابر) ورځخه دخپل خوراک لپاره اخلي)).

د مومنانو مور عایشه رضي الله عنها وایي: (( دغه آیت د یتیم د سرپرست په هکله نازل شوی، نو که چیرې هغه نیستمن وي، د خپل کار او زحمت په اندازه دې ورځخه خوراک کوي )). او د حدیثو په یو بل یو روایت کی ذکر شوي: یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې زما هیڅ مال او داراي نشته او یتیم مې له سرپرستۍ لاندې دی، نو هغه ورته وفرمایل: د خپل یتیم له مال نه داسې خوراک کوه چې اسراف او زیاتی کوونکی نه وې، د هغه له مال څخه د ځان لپاره بچت کوونکی نه وې، همداراز د هغه پر مال باندې خپل مال ساتونکی نه وې.[97]

---

[97] - وګوره: الفقه الإسلامي و أدلته ، دکتور وهبة الزحیلی ، ۵\ ۴۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د يتيم پالنې اجر او ثواب :

الله تعالی فرمايي: ((وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡيَتَـٰمَىٰ ۖ قُلۡ إِصۡلَاحٌ لَّهُمۡ خَيۡرٌ ۖ)).[۹۸] ای پيغمبره! دوی له تا څخه د يتيمانو په باره کې پوښتنه کوي، نو ورته ووايه د هغوی لپاره ښېګڼه غوښتل غوره کار دی)). پدې وينا کې الله تعالی د يتيمانو د اصلاح ، د هغوی سره ښه چلند او د هغوی ښه سرپرستي يو بهترين عمل ګڼلی دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله يوه وينا کې د يتيم د سرپرستئ او پالنې ثواب او اجر داسې ذکر کوي:((كَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ))[۹۹] د يتيم سرپرست که يتيم يې خپلوان وي او يا ورڅخه پردی وي، زه او هغه به په جنت کی داسې يو (د دووه ګوتو- مسواکه او منځنۍ - په څير نژدې).

رسول ل الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ((خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ، وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ))[۱۰۰] د مسلمانانو په کورونو کې بهتر کور هغه دی چې پکی يتيم وي، ښه چلند ورسره کيږي او د مسلمانانو په کورونو کې بد کور هغه دی، چې پکې يتيم وي او بد چلند ورسره کيږي.

## ۳- د يتيم پالنې په اړه احساس:

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې د يتيم ، او پلار مړي د مقام، د هغه سهي تربيې او سالمې پالنی ته توجه نه ده شوې، پدې خبره باندې ډېر ښکاره دليل په ټولنه کې د ځينو يتيمانو بد رالويدل او بيا د شر په کارونو کې اخته کيدل دي، نو که غواړو ټولنه د پرمختيا ، آرامئ او تمدن په لور روانه کړو، بايد چې د يتيم پالنې او سالمې روزنې ته ځانګړې پاملرنه وکړو، ترڅو ټول يتيمان په ټولنه

[۹۸]- البقرة ۲۲۰

[۹۹]- صحيح مسلم ، كتاب الزهد ، باب فضل الإحسان إلى الأرملة و المسكين و اليتيم

[۱۰۰]- سنن ابن ماجه ، كتاب الأدب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مصلح او نيک وګړي وګرځي او د هېواد په پرمختيا کی يې له استعدادونو کار واخستل شي.

يتيمتوب څه عيب نه دی بلکې عيب پدې کې دې چې په ټولنه کې د يتيمانو سالمې پالنې ته پاملرنه ونه شي، زموږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم هم يتيم ؤ، الله تعالی د هغه پالنې لپاره ډېر ښه اسباب برابر کړل، الله تعالی فرمايي: ((أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾)).[۱۰۱] ايا ته مو يتيم نه وې ګرځولی، چې استوګنه او د سرپرستۍ اسباب مو درته برابر کړل.

د عربو په جاهلي ټولنه (او د مکې په ښار کې) کې الله تعالی د خپل پيغمبر استازي صلی الله عليه وسلم پالنې او سرپرستۍ ته غوره لارې چارې برابرې کړې، د هغه مبارک زيږيدل داسې مهال رامنځ ته شول چې پلار يې وفات ؤ، نو نيکه يې عبدالمطلب ډېره ښه پالنه وکړه، بيا د هغه له وفاته وروسته تره يې ابوطالب سرپرستي او پالنه پر غاړه واخيسته..

د دغه احسان په يادولو سره الله تعالی خپل استازي صلی الله عليه وسلم ته بيا دا امر کوي چې د يتيم سرپرستۍ او پالنې ته خاص توجه کوه او له هغه سره له بد او ناوړه چلند نه ځان وژغوره چې دغه خطاب يې امت ته هم شامل دی:

((فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ﴿٩﴾)).[۱۰۲] نو پر يتيم باندې قهر او غصه مکوه.

بايد په ياد ولرو د جهاد او هجرت پر مهال چې د يرغلګرو (روسانو او کمونستانو) د ظلمونو او د هغوی پر ضد د جهاد او مقاومت له امله زموږ په قوم او ولس کې زيات شمېر يتيمان راپاتې شول او د هغوی د کفالتونو او

---

[۱۰۱] - الضحی ۶

[۱۰۲] - الضحی ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرپرستۍ په لړۍ کې نه يوازې د هغوى خپلوانو يې سرپرستي وکړه، بلکې د اسلامي نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مسلمانانو د هغوى همدردۍ او مرستې ته راودانګل. د يو شمېر اسلامي مئوسساتو لکه :اسرا (الوکالة الإسلامية..) جمعية قطر الخيريه، لجنة الدعوة الاسلامية، هيئه الإغاثة الاسلامية, هيئة التراث الإسلامي، اونورو د هجرت او جهاد پر مهال په پاکستان کې زمونږ د هېواد د زيات شمېر يتيمانو کفالتونه وکړل، د نومړو موسسو زياتره کفالتونه او مرستې له خليج هېوادونو څخه وې.

له بده مرغه چې د سپتمبر ۱۱ پېښې (کال ۲۰۰۱م) څخه وروسته دغه کفالتونه او مرستې کمې شوې او د زيات شمېر يتيمانو کفالتونه لغوه شول، چې لدې امله يو زيات شمېر ييتميان او د هغوى کورنۍ له اقتصادي ستونزو سره مخ شوې.

په موجوده وخت کې چې د هېواد په داخل کې د حکومت له لارې د يتيمانو د مرستې لپاره کومې برنامې روانې دي، د نومړو مئوسساتو له کفالتونو او مرستو سره يې هيڅ مقارنه او پرتله نه شي کيداى؛ دا ځکه چې د حکومت اړونده ادارې د دې کارلپاره خاصه او معلومه بوديجه نه لري او هغه کومې مرستې چې د حکومت له بوديجې يا له يو ځاى او بل ځاى ترلاسه کيږي، لومړى له خاينو لاسونو تيريږي او بيا يتيم او کورنۍ ته يې چې څه رسيږي هغه ډېر کم او نا چيز وي.

نو بايد چې زمونږ مسلمان ولس هم د اسلامي مسئوليت او ديني وجيبي پربنسټ - لکه د خليجي اوعربي نړۍ د ولسونو په څير - د يتيمانو کفالت او سرپرستۍ ته راودانګي، څو له هغو سترو اجرونو او ثوابونو برخمن شي، کوم چې د يتيم په پالنې او کفالت سره حاصليږي. زمونږ وطنوال بايد د نورو خلکو مرستو او کومکونو ته نور سترګې په لار نه شي، بلکې د خپلو محتاجو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړمنو وګړو اړتیا په خپله پوره کړي او د یتیمانو د لاس نیوي په خاطر باید چې له داخل څخه د کفالت لړۍ پیل شي. زموږ په شتمنو وګړو کې باید دغه احساس پیدا شي او با احساسه وګړي باید پدې ډګر کې ډېر څه وکړي.

دا یو حقیقت دی چې زموږ په ټولنه کې د بې وزله خلکو د حقوقو د ناخبرۍ، هممدا راز په ټولنه کې د ظلم او تیري د عام کیدو له امله د یتیمانو حقوق هم ضایع کیږي، د یتیمانو ځینې ظالم وارثان د هغوی شرعي او ثابت حقوق ورڅخه تروري، همداراز ځینې حکومتي چارواکي یتیمانو ته په راغلو کفالتونو او مرستو کې ناجایزه تصرفات کوي، د دغه انفرادي او ټولنیز ظلم د مخنیوي په خاطر پدې ځای کې موږ د هغو نصوصو یوه نمونه ذکر کوو چې د یتیمانو حق خوړونکو او پر هغوی باندې د ظلم کوونکو سزا پکې بیان شوی:

الف. الله تعالی فرمايي: ((إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارًاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرًا ﴿١٠﴾))[103] بیشکه هغه کسان چې د یېتمانو مالونه په ظلم سره خوري، بیشکه چې دوی په خپلو خېټو کې له اوره پرته بل څه نه اچوي او ژر دی چې اور ته به ننوځي.

ب. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوی وینا کی د یتیم مال خوړل له اوو تباه کونکو ګناهونو څخه شمېرل شوی، هغه فرمایي: ((**اجتَنِبوا السبْعَ الموبِقاتِ، قالوا: يا رسولَ الله! وما هُن؛ قالَ: الشِرْكُ باللهِ، والسحرُ، وقتْلُ النَفْسِ التي حَرمَ الله إلا بالحق، وأكلُ الربا، وأكلُ مالِ اليتيمِ، والتَولي يومَ الزَحْفِ، وقذْفُ المُحْصَنَاتِ المؤمِناتِ الغافلاتِ**)).[104] له اوو تباه کوونکو ګناهونو ځانونه وساتئ! صحابه و وویل: ای د الله پیغمبره! هغه کوم دي، هغه وفرمایل: له الله سره شرک کول، جادو کول، په ناحقه سره ځوک وژل، سود خوړل، د یتیم مال خوړل، په جنګ کې شاه اړول

[103] ـ النساء ۱۰

۵۸- **متفق علیه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پاکو ناخبرو مومنو ښځو په ناپاکۍ سره تورنول.

ج. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «**اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ: الْيَتِيمِ، وَالْمَرْأَةِ**».[۱۰۵] اى الله! زه هغه څوک ګنهګار بولم چې د دوه کمزور: ښځې او يتيم حق ضايع کوي (او خپل امت د هغوى له حق تلفۍ نه ويروم).

نو راځئ چې په ټولنه کې د تييمانو، ښځو او کمزورو او بې وسه خلکو پالنې او مرستې ته پوره پاملرنه وکړو، ترڅو مو دخپل حبيب صلی الله عليه وسلم په خوښۍ ترلاسه کولو سره رب العالمين او پالونکی ذات مل او مدد ګار شي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «**ابْغُونِي فِي الضُّعَفَاءِ، فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ، وَتُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ**»[۱۰۶] تاسې زما رضا او خوښې د کمزورو خلکو په لاس نيوې کې ولټوئ، بيشکه له تاسې سره د کمزورو له مخه مدد کيږي او تاسې ته روزي هم د هغوى په خاطر درکول کيږي.

### ۴– د يتيم ښوونې او روزنې ته پاملرنه:

بايد چې په هېواد او ټولنه کې د يتيمانو ښوونې او روزنې ته زياته پاملرنه وکړو او که داسې ونه شي او هغوى لدې نعمت نه بې برخې پاتې شي، نقصان او تاوان به يې خپلو کورنيو او خپلوانو پورې منحصر نه وي، بلکې ضرر او اذيت ټولنې ته هم رسيږي. حکومت، خيريه ټولنې او شتمن خلک د دې طبقې د کفالت او مرستې په لړ، کې د هغوى لپاره د ښوونې او روزنې بيلابيل فرصتونه برابر کړي، که له يوه پلوه د يتيم له کورنۍ سره نقدي او مالي مرسته کيږي، بايد چې د هغې ترڅنګ د يتيم تعليمي کفالت هم وشي.

يتيمانو ته د تعليمي فرصتونو او تعليمي چاپيريال په برابرولو کې بايد دې ته

---

[۱۰۵]- سنن ابن ماجه (کتاب الأدب)

[۹۶]- سنن أبي داود ، کتاب الجهاد ، باب(۷۷) فی الانتصار بذی الخيل و الضعفة، وفي صحيح البخاري کتاب الجهاد، باب من استعان الضعفاء و الصالحين فی الحرب، بلفظ "هل تنصرون الابضعفاءکم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیر شو چې په ټولو حالاتو او شراطو کې یتیمانو ته پر روزنتونونو باندې اکتفاء ونه شي، بلکې د هغې پر بدیلو موثرو لارو باندې هم غور وشي، د مثال په توګه:

الف- د روزنتونو ترڅنګ باید چې په حکومتي او شخصي نمونه یي ښونځیو او مدرسو کې د یتیمانو لپاره هم د خاصې پالنې تر سیورې لاندې د زده کړې فرصتونه برابر شي؛ دا ځکه چې پداسې یو چاپیریال کې - چې ټول پکې د روزنتون په څیر یتیمان نه وي - یتیم ته په طبیعي چاپیریال کې د وخت تیریدو موقع ورکول کیږي او له بله پلوه د پلار لرونکو زده کوونکو له همدردۍ او ملګرتیا څخه هم برخمن کیږي.

ب- د یتیمانو سرپرستان او کفالت کوونکي باید چې د نقدي کفالت ترڅنګ یتیمانو ته په ځانګړو نمونه یې او ممتازو ښونځیو او مدرسو کې د زده کړې په موخه زمینه برابره کړي اوبیا پدې پروسه کې هغوی د خپلې څارنې او ارزونې لاندې ونیسي، پداسې طریقه چې د ښونځي او یا مدرسې له ادارې سره وخت په وخت تماس کې وي او د مکفول یتیم د ارزونې لپاره یوه خاصه فورمه ولري چې په اړونده معلوماتو باندې مشتمله وي..

ج- که د ځینې ظروفو او شرایطو پر بنسټ دا اړینه وي چې یتیم باید په روزنتون کې تعلیم وکړي، نو بیا د هغو یتیمانو لپاره چې خپلو کورونو ته تګ او راتګ کولی شي دا ضروري نه ده چې حتما دې د دار الایتام په لیله کې ووسیږي؛ ځکه چې د خپل کلي او یا د خپلې کورنۍ په چاپیریال کې د کورنۍ، خپلوانو او ګاونډیانو ترڅنګ د یتیم وسیدل هغه له طبیعي نشأت څخه برخمن کوي.

ج- باید چې په روزنتونو کې اداري او تدریسي عمله، همداراز کار کوونکي د یتیم له حقوقو څخه خبر وي او د هغوی د پالنې پر غوښتنو باندې پوهه ولري ، ترڅو د هغوی سالمه روزنه ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د- په روزنتونو او يا په نورو تعليمي مرکزونو کې د يتيم د زدکړې او تعليم سره سره بايد هغو يتيمانو ته چې عمرونه يې د بالغوال] مرحلی ته نژدې وي کسبونه او حرفوي پروګرامونه هم وښودل شي، څو په خپل راتلونکې کې د هغې له لارې که اړتيا يې وي روزي لاس ته راوړي.

## څلورم: معيوبين:

هغه څوک چې د بدن کوم غړی يې له منځه تللی او يا له کاره ولويدلی وي، يا دائمي رنځور وي او يا د جسم د کمزورئ له امله کار او کسب نه شي کولی معيوب او معذور بلل کيږي.

د بدن د غړو جوړوالی او په کار باندې توانايي يو نعمت دی، خو په مختلفو سببونو سره ځينې وګړي لدې نعمت نه محروميږي، چې بيا دغسې انسان د شريعت د لارښوونو پر بنسټ له ځينو مکلفيتونو څخه معاف کيږي او په ټولنه کې د خلکو د مرستې او همدردی زيات وړ ګرځي. په قرانکريم کی الله تعالی فرمايلي دي:

الف- (( لَيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ )). [۱۰۷] په نابينا باندې کوم حرج او ګناه نشته او پر ګوډ باندې هم او په رنځور باندې هم کوم حرج نشته (کله چې له جهاد څخه کيني).

ب- (( لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ )). [۱۰۸] نشته ګناه پر کمزورو، رنځورانو او پر هغه چا چې په جهاد کې د لګښت لپاره مال نه

---

[۱۰۷]- الفتح ۱۷
[۱۰۸]- التوبة ۹۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، کله چې هغوی په الله او د هغه د استازي په وړاندې اخلاص لرونکي وي.

ج. ((لَّا يَسۡتَوِي ٱلۡقَٰعِدُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ غَيۡرُ أُوْلِي ٱلضَّرَرِ وَٱلۡمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡۚ فَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ دَرَجَةٗۚ وَكُلّٗا وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ وَفَضَّلَ ٱللَّهُ ٱلۡمُجَٰهِدِينَ عَلَى ٱلۡقَٰعِدِينَ أَجۡرًا عَظِيمٗا ﴿٩٥﴾)).۱۰۹ له جهاد څخه ناست مومنان پرته له خاوندانو د معيوبيت څخه او هغه خلک چې د الله په لار کې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي برابر نه دي، الله تعالی په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوونکو ته پر ناستو خلکو باندې يوه درجه غوره والی ورکړی دی او لدې ټولو سره الله تعالی ښه وعده (د جنت) کړې ده او الله فضيلت ورکړې محاهدينو ته پر ناستو خلکو په لوی اجر سره.

زمونږ په تير جهاد او قربانيو کې – د روسانو او کمونستانو پر ضد - زيات شمېر خلک معيوب او معذور شول ، چې لاتر اوسه پورې يې يو زيات شمېر د ژوند د سختيو او مشکلاتو سره لاس په ګريوان دي او د خلکو مرستې ته سترګې په لار دي.

همدارنګه د کمونستي حکومت له سقوط څخه وروسته په داخلي جنګونو کې او بيا له هغې وروسته د امريکا په بريدونو او بمباريو او داسې نورو بيلابيلو حالاتو کې يو زيات شمېر هېوادوال د معيوبۍ په ټغر کيناستل.

د معيوبو وګړو له جملې نه يې ځينې داسې هم شته چې د ډېرې بې وسې له امله د سرکونو او لارو په سرونو او خواو کې د خير خيرات غوښتنې په موخه ناست وي، آن تر دې د کال په سختو موسمونو کې هم په ډاګ او آزاده فضاء

۱۰۹ـ النساء ۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وخت تیروي. باید چې دغسې ډېر بې وزله معیوب لدې خوارئ او سختیو نه وژغورل شي، با احساسه او شتمن خلک د هغوی پوره لاس نیوی وکړي.

همداراز د هېواد او ټولنې ټولو معیوبو وګړو لاس نیوي او مرستې ته پوره پاملرنه وشي، البته هغه معیوب او معذور وګړي چې د کار کولو یو څه توان لري د هغوی لپاره مناسبې پروژې په کار واچول شي:

**۱– د عامو معیوبونو لپاره پروژې:**

باید چې د معیوبینو لپاره د هغوی د جسمي توان او غوښتنې برابر د مناسبو کسبونو زده کولو په پروژو کې زیاتوالی راشي؛ دا ځکه چې تراوسه پورې د دوی لپاره دغه پروګرامونه محدود دي او زیاتره د اطرافو او قریو معیوبین لدغسې پروګرامونو څخه بې برخې پاتې دي.

او که د حرفوي او علمي زده کړې سره سره د معیوبینو سره نقدي مرسته هم کیږي، نو دا به ډېره ښه وي، ترڅو هغوی د خپلو کورنیو د اقتصادي ستونزو په حل کولو کې برلاسي شي، همداراز د کار او کسب له پوره کولو وروسته هغوی ته د کسب ماشین آلات ورکول او بیا هغوی ته بازار موندنه لدې ټولو لارو چارو نه خلاصی نه شته دی.

په کال ۱۳۸۱المریز کې چې کله مو پدې لیکنه باندې پیل وکړ، نو د معیوبو وګړو لپاره د پروژو په برخه کې د پلټنې پر مهال مې ولیدل چې د عامو معیوبینو لپاره د کسبونو د زده کړې په موخه په پېښور کې هغه مئوسه چې پدې میدان کې یې زیات شهرت درلود د سیدجمال الدین افغان رفاهي مئوسسه وه. د نوموړې مئوسسې مرکزي دفتر د پېښور په بورډ نعمت محال کی واقع و، د دفتر د مرکز ترڅنګ او په ځینو کیمپونو کې یې د معیوبینو د ټریننګ بیلابیله پروګرامونه درلودل چې ډېرو معیوبونو پکې کسبونه زده کړل، او د کسب له زده کولو وروسته به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې اړوند ماشين يا د کار آلات او وسايل هم ورکول، همداراز دې مئوسسې په جلال آباد ښار کې هم د ټريننګ مرکز درلود چې يو شمېر معيوبو وګړو پکې بيلابيل کسبونه زده کړل. هغه کسبونه چې د نوموړې مئوسسې لخوا معيونو ته ښول کيدل مهم يې: نجاري، حلبي سازي، ويلډنګ، بوټ ګنډنه او چپل جوړونه وو.

## ۲- د نابينايانو لپاره پروژې :

پدغه ميدان کې چې تر اوسه پورې د هجرت په مهال او يا داخل د هېواد کې پخوا کومې هلې ځلې شوي دي کافي نه وې او اوس چې پدې ميدان کې کومې مرستې کيږي، نو هغه هم بسنه نه کوي؛ځکه چې موږ په خپل شاوخوا کې ډېر نابينان لدغسې مرستو بې برخې ګورو، همدارنګه د لرې سيمو او اطرافو يو زيات شمېر نابينان ورځخه محروم دي.

د ليکنې په پيليزه مرحله کې مو د هجرت په ديار (پېښور) کې د نابينانو د حالاتو معلومولو په موخه مو (دافغانستان د نابينايانو د تنظيم) له ځينو غړو سره ليدنه وکړه او د نوموړي د فتر د فعاليتونو په اړه مو ورځخه پوښتنې وکړې، چې په نتيجه کې لاندې معلومات ترلاسه شول:

۱ = هغه مهال د نوموړئ مئوسسې دفتر چې د پېښور په ګل حاجي پلازه کې موقعيت درلود، د هېواد په داخل او خارج کې يې ۳۶۰۰ نابينايان راجستر کړي و، چې ( ۲۸۰۰) نابينايانو په داخل د افغانستان کې او د ۸۰۰ په شاوخوا کې يې د پاکستان په خاوره کې زندګي کوله.

۲ - دنوموړی دفتر د معلوماتو مطابق ځينې نابينايان لداسې کورنيو ځخه هم و چې په کورنۍ کې دوه، درې او يا ځلور وګړي نابينا و، د هغې د احصايې پر بنا دوه کورنۍ داسې هم موجودې دي چې ټول افراد يې نابينا و، يوه کورنۍ هغه مهال د کچه ګړهۍ په کيمپ او بله يې د ناګمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کیمپ کې وسیدله.

۳- یو نابینا وویل: زمونږ د هېواد د نابینایانو عمده ستونزي اقتصادي دي، او دهغو نابینانو د ژوند کړاوونه لازیات دي چې د کورنۍ مسئولیت لري، ماشومان اولادونه ورپه غاړه وي.

۴ - نوموړې مئوسسې د نابینایانو د اقتصادي ستونزو د حل په خاطر څه حرفوي او مسسلکي زدکړې پیل کړې وې (چې سترنجیو اوبدل، پزکي او چوکي اوبدل ، جاروجوړول او جالئ جوړول) کسبونه پکې زده کیدل.

همداراز د ښځینه نابینایانو لپاره د موره بافئ، نساجي، ښکلا سامان جوړول، بافت سیخ ، اوداسې نور کسبونه ښودل کیدل.

۵ - د دغه دفتر د ساحوي زدکړو مشر ښاغلي احسان فیاض چې په خپله نابینا دی د نابینایانو د استعداد په اړوند داسې څرګندونه وکړه: په علمي او ادبي میدان کی نابینا د هغه استعداد او توان له مخې چې الله تعالی ورته ورکړی دی کولای شي د الله تعالی کتاب په اسانۍ سره حفظ کړي، له هغه څخه خطیب، ښوونکی، ادیب، او شاعر جوړشي. همداراز د ژوند د وسایلو په ډګر کې هغوی ته تایپستي، د خط او لوست د زده کړې ځانګړی ماشین او داسې نور وسایل ښودل زیات مناسب کار دی، ترڅو په روزمره ژوند کې ورسره مرسته وشي.

له پخوا راهسې د نابینایانو زدکړې او د هغوی پالنې ته کومه خاصه توجه نه ده شوې، اوس چې د هغوی لپاره کوم ښونځې او د حرفوي زده کړو مرکزونه جوړ شوي کافی نه دي، زمونږ د ټولنې ډېر نابینایان په خاصه توګه د اطرافو وسیدونکي لدغسې سهولتونو محروم دي، نو باید چې حکومت، خیریه موسسې او شتمن وګړي دې قضیې ته پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپر کی
# د کار او کسب په وسیله د فقر مخنیوی

په ټولنه کې په هر وګړي لازم دي چې کار وکړي، او د روزۍ د لاس ته راوړلو لپاره منډې ترړلې ووهي، له ځمکې ښکته او له آسمان لاندې کوم د ژوند وسایل چې الله تعالی ورته برابر کړي هغه ولټوي، د کار اوکسب توان په ځان کې پیدا کړي لکه: دهقاني، سوداګري، میرزاتوب، اداره کول، او داسې نور ګټه لرونکي کسبونه. چې پدې طریقه به ځان شتمن کړي، د خپل ځان او کورنۍ اړتیا به پوره کړي، او بل چا ته له لاس نیولو څخه به بچ شي. او که چېرته یو څوک په خپل وطن کې د کار او کسب کولو زمینه ونه مومي، نو په کار ده چې د الله تعالی په ځمکه او د هغه په وطنونو کې سفر وکړي تر څو روزي پیدا کړي.

په اسلامي ټولنه کې دا لازم دي چې د یو بیکاره وګړي سره په کار پیدا کولو کې مرسته وکړای شي، همدارنګه د اسلامي نظام دا فرض دي چې بې کاره وګړو ته د کار زمینې برابرې کړي.او که چېرته یو بیکاره وګړی د کار د پیدا کولو په خاطر دکومې حرفې زده کړي، د کسب آلې او ماشین، پانګې، ځمکې او داسې نورو ته اړتیا ولري، نو حکومت پدې مکلف دی چې دغه وسایل ورته برابر کړي، چې په کار بوخت شي او خپل ځان او کورنۍ ته حلاله روزي پیدا کړي.

نو ددې لپاره چې زموږ په هېواد او ټولنه کې د بې کارۍ مخنیوی وشي، وزګارو او بیکاره وګړو ته د کارونو فرصتونه برابر شي، په رعیت او حکومت کې دغه احساس پیدا شي پدې اړه دې لاندې نقاطو ته ځير شئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱– په اسلام کی د کار اهمیت :

کار کول د فقر په مقابله کې لومړنۍ اسلحه، همدارنګه د شتمنۍ او پانګې لاس ته راوړلو مهم لامل او د ځمکې په آبادۍ کې لومړی عنصر بلل کیږي.کله چې الله تعالی ځمکه پیداکړه، نو په هغې کې یې برکت کېښود ، روزي یې پکې پیداکړه، د هغې په داخل او دباندنې کې یې د ګټې د شیزونو زخیرې پیداکړې، څو انسان د هغې په واسطه ژوند وکړي او په زندګۍ کې یې هوسائي او ارامي راشي، الله تعالی فرمایي:((وَلَقَدۡ مَكَّنَّٰكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَجَعَلۡنَا لَكُمۡ فِيهَا مَعَٰيِشَۗ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿١٠﴾)).[110] او په تحقیق سره موږ تاسې ته په ځمکه کې ځای او قدرت درکړ، او په هغې کې مو درته د ژوند وسایل او اسباب وګرځول (پیداکړل))، نو لږ دي هغه څه چې تاسې یې شکر وباسې. او الله تعالی فرمایلي: ((وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ)). [111] او یقینا چې عزت مو ورکړی زوزات د ادم ته، او په وچه او لمده کې مو د سورلۍ پر وسایلو بار کړي، او له پاکیزه شیزونو مو روزي ورکړې.

پدې کې شک نشته چې الله تعالی خپلو بندګانو ته روزي ورکوي لکه چې فرمایي: ((وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا. [112] او نشته هیڅ خوځنده ( ساه لرونکی) مګر داچې روزي یې په الله تعالی ده)). لکن دغه روزي یې د انسان کوښښ او منډې ترړې پورې تړلې ده، لکه چې فرمایي: ((هُوَ

[110]- الأعراف ۱۰
[111]- الاسراء ۷۰
[112]- هود۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ ذَلُولاً فَٱمۡشُواْ فِى مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزۡقِهِۦ ۖ.
[۱۱۳] الله تعالی هغه ذات دی چې ځمکه يې تاسې ته تابع کړې، نو وګرځئ دهغې په اطرافو کې او خورئ له (حلال) رزق د هغه څخه)). او الله تعالی فرمايي: ((فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ.[۱۱۴] نو کله چې له مانځه ( د جُمعې ) نه فارغ شې نو په ځمکه کې خپاره شئ او د هغه (الله) روزي ترلاسه کړئ.

ځينې مسلمانان داسې هم شته چې د توکل په بهانه سره له کوښښ او کار کولو څخه ډه ډه کوي، ددې انتظار باسي چې په خپله ورته روزي راشي. دغسې خلکو ته ويل په کار دي چې پر الله تعالی باندې توکل کول د کار او کسب کولو او د اسبابو اخستلو مانع نه دی.انسان به د دنياوي اسبابواخستلو ترڅنګ په الله تعالی باندې توکل کوي چې همدغه حقيقي توکل دی، په حديث کې راغلي دي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:((**لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ، لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا**)).[۱۱۵] که چيرې تاسې پر الله تعالی په ريښتيا سره توکل وکړې، نو خامخا به داسې روزي درکړي چې مرغانو ته يې ورکوي، هغو سبايي ( له ځالو) تشې ججرې وځي او بيګايي ډکې ججرې راګرځي.

نو پدې حديث کې له ريښتيا او حق توکل نه مراد د اسبابو اخستلو سره سره په الله تعالی باندې اعتماد کول دي؛ ځکه مرغان خو په ځالو کې نه کيني، بلکې د خپلې روزۍ لاس ته راوړلو لپاره وځي، حرکت کوي او د روزۍ پلټنه

[۱۱۳] ـ الملك ۱۵
[۱۱۴] ـ الجمعة ۱۰
[۱۱۵]. مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ويلي: د توکل اصل دادی چې ته يو کار چا ته وسپارې، هغې ته يې حواله کړې او پر هغې باندې اعتماد وکړې، او هغه څه چې په قرآن او حديث کې راغلي دي، دا يې معنی نه ده چې يو څوک اسباب او وسايل کارول پرېږدي، له امام احمد رحمه الله څخه د داسې يو سړي په هکله پوښتنه وشوه چې په کور يا مسجد کې ناست وي، او وايي چې هيڅ کار نه کوم، ما ته به مې خپله روزي راځي نو هغه وفرمايل: دا داسې يو سړی دی چې له علم او پوهې نه ناخبره او بې برخې دی، بيشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((الله تعالی زما روزې د نيزې له سيورې-په جهاد سره –ګرځولې ده)) او فرمايي: ((که تاسې په الله تعالی باندې په ريښتيا سره توکل وکړې، نو داسې روزې به درکړي چې مرغانو ته يې ورکوي، هغو سبايي له خپلو ځالو وځي (د روزۍ تلاش کولو په خاطر) او بيګايي ډکې ججرې راګرځي)). نو پدې حديث شريف کې د دې يادونه وشوه چې مرغان د روزۍ په لټه او طلب کولو کې سبايي او بيګايي تګ راتګ او حرکت کوي. او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرو (صحابه کرامو) به سوداګري کوله، د خرما په باغونو کې به يې کار کاوه، چې هغوی زموږ پيشوايان دي.[116]

د اسلام سپيڅلي دين بيکاري او تنبلي غندلې او د کار، او کسب کولو اهميت يې زيات کړې او ددې څرګندونه يې کړې چې حلال کسب يوعزتمند او لوی کار دی، که څه هم د ځينو خلکو په نظر ځيني کارونه او کسبونه سپک وي، لکن دا يې د سپکوالي دليل نه شي کيدلای .د الله تعالی استازی صلی الله عليه وسلم په يوې وينا کی فرمايلي: ((**لأنْ يأخذَ أحدُكم حبلَهُ فيأتيَ بحُزمةِ الحطبِ على ظهره، فيبيعَها، فيكُفَّ الله بها وجهَهُ؛ خيرٌ لهُ من أنْ يسألَ الناسَ، أعطوْهُ أو منعُوه**)).[117] داچی له تاسی څخه يو څوک خپل پړی (رسی) راواخلي

[116]. وګوره: فتح الباري ۱۱/ ۳۰۵-۳۰۶

[117]- صحيح البخاري ، کتاب الزکاة ،باب( ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر خپلې شا باندې يو ګېډی خس راوړي، وه يې پلوري او خپل مخ (ځان) له سوال کولو وساتي، نو دا کار ورته لدې غوره دي چې سوال وکړي، څوک يې ورته ورکړي او څوک يې ورنکړي.

پدې وينا کې د الله تعالی استازی صلی الله عليه وسلم د دې څرګندونه کوي چې د خسو راوړلو کسب سره لدې چې کيدای شي ځينې خلکو ته کم ښکاري او ګټه يې ورته لږه برېښي، خو له بېګارۍ او بل چا ته د لاس نيولو (ګدايګرۍ) څخه غوره دی .

دکار اوکسب په ميدان کی د الله تعالی استازي صلی الله عليه وسلم يوازې په وينا او فکر ورکولو سره اکتفاء نه وه کړې، بلکې د خپل ژوند عملي ډګر يې هم خلکو ته ورپه ګوته کړی دی، هغه فرمايي: (( **ما بَعَثَ الله نبياً إلاَّ رَعَى الغَنَمَ". فقالَ أصحابُهُ: وأنتَ؟ فقال "نَعَمْ، كُنْتُ أرعاها على قراريطَ لأهلِ مكَّةَ** )).[118] الله تعالی هيڅ يو پېغمبر نه دی راليږلی، مګر دا چې ګډې يې څرولي دي، صحابه کرامو وويل: ايا تاسې هم څرولې؟ هغه وفرمايل: هو، ما هم د مکې يو څه خلکو ته د يو څه پيسو په بدله کې څرولې.

هغه مال چې د لاس په ګټلو حاصل شي، انسانورباندې زيار وګالي او همت وکړي، ډېر ښه مال او ښه ګټه وي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (( **ما أكَلَ أحدٌ طعاماً قطُّ خيراً مِن أن يَأكُلَ مِن عَمَلِ يَدِهِ، وإنَّ نبيَّ اللهِ داوُدَ عليهِ السلامُ كانَ يأكُلُ مِن عَمَلِ يَدِهِ** )).[119] هغه خوراک چې يو انسان يې له لاس ګټې څخه خوري، هيڅ بهتر اوغوره ورڅخه نشته دی او بيشکه د الله تعالی پېغمبر داود عليه السلام به د خپل لاس کار او ګټې څخه خوراک کاوه.[120]

---

[118]- صحيح البخاري، كتاب الإجارة ، باب ( ٢٢ )

[119]. صحيح البخاري

[120]- وګوره: مشكلة الفقر, يوسف القرضاوي، ص ٣٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د شتمنیو له سرچینو ګټه اخستل:

د ثروت او شتمنۍ سرچیني هغه څیزونه بلل کیږي چې د انسان د روزۍ اسباب دي لکه مالداري، زراعت، تجارت، صنعت، معدنونه، او داسې نور.

الله تعالی په خپل کتاب کې زموږ پام خپلو موجوداتو ته راړوي او دې ته مو متوجه کوي چې په ځمکه او اسمان کې یې موږ لپاره بیلابیلې فوائد او ګټې برابرې کړي او د ژوند وسایل یې ځای پرځای کړي دي. که فکر او غور وکړو، نو وبه ګورو چې زموږ په اوبو کې ثروتونه دي، زموږ په دشتو کې ثروتونه او شتمنۍ دي، زموږ په غرونو کې شتمني ده او په هر ځای کې شتمني ده. خو یوازې هغه څه چې موږ یې کمي لرو او ورڅخه بې برخې یو فکر او توجه ده، د پرمختللې اداري او نظام نشتوالی او د با احساسه کاري لاسونو لږ وال دی. که چیرته د فکر قوت په کار واچوو، د قوي ارادې خاوندان شو او پیاوړي کاري لاسونه ولرو، نو په هغه صورت کې به د ثروت او شتمنیو له منابعو څخه لازمه ګټه پورته کړو. د دې تصور د پخلي په اړوند په قرانکریم کې الله تعالی موږ داسې متوجه کوي: «أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ ﴿٢٧﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ ﴿٢٨﴾».[۱۲۱] ایا نه ګورې (ای انسانه) چې بیشکه الله تعالی له بره اسمانه اوبه راتوی کړي او پر هغې سره یې مختلف رنګه میوې رازرغونه کړي. او له غرونو څخه یې د سپینو او سرو لارو والا پیدا کړي چې یو تر بله

[۱۲۱]- فاطر ۲۷- ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره په رنګ کې مختلف دي، او ځيني يې تک تور دي. همداراز له خلکو او ژونديو شيانو او له څارويوڅخه چې هغه هم بيلا بيل رنګونه دي، همدا سې الله کړي دي. بيشکه چې د الله تعالی په بندګانو کې له هغه څخه ويريدونکي علماء دي، په يقيني توګه الله غالبه او بښونکې ذات دی.

امام حسن البناء رحمه الله د دې آيت په وضاحت کې ويلي: ((زما په نظر دلته له علماو نه مراد هغه کسان دي چې د کائناتو په علم پوهيږي، په کائناتو کې چې د خلکو د ګټو او منافعو لپاره څه دي د هغې پر پيژندلو او کشفولو پوهه لري، او د ځمکې او اسمانونو د ښتن په صنعت (جوړښت) کې د هغه د پراخه علم ژور او پټ رازونه رابرسيره کوي.[۱۲۲]

بايد چې زموږ په هېواد کې د ثروت او شتمنيو منابعو ته پوره پاملرنه وشي، ترڅو له يوه پلوه بيکاره خلکو ته د کار فرصتونه برابر شي، او له بله پلوه د هېواد او ټولنې د اقتصاد کچه ورباندې لوړه کړی شي.

زموږ په هېواد کې د يو باتدبيره او باصلاحيته نظام د موجوديت په صورت کې دا ممکنه ده چې معدنيات په سهي توګه راويستل شي او د هغې له عايد څخه د هېواد د فقر او بې وزلۍ په مخنيوي کې کار واخستلی شي. همدارنګه د غرونو ځنګلونه چې زياتره يې په خپل سري سره له منځه ولاړل لازمه ګڼه واخستل شي.يوازې د يو مطلوب نظام او حکومت په موجوديت کې کيدای شي د طبيعي منابعو ساتنه وشي او د استخراج او کارولو ګټه او عايد يې شخصي جيبونو ته ولاړه نه شي.

---

۱۲۲- اسلامي اقتصاد، حسن البناء، ژباړه صافی، ص ۲۸، چاپ ۱۳۶۷ لمريز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٣- د شاړو ځمکو آبادول:

په هېواد کې باید د هغه ځمکوابادولو ته پوره توجه وشي کومې چې دچا په شخصي ملکیت کې نه دي. هغه عامه ځمکې چې خلکو غصب کړي دي ورڅخه واخستل شي او د قوم او ولس د بیچاره خلکو ګټې او مصلحت ته وقف شي. همداراز هغه ځمکې چې شاړې دي او آبادولو ته یې اړتیا ده د یو منظم پلان او برنامې له لارې یې په اړه لازم اقدامات وشي.

علماء وايي: په اسلامي اقتصاد کې د ځمکې اباداول کلیدي مقام لري چې د اسلام دین یې د انسان له مهمو فرایضو څخه بولي، نو په همدې اساس د الله تعالی استازي صلی الله علیه وسلم دې مسئلې ته په خپلو زیاتو ویناو کې پوره پاملرنه کړې او خپل پیروان یې د داسې ځمکو په ملکیت کې راوستلو ته هڅولي، ترڅو د هغې اباداول ټولنې ته محصول او انتاج وروبښي.[١٢٣]

پدې هکله دا لاندې څو ویناوې د بیلګې په طریقه ذکر کوو:

**الف- عَنْ عُرْوَةَ، قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ الْأَرْضَ أَرْضُ اللَّهِ، وَالْعِبَادَ عِبَادُ اللَّهِ، وَمَنْ أَحْيَا مَوَاتًا فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ. جَاءَنَا بِهَذَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِينَ جَاءُوا بِالصَّلَوَاتِ عَنْهُ.**[١٢٤] له عروه رحمه الله نه روایت روایت دی وای: زه ګواهي ورکوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا پریکړه کړې وه چې ځمکه د الله تعالی ده او بیندګان هم د هغه دي، څوک چې کومه مړه (شاړه) ځمکه ژوندې (آباده) کړي، نو هماغه یې زیات حقدار دی. دا قانون موږ ته د نبي صلی الله علیه وسلم نه د هغو ښاغلو (صحابه کرامو) له لارې رارسیدلی د چا په وسیله چې پنځه وخته لمونځ رارسیدلی دی.

**ب- عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:**

---

[١٢٣]- وګوره: إحياء الأرض الموات، وزيرمحمد، ص ١٨٣

[١٢٤]- سنن ابي داود ، كتاب الخراج و الأمارة ، باب إحياء الموات ، ٣ \ ٤٥٤ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



«مَنْ أَعْمَرَ أَرْضًا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ فَهُوَ أَحَقُّ»، قَالَ عُرْوَةُ: «قَضَى بِهِ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي خِلَافَتِهِ».[۱۲۵] له عروه رحمه الله نه روایت دی هغه له عایشې رضي الله عنها نه روایت کوي، هغه له پېغمبر صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي، هغه فرمایلي دي: (( څوک چې داسې ځمکه اباده کړي چې د چا په ملکیت کې نه وي، نو هماغه یې زیات حقدار دی)). عروه رحمه الله واي: پر همدې وینا او فیصله باندې عمر رضي الله عنه د خپل خلافت په وخت کې عمل او فیصله کوله.

ج – عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((مَنْ أَحْيَا أَرْضًا مَيِّتَةً فَهِيَ لَهُ)).[۱۲۶] له جابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روایت دی هغه وايي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (( چا چې شاړه ځمکه آباده کړه نو دهغه شوه.

د شاړې ځمکې د اباد ولو په هکله امام ابوحنیفه رحمه الله د حکومت منظوري ضروري ګڼي او امام ابویوسف رحمه الله، امام محمد رحمه الله امام شافعي رحمه الله، او امام احمد بن حنبل رحمه الله دا نظر لري چې ابادوونکي د ملکیت حق د حکومت په اجازې او منظورئ پورې اړه نه لري ..

او امام مالك رحمه الله د کلي سره د نژدې ځمکو او لرې پرتو شاړو ځمکو ترمنځ فرق کوي، لومړی ډول ځمکه لدې حکم ( ابادولو ) څخه مستثنی ګڼي، او د دویم ډول ځمکې لپاره د امام بخشش او اجازه شرط نه بولي، چې یوازې ابادوونکي یې څښتنان کیدی شي .[۱۲۷]

د شاړې ځمکې ابادول د یو مملکت په اقتصادي نمو او د پیداوار په

---

۱۲۵- صحیح البخاري ، كتاب الحرث و المزارعة ، باب ( ۱۵ ).

۱۲۶. سنن الترمذي

۱۲۷- وګوره :اسلامي اقتصاد ابوالاعلی مودودي.ص ۲۰۸-۲۱۱ ژباره :فضل مولا لتون، ۱۳۷۱ لمریز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتوالي کې زیات رول لري:

لومړی- د ملکیت قاعده پراخوي: او دا هغه څه دي چې په ټولنه کې د وګړو دنده ده. په اسلام کې د ځمکې ابادول د مال د حاصلولو یو مصدر دی، هغه چا ته یې د ملکیت سبب ګرځي څوک یې چې اباده کړي، او د هغې د ابادۍ میوه او ګټه ولس او ټولنې ته رسیږي او په ټولنه کې د اقتصاد د پرمختګ یو مهم لامل ګرځي.

دویم- د دولت د موارد زیاتوي: د اسلام دین خلک د ځمکې کرلو ته هڅولي، چې د هغې له محصولاتو څخه غذائي مواد ترلاسه شي، او د حاصلاتو لاس ته راوړل د دولت په بودیجه باندې مثبت اغیز لري؛ دا ځکه چې له یوه اړخه په ټولنه کې اقتصادي موارد زیاتیږي او له بله اړخه د حکومت بودیجې ته د ځمکو د حاصلاتو له درکه عشر، یا خراج او یا مالیه ورځي.

د اسلامي دولت تر ولکې لاندې چې یو مسلمان شاړه ځمکه اباده کړي، نو که عشري وي دولت ته به یې عشر ورکوي او که خراجي وي خراج به ورکوي. همداراز لکه څرنګه چې د ځمکې ابادول په کَر او کشت سره صورت مومي، د هغې له باطن څخه د معدن راویستلو پواسطه هم دا کار(آبادي ) ترسره کیږي، دا د هغه چا لپاره چې توان ورباندې ولري، استفاده ورڅخه وکړای شي، او راویستل یې مسلمانانو ته ضرر ونه لري. نو د معدن د راویستلو په صورت به بیت المال ته د هغې معدن پنځمه برخه ورکوي. او ددولت د بیت المال د بودیجې زیاتیدل د ټولنې په خدمتي کارونو ( رفاهي کارونو ) روغتیایي چارو او داسې نورو ته انکشاف ورکوي.[۱۲۸]

امام ابویوسف رحمه الله په خپل کتاب ( الخراج) کې وایې: (( **ولا أرى أن يترك أرضا لا ملك لأحد فيها ولاعمارة حتى يقطعها الإمام، فإن ذلك اعمر للبلاد و أكثر**

---

[۱۲۸]- وګوره: إحیاء الأرض الموات ،وزیرمحمد ، ص ۱۸۶- ۱۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



**للخراج**)).[۱۲۹] د هغې ځمکې په هکله چې بې څښتنه وي، او چا پکې آبادي نه وي کړې، زما نظر دادی چې حاکم دی یې چا ته ورکړي؛ ځکه چې پدې کار سره وطن ښه آبادیږي او په خراج کې زیاتوالی راځي.

دربیم۔ د ځمکې ابادول په زراعتي او غذائي اړخ کې د اقتصاد په نمو کې مهم اغیز لري: د ځمکې ابادولو له مهمو موخو څخه یوه موخه د وګړو غذائي اړتیاوې تامینول او پوره کول دي، چې دا کار پرته لدې عملیه نه ترسره کیږي.

ځمکه انسان ته د الله تعالی له لورې یو ستر نعمت دی، او د دې نعمت شکر اداء کول له هغې څخه په استفادې او د هغې په ابادولو سره رامنځ ته کیږي، الله تعالی د دې نعمت یادونه داسې کړې ده: ((أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٢﴾ )).[۱۳۰] نو ودې ګوري انسان خپلو خوړو (خوراکي موادو) ته چې موږ له وریځو څخه اوبه راتوی کړي او بیا مو ځمکه څیرې کړې ( د بوټي او کښت پواسطه) بیا مو له هغې څخه دانې، انګور ، ترکاري، خونه (زیتون) او خرما را زرغونه کړیاو ګڼ باغونه، میوې (تازه او وچې ) او وابښه (ګیاه)چې دا ټول ځیزونه مو تاسې او ستاسې ځارویو ته نفع اوګټه ګرځولې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د زراعت او کرنې د اهمیت او ثواب په اړوند فرمایلي دي: (( ما مِنْ مُسلِمٍ يَغْرِسُ غَرْساً، أو يَزْرَعُ زَرْعاً، فيأكُلُ منهُ طيرٌ، أو

---

[۱۲۹] - وګوره: د مخکنی مرجع ۱۸۹ صفحه

[۱۳۰]- عَبَسَ ۲۵ ـ ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



إنسانٌ، أو بَهيمةٌ إلا كانَ لهُ به صَدَقَةٌ)). [۱۳۱] کوم یو مسلمان چې بوټی کري، او یا کوم کشت کوي چې له هغې څخه مرغان، انسانان او څاروي خوراک وکړي، نو د هغې لپاره به پدې سره د صدقې اجر وي.

څلورم ـد ځمکې د مساحت زیاتیدل: د ځمکې مساحت او سطحه په ابادۍ سره زیاتیږي؛ ځکه چې کله ځمکه شاړه وي، نو د شګو، اوبو او نورو شیانو له خطر سره مخ وي، نو د شاړې ځمکې آبادول په خپل ذات کې فواید لري.. [۱۳۲]

## ۴ـ مستحقو وګړو ته ځمکې ویشل:

په عمومي توګه زموږ په هېواد کې شاړې ځمکې په دوه ډوله دي: هغه ځمکې چې مخکې ابادې وي ، اود انقلاب په موده کې شاړې ګرځیدلې.د تیر انقلاب (د روسانو د برید له مله د۲۳ کلونو په موده کې او بیا د کمونستي حکومت له ړنګیدو وروسته د داخلي جنګونو له امله د دهقانانو په هجرت کولو سره ډېرې ځمکې شاړې شوې. همداراز یو زیات شمېر ځمکې د اوبه خور سیمستونو د منځه تللو له امله شاړې وګرځیدې.نو باید چې په لومړي قدم کې د دې ځمکو آبادولو ته پاملرنه وشي. او دویم هغه ځمکې- چې له پیل نه شاړې دي –چې غرب او جنوب غرب ولایتونو پراخه دښتې یې یوه نمونه ده- ورڅخه کار واخستل شي او یا په مستحقو خلکو وویشل شي.

متاسفانه چې د کمونستي نظام له ړنګیدو څخه وروسته د مسلسلو ګډوډیو او آن د موجوده په نسبي توګه د شتون (جمهوري نظام ) په وخت کې هم ځینې زور واکانو پراخه دښتې او ځمکې غصب کړې..

همداراز په ځینې مرکزي ولایتونو کې لکه کابل، ننګرهار، د قندهار او هرات ښارونو او داسې نورو په ځمکو او رقبو کې په غیر طبیعي شکل سره خلک

---

[۱۳۱]- صحيح البخاري ، كتاب الحرث و المزارعة باب ( ۱ )

[۱۳۲]- وګوره: احياء الارض الموات، وزيرمحمد،ص ۱۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



هستوګن شول او دغه پديده د دې ښارونو په ګڼه ګونه او د نورو سلبي اړخونو د زياتيدو لامل وګرځيده.

نو بايد چې د دغسې غير طبيعي پديدو د منځ وړلو په خاطر په داسې يو جامع پلان او برنامې باندې کار وشي، چې فقير او بې وزله خلک د هېواد د ځمکو پر تناسب له ځمکو برخمن شي او د موجوده ظالمانه طبقاتي پديدې مخنيوی وشي. پدې معنی چې له غير مستحقو او غاصبو جاګيردارانو ځمکې واخستل شي او مستحقو او اړمنو خلکو ته توزيع شي، ترڅو يو زيات شمېر غريب او بيچاره خلک د ځمکو خاوندان او پدې طريقه په هېواد کې د غريبۍ اندازه راکمه کړای شي.

**۵– د ځمکو د غصب مخه ډب کول:**

په تيروکلونوکې وليدل شول چې د هېواد د اقتصاد د منابعو په نورو برخو کې د درغليو په څير د ځمکو په معاملاتو کې هم پوره درغلياني وشوې، همداراز يو زيات شمېر حکومتي عامې ځمکې د ځينو خاصو اشخاصو او يا مافيايي کړيو له لوري قبضه او غصب شوې.

د موجوده نظام او حکومت د کمزورۍ له امله دا هم وليدل شول چې ځينو قومونو د ځمکو د رقبو پر سر باندې يو بل ته په مورچلونو کې کيناستل او يو بل يې ووژل.دا هم يو حقيققت دی چې د عدال او انصاف لپاره ګمارل شوو وګړو يعنې قاضيانو ځينې حکومتي ځمکې په رشوت او بډو اخستلو سره شخصي کړې او زور واکانو ته يې د پيسو په مقابل کې د هغې اسناد ورکړل.

د ولسي جرګې د فساد پر وړاندې د مبارزې کمېسيون د يوه راپور له مخې ويل شوي چې د ځمکو غصب په افغانستان کې خطرناکه مسئله ده، د ولسونو او حکومت ترمنځ يې واټن رامنځته کړی، په تېرو ۱۶ کلونو کې په ډېرې بې رحمۍ ځمکې د ښارګوټو په نوم غصب شوې دي، د غصب

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړۍ اوس هم روانه ده.که څه هم د ټولو غصب شوو ځمکو په اړه دقیق ارقام په لاس کې نشته، خو د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره وايي د دوی موندنې ښيي چې په ۳۰ ولايتونو کې د غاصبينو له خوا يو اعشاريه درې ميليونه جريبه ځمکه غصب شوې، چې ډېرى غصب شوې ځمکې په کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او هرات ولايتونو کې دي.

راپور وايي: په هغه وخت کې چې احصايه راټوله شوې د ۱۵۸۳۱کسانو له لوري تقريبا په ۳۰ ولايتونو کې يو اعشاريه درې ميليون جريبه دولتي ځمکه غصب شوې ده او دغه لړۍ تر ولسواليو او کليو پورې رسېږي..

دا چې دغه ځمکې د چا له خوا غصب شوې دي او تراوسه يې ولې غصب دي؟ پدې هکله اړونده ارګانونه دا جرات نه کوي چې د خلکو نومونه په ډاګ کړي، او له فساد سره د مبارزې عالي ادارې رئيس که څه هم د کوم ځانګړي کس نوم نه اخلي، خو وايي چې په غصب کې ځينې وزيران، ځينې وکيلان، ځينې رهبران او سياسي ډلې لاس لري. هغه وايي: د ځمکو په غصب کې وزيران، وکيلان، رهبران او سياسي ډلې لاس لري، له بده مرغه تراوسه حکومت نه دی توانېدلی، د ځمکو لوی غاصبين د قانون منګولو ته وسپاري)).

ځينې اړونده مسئولينو ويلي چې: څارنوالي او محکمې بايد له جرات څخه کار واخلي د هغه چا نومونه افشا کړي چې د ځمکو په غصب کې لاس لري او که په دې سره غاصبين د حکومت په وړاندې کوم ګام پورته کوي، نو ولس به د حکومت تر شاه ولاړ و.[۱۳۳]

---

[۱۳۳]. ازداي راديو ويب سايت ۲۲ /۶/ ۱۳۹۶المريز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید وویل شي چې د ځمکو د غصب د مخې ډب کول، د غصب شوو ځمکو راګرځول او په هېواد کې د نورو جرایمو د منځه وړلو لپاره یو مستحکم اسلامي نظام رامنځ ته کولو ته اړتیا ده، او هغسې نظام چې په نوم اسلامي وي، د سازشونو په نتیجه کې منځ ته راغلی وي.. نو نه شي کولی چې د دغسې ننګونو مقابله وکړای شي.

ایا په هېواد کې به داسې یو نظام به رامنځ ته شي چې د ځمکو د غصب او نورو بدو ناخوالو مخنیوی پکې وشي؟ له ظالمانو څخه د مظلومانو حق واخستل شي، خاینان محاکمه شي.. او هر چا ته خپل حدود وښودل شي، که هغه چارواکي وي او که رعیت، که مالداره وي او که فقیر که وزیر وي او که ګدا..؟!

په موجوده ظروفو او شرایطو کې چې حکومت او نظام ډېر کمزوری دی که موږ هر څومره د ځمکو د عادلانه ویش لپاره وړاندیزونه وکړو، نو غالب ګومان کیږي چې لازم غور ورباندې ونه شي، خو د دې لپاره چې موږ په خپل هېواد کې د یو قوي اسلامي نظام هیله لرو، هغه نظام چې د اسلامي شریعت پر بنسټ به فیصلې کوي، اسلامي قضاء او محکمه به یې له هر حاکمه او زورواکي بالاتره وي.. دغسې اسلامي او قوي نظام ته دا لاندې وړاندیزونه کوو:

۱ – د انقلاب او له هغې وروسته د ګډوډیو په بهیر کې چې څومره عامې او حکومتي ځمکې غصب شوي، دهغې د پلټنې او بیرته عام کولو په موخه یو ه مستقله اداره جوړه شي.

۲ – د احتساب د نظام له لارې له ټولو غاصبینو سره محاسبه وشي، اوعام او خاص حقوق ورڅخه واخستل شي.

۳ – یوه اصیله، واقعي او خود مختاره قضاء رامنځ ته کړي، هغه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمبرداران یې حلال خواره علماء او شریعت پوه وي، ترڅو د واقعي قضاء کولو له لارې په ټولنه کې عدل او انصاف رایج شي، عام ملکیتونه او موارد -چې ځمکې پکې هم شاملې دي- خپلو واقعي مستحقینو ته د ګټې او فایدې اخستلو لپاره ورکړل شي، چې پدې کړنلارې سره به په هېواد کې د فقر او بیچاره ګۍ کچه راکمه شي.

**۶- د ناروا کښت مخنیوی:**

زموږ د ټولنې اوهېواد له ستونزو او ناخوالو څخه یو هم په ځینې سیمو کې د ناروا کښت او فصل کرل دي چې لومړی یې بنګ (د چرسو بوټی) او بل کوکنار (د افین بوټی) دی، د دې بوټو دفایدې پر ځای نقصان او تاوان زیات دی، بلکې هغه څه چې لدې بوټو څخه تولید کیږي (چرس او افین) د ټولنې د وګړو تنبلۍ، کمزورۍ، رنځورۍ او نورو زیاتو تاوانونو لامل ګرځي او طبیعي خبره ده چې په ټولنه کې څوک پدغسې مصیبتونو ګرفتار شي، نو ټولنه د نورو ستونزو ترڅنګ داقتصادي ستونزي سره هم مخ کیږي؛ ځکه چې کار کوونکي لاسونه کمیږي، بیکاره او لویدلي خلک پر نورو باندې بوج کیږي.

همداراز د نوموړو بوټو او فصل د کرنې په نتیجه کې د ګټور فصل مخه نیول کیږي، د روزۍ سرچینې کمیږي، د خوراکي توکو بیې لوړیږي او خلک له ګټورو خوراکي توکو څخه بې برخې کیږي..

زموږ په هېواد کې د مخدره موادو شالید په هکله ویل کیږي د لومړي ځل لپاره مخدره مواد له چین څخه افغانستان ته د بدخشان ولایت له لارې راداخل شو. کله چې برتانیې (انګلستان) پر هندوستان باندې حکومت کاوه، نو لدغه هېواد څخه چین ته زیات مخدره مواد قاچاق کیدل چې په نتیجه کې یې د برطانیې او چین ترمنځ جګړه وشوه او دې جګړې ته د (افیمو د جنګ) نوم ورکړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کومه وخته چې افغانستان ته د افین راداخل شو، نو په تدریجي شکل یې د بوټي کښت او کر رواج وموند. هغه ولایتونه چې د دې بوټي کرنه رواج شوه او افیون پکې تولید کیده: بدخشان، هلمند، ننګرهار او هرات ؤ، چې د وخت په تیریدو سره لدې ولایتونو څخه نورو ولایتونو لکه: بلخ، کونړ، لغمان، لوګر پکتیا، وردګ او قندهار ته هم نوموړی بوټی نقل شو.

په افغانستان کې پخوا د هیروینو تولید نه پېژندل کیده، بلکط د هغو سیاسي بدلونونو په نتیجه کې رامنځ ته شو چې د شلمې پیړۍ په اویااوومو کلونو (اوومې لسیزې) کې منځ ته راغلل. او د طلائي مثلث (تایلند، برما او لاوس) په سیمه کې د افیونو خراب محصولات هم د دې لامل شو چې د طلائي هلال (ایران، افغانستان او پاکستان) په سیمه کې د مخدره موادو د زیات تولید په واسطه جبیره شي.

## د کوکنارو د کرهنې شالید:

د برتانوي امبراطورۍ په دوران کې هندوستان چین ته د زیاتو مخدره موادو قاچاق کونکی هېواد وو چې په نتیجه کې یې د برطانیې او چین ترمنځ جګړې رامنځ ته شوې، هغه چې دافینو جنګونو [۱۳۴] نوم ورکړ شو. نو زموږ هېواد ته د لومړي ځل لپاره دانګریز پلوو قاچاقبرانو لخوا د چین له ځمکې څخه د بدخشان له لارې کوکنار وارد شوی چې پدې توګه په سیمه کې د غه بوټی د انګریزي استعمار له خوا ترویج شوې دی.

له کومه وخته چې افغانستان ته د افینو د تولید بوټی (کوکنار) راداخل شو، په تدریجي شکل یې کښت او کر رواج وموند او هغه ولایتونه چې

---

[۱۳۴]. د برطانې او چین ترمنځ د افینو له امله جنګونه لومړی جنګ (۱۸۴۰ – ۱۸۴۲م) او دویم جنګ (۱۸۵۶ - ۱۸۶۰ م) کلونو کې رامنځ ته شوې دی. وګوره: Opium wars :
WIKIPEDIA The Free Encyclopedia

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پیل کې د دې بوټي کرهڼه پکې کیده او افیون یې تولیداوه: بدخشان، هلمند، ننګرهار او هرات وو، چې د وخت په تیریدو سره لدې ولایتونو څخه نورو ولایتونو لکه: بلخ، کونړ، لغمان، لوګر، پکتیا، وردګ، او کندهار ته هم نقل شو.

له ډېر پخوا راهسې ساحران او محلي طبیبان هم د افیون پر استعمال بوخت دي چې د هغې اغیزې او تاثیرات سحري او جادوګري ځواک ته راجع کوي، خو په وروسته وختونو کې بیا له افیون څخه د هیروینو تولید رواج وموند.

زموږ په هېواد کې پخوا د هیروینو تولید نه پېژندل کیده او د هغو سیاسي بدلونونو په نتیجه کې رامنځ ته شو چې د شلمې پیړۍ په اویاومو کلونو (اومې لسیزې) کې منځ ته راغلل. همدارنګه په آسیا کې د طلائي مثلث (تایلند، برما او لاوس) د افیونو خراب محصولات په سیمه کې د دې لامل شو چې د طلائي هلال (ایران، افغانستان او پاکستان) د مخدره موادو د زیات تولید په وسیله جبیره شي.

په افغانستان کې د افیونو تولید زیاتیدو لومړی لامل په ایران کې د خمیني انقلاب راتلل ؤ چې هلته پر مخدره موادو باندې بندیز ولګول شو او دویم لامل یې په افغانستان کې د کمونستي انقلاب له امله د جګړې او اسلامي مقاومت په دوران کې د نوموړي بوټي د کرنې لپاره زیاته زمینه برابریدل ښودل شوي دي، چې پای کې زموږ د هېواد او پاکستان ترمنځ د ګډې پولې په دواړو خواو کې ځینې قبایلي سیمې د کوکنارو د کښت او د افیونو د تولید مرکزونه وګرځیدل او کله چې پدې دوران کې پاکستان ته د هیروئینو د تولید تکنالوژي راوارد کړای شوه، نو د پولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دواړو خواو کې ورځخه د هیروئینو تولید پیل شو.[۱۳۵]

د طالبانو د حکومت له سقوط څخه وروسته هېواد ته د امریکانیانو له رانټوتلو سره جوخت له ۲۰۰۱م کال راپدیخوا د افیونو تولید صعودي (پورته ختلو) بڼه اختیار کړه، د دې پدیدې ترشاه بیلابیل عوامل دي چې مهم یې دریښتینې مبارزې نشتوالی او په حکومت کې د مافیایي باندونو نفوذ او قدرت ښودل شوی چې د هغوی له لارې په سلونو وګړي د وچې له لارې اروپا او لرې پرتو هېوادونو ته هېرویین قاچاق کوي.[۱۳۶]

په کال (۱۳۹۶لمریز) د مخدره موادو سره د مبارزې د ملي بسیج (تحریک) د اوونۍ په مناسبت په کابل کې جوړې شوې غونډې ته د حکومت ځینو چارواکو وویل چې مخدره موادو د افغانستان حیثیت او اعتبار زیانمن کړی دی. همداراز له مخدره موادو سره د مبارزې وزارت مخدره مواد یوه سیمه یزه ستونزه وګڼله اود دې خبر دارې یې ورکړ چې په افغانستان کې دننه د مخدره موادو د کښت تقاضا کمه شوې، خو دا مواد په سلو کې ۹۸ د مافیایي ډلو له خوا د ګاونډیو هېوادونو له لارې اروپا ته قاچاقېږي.[۱۳۷]

دعامې روغتیا وزارت د راپور له مخې ( په کال (۱۳۹۷لمریز د غوایې په میاشت کې ) په هېواد کې د نه شیانو شمېر دریو ملیونو ته رسیږي. او په یوه تازه راپور کې- چې دجدي په ۲۹ مه نیټه خپور شوی - د نومړي وزارت د سروې له مخې ورکړی شوې شمېرې ښیې چې د دې هېواد په سلو کې ۱۱سلنه خلکو په معایناتو کې د نشه یي موادو د استعمال نښې نښانې لیدل شوي دي، دا کسان په مستقیم او غیر مستقیم ډول د نشه یي موادو له زیان سره مخ

۱۳۵. وګوره: د مخدره موادو په هکله اساسي معلومات، د اسرا مؤسسې خپرونه، ص ۶- ۸

۱۳۶. اصلاح ملي اوونیزه، کال ۱۳۹۵ لمریز، عقرب ۱۵ مه، ص ۱۳

۱۳۷. ازادي رادیو ویب سایت۳۱/ سرطان / ۱۳۹۶لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. دا يوه لويه ستونزه ده چې د ځينو عواملو له مخې د نشه يي موادو استعمال ورځ په ورځ ډېرېږي. د طبي خدمتونو او نشه يي موادو د غوښتنې را کمولو پر وړاندې يوه بله ستونزه دا ده چې ځيني معتادين طبي درمل او صنعتي مواد د نشه يي موادو په ډول استعمالوي[۱۳۸]".

له بده مرغه چې زموږ د هېواد په ځينې سيمو کې د بنګو او د کوکنارو په کر باندې خلک اموخته او پر کښت کولو يې بوخت دي، له انقلابي شرايطو مخکې خو به عامو خلکو او ورسره ځينې علماو د کوکنارو د کر جواز لپاره دا دليل وايه چې دا يو حکيمي بوټی دی، خو د کمونستي انقلاب له رامنځ ته کيدو او بيا د هجرتونو د لړۍ له پيليدو نه وروسته خاصو او عامو وګړو ټولو ته دا معلومه شوه چې د کوکنارو د توليد ماده (افيون) په سلو کې له ۹۹٪ څخه د انسانانو په تباهۍ کې استعماليږي. نو ايا اوس به هم د کوکنارو د کر او سوداګرۍ په حرمت کې څوک د علم او پوهې خاوند څه شک وکړي؟ پداسې حال کې چې زموږ په هېواد کې په خپله د مسلمان ملت يو زيات شمېر (لکه څرنګه چې يې مخکې يادونه وشوه درې نيم ميلون) خلک د نشه کيدو او پوډري کيدو په ګرداب کې ورداخل شوي دي او دغه مصيبت لا په زياتيدو دی. ځينې څېړونکي وايي چې په افغانستان کې د نشه يي موادو کارول په نړۍ کې ساري نه لري.[۱۳۹]

له موجوده جمهوري او ديموکراسي نظام له راتګه مخکې افغانستان د نړۍ زيات توليدونکی هېواد ګڼل کيده، خو متاسفانه چې اوس يې له توليد سربېره پدې هېواد کې له افين څخه د اړونده راويستل کيدونکو موادو استهلاک کوونکي (پوډريان) هم زيات شول، چې دا هم د ديموکراسۍ او غربي

---

۱۳۸. ازادي راديو وييت سايت مرغومی ۲۹, ۱۳۹۷ لمريز

۱۳۹. د ويجه ويله ( D W ) پښتو، افغانستان، ويب سايت (۱۲.۰۵.۲۰۱۵ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانګوال نظام د سیطرۍ یو سوغات دی او نن سبا د معتادینو په اړه دا ګونګوسي هم اوریدل کیږي چې ګویا تر شاه یې ځینې بهرني لاسونه او داخلي مافیایي کړې دي. الله تعالی دې د اسلام او د ملت د دښمنانو لاسونه او لنډ او د هغو دسیسې هغوی ته ورګرځوي..

نو داچې د کوکنارو او بنګو بوټو کرنه د هغې د مخدره موادو (افین، اوچرسو) په خاطر ده چې انسان ته سراسر تاوان او ضرر کوي او د اسلام له سپیڅلو اهدافو سره ټکر خوري؛ نو فلهذا کرل، سوداګري او د هغې اړونده ټول معاملات په اسلامي سپیڅلي شریعت کې حرام دي.

د مخدره او نشه یزو توکو د او د روږدو خلکو د مخنیوي په میدان کې د دې لیکنې په مخکې موضوع (په اړونده مبارزه کې اړین ګامونه) کې لازمې لارښوونې شوي، پدې ځای کې په لنډه توګه لاندې نقاط وړاندیز شوې دي:

۱- د حکومت لخوا په اخلاص او ریښتیولۍ سره پر مخدره موادو پابندي او هغه یو ستر جرم ګڼل.

باید چې حکومت د هغه شرعي قوانینو له مخې چې د حلال کار امر عملي او حرام کار منع شي په ریښتینې سره دغه اصل نافذ کړي او د مخدره او نشه یې توکو هر ډول معامله کوونکي ته سخته سزا ورکړي.

نو ایا زموږ د هبود حکومتي نظام به پدې قضیه کې جدي اقدامات واخستلای شي؟ کاشکې موږ لداسې چارواکو او حاکمانو برخمن شو چې د ټولنې په هره برخه کې داسلامي قوانینو عملي کولو ته لیواله او پدې هکله عملي اقدامات وکړي!

۲ - د هېواد هغه سیمې چې د کوکنارو په کر باندې یې زیاته اتکا وي، باید چې د دې کښت په معاوضه کې ورته مناسب بدیل ولټول شي، لکه د هرات په ځینې ولسوالیو کې چې د زعفران بوټي کښت او کر رامنځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، همداراز له دهقانانو سره لازمې مرستې وشي، چې د هغوی اقتصادي ستونزې حل شي او دغسې ناروا کښت ته بیا اړ نه شي.

۳ – د مخدره موادو معتادینو (روږدو) د علاج او درملنې لپاره ځانګړي انتظامات کول چې له یوه پلوه د هغوی د درملنې لپاره روغتیایي مرکزونه او له بله پلوه د هغوی د مشغولتیا لپاره تعلیمي او حرفوي مرکزونه جوړ شي او تر هغه پکې وساتل شي چې اعتیاد یې ختم شي.

په موجوده وخت کې د روږدو او معتادینو د درملنې لپاره چې کومې هڅې رواني دي هغه له نشت سره برابرې دي، باید چې حکومت او اړونده اړخونه پدې هکله جدي پاملرنه وکړي او کیدای شي د ځینو هېوادونو له تجاربو څخه پدې هکله استفاده وشي.

### ۷– د ناروا معاملاتو مخنیوی:

په یوه ټولنه کې د حرامو او ناروا معاملاتو په کولو سره عذابونه او ستونزې رامنځ ته کیږي، خلک له بې برکتیو او د روزئ د سرچینو له کموالي سره مخ کیږي. او هغه معاملات چې نن سبا یې ټولنې له عذابونو سره مخ کړې دي، مهمې یې سودي معاملات دي د کوم په اړه چې الله تعالی فرمایي:((الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا)).[۱۴۰] هغه کسان چې د سود مال خوري، د قیامت په ورځ به دربدلای نه شي، مګر د هغه کس په شان چې شیطان یې حواس خراب کړی وي، دا سزا د دوی لپاره ځکه ده چې دوی ویل سود د پیروپلور (خرڅولو او اخستلو) په شان دی او حال دا چې الله جل جلاله بیع حلاله کړې ده او سود یې حرام کړی دی.

دا څرګنده خبره ده چې په سودي کارو بار باندې په ټولنه کې بې کاري

۱۴۰. البقره ۲۷۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رامنځ ته کيږي؛ ځکه چې شتمن وګړي به خپل مالونه داسې چا ته ورکوي چې بې تکليفه د وخت په تيريدو سره ګټه ورکوي، يا به يې په سودي بانکونو کې دګټې لاس ته کولو لپاره ايږدي.. همدارنګه په ټولنه کې د اړتيا د توکو د نرخ د زياتيدو سبب ګرځي، د قرض او پور مخه نيسي، او نورې زياتې خرابۍ رامنځ ته کوي.

په خپله هغه انسان چې پيسې په سود سره ورکوي که په ظاهر کې ورته د پيسو ګټه لاس ته راځي، خو په حقيقت کې هغه ګټه نه ده، بلکې هغه تاوان او د مال بربادېدل دي، او دآخرت له سزا نه مخکې د سود خور انسان په ژوندکې بيلابيل غمونه، بې برکتي او تاوانونه راځي الله تعالی فرمايي:((يَمْحَقُ اللهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِى الصَّدَقٰتِ وَاللهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ اَثِيْمٍ()).[١٤١] الله تعالی سود له منځه وړي او خيراتونو ته وده او تازه ګي ورکوي او الله تعالی هيڅ ناشکره او بدعمله انسان نه خوښوي.

د سود له مصيبت او بلا څخه يو مسلمان ته د خلاصون لار داده چې که په سود سره يې پيسې ورکړي وي او توبې ويستلو ته آماده شو، نو د هغې ګټه دې نه اخلي بلکې همغه دسر پيسې دې واخلي، الله تعالی فرمايي:((يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَذَرُوْا مَا بَقِىَ مِنَ الرِّبٰوا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْن ())[١٤٢] ای مومنانو له الله تعالی څخه ووېرېږئ او کوم سود مو چې له چا سره پاتې دی هغه ورپرېږدئ، که چېرې په رېښتيني مومنان ياست.

او که يو مسلمان دا معامله نه پرېږدي، نو د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله عليه وسلم جنګ ته دې چمتو شي، الله تعالی فرمايي:(( فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللهِ وَرَسُوْلِه وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ وَ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا

---

١٤١ . البقرة ٢٧٦.

١٤٢ . البقرة ٢٧٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تُظْلَمُوْنَ() )).[۱۴۳] اوکه سود مو پرېنښود، نو د الله او د هغه رسول له خوا ستاسې پر خلاف جګړې ته تیار شئ، که اوس هم توبه وباسئ (او سود پرېږدئ) نو تاسې ته د سر پیسې دي (چې هغه واخلئ) تاسې تېری مه کوئ او نه به پر تاسې تېری وشي.

په موجوده عصر کې چې دنورو سترو ګناهونو ترڅنګ یو هم د سود معامله د خلکو ترمنځ په زیاته اندازه رواج لري او اسلامي هېوادونو او مسلمانې ټولنې یې هم په خپل لعنت کې راګیرې کړي، دي، داځکه چې موجوده بانکي نظام سودي دی- پرته له ځینې لږو بانکونو څخه- او په لویه سطحه باندې په اسلامي هېوادونو او ټولنو کې سودي معاملات ترسره کیږي.

ترکومه چې زموږ هېواد او ټولنې پورې اړه لري، نو د پخوا راهسې د وګړو ترمنځ سودي معاملات موجود ؤ، او په اوسنیو ظروفو کې په سودي معاملاتو کې یو نوښت رامنځ ته شوی دی چې زیات خلک ورباندې نه پوهیږي، باید چې مسلمان پدې هکله ځان اګاه کړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:((الرِّبَا ثَلَاثَةٌ وَسَبْعُونَ بَابًا، أَيْسَرُهَا مِثْلُ أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ، وَإِنَّ أَرْبَى الرِّبَا عِرْضُ الرَّجُلِ الْمُسْلِمِ».[۱۴۴] د سود درې اویا دروازې دي، آسانه یکې داده چې یو څوک له خپلې مور سره زنا وکړي او بېشکه تر ټولو لوی سود د یو مسلمان عزت پیمالول دي.

نو باید چې لدې لوی ګناه، ستر جرم او په دنیا او آخرت کې تباه کوونکي عمل څخه ځانونه وژغورو، همداراز ټول هغه معاملات چې ناروا دي ورڅخه ځانونه وساتو او د خپل سپیڅلي شریعت حکم ته په لبیک سره ورڅخه ډډه وکړو.

---

۱۴۳ . البقرة ۲۷۹.
۱۴۴ المستدرک علی الصحیحین

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام سپېڅلي دين مسلمان لدې څخه منعه کوي چې هغه دې په حرام کسب او يا حرام کار وبار کې مشغول شي او هغه دې ترويج کړي. نو پدې اساس بايد زموږ په ټولنه کې له هغو کارونو او کسبونو څخه ډډه وشي کوم چې مفيد نه دي او اسلامي شريعت حرام کړي دي لکه: د شرابو او مخدره موادو اړوند معاملات، د موسيقي الاتو، فحشو کيسټونو ، سيډيګانو، فلمونو او نور د عياشۍ وسايلو توليد او يا د هغې واردولو کارو بار، د اسراف او فاحشوالي په انداز کې د خايست او ښکلا وسايل مهيه کول او داسې نور هغه شيان چې ملت او ولس ته پرته له وخت ضايع کولو او د بد اخلاقۍ د خپريدلو بله کومه ګټه نه لري .

رسول الله صلى الله عليه فرمايلي: (( وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ , فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ)).[۱۴۵] او د چا چې غوښه پر حرامو راغټه شي، نو د دوزخ زيات وړ دی.( چې پکې داخل شي).

ددغه سخت وعيد په وړاندې به هغه خلک څه کوي چې د سود ، جوارۍ (قمار)، مخدره موادو او داسې نور حرام معاملات يې کړي او د هغې له مدرکه يې خواړه ترلاسه کړي وي!؟

همدارازهغه خلک چې د فاحشو او چټلو کارونو او ډمبازۍ له لارې يې پيسې لاس ته راوړي، د ټي وي او فضايي خپرندويه چينلونو، غلا، اختلاس، د حقونو غصبولو، له حقوقو څخه منکريدلو، په خرڅلاو کې عيب پټولو، په تجارت کې چل او دوکې کولو، په وزن او تول کې کمي کولو، د يتيمانو مال په ناحقه خوړلو، د اوقافو پر مالونو باندې خيټه اچولو، د رشوت اخستلو او ورکولو، په ناجايزه سره وکالت کولو او يا په داسې نورو ناروا معاملاتو او کارونو کې مشغوليدلو سره مال او

---

۱۴۵. المعجم الاوسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمني لاس ته راوړي. دا مخکې ذکر شوی وعيد دغسې ټولو ناروا معاملات کوونکو ته متوجه دې، نو بايد په خپلو کارونو کې تجديد نظر وکړي او د حلال مال او حلالې ګټې په تلاش کې شي.

## ۸- صنعت ته وده ورکول:

په قرانکريم کې الله تعالی داود عليه السلام په صنعتي پرمختګ سره ستايلی دی او د پرمختګ هغسې باريکتياوې يې راپه ګوته کړي چې د هغې له کړن څخه بشر عاجز پاتی او د هغې د سرته رسولو لپاره د پيريانو او شيطانانو له قوتونو څخه کار اخستل شوی دی.

پر هغه امت باندې دا حرام دي چې د الله تعالی په کتاب کې دې د حضرت داود عليه السلام دا ستاينه لولي او بيا دې هم د اسلحې د جوړولو فابريکه ونه لري. «وَأَلَنَّا لَهُ ٱلْحَدِيدَ ﴿١٠﴾ أَنِ ٱعْمَلْ سَٰبِغَٰتٍ وَقَدِّرْ فِي ٱلسَّرْدِ ۖ وَٱعْمَلُوا۟ صَٰلِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١﴾».[146] مونږ د هغه لپاره اوسپنه نرمه کړې وه ( د دې ښودنې سره) چې زغرې جوړوه او د هغې حلقې په اندازې سره اوبده، ای د داود کورنۍ نيک عمل کوئ. بيشکه هغه څه چې تاسې يې کوي زه يي ګورم. او الله تعالی فرمايي: «وَعَلَّمْنَٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ۖ فَهَلْ أَنتُمْ شَٰكِرُونَ ﴿٨٠﴾».[147] او هغه ته مو ستاسې د فايدې لپاره د زغرې جوړول ښولي و، چې تاسې د يو بل له ګوزارونو څخه وساتي، نو ايا تاسې شکر کوونکي ياست.

او بيا دې د الله تعالی په کتاب کی دا ايا‌تونه لولي او هغه قوم دی بيا هم د

---

[146]- سبأ ۱۱

[147]- الأنبياء ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسپنې د ويلی کولو بټۍ او د معدني ادواتو فابريکی ونه لري: ((وَلِسُلَيْمَـٰنَ ٱلرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۖ وَأَسَلْنَا لَهُۥ عَيْنَ ٱلْقِطْرِ ۖ وَمِنَ ٱلْجِنِّ مَن يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِۦ ۖ وَمَن يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١٢﴾ يَعْمَلُونَ لَهُۥ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَـٰرِيبَ وَتَمَـٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَٱلْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَـٰتٍ ۚ ٱعْمَلُوٓا۟ ءَالَ دَاوُۥدَ شُكْرًا ۚ وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ ﴿١٣﴾)).[148] او د سليمان (عليه السلام) لپاره مو هوا تابع کړې وه، د سهار وخت کې تګ د هغه د يوې مياشتې تر واټن پورې و او د ماښام تګ يې د يوې مياشتې د لارې واټن پورې و او د ويلې شوې قلعئي( يا ميسو) چينه مو ورته وبهوله. او داسې پيريان مو د هغه تابع کړل چې د خپل رب په حکم به يې دهغه په مخ کې کار کاوه او په هغوی (پيريانو) کې به چې کوم يو زموږ له حکم نه سر وغړاوه، نو سزا به مو وروڅکوله. هغو به د ده لپاره هغه څه جوړول چې غوښتل به يې له : لوړې ابادۍ، تصويرونو، لوی لګنونه په شان د تالاوونو او په خپل ځای ولاړ ( درانده ) ديګونه . ورته مو وويل ای د داود کورنۍ عمل کوئ د شکر( په طريقه سره ) .

همدا راز بيا دې دا ايت لولې:(( وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَـٰفِعُ لِلنَّاسِ. [149] او سپنه مو رانازله کړه چې په هغې کې ډېر زور او د خلکو لپاره ګټې دي)).

---

[148]- سبأ ۱۲-۱۳
[149]- الحديد ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همداسې مهمل او بیکاره دې پرېږدي هغه کانونه چې دا مواد لري).[۱۵۰]

زموږ هېواد افغانستان له زیاتوخامو موادو څخه برخمن دی، د معدنیاتو کانونه، د نفتو او ګاز زخیری لري، باید چې د هغې د راویستلو او بیا د هغې په کار اچولو ته پوره توجه وشي چې و د هېواد په خود کفائې کې مرسته وکړي. همدارنګه صنایعتو ته وده او انکشاف ورکول او په خاص ډول کورنیو صنایعو ته ترڅو د بې وزلو او فقیرو کورنیو لپاره د روزئ ګټلو یو مصدر او ذریعه وګرځي.

دالاندې ذکر شوي صنایع چې هنري او لاسي صنایع دي زموږ په هېواد کې زیات رواج لري:

الف- غالئ اوبدل: دغه صنعت د هېواد په شمالي واو شمال غرب ولایتونو کې زیات رواج لري. ویل کیږي چې له انقلاب څخه مخکې نوموړی صنعت د کیفیت په ښه والي کې خاص شهرت درلود، مګر د ښه پاملرنې د نشتوالي، د جنګونو له امله او د ځینې هېوادونو لکه ایران، چین، ترکیه او نورو د رقابت لامله یې په کار او کیفیت کې یو څه بدلون راغی او بازار یې راښکته شو.[۱۵۱]

باید په یاد ولرو: د هجرت په وروستیو کلونو کې د غالیو اوبدلو کسب په پېښور کې د افغانانو ترمنځ په پراخه پیمانه پیل شو. د پېښور ښار سره نزدې سیمې لکه: زریاب کالونی، افغان کالونئ، بورډ، ارباب روډ، جهانګیرآباد، او د مهاجرینو کیمپونه لکه د جلوزو کیمپ، شمشتو کیمپ او داسې نورو کې زیات مهاجرین د خپلو اقتصادي ستونزو د حل کولو په خاطر په نوموړي کسب باندې مشغول شول.

---

[۱۵۰] - وګوره: اسلامي اقتصاد، امام حسن البنا، ژباړه صافی، ص ۲۴- ۲۷

[۱۵۱] - وګوره: افغانستان در سایه سیاست ، اقتصاد و فرهنگ ،محمد حلیم تنویر، ص ۱۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کورونو څخه علاوه په پېښور او خيبر پختونخوا ځينې سيموکې د نومونړي کسب لپاره ستري او کوچنۍ کارخانې هم جوړې شوی او تجارت يې زور واخست .لکن د بازار او بهرني تجارت په هکله يې دا مشهوره وه چې دغه غالۍ افغاني سوداګرو خارج ته په مستقله توګه نه شي صادرولی، بلکه هغو به پر پاکستاني تاجرانو خرڅولې بيا به هغوخارج ته صادرولې او هلته يې خرڅلاو د پاکستان په نوم تماميده.

ب_ ګنډنه: دا کسب چې مختلفې برخې لري لکه: عادي لاس دوزي ، خامك دوزي، مرو ترل ( موره بافي ) او داسې نور. په خامك دوزۍ کې د کندهار ولايت خاص شهرت لري .

ج- پشمي لباسونو اوبدل: پدې کسب کې هزاره خلک ډېر شهرت لري .

د- پوست دوزي، زيورات سازي، شبکه کاري، ظروفبرنجي، ظروف چوبي.[۱۵۲] او داسی نور واړه او سپك صنعتونه هم زموږ په هېواد کې رواج لري.

## ۹– سوداګرۍ پاملرنه کول:

سوداګري او تجارت د مال او پانګې په حرکت راوستلو او د روزۍ لاس ته راوړلو مهمه سرچينه او د يو هېواد د صنعت او توليداتو بشپړونکې عمليه ده. همداراز د کلتور او ثقافت د تبادلې يوه مهمه وسيله ګڼل کيږي.کله چې د يو هېواد سوداګر بل هېواد ته ځي، نو هغه ته د خپل مورني هېواد د استازي او سفير په توګه کتل کيږي.

د تاريخ په اوږدو کې د اسلام په خپرولو کې ځينې مسلمانوسوداګرو ځانګړی رول لوبولی دی، د مثال په توګه د آسيا د لوی وچې د جنوب

۱۵۲- وګوره: مخکنی مرجع، ص ۱۵۵- ۱۵۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختيځ ځينې هېوادونو لکه فلپين ته داسلام مبارک دين د مسلمانو سوداګرو له لارې رسيدلی دی.

په سوداګرۍ سره په ټولنه او هېواد کې کاري فرصتونه رامنځ ته کيږي او هغه د بيکارۍ او کار نه موندنې د ستونزې د مخنيوي يو هم عنصر هم دی. نو بايد چې حکومت په هېواد کې د سوداګرۍ د پراختيا او پرمختيا لپاره لازم ګامونه واخلي او پدې ډګر کې هلې ځلې زياتې کړي، ترڅو هېوادوالو ته کاري فرصتونه پيداشي، د ټولنې او ولس اقتصاد وده وکړي، غربت او نسيتي راکمه شي..

د سوداګرۍ په ډګر کې دې لاندې وړانديزونو ته ځير شئ:

الف. زموږ هېواد چې د ميوو په برخه کې غني دی، بايد چې د لمدې او وچې ميوې د صادراتو لپاره په بهر کې له ګاونډيو هېوادونو پرته په نورو هېوادونو کې هم مناسبه بازار موندنه وشي لکه د خليج عربي هېواد ونه، همداراز د اسيا ختيځ او جنوب ختيځ هېوادونه.

ب. د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې دې حکومت نړيوالو ته د افغانستان ورو پيژني، پانګونې ته دې لاره هواره کړي او د پانګه اچونې لپاره دې په هېواد کې د اسلامي شريعت پر بنسټ لوايح ترتيب شي.

ج. د ټکسونو په ميدان کې اسلامي شرعي قوانين مراعات شي، ګمرکات - چې په هېواد کې له قضايي محاکمو نه وروسته په درغليو کې ځانګړې شهرت لري - بايد د هغې د اصلاحاتو لپاره يو جامع پلان جوړ شي.

د. د نورو ادارو ترڅنګ چې د سوداګرۍ په ادارو کې هم بې کفايتي شتون لري، بايد د هغې ادراک، پلټنه او ارزونه ترسره شي او په اړوند ادارو او سوداګريزو خونو کې امين او مسلکي خلک په کار مشغول کړای شي. داسې خلک چې دعام ولس د هوساينې لپاره هلې ځلې وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادوالو ته د سوداګرۍ په ډګر کې لازمې آسانتياوې برابرې کړي.

هـ. هېواد ته يوازې د هغو شيانو په واردولو باندې فکر او غور وشي چې قوم او ولس ته ګټور وي. اوهغه شيان چې په اسلامي شريعت کې حرام دي لکه شراب او مخدره توکي، د فحشاء او عريانۍ اړونده توکې، نو د هغې په راوردولو باندې پابندي ولګول شي.

بايد هغو سوداګرو ته اجازه ورنکړ شي څوک چې د مومنې ډلې او د هغه پيغمبر صلی الله عليه وسلم- کوم چې د ښو اخلاقو او غوره خويونو د پوره والي لپاره راغلې و- د سنګر په لښکريانو کې بداخلاقي او چټلي خپروي، ولس دې دغسې وګړو ته دا موقع مه ورکوئ، ترڅو د امت د نوي نسل زړه او اندامونه د بدو خويونو او ناوړه عادتونو په مرض سره خراب کړي. او د يو څو پيسو په بدله کې ورته د فسق او فجور کارونه ښائسته کړي او د بداخلاقۍ په لور روان يې کړي.

يو مسلمان سوداګر بايد پدې پوره يقين ولري چې د حرامو توکو راواردول، يا په سوداګرئ کې دوکه کول.. او په هره ناجايزه طريقه سره ګټه ترلاسه کول حرامه ده.بايد پدې هلکه د رسول الله صلی الله عليه د غه وينا د سترګو په وړاندې او نصب العين وګرځول شي: (( وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ, فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ)). [153] او د چا غوښه چې په حرامو راغټه شي، نو د دوزخ زيات وړ دی.( چې پکې داخل شي).

[153]. المعجم الاوسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی
# د فقر په لمنځه وړلو کې د زکات اغیز

زکات د الله تعالی لخوا پر خپلو وسمنو او بډایا بندګانو باندې یوه فریضه ده، الله تعالی د خپلو بندګانو پر ګټو او مصلحتونو باندې ډېر ښه پوهیږي، اسلامي شریعت خلکو ته ګټې او مصلحتونه راجلبوي، بدي، شر او فساد ورڅخه دفعه کوي، د الله تعالی د دین د بلنې او دعوت لارې او د هغه په لار کې د جهاد لارې تامینوي.

د اسلام په اقتصادي نظام کې زکات بنستیز مقام لري، د هغې له لارې د خلکو اړتیاوې پوره کیږي، د فقر او وزګارتیا مخنیوی کیږي،د کارګرو او ځوانانو لپاره د بوختیا لارې چارې هواریږي، او د هغې په وسیله د اړمنو وګړو لپاره ښه ژوند مهیه کیږي.

همدارنګه د انساني کرامت په ساتنه، د کورنیو او ماشومانو لپاره د لازمي غذاء برابرولو، د اقتصادي خوزښت په ډګر کې شریک کیدو، د ورکړې او انتاج فضا رامنځ ته کیدو، د فساد او جرایمو په کمیدو او مخنیوی کیدو کې زکات خپل ځانګړې اغیزې لري.[154]

که زموږ په هېواد کې په منظمه توګه د زکات نظام فعالولو ته پاملرنه وشي، نو د ټولنې د اړمنو او بیچارو خلکو په نیستئ منځه وړلو کې به زیات رول ولوبوي. موږ په ټولنه کې په کافي اندازه د زکات مدارک او

[154]. وګوره: الزكاة ودورها في معالجة البطالة والفقر - شبكة الألوكة
https://www.alukah.net/culture/۰/۷۳۹٤۲/

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې شتمن وګړي لرو چې پانګې یې تر ملیونونو او ملیاردونو رسیږي، نو باید چې حکومت د زکات د نظام فعالولو او په لازمه توګه رایجولو لپاره رغنده ګامونه واخلي. همدارنګه عام ولس د دې فریضې د اداء کولو او تطبیق په میدان کې خپله مرسته او تعاون وکړي.

د دې فریضې د پېژندنې، اهمیت او ی فقر او نیستئ په منځه وړلو کې یې اغیز پدې لاندې نقاطو کې واضح اوڅرګند شوی دی:

## ۱– د زکات مفهوم:

زکات په لغت کی زیاتوالي او پاکوالي ته واي او د شریعت په اصطلاح کې: د مال هغه برخې ته ویل کیږي چې یو مسلمان یې د الله تعالی له طرفه له ورکړل شوي مال څخه مستحقینو ته ورکوي .

په قرانکریم کې الله تعالی زاکت په صدقې سره هم نومولی دی؛ځکه چې نفس او مال پاکوي او په مال کې د ودې او زیادت سبب ګرځي، الله تعالی فرمایې: ((خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ)).[155] ای پېغمبره ! دوی ( مسلمانانو) له مالونو څخه زکات واخله چې هغوی پرې پاك او صفا کړې.

همدا راز له ما ل څخه د زکات ویستلو په واسطه انسان د مدحې او صفت وړ ګرځي، د سپیرتوب او بخل، په ناحقه سره د نورو خلکو برخې خوړلو، کینه، ظلم او داسې نورو ټولنیزو بدو خویونو څخه خلاصیږي.[156]

---

۱۵۵- التوبې ۱۰۸

۱۵۶. وګوره: الضمان الاجتماعي فی الاسلام ، محمد امین الشعراني، ص ۶۲- ۶۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲– د زکات هدف او مقصد:

امام شاه ولي الله رحمه الله ويلي:((زکات گناهونه له منځه وړي، د برکتونو او گټې د زيادت سبب گرځي، په زکات کې د مدنيت او ټولنې مصلحت او گټه پرته ده، زکات اړمنو اوخوارو خلکو ته ورکول کيږي. د نيستئ پيښې داسې ستونزي دي چې ځينې خلکو ته رسيږي او له ځينې خلکو څخه ځي، نوکه چيرته په ټولنه کې همدردي او مواسات نه وي، نو نيستمن او بې وزله خلک به له فقر او لوږې مړه او له منځه ولاړ شي.[157]

د اسلام سپڅلی دين هر يو توان لرونکی وگړي ته امر کوي چې کار، اوکسب وکړي او د روزئ د لاس ته راوړلو لپاره منډه تړله ووهي، ترڅو د خپل ځان او د خپلې کورنئ مصارف او لگښت پوره کړي او د الله تعالی په لار کې يې هم مصرف کړي.او هغه څوک چې د کار او کسب کولو څخه عاجز وي او کوم زخيره شوی مال يا د ميراث مال هم ورته نه وي پاتې، يا مال لري لکن اړتيا يې نه پوره کوي، نو د داسې وگړي لگښت به د هغه شتمن خپلوان پر غاړه اخلي، خو په ټولنه کې هر خپلوان شتمن نه وي چې پر خپلوانو باندې لگښت او خرچ وکړي، نو پدې صورت کې به هغه کمزوري وگړي چې شتمن يې خپلوان نه لري څه کوي؟

او څه به کوي هغه بيچاره خلک لکه: يتيمان، کونډئ، زړې ښځې، او بوډاگان سړي ؟ څه به کوي ليوني او ساده وگړي، دايمي رنځوران، نابينايان او معذور خلک؟ څه به کوي هغه توان لرونکي خلک کومو ته چې کار او کسب نه پيدا کيږي ترڅو د هغې لارې روزي لاس ته راوړي او يا هغه کار کوونکي چې کار لري، خو د مزدورئ عوض يې د خپل ځان او کورنۍ لپاره کفايت نکوي ؟

---

[157]. وگوره: حجة الله البالغة ۲ \ ۳۹،چاپ لاهور دار نشر الکتب الاسلاميه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایا دغه نوموړي خلک سخت زړئ اړتیا او ماتوونکي فقر پرېښودل شي چې له پښو یې وغورزوي او مات یې کړي ؟ دا پداسې حال کې چې ټولنه دې ورته گوري او شتمن خلک دې ورسره کومه مرسته نه کوي .

د اسلام سپیڅلي دین دغسې کمزوري او بیچاره خلک نه دي هیر کړي، بلکې دوی ته یې د شتمنو او مالدارانو په مالونو کې معلومه برخه مقرره کړې چې هغه زکات دی. نو د زکات لومړی هدف د فقیرانو او بیچاره خلکو غنا ده چې د هغې په وسیله یې اړتیا پوره شي او شتمن شي.[158]

## ۳ – د زکات اهمیت :

زکات د اسلام ددین له معجزاتو څخه شمېرل کیږي او پدې دلالت کوي چې دا دین د الله تعالی له طرفه راغلی او بشریت ته وروستنی پیغام دی. له نن څخه مخکې ډېرې زمانې او پیړۍ تیرې شوي چې دغه زکات پکې د فقر په منځه وړلو او د نیستمنو په اړتیاو پوره کولو کې خپل کردار اداء کړ. په اسلامي امت کې د دې نظام پر ضد نه کوم انقلاب راغی او نه د ټولنې کوم وگړي یا ډلې د حقوقو مطالبه وکړه؛ ځکه چې دوی ته حقوق ورکړل شوي دي.

د زکات نظام قایمول په ټولنه کې کوم عارضي او یا دویمي حل نه دی، بلکې هغه د ټولنې د ټېنګښت له ځانګړو او کلکو بنسټونو څخه شمېرل کیږي، او د اسلامي عباداتو له څلورو ستنو (ارکانو) څخه یوه ستن ده .

په هغه مشهور حدیث کې چې امام بخاري او او امام مسلم رحمهما الله وریاندې اتفاق کړی ذکر شوي: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وایي چې د الله تعالی استازي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: اسلام پر پنځو ستنو ولاړ

[158]- وګوره: مشکلة الفقر، یوسف القرضاوي ص ۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



دى: ګواهي ورکول پدې چې پرته له الله تعالى بل څوک د عبادت مستحق نشته او پدې ګواهي ورکول چې محمد د الله پېغمبر دى، لمونځ درول، زكات وركول، د روژې مياشت روژه نيول او د توان په صورت كې حج ته تلل دي.

په قرانكريم كى زكات وركول د مومنانو، پرهيزګارانو او نيكانو له صفتونو او نښو څخه شمېرل شوى او د هغې نه وركول د مشركانو او منافقانو له نښو څخه ګرځول شوي..

پرته له زكات وركولو مسلمان د نيكانو او هغو خلكو چې د كتاب په هدايت پسې روان دي په ډله كې نه شي داخليداى، هغه خلك چې الله تعالى يې داسې وصف كړي: ((هُدًى وَرَحۡمَةً لِّلۡمُحۡسِنِينَ ۝٣ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ يُوقِنُونَ ۝٤)). [159]" دا كتاب سمه لار ښونكى دى او رحمت دى د نيكانو لپاره، هغه خلك چې لمونځ ودروي، زكات وركوي او په آخرت باندى يقين (پوخ باور) لري. [160]

قرانكريم زكات وركول د شرك څخه د توبې ويستلو او لمانځه ودرولو سره يوځاى ذكر كړي ګويا دا پدې دلالت كوي چې دا درې شيان په اسلام كې د داخليدلو عنوان دى، او دهغو په واسطه يو انسان د اسلامي وروروليء حق پيداكوي او اسلامي ټولنې ته يې نسبت او انتماء كيږي، الله تعالي فرمايي: ((فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ [161] نو كه چيرې هغو لمونځونه اداء كړل او زكات يې وركړ، نو

[159]. لقمان ۳- ٤

[160]. وګوره: مشكلة الفقر، يوسف القرضاوي، ص ۷۱

[161]. التوبة ۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې ديني ورونه دي)). همدارنګه په زکات ورکولو سره وينه او مال محفوظ کيږي،الله تعالى فرمايي: ((فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ )).[۱٦۲] نو که چېرې هغوی ( مشرکانو) له شرک نه توبه وويسته، لمونځ يې اداء کړ او زکات يې ورکړ، نو بيا يې لار خوشې کړئ، (وينه او مال يې محفوظ شو).

او که چيرې په يو اسلامي هېواد او ټولنه کې څوک د زکات له ورکولو ډډه وکړي، نو بايد پرضد يې جنګ وشي؛ ځکه چې د دې امت لومړي خليفه ابوبکر رضي الله عنه او ورسره صحابو رضي الله عنهم د زکات د مانعينو پرضد لښکر کشي وکړه، او د هغوی په مقابل کې يې جنګ وکړ. نوموړي خليفه داسې وينا کړې ده: (( په الله تعالی مې دې قسم وي چې خامخا به د هغه چا پر ضد جنګيږم، څوک چې د لمانځه او زکات ترمنځ فرق کوي، يقينا چې زکات د بيت المال برخه ده، پر الله مې دې قسم وي که دوی له ما څخه په زکات راکولو کې د اوښ د ګونډې پړې – که دالله پېغمبر صلى الله عليه وسلم ته به يې ورکولو – راڅخه ستون کړي، نو زه به د دوی په مقابل کې جنګ کوم.[۱۲۳]

## ۴ – د زکات نه ورکولو سزا:

الله تعالى فرمايلي: ((وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ (٣٤) يَوْمَ يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ () )).[١٦٤] او هغه کسان چې خزانه کوي سره زر او سپين زر او د الله په لاره کې يې نه مصرفوي، نو زېرى ورکړه دوى

[١٦٢]. التوبة ٥
[١٦٣]. متفق عليه
[١٦٤]. التوبة ٣٤- ٣٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته په عذاب دردناک سره، په هغې ورځې چې سختې سرې به کړی شي دغه خزانې د دوی د دوزخ په اور کې، نو داغلی به شي په هغه سره وچولی (تندی) د دوی او اړخونه د دوی او شاګانې د دوی ( او ویلی به شي ورته) دا هغه شی دی چې خزانه کړي وو تاسې لپاره د ځانونو خپلو، نو وڅښئ تاسې (سزا) د هغه (مال) چې وئ تاسې خزانه کاوه به مو (په دنیا کې).

الله تعالی فرمایلي: ((وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ () )).[١٦٥] او ګومان دې نه کوي له سره هغه کسان چې بخیلي کوي دوی په هغه شي چې ورکړی دی دوی ته الله تعالی له فضل خپله چې دا بخیلي (او شومتیا) خیر دی (غوره دی) دوی ته، بلکې دا ناوړه کار او شر دی دوی ته، ژر به په غاړه کې ورته امېل کړای شي، هغه چې بخیلي یې کړې ده دوی په هغه شي کې په ورځ د قیامت او خاص الله لره دی میراث (پاتې کیدل) د اسمانونو او د ځمکې او الله په هغو کارونو چې تاسې یې کوې، ښه خبر دی.

په حدیث کې شریف راغلي: عن أبي هريرةَ رضي الله عنه قال: قالَ رسولُ الله – صلى الله عليه وسلم –: (( مَن آتاهُ الله مالاً، فلم يؤدِّ زكاتَه مُثِّل له يومَ القيامةِ شُجاعاً أَقْرَعَ، له زَبيبَتانِ، يطوَّقُه يومَ الْقيامةِ، ثم يَأخُذُ بِلِهْزِمَتَيْهِ –يعني شِدْقَيْهِ– ثم يقولُ: أنا مالُكَ، أنا كَنْزُكَ، ثم تَلاَ: {لا يَحْسَبَنَّ الذينَ يَبْخَلونَ} الآية)).[١٦٦] ابوهریره رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کړي هغه فرمایلي: چا ته چې الله تعالی مال ورکړی وي او د هغه زکات یې نه وي اداء کړی، نو د قیامت په ورځ به د ګنجي مار په شان ورته جوړ کړای شي، چې دوه لښې به یې وي او د قیامت په ورځ به په غاړه کې ورته تاو کړای شي بیا به یې له دواړو ژامو نیسي او

---

[١٦٥]. آل عمران ١٨٠
[١٦٦]. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وايي به زه ستا مال يم، زه ستا خزانه يم. بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم دا آيت{لا يَحْسَبَنَّ الذينَ يَبْخَلونَ}تر آخره پورې ولوست.

د زکات له ورکولو پرته مومنان په دنيا کې د الله تعالی د هغه نصرت او مدد مستحق نه شي ګرځيدی د کوم چې يې ورسره وعده کړې. الله تعالی فرمايي: ((وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ أَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُا۟ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا۟ بِٱلْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا۟ عَنِ ٱلْمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿٤١﴾)).[۱۶۷] او خامخا به الله تعالی مرسته او مدد کوي له هغه چا سره چې د هغه د دين مدد کوي، يقينا الله تعالی توانمند او غالب دی، دوی به هغه کسان وي چې(کله) الله تعالی ورته په ځمکه کې قوت (خلافت او دولت ) ورکړي، نو لمونځونه ودروي، زکات ورکوي، پر نيکيو سره امر وکړي او د بديو مخنيوی وکړي. او دکارونو وروستنۍ پايله خاص الله ته ورګرځي.

د حديثو په يو روايت کې د زکات نه ورکول په تږولنه کې د وچ کالۍ سبب ښودل شوی دی: ((**مَا مَنَعَ قَوْمٌ الزَّكَاةَ إِلَّا ابْتَلَاهُمُ اللَّهُ بِالسِّنِينَ.**[۱۶۸] هيڅ يو قوم زکات نه دی منع کړی، مګر دا چې الله تعالی پر وچکالۍ سره ازمايلي دي)). د حديثو په يو بل روايت کې راغلي: (( هيڅ يو قوم داسې نشته چې په مالونو کې د زکات ورکولو څخه ممانعت وکړي، مګر داچې له باران څخه به بې برخې شي او که چيرته څاروي او حيوانات نه واى، نو هيڅکله به پرې باران نه وی وريدلی.[۱۶۹]

---

[۱۶۷] ـ الحج ۴۰ـ ۴۱

[۱۶۸] . المعجم الاوسط، للطبراني

[۱۶۹] . سنن ابن ماجه، کتاب الفتن، باب ۲۲ (العقوبات).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د زکات مستحقین:

په عمومي توګه د زکات مستحقین اته ټولګي خلک دي چې په خپله يې الله تعالی په خپل کلام مجید کې یادونه کړې ((إِنَّمَا ٱلصَّدَقَٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱلۡعَٰمِلِينَ عَلَيۡهَا وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ﴿٦٠﴾)).[170] په تحقیق سره صدقې او زکاتونه - په اصل کې - د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي او د هغو خلکو لپاره چې د زکات د چارو مامورين وي، او د هغوی لپاره چې د هغوی د زړونو په لاس راوړل مقصد وي. او د غاړو د ازادولو، او د پوروړو د مرستی لپاره، او د الله تعالی په لار کې، او د مسافر لپاره. دا د الله له لوري يوه فريضه ده او الله په هرڅه پوه او د حکمت خاوند دی.

**الفقراء، المساکین**: له فقیر نه مراد هغه څوک دی چې د خپل ژوندانه تیرولو لپاره د نورو مرستې ته محتاج وي. دا لفظ د ټولو اړمنو خلکو لپاره عام دی که هغوی د معیوب والي یا زوړوالي له امله په خپلواکه توګه مرستې ته محتاج شوي وي، یا په موقتي سبب سره موقتي مرستی ته اړمن وي، نو که ورسره څه پیدا شي پرمختګ کولای او په خپلو پښو باندې ودریدلی شي. د مثال په ډول: یتیم، کونډه، وزګار او هغه کسان چې ناڅاپي پېښو ځپلي وي.

د مسکین په لفظ کی د عاجزئ ، بیوزلئ ، بیوسئ، او خوارئ معناوې پرتې دي، پدې اعتبار سره مسکینان هغه خلک دي چې د عامو اړمنو خلکو په پرتله زيات بیوزله وي.[171]

---

[170]. التوبة ۶۰

[171]. وګوره: تفهیم القرآن، امام مودوي، ۲ / ۲۹۲ - ۲۹۳ ۱۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حنفي فقهې له نظره فقیر هغه چا ته واي چې د زکات له نصاب څخه کم مال ولري او یا د نصاب برابر ځیزونه لري، خو هغه د استعمال لپاره وي، او مسکین هغه چا ته وايي چې هیڅ ونه لري.[۱۷۲]

**العاملین علیها:** هغه خلک چې د حکومت له خوا د زکات راټولو او د راغونډ شوي مال د ساتنې، د هغه د حساب کتاب د لیکنې، او د هغې د ویشلو لپاره ګمارل شوي وي، داسې خلک که فقیران او مسکینان هم نه وي، لیکن د هغوی تنخاګانې دې په هر حال د همدې مال څخه ورکړل شي.[۱۷۳]

**مؤلفة القلوب:** د زړونو تالیف یعنې د زړونو تسخیرول. لدې حکم نه مقصد دادی چې کوم خلک د اسلام په دښمنۍ کې په توده ولوله لګیا دي او د مال په ورکولو د هغوی جوش سړېدای شي، یا کوم خلک چې د کفارو په ډلې کې داسې وي چې که په مال سره مات شي، نو له ماتیدو وروسته د مسلمانانو ملاتړ ګرځول کیدای شي، یا هغه کسان چې نوي په اسلام کې داخل شوي، د هغوی د پخوانۍ دښمنۍ او نیمګړتیاو په لیدلو سره له هغوی څخه وېره وي، او که په مال سره د هغوي زړونه نرم نکړای شي بیرته به د کفر لوري ته واوړي. نو د داسې رامایله کیدونکو خلکو تپاره دې دایمي تنخاګانې وټاکل شي، یا دې موقتي بخشش ورکړی شي او پدې توګه دې د اسلام ملاتړ او مرستندوي، یا حکم منونکي او فرمانبردار، یا دې لږ ترلږه بې ضرره دښمنان وګرځول شي.

پدی لار کې له ولجو (غنیمتونو) او له نورو عایداتو نه هم مصرف کیدای شي. او که اړتیا پیښه شي، نو د زکات له بودیجې نه هم ورکولی شي لکه څرنګه چې یې پدې ذکر شوي آیت کریمه کې یادونه شوې ده. دغه راز خلکو

---

۱۷۲. وګوره: فقه الزکاة، یوسف القرضاوي ۲ / ۵۴۶ – ۵۴۷

۱۷۳. وګوره: تفهیم القران ۲\ ۲۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره دا شرط نه ده چې که فقیران، مسکینان او مسافران وي، نو په هغه صورت کې د زکات په مال سره د هغو لاس نیوی کیدای شي، بلکې که هغوی شتمن او د قدرت خاوندان هم وي د زکات ورکولو مستحق دي.

پدې خبره خو د ټولو اتفاق دی چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ځینو خلکو ته د زړونو تسخیرولو لپاره معاشونه او بخششونه ورکول کیدل، خو پدې خبره کې اختلاف شوی دی چې ایا له هغه نه وروسته هم دا مصرف پاتې شو که نه؟ د امام ابوحنیفه او د هغه د ملګرو (رحمهم الله) دا رایه ده چې د حضرت ابوبکر او عمر رضي الله عنهما له زمانې راهسې پدې خوا دا مصرف له منځه تللی دی او اوس ( مؤلفة القلوب ) ته څه ورکول نه دي روا. د امام شافعي رحمه الله دا رایه ده چې فاسقو مسلمانانو ته د زړونو د تسخیرولو لپاره د زکات له بودیجې څخه ورکول کیدای شي، خو کافرانو ته نه. او د ځینو نورو فقهاو په رایه سره د (**مؤلفة القلوب**) برخه اوس هم باقي ده که ورته اړتیا پیدا شي نو ورکولی شي.[۱۷۴]

**فی الرقاب:** یعنې د غاړو په ازادولو کې. له غاړو ازادولو نه مقصد دادی چې د غلامانو په ازادولو کې دې د زکات مال ولګول شي. د دې دوه صورتونه دي: لومړی کوم غلام چې له خپل بادار سره قرارداد کړی وي چې که دومره پیسې درکړم، نو ته ما ازاد کړه. لدغسې وګړي سره دې د ازادۍ د بیې په اداء کولو کې مرسته وشي. دویم داچې په خپله د زکات په بودیجې سره دې غلامان واخستل شي او ازاد دې کړی شي.

پر لومړي صورت باندې د ټولو فقهاو اتفاق دی، خو دویم صورت حضرت علي(کرم الله وجهه)، سعید بن جبیر، لیث، ثوري، ابراهیم نخعي، شعبي، محمدبن سیرین، احناف او شوافع روا نه بولي .او ابن عباس (رضي االله

---

[۱۷۴]- وګوره: مخکنی مرجع ۲\۲۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنهما) حسن بصري، مالك، احمد او ابوثور يې روا ګڼي.[۱۷۵]

**الغارمين**: د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد غارِمُ هغه چا ته ويل کيږي چې پر هغه پور(قرض) وي او له پور څخه زيات نصاب نه لري.[۱۷۶] او د يو شمېر فقهاو رايه داده چې کوم وګړي چې په بدو چارو او د اسراف په لارو کې خپل مال بايللی او ځان يې پوروړی کړی وي، له هغه سره دې مرسته نه کيږي، ترڅو چې يې توبه نه وي ويستلې.[۱۷۷]

په اسلامي او عربي نړۍ کې له پخوا راهسې داسې وګړي موجود وه چې د خلکو تر منځ د سولې په خاطر به يې خپل مالونه لګول او يا به يې ددې کار لپاره پور اخسته، ترڅو د دوو طرفونو تر منځ سوله وکړي، که څه هم هغه دوه طرفونه په اسلامي ټولنه کې اهل ذمه وي. د دې لپاره چې په ټولنه کې د وينې تويدنې، او د مالونو د ضياع کولو مخنيوی وشي، نو دغسې کار مطلوب دی، اوکه څوک دغسې کار وکړي په حقيقت کې يې د شرف او مروت (د سړيتوب او نيک خوي) سپېڅلی کار تر سره کړ، نو هغه ته شريعت د زکات په مال کې برخه مقرره ده څو يې پور خلاص شي .[۱۷۸]

**في سبيل الله**: يعنې د الله تعالی په لار کې. د الله د لارې لفظ عام دی د نيکۍ ټولې هغه چارې چې پکې د الله رضا وي ددې لفظ په معنی کې داخليدای شي. له همدې امله ځينو علماو ويلي چې ددې حکم له مخې د زکات مال د نيکۍ په هر ډول چارو کې لګول کيدای شي.

خو حق خبره داده او د سلفو امامانو غوڼه اکثريت پر همدې قائل دی چې په

---

[۱۷۵]- وګوره: مخکنی مرجع ۲\ ۲۹٦ .

[۱۷٦]- وګوره: فقه الزكاة، يوسف القرضاوي ۲\ ٦۲۲.

[۱۷۷]- وګوره: تفهيم القران ۲\ ۲۹٦ ، ۲۹۷

[۱۷۸]- وګوره: فقه الزكاه يوسف القرضاوي ۲\ ٦٦۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیت کې له (سبیل الله) نه مراد د الله په لار کې جهاد دی. یعنې هغه هلې ځلې چې موخه یې د کفر د نظام نسکورول او د هغې پر ځای د اسلامي نظام برقرارول وي. پدی هلو ځلو کې چې هرڅوک برخه واخلي د هغوی د سفر خرچ لپاره، سپرلۍ لپاره، د وسائلو، وسلې او تجهیزاتو برابرولو لپاره له زکات څخه مرسته ورکول کیدای شي.که یو مجاهد په خپله شتمن وي او د خپلو شخصي اړتیاو لپاره ورسره د مرستې کولو ضرورت نه وي، نو بیا به هم لدې مصرف څخه ورکولی شي. همدا راز کوم کسان چې په خپله خوښه خپل ټول فعالیتونه او خپل ټول وخت په موقتي ډول یا په دائمي ټوګه ددې کار لپاره وقف کړي د هغوی د اړتیاو پوره کولو لپاره هم له زکات نه موقتي یا دائمي مرستې ورکول کیدای شي.[179]

**ابن السبیل:** هغه مسافر چې په قدر د ضرورت ورسره مال نه وي- که څه هم په خپل وطن کی غني وي- نو ده ته زکات ورکولی شي,ترڅو د خپل سفراړتیاوې پوره کړي او خپل ټاټوبي ته پرې واپس ولاړ شي.[180]

## ۶- د زکات نظام د سمون په موخه :

زکات یو ټولنیز عمل دی چی د نظام رایجول یې د اسلامي حکومت پورې اړه لري،او په اسلامي حکومت کې باید ددې لپاره ځانګړې اداره موجوده وي، ترڅو له هغه چا راټول شي چې پرې فرض دی، او هغه چا ته ورکړ شي چی یې مستحق دی. د حکومت دا مسئولیت دی چې د زکات د ټولولو انتظام وکړي، په قران کریم کې چې لفظ د (والعاملین علیها) ذکر شوی دا پدی باندې پوره دلالت کوي چې د زکات نظام قایمول د حکومت او دولت مسئولیت دی. همدارنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عملي

---

[179]- وګوره: تفهیم القران ۲\ ۲۹۷ ، ۲۹۸

[180]- وګوره: معارف القران مولانا محمد شفیع ٤\ ۲٤۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنت او طریقه پر همدې دلالت کوي. هغه به د زکات لپاره په بیلابیلو وختونو کې د مختلفو سیمو لپاره مامورین ټاکل، او د زکات په راټولولو به یې مکلف کول، او بیا له هغه وروسته خلفاء راشدینو همدغسې کول.

علماو ویلي چې د مسلمانانو پر حاکم دا لازم دي چې د زکات د راټولولو لپاره مامورین وګماري او اړونده سیمو ته یې ولیږي؛ د دې لپاره چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او له هغې وروسته خلفاء راشدینو زکات ټولونکي لیږل؛ ځکه چې په خلکو کې داسې وګړي شته چې مال لري، خو پر هغه څه نه پوهیږي کوم چېورباندې فرض دي، او ځینې داسې وګړي هم شته چې سپیرتوب او بخل کوي..[181]

په اسلامي حکومت کې د زکات له مدرکه باید ځانګړې بودیجه موجوده وي چې حساب یې معلوم وي او په خپلو مستحقینو باندې وویشل شي. له پخوانیو پیړیو راهسې مسلمانانو د زکات لپاره ځانګړی کور (بیت الزکات) درلود. د حنفي فقهې پوهانو د بیت المال د پانګې او بودیجې خونې او ادارې پدې توګه ذکر کړي دي.

الف- د زکات خونه (**بیت الزکاة**): پدې کې به د چاراګاه د څریدونکو څارویو زکات، د ځمکې عُشر، او هغه څه چې به عشر ټولونکو مامورینو په لاره تیریدونکو تاجرانو څخه اخستل راغونډ اوخوندې کیدل.

ب- د جزیې او خراج د مالونو لپاره ځانګړې خونه.

ج- د غنیمت د مالونو خونه.

د- د بې څښتنه مالونو خونه: لکه هغه مال چې وارث نه لري ، موندل شوي

---

[181]- وګوره:: فقه الزکات یوسف القرضاوي ۲\۱ ۷۴۸،۷۴۷ ،۷۵۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځیزونه چې څښتن یې معلوم نه وي او داسې نور .[۱۸۲]

نو باید چې د دولت له خوا د زکات لپاره ځانګړو خونې تاسیسولو او فعالولو باندې غور وشي، د زکات په ادارو او کمیټیوکې پرمختګ رامنځ ته کړي. همدارنګه له ولایتونو څخه ولسوالیو او قریو ته د زکات اداري او کمیټۍ وغزیږي، تر څو د هرې منطقې خلکو سره د زکات حساب وشي، له شتمنو څخه راټول شي او د همهغه سیمې پر فقیرانو او متسحقینو باندې توزیع شي .

باید په یاد ولرو چې په اسلامي حکومت کې د بیت المال د شتون په صورت کې له زکات نه پرته د بیت المال نور موارد هم شته دی چې کولای شي له هغې لارې هم د فقیرو او بیچارو خلکو لاس وشي، دغه موارد پدې توګه دي:

الف- نفلي صدقات: له زکات نه پرته نور نفلي خیراتونه چې خلک یې په خپله د بې وزلو د مرستې او ګټې په خاطر بیت المال ته ورکوي ، باید چې د هغې د راغونډولو تنظیمولو او ویشلوته پوره توجه وشي.

ب- خُمس: د غنیمت ( ولجې ) له مال څخه، او د خښنو (ځمکې لاندې) خزانو او کانونو څخه راویستلي سرو زرو او سپینو زرواو داسې نورو څخه د بیت المال مقرره پنځمه برخه.

ج-فئ :هغه مال چې تریدلی او تښتیدلی دښمن یې تر شاه پریږدي او پرته له جنګ کولو مجاهدینو ته په لاس ورشي، چې دغه ډول مال هم بیت المال ته ورکرځي او خپل ځانګړي احکام لري.

د-خراج : هغه دولتي ټکس دی چې د نامسلمانو بزګرانو نه په نااختسل

---

[۱۸۲]- وګوره: مخکنی مرجع ۲\ ۷۵۷، ۷۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو ځمکو (هغه مفتوحه ځمکې چې بېرته نامسلمانه بزګرانو ته ورکړی شوي وي، يا هغوی ته پرېښودل شوي وي) چې داهم ځانګړي احکام لري.

هـ- جزيه: هغه ټکس چې په اسلامي قلمرو کې د نامسلمانه وطنوالو څخه د هغوی په خوښه له فيصله شوې اندازې سره سم اخستلی کيږي، دا ټکس د دغو وطنوالو د مال، شتمنيو، عزت او ابرو د ساتلو په خاطر اخستل کيږي او تر شا يې خاص حکمت موجود دی.

و- وقف: هغه (پانګه، ځمکه، او داسې نور) چې د الله تعالی په نوم باندې له شخصي ملکيت څخه وويستلی شي او په ټولنيز ملکيت کی ورکړی شي.[۱۸۳]

## ۷- لازمو نوښتونو ته اړتيا:

د فقر او بيکارئ په مخنيوي او دهغې په کمولو کې زکات ځانګړې اغيزه لري او دا داسې يوه عمليه ده چې ودري نه، بلکې د کلونو او موسمونو په تکرار سره تکرار او د حاصلاتو او پانګو په زياتيدو سره زياتيږي.

بايد چې حکومت او د زکات اړونده اداري پدې باندې هم غور وکړي چې د زکات او يا نورو اړونده مدارکو له لارې وخت په وخت د کار وړتيا لرونکو فقيرانو ته د کسب وسايل واخستل شي، يا هغوی ته د انتاج، پير او پلورلارې چارې برابرې شي، او پدې وسيله پر خپلو پښو ودرول شي.

پدې ميدان کې شتمن وګړي او خيريه اسلامي موسسات هم پر يوڅه نوښتونو باندې فکر او غور کولی شي او د مناسبو او معقولو پلان ګزاريو له مخې د فقر او بې وزلئ په مخنيوي او يا کمولو کې خپل کردار اداء کولی شي، او دا داسې يوه تجربه او نوښتونه دي چې په ځينو ټولنو کې ترسره کيږي او ښه نتيجه يې ورکړې ده .

---

[۱۸۳] - وګوره: د اسلام حکومتي نظام، مولانا انصاري، ژباړه: صافی ، ص۵۶۷-۵۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی
# د فقر په مخنیوي کې مسئول اړخونه

د دنیاوي اسبابو تر قانون لاندې او د انساني کوښښ له مخې زموږ د ټولنې د فقر په مخنیوي کې د ټولنې بیلابیل اړخونه مسئولیت لري چې هغه: شتمن وګړي، عام ولس، حکومت، خیریه موسسې او ټولنې ، علمي او مصلح شخصیتونه:

## ۱ – شتمن وګړي:

موږ په ټولنه کې د الله تعالی په فضل په کافي اندازه شتمن خلک لرو، چې د بیچارو وګړو پر وړاندې دهغوی د احساس راپیداکولو څخه وروسته ټولنه یو څه اندازه د فقر له منګولو ژغورل کیدی شي، او دې موخې ته د رسیدلو په خاطر د دې اړتیا ده چې په ټولنه کې د زکات، صدقاتو او د بیچاره خلکو د لاس نیوي فضایل بیان شي، دیني آګاهي او بیداري اوځانګړي مبارزه پیل شي. راځئ د بې وزلو د لاس نیوي په میدان کې دې لاندې قرآني آیتونو ته ځیر شو:

الف. الله تعالی فرمایلي دي: ((لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَـٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَـٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَـٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ وَءَاتَى ٱلۡمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ ذَوِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَـٰمَىٰ وَٱلۡمَسَـٰكِينَ وَٱبۡنَ ٱلسَّبِيلِ وَٱلسَّآئِلِينَ وَفِي ٱلرِّقَابِ)).[۱۸۴] نیکي دا نه ده چې تاسې خپل مخونه ( په لمانځه ) کې ختیځ یا لویدیځ لوري ته واړوئ، بلکې نیکي

---

۱۸۴ـ البقرة ۱۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



داده چې انسان پر الله تعالى، په ورځ د آخرت، پر ملايکو، د الله تعالى په نازل شوو کتابونو او د هغه پر پيغمبرانو ايمان او باور ولري، او سره د مينې خپل ګران مالونه خپلو خپلوانو، يتيمانو، بې وزلو او مسافرو ته ورکړي ، او همدارنګه د مريانو په ازادولو کې يې ولګوي.

له پورتنۍ الهي وينا څخه دالاندې څو ټکي هم استفاده کيږي:

لومړى : په ټولنه کې مال او مرسته بايد د اخلاص پر بنسټ وي په آيت کې دا ذکر شوي چې سره لدې چې له مال سره مينه لري، خو بيا يې هم د الله تعالى د خوښۍ لپاره ورکوي، او دا طبيعي خبره چې په کوم کار کې اخلاص نه وي، نو دالله تعالى په نزد يې اجر او ثواب هم نشته دى.

دويم : په آيت کې مال په معرفې سره ذکر شوى دى، پدې کې دې ته هم اشاره ده چې دا هغه پيژندل شوى مال دى کوم چې د الله تعالى دى او بنده يې پکې نمائنده ، او تصرف کوونکى ګرځولى دى، لکه څرنګه چې له يو بل آيت په ډاګه همداسې معلوميږي الله تعالى فرمايي: ((وَأَنفِقُواْ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسۡتَخۡلَفِينَ فِيهِ ۖ)).[185] او ولګوئ هغه مالونه چې تاسې يې پکې ځاى ناستي او تصرف کوونکي ګرځولي ياست.

دريم : د (وفى الرقاب) څخه مراد د مريانو خلاصول دي.د مريتوب سلسله د اسلام نه مخکې د جاهليت له دور څخه راپاتې وه، او اسلام کې د هغې د مخنيوى او منځه وړلو کوښښ شوى دى، ، فعلا په نړۍ کې په هغه شکل مريتوب نشته، لکن د هغې ورته اشکال يې موجود دي لکه: د انسانانو پلورل او په ځانګړې توګه له ځينو فقيروهېوادونو څخه ښځې او ماشومان اخستل او بيا يې بډايا هېوادونو ته قاچاق او هلته يې خرڅلاو..

---

[185]. الحديد ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تر څو چې زموږ افغاني ټولنې پورې اړه لري، نو دا بايد په ډاګه شي چې د قوم او ولس ځينې تورسرې، ماشومان، او حتی ځوانان د خوارۍ او اړتيا په وجه د غلامۍ پر ځير چلند او يا له هغې نه خطرناک چلند سره مخ دي، ياخو داچې زيات شاقه کارونه ورباندې کيږي، له تربيې او ادب له نعمت څخه محروم دي، او يا خو د بد اخلاقيو ښکار ګرځيدلي، نو بايد چې د ولس شتمن د هغوی د خلاصون په لار کې خپل مالونه ولګوي.

ب. الله تعالی فرمايي: ((وَٱبۡتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلۡأٓخِرَةَۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنۡيَاۖ وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ وَلَا تَبۡغِ ٱلۡفَسَادَ فِي ٱلۡأَرۡضِۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٧٧﴾)).[۱۸۶] ای قارونه ! کومه شتمني چې الله تعالی درکړی په هغې سره د آخرت کور جوړ کړه، او له دنيا څخه هم خپله برخه مه هېروه، د خلکو سره ښېګڼه او مرسته وکړه لکه څنګه چې الله تعالی پر تا احسان کړی دی، د فساد راولاړولو هڅه مه کوه، بيشکه الله تعالی فساد کوونکي نه خوښوي.

لدې آيت څخه دا لاندې يو څو ټکې هم استفاده کيږي:

لومړی: د مسلمان قوم چې د يو بدن حيثيت لري – لکه څرنګه چې په حديث شريف کې ذکر شوي دي - نو د قوم ځيني وګړي دا حق لري چې شتمنو وګړو ته وواي چې خپلو مسلمانانو ورونو سره مرسته او ښېګڼه کوئ لکه څرنګه چې پر تاسې باندې الله تعالی احسان کړی دی، لکه څرنګه چې قارون ته يې خپل قوم وويل: ((وَأَحۡسِن كَمَآ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ

---

[۱۸۶]. القصص ۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِلَيْكَ ۖ - له خلکو سره ښيګڼه او احسان کوه، لکه څنګه چې الله تعالی پر تا احسان کړی دی.

دويم :شتمن وګړي بايد لدې څخه ونه ويرېږي چې په مرسته کولو سره به يې مالونه کم شي، او يا به د هغوی په اقتصادي پرمختيا او وده باندې منفي اثر وغورزوي، بلکې هغوی ته دا اختيار دی چې په جايزه لارو سره خومره پرمختګ کولی شي ( وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ۖ ).

دريم: په ټولنه کې د فساد شکلونه له يو وخت څخه تر بل وخت پورې توپير لري، د قارون د فساد کولو هوبهو څه نمونې کيدای شي اوس مهال ونه ګورو، لکن د هغې پر ځای د فساد نورو شکلونو ځای نيولی دی.

هر هغه شتمن چې په ناجايزو لارو چارو سره مال جمع کوي او هر هغه شتمن چې خپل مال په حرامو لارو کې لګوي، او هر هغه شتمن چې په خپل مال کې د فقيرو، بيچارو او مستحقو خلکو حق نه ورکوي، په اصل کې د دوی مال قاروني مال دی چې لدې امله به له عذابونه سره مخ کيږي.

## ۲-عام ولس:

د فقر او نيستمنۍ په منځه وړلو کې دا اړينه ده چې په عام ولس کې د همدردۍ او خواخوږۍ فضاء رامنځ ته کړو، د دې ستونزې په وړاندې ولس سره پيوست او يو موټی کړی شي، ترڅو د دې پديدې او د دې په څير نورو په مقابل کې يو ولسي ملاتړ جوړ شي، پدې معنی چې ټول هېوادوال او يا په هره سيمه کې ميشت مسلمانان يو بل ته د تعاون او مرستې لاس ورکړي، او په خپلو کې د جسد واحد (يو تن ) حيثيت غوره کړي، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:((**مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى**)).[۱۸۷] د مومنانو په خپلو منځونو کې يو بله سره محبت کول، يو پر بل مهرباني ، او يو له بله سره مرسته کول داسې دي لکه يو بدن کله چې يې يو غړی دردمن شي، نو ټول بدن يې نا آرامه او په درد شي.

د الله تعالی استازي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((**مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ لَيْلَةً، فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى، وَبَرِئَ اللَّهُ تَعَالَى مِنْهُ، وَأَيُّمَا أَهْلُ عَرْصَةٍ أَصْبَحَ فِيهِمُ امْرُؤٌ جَائِعٌ، فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُمْ ذِمَّةُ اللَّهِ تَعَالَى**)).[۱۸۸] څوک چې څلويښت شپې د اړتيا خواړه وساتي (ذخيره کړي)، نو له الله تعالی نه بيزاره کړی شو ، او الله تعالی ورڅخه بيزاره شو، او د هرې کومې سيمې خلک چې څوک پکې په لوږه سره سبايي کړي، نو د الله تعالی د ساتنې ذمه ورنه لرې شوه.( د هغه له ساتنې څخه ووتل).

پدې حديث کې دا لاندې څو نقاط راپه ګوته کيږي:

لومړی: د يوې سيمې خلک بايد په خپله سيمه کې فقيراو بې وزله تشخيص او وپيژني، چې دا کار د خيريه مئوسسو د معلوماتو راغونډولو (سروې) لپاره هم يو دليل کيدای شي.

دويم : د ولسونو او قومونو ساتنه د هغوی ترمنځ د همدردئ اومرسته کولو په واسطه را منځ ته کيږي.که چيرته په يو ولس کی همدردي نه وي، نو هلته امن او استقرار نه شي راتلای. او دا عملا وليدل شول، له کومو ټولنو څخه چې عدل، انصاف او همدردي کډه وکړي، ظلم او تيري پکې ځای ونيس، نو له ګډوډيو سره مخ شي، او د ناامنيو ښکار وګرځي.

دريیم : د حديث د يوې برخې تائيد يو بل مشهور حديث هم کوي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:((**ابْغُونِي فِي الضُّعَفَاءِ، فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ، وَتُنْصَرُونَ**

---

۱۸۷. صحيح مسلم

۱۸۸. مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بضُعَفَائِكُمْ». [۱۸۹]تاسې زما رضا او خوښي د کمزورو خلکو په لاس نیوي کې ولټوئ، بیشکه تاسې سره مدد د کمزورو له مخه کیږي او تاسې ته روزي هم د هغوی په خاطر درکول کیږي.

د دې دواړو احادیثو په رڼا کې موږ دا ویلای شو چې د مسلمانو ولسونو د ناخوالو، ستونزو، او د دښمنانو په مقابل کې د هغوی د ناکامئ یو مهم لامل او سبب کمزورو، او بې وزلو وګړو ته پام نه کول دي.

ځلورم : له حدیث څخه دا هم څرګندیږي چې د مسلمانانو همدردي او مرسته باید شامله وي؛ ځکه چې د حدیث دا لفظ (امْرُؤٌ) عام دی، که چیرته د هغوی ترمنځ غیرمسلم وګړی هم دلوږې په حال کې شپه سبا کوي، نو هغوی پرې موخوذ دي، او مسئولیت لري چې مرسته یې وکړي.

یو مسلمان وګړي او یوې مسلمانې ټولنې ته بیلګه او نمونه خپل پېغمبر صلی الله علیه وسلم او دهغه کردار دی، همداراز هغه ټولنه چې د هغه مبارک په لاسونو سره جوړه شوې وه.

د الله تعالی استازي صلی الله علیه وسلم د خپل عمر په اوږدو کی له نبوت څخه مخکې او له نبوت څخه وروسته د همدردئ او خواخوږئ یو رمز او او چته نمونه وه، «کله چې په غار حرا کی هغه ته د وحې ملک ( جبرایل ) راغی او د الهي وینا د لوستلو امر یې ورته وکړ، او د هغې نا اشنا حالت په لیدو سره بیا هغه څه اندیښمن شو، کله چې خپلې بي بي خدیجې رضي الله عنها ته یې تشریف راوړ او هغه قیصه یې ورته بیان کړه، او خپله اندیښنه یې هم ورته څرګنده کړه، نو هغه ورته په تسلې ورکولو کې دا وویل چې: «په الله تعالی قسم چې هیڅکله به الله تعالی تا پریشانه اوشرمنده نه کړي، بیشکه چې ته خپلوي پالې، بې وزلو او بیچارو سره مرسته کوې، میلمه نوازي

[۱۸۹]. سنن ابي داود، كتاب الجهاد، باب (۷۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوې، او د پېښو ځپل شوو لاس نيوی کوې.[۱۹۰]

په يو حديث شريف کې ذکر شوي چې: ((د الله تعالی استازی صلی الله عليه وسلم له ټولو خلکو څخه زيات سخي او د هغه سخاوت به د روژې په مياشت کې خورا زيات و، هغه مهال به چې جبريل (عليه السلام) ورته راته او قرنکريم به يې ورسره لوسته)).

د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګرو (صحابه کرامو) رضي الله عنهم د هغه ډېره ښه پيروي وکړه ، او راتلونکو نسلونو ته يې ښې بيلګې او نمونې پريښودې، د هغه لومړني يار ابوبکر رضي الله عنه په مکه کې به چې کوم بې وزله مرئي، ياوينځې اسلام ومنلو، او د مشرکانو له سزا او تعذيب سره به مخ شو، نو هغه به يې په پيسو واخست، او ازاد به يې کړ، چې د مشرکانو له تعذيب څخه وژغورل شي.کله چې د هغه پلار ابوقحافه دا کار وليد، نو ورته يې وويل: زويګيه! زه ګورم چې ته بې وسې خلک ازادوې، که تا د قوي ځوانانو په ازادولو دومره پيسې لګولې وای، نو هغوی به ستا ملاتړ ؤ، هغه ورته وويل پلارجانه! زه خو هغه اجر غواړم چې له الله تعالی سره دی، پدې سبب دا اياتونه رانازل شول : ((وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن نِّعۡمَةٖ تُجۡزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ وَجۡهِ رَبِّهِ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوۡفَ يَرۡضَىٰ ﴿٢١﴾)).[۱۹۱] او پرهغه باندې د چا احسان نشته چې بدله يې ورکړي، بلکې يوازې د خپل رب خوښې لټولو لپاره، نو ارو مرو به هغه ترينه خوشحاله شي.[۱۹۲]

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له مکې مکرمې څخه مدينې منورې

---

[۱۹۰]- دا د هغه حديث د يوې برخې مفهوم چې په البخاري (بدء الوحي) کې ذکر شوی دی.

[۱۹۱]. الليل ۱۹- ۲۱

[۱۹۲]- وګوره: تفهيم القران : ٦ \ ٤٨٩ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هجرت وکړ او هلته يې اسلامي ټولنه جوړه کړه، د هغې ټولنې د پیوستون او پیاوړتیا په خاطر يې د ورورولۍ نظام قایم کړ. چې د هغې په پایله کې شتمن وګړي او ځاي خلک ( انصار ) دې ته چمتو شول چې خپلو راغلو ورونو (مهاجرینو) ته په خپلو مالونو او جایدادونو کی برخې ورکړي، آن تر دې چې یو انصاري خپل مهاجر ورور ته له خپلو دوو ښځو څخه د یوې د نکاح کولو وړاندیز هم وکړ.[193]

په مدینه منوره کې د نبوي ټولنې د خواخوږۍ او همدردۍ یو انځور په قرآن کریم کې داسې هم ذکر شوی دی:((وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلۡإِيمَـٰنَ مِن قَبۡلِهِمۡ يُحِبُّونَ مَنۡ هَاجَرَ إِلَيۡهِمۡ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمۡ حَاجَةً مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤۡثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ وَلَوۡ كَانَ بِهِمۡ خَصَاصَةٌۚ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿٩﴾)).[194] او هغه کسان چې د مهاجرینو له راتګ څخه مخکې يې ځای نیولی ( په مدینه کی استوګن دي ) او ایمان يې خالص ګرځولی، دوي له هغو سره مینه کوي کومو چې دوي ته پناه راوړې ده او هغه څه مالونه چې هغوی ( مهاجرینو ) ته ورکولی شي دوی يې په خپلو سینو کې د اړتیا احساس نه کوي، او په خپلو ځانونو نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم په خپله زیات محتاج وي.

د دې آیت په تفسیر کې مفسرین د مهاجرینو په وړاندې د انصارو د خوخوږۍ او همدردۍ یو دوه کیسې ذکر کوي:

لومړۍ کیسه: مهاجرین چې کله د انصارو ښار (مدینې منورې) ته راغلل، نو

[193]- وګوره: الرحیق المختوم، المبارکفوري، ص ۱۸۵ - ۱۸۶

[194]- الحشر ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دا وړانديز وکړ چې: دادي زموږ باغونه ستا په واک کې دي، زموږ او د دغو مهاجرينو ورونو تر منځ يې وويشه! .د الله تعالی استازي صلی الله عليه وسلم وفرمايل: دوي خو پر باغوالۍ نه پوهيږي، دوی له هغه سيمې څخه راغلي چې هلته باغونه نشته ، ايا داسې نه شي کيدای چې په خپلو دغو باغونو کې کار وکړئ او له حاصلاتو نه يې دوي ته څه برخه ورکړې؟ هغوي وويل: (( **سَمِعْنَا واَطَعْنَا** – موږ واوريدل او ومو منل)). بيا مهاجرينو عرض وکړ: موږ هيڅکله داسې خلک نه دي ليدلي چې پدې اندازه ، او دومره ايثار کوونکي وي چې کار دې دوی په خپله وکړي او برخه دې موږ ته راکړي، موږ خو فکر کوو چې ټول ثواب همدوی وګټه، نو د الله تعالی استازي صلی الله عليه وسلم وفرمايل : ترڅو پورې چې تاسې د دوي ستاينه وکړئ او د دوی په حق کې د خير دعاکوونکي اوسئ تاسې ته به هم ثواب درکول کيږي.[195]

دويمه کيسه: يو مهال رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يو سړی راغی او ورته يي وويل: لوږه راته رسيدلې ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو بيبيانو ته د کوم خوراکي څيز په موخه خبر ورولیږه، خو له بيبيانو سره د خوراک کوم څيز نه ؤ. بيا يې صحابه کرامو ته وفرمايل: ايا داسې څوک شته چې دا سړی نن شپه ميلمه کړي او الله تعالی وربادندی رحم وکړي ؟ له انصارو څخه يو سړی ودريد او وويل: ای د الله تعالی استازيه! زه به دا کار وکړم. نو هغه ميلمه يې له خپل ځان سره خپل کور ته بوته. په کور کې يې خپلې ميرمنې ته وويل : دا د الله تعالی د استازي ميلمه دی په کور کې چې د خوراک څه وي هغه راواخله ! ميرمن يې وويل: قسم په الله تعالی چې له ماسره د ماشومانو له خوراک پرته بل څه نشته. هغه ورته وويل: کله چې

۱۹۵- وګوره: تفهيم القران ٦\ ٥٤٧-٥٤٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشومانو خوراک وغوښت، نو ويده يې کړه او څراغ مړ کړه! نن شپه به موږ څه نه خورو. ميرمن يې همدا سې وکړل. کله چې سبا دغه سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی، نو هغه ورته وفرمايل: الله تعالی حيرانتيا وکړه (يايې وخندل) د فلانکي د چلند په وجه، او دا آيت يې نازل کړ: « وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ - او دوی پر خپلو ځانونو نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم سخته ولږه لري».[196]

## ۳ – حکومت:

د حکومت او حاکمانو د رعيت په وړاندې له مهمو دندو څخه يوه هم په اقتصادي لحاظ سره د رعيت پالنه ده. دولت مسئوليت لري چې خپل رعيت لپاره د روزئ واردولو لارې چارې برابری کړي ..د خلفاء راشدينو او د اسلام په تاريخ کې د نورو خليفه ګانو او حاکمانو له کردار څخه دا جوتيږي چې هغوي د رعيت او ټولنې د هوساينې او د معيشت د تامين لپاره هلې ځلې کولې او دای خپله مهه وجيبه ګڼله.

پدې اړوند د عمر رضي الله عنه کردار يو جهاني شهرت لري چې د رعيت تر منځ د هغوی د احوالو څخه د خبريدو په خاطر به ګرځيده، ترڅو يې له ستونزو ځان خبر کړي او په حل کې يې ورسره همکاري وکړي، هغه به په ځينې حالاتو کې پر بې وزلو او بيچارو خلکو باندې په خپله مالونه او خوراکي څيزونه ويشل. يو وار يې دا وينا وکړه: که چيرته زه نور ژوندی پاتې شوم، نو يو کال به د رعيت ترمنځ وګرځم؛ ځکه چې خلک حاجتونه او اړتيا وې لري، کيدای شي زما واليان او حاکمان يې ماته راونه رسوي، او هغه محتاج خلک په خپله ما ته راتګ نه شي کولی. هغه وويل : «زه به شام ته ځم هلته به دوه مياشتې تيروم بيا

---

[196]- وګوره: تفسير ابن کثير ٤ \ ٣٦٢ ، چاپ : نشر مكتبة حقانية بشاور .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې نور لوي ښارونه او د خلافت ولایتونه یاد کړل، او وویل چې پدې ټولو کې به دوه دوه میاشتې تیروم .[۱۹۷]

کله چې د هغه د خلافت په وخت کې وچکالي راغله، نوهغه کال یې غوړي ونه خوړل، هغه به له اسراف څخه لرې د تقشف ژوند تیرولو، د مسلمانانو د بیت المال ساتنې ته یې خاصه توجه کوله او د هغې اړونده مالونه یې د خلکو ترمنځ په برابرۍ سره ویشل او د خپلوی لحاظ یې نه ساتلو ..[۱۹۸]

زموږ د ولس د نیستۍ په مخنیوي یا کمولو کې د حکومت او دولت کردار ډېر مهم او مسئولیت یې خورا زیات دی.که چیرته له پخوا راهسې زموږ د هېواد د فقر لاملونو، او اسبابو ته ځیر شو، نو وبه ګورو چې مهم لامل او سبب یې د حکومت بې پروای، د حاکمانو بې کفایتي او د مسئولیت نه احساس دی، همدارنګه په بیت المال کې درغلي او خیانتونه او په ټولنه کې عدالت نشتوالی دا زموږ د هېواد د فقر له مهمو عواملو څخه دی لکه څرنګه چې د لومړي څپرکې څرګندونه وشوه.

## د ظالمانه نظام لمنځه وړلو په موخه:

داچې زموږ په هېواد کې د حکومتي دوایرو له لارې ستر خیانتونه وشول، چور او چپاول ته لارې هوارې شوې، او د حکومتدارۍ او زورواکې له لارې په بیچاره ولس باندې طبقاتي نظام مسلط شو..نو ترڅو چې د دې طبقاتي نظام جرړې ونه ویستل شي، ولس به مو له فقر او بیچاره ګۍ څخه خلاص نه شي، او نه به په هېواد کې امن او استقرار شي؛ ځکه چې د الله تعالی دا قانون دی چې له ظالمانو سره نظام نه پایي.. امام ابن خلدون -رحمه الله - په خپله مقدمه کې پدې نامه یو عنوان ایښی

---

[۱۹۷]- وګوره: تاریخ الأمم الإسلامیة (الدولة الأمویة ) الشیخ محمد خضری بك ۲\ ۱۳-۱۵

[۱۹۸]- وګوره: تاریخ الخلفاء ،الامام السیوطي رحمه الله ۱۲۸-۱۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چې ( **الظلم مؤذن بخراب العمران** _ تيری او ظلم د ابادئ د ورانولو اعلانوونکی دی) او بيا يې د واقعيت پر بنسټ د نوموړې موضوع پوره شننه کړې ده [۱۹۹] همدارنګه امام مودودي رحمه الله په خپله يوه ليکنه کې پوښتنه کوي چې : له دنيا څخه عدل او انصاف څنګه ولاړ؟ په ځواب کې وای: کله چې حاکمې طبقې (بادشاهانو، اميرانو پيرانو او شتمنو وګړو ) بد او ناوړه تصرفات وکړل، او ځانونو ته يې امتيازات ورکړل، د عامو خلکو حقوق يې تلف کړل، او په ټولنه کې وضعي قوانين رامنځ ته شول، نو له ټولنې څخه انصاف او عدل کډه وکړه او همدردي ختمه شوه . [۲۰۰]

په ټولنه کې همدردي ، انصاف ، او عدل يو له هغو څيزونو څخه دی چې استقرار او ارامتيا راوړي. په امتونو او ولسونو کې د الله تعالی طريقه داسې تيره شوې چې کله هم په يو ولس کې فساد ځای نيولی او ظلم او تيری پکې خپور شوی، نو الله تعالی د نابودئ او تباهئ سره مخ کړي دي، لکه څرنګه چې استاذ قرضاوي حفظه الله ويلي دي: ((د ولسونو د پناکيدو، کمزورۍ او د هغوي تاريخی کارنامو نه ترسره کولو او د وروسته پاتې کيدو ترشاه څه پټ اسباب او علتونه موجود دي کوم چې قراني نصوصو رابرسيره کړي دي. قرانکريم د داسې قومونو له منځه وړلو څخه په ( دمار- رنګول )، او ( هلاك - تباهی) سره تعبير کړی او دای په زغرده ويلې چې د هغوی د تباهئ او زوال لاملونه د هغوی د بدچلند په وجه برابر شول، نه داچې پر هغوی باندې الله تعالی زور او جبر کړی ؤ.دا يو حقيقت دی چې د هغوی له منځه تلل ( زوال ) د هغې له مستلزماتو او کړو وړو څخه رامنځ ته شوي لکه : ظلم، د عدل نشتوالی، په ټولنه کې

---

[۱۹۹]- وګوره: مقدمة ابن خلدون ۲۸۶-۲۸۷

[۲۰۰]- وګوره: برالأمان،امام مودودي، ص ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



درغلي او خيانت خپريدل، په ناجايزه سره د خلکو حقوق خوړل، او د شتمنو خلکو نورو وګړو لره سپکاوی کول. قرانکريم داسې صراحت کړی چې د داسې قومونو، او ټولنو کومو چې د تباهئ اسباب په خپله برابرکړي دي هلاکت او تباهي حتمي ده، الله تعالی فرمايي: ((ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾)).[۲۰۱] دا تباهي پدې سره چې ستاسې لاسونو (کوم بد عملونه) وړاندې کړي ؤ او بيشکه چې الله تعالی پر خپلو بندګانو ظلم کوونکی نه دی.[۲۰۲]

د ولس او هېواد ژغورنې او په ټولنه کې د فقر او نيستمنۍ د مخنيوي لپاره حکومت بايد لاندې مسئوليتونو او وجايبو ته جدي پاملرنه وکړي:

۱- د حکومتي وظيفو لپاره اهل او باکفايته کسان وګماري.

۲ - منصب او وظيفه تکليف او مسئوليت وګڼل شي.

۳ - د مسئولينو د معاش اندازه د هغوی د کار په اندازه وي، او بايد چې حکومتي کارکوونکو ته ناجايزه امتيازات ورنکړل شي.

۴ - بايد مسئولين له بيت المال څخه ناوړه استفاده ونکړي، د احتياج او اړتيا پربنسټ له بيت المال څخه په استفاده کولو کې بايد د حکومتي مامورينو او عامو وګړو تر منځ کوم توپير موجود نه وي.

۵ - د طبقاتي نظام جرړې وويستل شي، او په ټولنه کې د اسلامي عدل او برابرئ مبدء تامين شي.

۶ - د فقر او نيستئ د مخنيوي په پروسه کې حکومت بايد چې شاملې

---

۲۰۱. آل عمران ۱۸۲

۲۰۲- وګوره: الحل الاسلامي، يوسف القرضاوي، ص ۲۸۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصادي پروژې پیل شي، د شتمني او ثروت له منابعو څخه استفاده وشي، او د زکات او د بیت المال د نورو مالي وسیلو راپیداکولو، دهغی ساتلو او په مستحقینو یې ویشلو ته پوره پاملرنه وشي.

۷ - د بیت المال عواید او نورې مرستې پر محتاجو خلکو باندې وویشل شي، او کومك او مرسته باید د احتیاج پر اساس باندې وي.

**۴– خیریه موسسې او ټولنې:**

خیریه موسسات لکه له نوم څخه چې یې معلومېږي د اړمنو او محتاجو خلکو سره د تعاون او مرستې پر بنیاد جوړې شوي، دای هدف دی چې په ټولنه کې بېچاره وګړو ته په مالي، اقتصادي او نورو میدانونو کې خیر او ښیګڼه ورسوي.

د اسلام سپېڅلي دین د خیر او ښیګڼې کارونه ستایلي، او پر هغې باندې یې امر کړی دی، په قرانکریم کې الله تعالی فرمایي: ((وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ)).[۲۰۳] او یو تر بله د نیکیو په کارونو کې مرسته کوئ او د ګناه او تیري په چارو کې یو له بله مرسته مه کوئ. او الله تعالی فرمایي: (( فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ)).[۲۰۴] د خیر په کارونو کې مخکیوالی وکړئ!

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ویناو او عملي ښوونو کې پدې باندې تاکید شوی چې یو مسلمان د بل بې وزله انسان د حاجت د پوره کولو لپاره هلې ځلې وکړي، چې د هغه حاجت پوره شي، همدارنګه

---

[۲۰۳]. المائدة ۲

[۲۰۴]. المائدة ۴۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئولو خلکو- یا چا ته چې حاجت لري- دهغه په وړاندې یې سفارش وکړي، په حدیث کې راغلي دي: ((عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَهُ السَّائِلُ أَوْ ذُو الْحَاجَةِ قَالَ: «اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا، وَلْيَقْضِ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى لِسَانِ رَسُولِهِ مَا شَاءَ». وَقَالَ: «الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا». وَقَالَ: «الْخَازِنُ الْأَمِينُ الَّذِي يُؤَدِّي مَا أُمِرَ بِهِ طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقِينَ)).[۲۰۵] له ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوم سوالګر یا کوم حاجت لرونکی (د سفارش په موخه راغی) نو وبه یې فرمایل: سفارش کوئ چې اجر درکول کیږي، او خامخا الله عز وجل د خپل پیغمبر پر ژبه هغه څه نافذوي د څه چې یې اراده وشی)).او ویې فرمایل:((امانتدار خانزانچي کوم چې څه ورته امر شوی دی د نفس په خوښۍ سره یې خپل حقدار ته ورکوي یو له صدقه ورکوونکو څخه دی)). او په بل روایت کې ذکر شوي: ((إِنَّ الْخَازِنَ الْمُسْلِمَ الْأَمِينَ الَّذِي يُنْفِذُ (وَرُبَّمَا قَالَ يُعْطِي) مَا أُمِرَ بِهِ فَيُعْطِيهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقِيْن)).[۲۰۶] بیشکه هغه مسلمان امانتګر خزانه دار (د بیت المال مسئول) له صدقه ورکوونکو څخه دی، کوم چې خپل کار په پوره توګه اجراء کوي (یا یې وویل: ورکوي) هغه څه چې ده ته یې امر شوی دی، په پوره توګه او د نفس په خوښۍ سره یې هغه چا ته ورکوي چې ورته یې د ورکولو امر شوی دی.

زموږ د ټولنې بیچاره ګۍ او فقر د منځه وړلو په پروسه کې د خیریه موسساتو رامنځ ته کیدل او تاسیس یو مطلوب کار ؤ، په خاصه توګه د هجرت په دیار کې چې زیاتره د عربي اوخلیجي دولتونو اړونده موسسې تاسیس شوې او د مهاجرینو لپاره یې د ژوند په بیلابیلو اړخونو کې زیات خدمتونه تقدیم کړل،

[۲۰۵]. مسند احمد

[۲۰۶]- صحیح مسلم ، کتاب الزکاة ،، باب أجر الخازن الأمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه په داخل د هېواد کې هم د دغسې خيريه موسساتو خدمتونو ته زياته اړتياوه، او اوس مهال دغه هدف تر يوه حده ترسره شو.

د ملل متحد اړونده موسساتو او نړيوالو ټولنو هم د هجرت په چاپيريال او په داخل د هېواد کې په پراخه اندازې مرستې وکړې، خو لدې جملې او هغو موسساتو له جملې چې د غربي هېوادونو لخوا يې تمويل کيده او يا دکليساو د نړيوال کونسل لخوا اداره کيدې، د ځانګړو موخو د لاس ته راوړنې لپاره يې کار کاوه او زموږ مسلمانو هېوادوالو ته يې د ګټې په نسبت تاوان زيات ؤ.[۲۰۷]

د موجوده حکومت له راتګ سره سم چې زموږ پر هېواد باندې د شګو غوندې د پيسو باران وشو، او د ټولنې د بيلابيلو ډګرونو د بيا رغاونې لپاره بې شمېره مرستې ځانګړې شوې، او د دغسې مرستو او پيسو د اوربشت په مهال د دولتي يا نړيوالو موسساتو ترڅنګ محلي موسسې هم جوړې شوې، آن چې ځينې دغسې موسسې او دې ته ورته شرکتونه به له رئيس او ورسره يو بکسګوټي څخه عبارت ؤ، ترڅو له نړيوالو او لويو موسسو او يا له حکومت څخه د يوې خاصې پروژې په نوم پېسې واخلي، له هغې وروسته څه د لويې موسسې مامورينو او ياحکومتي مامورينو ته ورکړي او څه يې په خپل جيب کې واچوي، او يوه ډېره کمه برخه يې اصلي موخې ته ورسوي..

نو ايا د موسساتو کارمندانو کله هم د اتصور کړی او يا به يې وکړي چې دغه او هغه پيسې ټولې د ملت شريک مال (بيت المال دی) او هر ډول ناوړه او ناجايزه تصرف پکې په بيت المال کې له ناوړه تصرف څخه کم نه

---

[۲۰۷]. پدې اړه زموږ بله ليکنه: ( د افغانانو ترمنځ د مسيحيت په نامه فتنه او د هغې مخنيوی ص ۳۰ ) وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ، او څوک چې دغسې یوه پیسه هم وخوري، نو له عادي حرام خوری څخه یې سزا زیاته ، او د الهي عدل له مخې به په دوزخ کې اچول کیږي.

په هېواد کې موسسات او د هغې کړنې اوږد تاریخ لري چې په بېلابېلو وختونو کې د عام ولس او حکومت له نیوکو سره مخ شوي دي، خو په ډیرو حالاتو کې سره له ډېرو اعتراضاتو او نیوکو د هغوی بدعنوانی کمې نه بلکې زیاتې شوې، په خاصه توګه د موجوده حکومت په لومړیو ، لکه څرنګه چې هغه مهال د پلان دوزیر ښاغلی رمضان بشر دوست نیوکې زیات شهرت لري کله چې نوموړی د پلان وزیر وټاکل شو، نو په خپل رومبني کانفرنس کې یې وویل: موسسات د کارونو پر ځای پیسې خپلو جیبونو کې اچوي، نو د دې سخته اړتیا ده چې د حساب تصفیه اړونده نړیوالو کمپنیو په ذریعه د هغوی د حساباتو تصفیه وکړل شي ترڅو اصل حقیقت معلوم شي.[۲۰۸]

له موسساتو سره دغسې او هغسې غوښتنې چې په کراتواو مراتو له حکومتي چارواکو او حکومتي مقاماتو څخه وشوې، هیڅ مثبت ځواب ورته ونه ویل شو، پدې معنی چې د حکومت لخوا داسې کومه اداره او ارګان رامنځ ته نه شو ترڅو له موسساتو سره محاسبه وکړي. او اړونده حکومتي وزارتونه لکه د اقتصاد وزارت، دپلان وزارت او د هغې اړونده اداري پدې ونه توانیدې چې د موسساتو د درغلیو مخه ونیسي، بلکې په ډیرو حالاتو کې د اړونده ادارو او د هغوی د ځینو اشخاصو له پلوه له موسساتو سره معامله ګري او سازشونه وشول، او هغه پیسې چې د هېواد د بیارغاونې پروژو لپاره له بهر نه رالیږل شوې وې، زیاتره یې لومړی د موسساتو د بهرنیو کارمندانو، داخلي رئیسانو او مامورینو، او د موسساتو په غیرو

[۲۰۸]. وحدت اخبار ۳۱ مارچ ، ۲۰۰۴ م ۸۸ شماره ، ۲۸ جلد ، ۲-۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړينو لګښتونو کې ولګيدې، چې اصلي موخې او هدف ته پاتې شونې او لږ مبلغ پاتې شو. تاسې څه فکر کوئ هغه بوديجې چې حکومت او موسساتو ته د افغانستان د بيا رغاونې او آبادۍ لپاره ورکړل شوي دي، ايا د دې هېواد بشپړې او مکملې رغاونې لپاره کافي نه وې؟

**د الله تعالی محاسبه را په ياد کړئ!**

ای هغو مسلمانو وګړو چې د ملت او ولس موجوده او حاضرې بوديجې او پېسې مو د خپلو ځانونو د عيش او عشرت لپاره په ناجايزو لارو سره جمع کړي، او يا مو راروانو نسلونو ته زخيره کړې دي، مهرباني وکړئ د الله تعالی نه د وېرې او د قيامت په سخته ورځ کې د حساب ورکولو او د آخرت د بيلابيلو عذابونو او سزاګانو په رايادولو سره يې بېرته بيت المال ته وسپارئ!

ايا پدې حيثيت سره چې تاسې مسلمانان ياست، په مُؤْمِنْ بِهِ شيانو ايمان لرې او په ورځ د آخرت او حساب او کتاب هم باور لرئ، او دا خبره درته معلومه ده چې کومو کسانو په دنيا کې ظلمونه کړي وي او دخلکو حقوق يې اخستي وي د آخرت له مسئوليت نه د خلاصون لار يې داده چې په اخلاص او صفا (نصوح) توبه وباسي. او له حقوق العباد څخه په توبه ويستلو کې د توبې يو شرط دا هم دی چې حق خپل حقدار ته وسپاري، اويا ورڅخه معافي وغواړي.

خو که يو چا داسې مال او دارائي ترلاسه کړي وي چې ټاکلې خاوند نه لري، بلکې د ولسونو او ټولنو شريکه دارايي او بيت المال وي، نو بايد چې هغې ته يې ور وګرځوي او که بيت المال موجود نه وي، بايد چې په عامه کارونو لکه د سرحداتو د بندولو، لارو جوړولو، او پداسې نورو خيريه او عام المنفعت چارو کې يې ولګوي. د دين علماو ويلي دي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو د حاکم او بادشاه دا فرض دي چې کله په غصب او ناجائزه طريقه سره لاس ته راوړل شوي مال او شتمنی خاوندان وپيژندل شي غاصبين پدې مکلف کړي چې خپلو خاوندانو ته يې وروسپاري او که خاوندان او د هغوی وارثان نه وي، نو بايد چې د توبې ويستلو سره سره يې د مسلمانانو په عامو مصالحو کې ولګوي.[۲۰۹]

يو مسلمان بايد پدې باندې پوخ باور (يقين ولري) چې الله تعالی به په قيامت کې د ذرې ذرې عمل حساب کوي، الله تعالی فرمايي: (وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٌ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ ﴿٤٧﴾ [۲۱۰]) او کيږدو به تلې د انصاف، په ورځ د قيامت (د خلکو لپاره) نو ظلم به ونه کړای شي پر هيڅ نفس د هيڅ شي، اګر که وي دغه عمل په اندازه ديوې دانې د ورې (يا سپيلنې) چې پدغه اندازه عمل به هم راوړو او مونږ د حساب لپاره کافي يو. او فرمايي: (يَوۡمَئِذٖ يَصۡدُرُ ٱلنَّاسُ أَشۡتَاتٗا لِّيُرَوۡاْ أَعۡمَٰلَهُمۡ ﴿٦﴾ فَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرٗا يَرَهُۥ ﴿٧﴾ وَمَن يَعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ شَرّٗا يَرَهُۥ ﴿٨﴾ [۲۱۱]) پدغه ورځ به وګرځي (له قبرونو) مختلفي ډلې او په مختلفو شکلونو سره  ددې لپاره چې خپل عملونه ورته وښودل شي، نو پس چا چې د ذرې په اندازه د خير کار کړی وي، بدله به يې وويني او چا چې د ذرې په اندازه بد کار کړی وي، سزاء به يې ووينې.

---

[۲۰۹]. وګوره: الأمر بالمعروف و النهی عن المنكر، ابن تيميه، ص ۳۸

[۲۱۰]- الأنبياء ۴۷

[۲۱۱]- الزلزال ۶- ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو مسلمان بايد د مالي حقونو په باب کې د رسول الله صلی الله عليه دغه وينا د سترګو په وړاندې او نصب العين وګرځوي چې: «لَا يَرْبُو لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ إِلَّا كَانَتِ النَّارُ أَوْلَى بِهِ».[۲۱۲] نه رالويږي کومه غوښه (د بدن) په حرام مال سره مګر دا چې دوزخ ورته ښه لايق دی (چې پکې وسوځي).

الله تعالی دې ټولو مسلمانانو ته دا توفيق ورکړي چې په دنيا کې د خلکو له حقونو ځانونه فارغ کړي، ترڅو د آخرت له اور او عذاب نه بچ شي!

**د کارونو د سمون په موخه:**

د دې لپاره چې موسسات د هېواد د فقر وړلو او بيچارګۍ مهار کولو په پروسه کې خپل لازم او مطلوب کردار اداء کړي، پدې باب کې دا لاندې وړانديزونه او مشورې قابل دغور دي:

۱ - د افغاني ټولنې د فقر د مخنيوي په لار کې بايد د موسساتو تر منځ همغږي، تفاهم ، او تعاون موجود وي، چې يو بل ته د تجربو او مهارتونو په نقلولو کې دريغ ونه کړي، يو بل رهنمائي او لارښوونه وکړي، او د پروژې پلې کولو او د کارونو په ترسره کولو کې يو له بله تعاون او مرسته وکړي، چې د دې په نتيجه کې به له يوه پلوه کارونه په سمه طريقه ترسره شي، او له بل پلوه به مرستې زياتوارو خلکو ته ورسيږي او زيات محروم خلک به له مرستو څخه برخمن شي.

۲ - خيريه موسسات بايد د کارونو او پروژو راپورونو او ارزونوته ځانګړې پاملرنه وکړي. داسې راپورنه چې د مرستو په څرنګوالي، د ګټه اخستونکو په اړه معلومات او نورو اړونده معلوماتو باندې مشتمل وي. همدارنګه وخت په وخت يې د کارونو ارزونه شوې وي، د پروژو په تطبيق کې د ستونزو راپيداکيدل، د هغې د حلال لارې چارې، د ګټه

---

[۲۱۲]. سنن الترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستونکو رضایت، اړونده تخنیکي مسایل او داسې نور شتون ولري، او بیا دغسې معلومات په مسلسله توګه د موسساتو ترمنځ تبادله شي.

۳- موسسات باید د ټولنې د مستحقو وګړو سره د مرستې او کومک له لارې په هغوی کې دکار او کسب احساس هم پیاوړی کړي، هغوی ته دا فکر وکړي چې هر وخت د بل په تمه نه اوسي، بلکې په خپله هم د حلال کار او کسب تلاش وکړي او د خپل لاس ګټې ته ترجیح ورکړي.

۴ - ځینې وطني او محلي موسسات د دې هڅه وکړي چې په داخل او بهر د هېواد کې له خپلو هېوادوالو لازمې مرستې راټولې کړي، او په اړو خلکو یې وویشي، یا پداسې پروژو باندې فکر وکړي چې د هېواد او ټولنې شمتن وګړي یې تمویل کولی شي مثلا د تعلیم او تربیئې په برخه کې د قرآن کریم د زده کړې حلقو تاسیس، د ټولنیزو خدماتو په برخه کې د یتیمانو کفالت، د حرفوي زده کړو مرکزونه تاسیسول او داسې نور.

۵- ځینې محلي موسسات باید د هغو وګړو لپاره چې کار نه شي موندلی کوچنۍ صنعتي یا زراعتي پروژې جوړې کړي څو پکې په کار باندې مشغول شي، او که پدې لار کې د ځینو نړیوالو موسسو څخه پور اخستنې ته اړتیا وي، نو باید چې له سود سره یې وانخلي او نه په هېواد او ټولنه کې د سود رایجولو لپاره کومه اراده او حرکت ولري او که داسې وشي، نو د ګټې پر ځای به یې تاوان زیات او دالله تعالی او د هغه د پېغبمر صلی الله علیه وسلم له طرفه د جنګ اعلان مورد به وګرځي.

### ۵ – مصلح شخصیتونه:

دالله تعالی حمد او شکر دی چې موږ په خپله ټولنه او هېواد کې زیات شمېر دیني پوهان او یو شمېر مصلح خلک لرو، کوم چې د هېواد او ټولنې د نجات لپاره په بیلابیلو هلو ځلو بوخت دي. پدې ځای کې موږ د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاملرنه - د نورو ناخوالو دمخنیوي اومنځ وړلو ترڅنګ - په هېواد کې د خیانتونو، درغلیو او ظلمونو قضایاؤ ته هم راګرځوو، چې د خپلو برنامو د لومړیتوب په جدول کې دغه مسئولیت ته هم ځای ورکړي. همدارنګه دیني علماو او مصلحو شخصیتونو ته مو دا وړاندیز دی چې د خپلو اصلاحي هلو ځلو په میدان کې دې لاندې نقاطو ته هم پاملرنه وکړي:

### الف – د چارو واکو محاسبه کول:

د ولس چارو ته پاملرنه کول او هغه اداره کول د یو حاکم اساسي دنده او وظیفه ده، چې د هغې ټاکل د همدې موخې لپاره دي، نو چې کله هم یو مشر او حاکم په دې مسئولیت کې کوتاهي وکړي، محاسبه کول یې فرض دي.او اسلامي شریعت دمحاسبې دغه حق مسلمانانو ته ورکړی دی، او حکم یې فرض کفایي دی. رسول الله صلی ا لله علیه وسلم فرمایلي:((**سَيَكُونُ أُمَرَاءُ فَتَعْرِفُونَ وَتُنْكِرُونَ، فَمَنْ عَرَفَ بَرِئَ، وَمَنْ أَنْكَرَ سَلِمَ، وَلَكِنْ مَنْ رَضِيَ وَتَابَعَ قَالُوا: أَفَلَا نُقَاتِلُهُمْ؟ قَالَ: لَا، مَا صَلَّوْا**)).[۲۱۳] ژر دی داسې امیران به وي چې د هغوی څه کارونه ښه او څه بد وګڼئ، نو که چا د هغو بد کار وپېژانده (چې بد دی او په زړه کې یې بدوګانه او د منع کولو وس یې نه و) هغه له مواخذې خلاص شو او که چا د هغې بد کار منع وکړه، نو پر حق یې راتګ وکړ او سالم پاتې شو، خو هغه څوک چې د هغو پر بد کار باندې خوښ شي او متابعت یې وکړي ( هغه به مواخذه کیږي) صحابه و وویل: ایا له هغوی سره جنګ نه کوو؟ هغه وفرمایل: ترڅو چې لمونځ کوي نو جنګ ورسره مه کوئ.

پدې حدیث کې د حاکمانو د محاسبې حکم ذکر شوی. نو کله چې هغو بد کار وکړي، باید چې رعیت یې منع کړي او په دې عمل کې ټول مسلمانان

---

۲۱۳. صحیح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامل دي، خو د علماو او توانمندو وګړو مسئوليت زيات دی او که هيڅوک دا عمل (فرض کفائي) ترسره نه کړي، نو ټول ولس ګنهکار او ملامته ګرځي.

**عن عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قالَ:دَعَانَا النبيُّ - صلى الله عليه وسلم فَبَايَعْنَا، فَقالَ فِيما أَخَذَ عَلَيْنَا أَنْ بَايَعَنَا: عَلى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ في مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا، وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا، وَأَثَرَةٍ عَلَيْنَا، وَأَنْ لا نُنَازِعَ الأمْرَ أَهْلَهُ، إلا أَنْ تَرَوْا كُفْراً بَوَاحاً، عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرهَانٌ).**[۲۱۴] له عباده بن صامت رضي الله عنه څخه نقل شوي هغه وايي: مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم راوغوښتو او بيعت مو ورسره وکړ (وايي) هغه څه چې له موږ څخه يې ورباندې بيعت واخيست: داچې د خوښۍ او پريشانۍ (يا بد ګڼلو) آسانۍ او سختۍ ټولو حالاتو کې له هغه څخه واورو، او د هغه پيروي وکړو، او پدې سره چې يو چا ته پر موږ باندې ترجيح ورکول کيږي (څه اعتراض ونکړو) او داچې د يو حاکم امر ونه غورزو، مګر کله چې ورڅخه ښکاره کفر وليدل شي چې په هغې کې تاسې ته دالله له طرفه کوم دليل وي

دا حديث پدې دلالت کوي چې د حاکمانو او مشرانو محاسبه پر مسلمانانو باندې فرض ده، که څه هم هغه د جنګ له لارې وي؛ دا ځکه چې په دغه حالت کې اسلحه راخستل د امت او ولس د تنفيذي قوت (**سلطان الأمة**) د دفاع لپاره وي، او د دې لپاره چې واکمني د شريعت وي، نه د اشخاصو.

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي:((**أَفْضَلُ الْجِهادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ)).**[۲۱۵] د ظالم پاچا په وړاندې د عدل او حق خبره کول بهترين جهاد دی.

په حديث شريف کې د ظالم بادشاه او حاکم په مقابل کې حق ويلو ته بهترين جهاد ويل شوی دی، نو لکه څرنګه چې ظلم حرام دی او د هغې منع کول فرض دي، همدا راز د هر حرام کار لرې کول او منع کول لازم او فرض دي چې ولس او رعيت به ورڅخه سکوت نه کوي. همدارنګه هر هغه تصرف چې د شريعت د

---

[۲۱۴]. البخاري
[۲۱۵]. جامع الترمذي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نافذولو او د عدل د قایمولو په قضیه کې سلبي اغیز لري، باید چې رعیت پکې چوپتیا اختیار نه کړي، بلکې حاکم او امیر ورته متوجه کړي.[۲۱۶]

**ب – په اسلام کې د یو مامور حیثیت:**

حقیقت دادی چې په حکومت، موسسه او یا په عام المنفعت پروژه کې رئیس یا مامور د یو خادم او مزدور حیثیت لري. په یو روایت کې ذکر شوي (ابومسلم الخولاني رحمه الله- چې د لوړې مرتبې تابعي دی- د معاویه رضي الله عنه مجلس ته راغی او داسې سلام یې واچولو: (( **السلام علیك أیهاالأجیر!** سلام دې وي پر تا باندې ای اجیر او خادمه!)) په مجلس کې ناستو خلکو وویل: داسې ووایه: ((**السلام علیك أیها الأمیر**! پر تا دې سلام وي ای امیر او مشره!)) نو هغه دویم او دریم ځل همهغه اولنی سلام تکرارولو، او د مجلس خلکو به ورته د سلام دغه نور الفاظ وریادول، چې معاویه رضي الله عنه د مجلس خلکو ته وویل: تاسې ابومسلم پرخپلې وینا باندې پرېږدئ هغه چې څه وایي د علم او پوهې پر اساس یې وایي. بیا ابومسلم رحمه الله معاویه رضي الله عنه مخاطب کړ او ورته یې وویل:((**إِنَّمَا أَنْتَ أَجِيرٌ اسْتَأْجَرَك رَبُّ هَذِهِ الْغَنَمِ لِرِعَايَتِهَا؛ فَإِنْ أَنْتَ هَنَّأْتَ جَرْبَاهَا، وَدَاوَيْت مَرْضَاهَا، وَحَبَسْت أُولَاهَا عَلَى أُخْرَاهَا: وَفَّاك سَيِّدُهَا أَجْرَك، وَإِنْ أَنْتَ لَمْ تَهْنَأْ جَرْبَاهَا وَلَمْ تُدَاوِ مَرْضَاهَا؛ وَلَمْ تَحْبِسْ أُولَاهَا على أخراها عاقبك سيدها**)).[۲۱۷] بیشکه ته یو مزدور یې چې د دې رمې (انساني رعیت) څښتن (پالونکي ذات) د هغې د څرولو (پالنې) لپاره ټاکلی یې، که ته د دې (رمې له ګډو او بوزو ) ښه کومه پمنه غوړه کړې اود کومې رنځورې درملنه وکړې لومړنۍ او وروستنۍ یې سره راغوندې کړې، نو د هغې مالک به یې پوره اجر درکړي، او که ته یې پمنه غوړه نه کړې، او د رنځورې علاج یې ونه کړې، او نه یې لومړنۍ او ورستنۍ سره رایوځای کړې، نو د هغې څښتن به سزا درکړي.

---

[۲۱۶]. وګوره: د اسلام د سیاسي نظام قواعد، لنډیز او ژباړه، محصل غازي زاده ص ۵۲

[۲۱۷]. وګوره: السیاسة الشرعیة فی اصلاح الراعي و الرعیة ، شیخ الاسلام ابن تیمیة ، ص ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سړي دويم خليفه عمر رضي الله عنه ته وويل: ای د مسلمانانو اميره! که د بيت المال له مصرف څخه پر ځان (او کورنۍ) باندې يو څه پراخوالی راوړې، نو دا به ښه وي، هغه په ځواب کې وويل: ايا ته پوهېږې چې زما او د دې خلکو (رعيت) مثال څه دی؟ زما او ددوی مثال داسې دی چې يوه ډله مسافر خلک يو ځای سفر کوي، نو خپل مالونه او د سفر توښې راټولې کړي او له خپل منځ نه يې يو چا ته وسپاري، ترڅو يې پر دوی باندې خرچ کوي، نو ايا دغه سړي ته دا روا ده چې د هغوی له مالونو څخه ځان ته زيات واخلي او خپل ځان ته پر هغوی باندې ترجيح ورکړي؟ [218]

## ج- د مامور وړتيا او امانتدري:

الله تعالی فرمايي: ((إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِىُّ ٱلْأَمِينُ ﴿٢٦﴾- [219] بيشکه غوره د هر هغه چا چې تا په مزدورۍ ونيو همدا قوي او امانتدار دی)).

نو بايد چې حکومتي ادارې او د بيت المال اړونده ارګانونه په وظيفو باندې توانمن او امانتدار خلک وګماري، چې پر مسئوليت باندې په ګمارلو کې دا دوه معياري او اساسي صفتونه (قوت او امانتداري) دي، په نني وخت کې په کار باندې په توانمندۍ کې تخصص او مسلک هم داخليږي، او په امانتدارۍ کې د امانت صفت چې ضد يې خيانت دی، که يو سړي هر څومره مسلکي وي، خو امين نه وي، نو بيا هم د وظيفې لپاره وړ نه دی، او که امين وي، خو د کار اهليت نه لري، نو بيا هم مناسب نه دی.

---

[218]- د مخکنی مرجع ۲۵ مخ .

[219]- القصص ۲٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بده مرغه مورږ په ادارو کې د دې دواړو اړخونو له نيګړتياو سره مخ يو، پدې معنى چې ځينې چارواکي يامامورين د کار وړتيا نه لري، او ځينې نور يې بيا امينان نه دي، آن تردې چې په شرعياتو کې متخصص چارواکي د ملت د پېسو او داراياتو په چور کولو او درغلئ کولو کې تورن شول، ، نو کله چې دغسې خلک چې په دين باندې پوهه وي، له دين څخه سرغړونه کوي، له هېواد او ملت سره بې وفائي کوي..

د خلکو دعامه کارونو مامور چې کوم معاش اخلي پدې اساس يې اخلي چې خلکو ته به اړونده خدمت تقديموي، خپله وظيفه به په قوت او امانتدارۍ سره اجراء کوي، هغه به بيګار او يو اضافي شى نه ګڼي، او که داسې وکړي او خپل مسئوليت په سمه توګه اداء نکړي، نو په بيت المال کې له خيانت کوونکو به وګرځي، او پدې طريقه به د ماموريت معاش ورته حرام وګرځي.

يو مامو به دغسې عامه مسئوليت او مکليفيت له خپل شخصي کار وبار څخه پورته وګڼي، او لکه څرنګه چې يو څوک په خپل شخصي کارو بار کې ورځ په ورځ د پرمختګ کوښښ کوي، نو پدغسې عامه ماموريت کې هم بايد چې د يو مامور اومسئول هڅه او کوښښ زيات وي، ترڅو يې خلکو ته ګټه ورسيږي، او بيت المال له تاوان او نقصان څخه بچ کړي، او دغسې کړنلاره هغه کارمندان تعقيولى شي چې د کارتوانايي ولري، امتدار وي، او له الله څخه ويره او خوف لري..

## د– د مامور عبادتي اړخ قوي کول:

د دې لپاره چې يو مامور خپل مسئوليت په سمه طريقه ترسره کوي، له خيانت نه ځان وساتي، په پوره قوت او امانتدارۍ سره خپل کارونه سر ته ورسوي، نو بايد چې د خيانت، رشوت او نورو فسادونو څخه د منع کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅنګ په سمه طريقه د لمانځه اداء کولو ته هم متوجه کړای شي. لکه څرنګه چې شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ويلي دي: (( د يو مسئول او چارواکي لپاره په ځانګړې توګه او د يو عام مسلمان لپاره په عامه توګه د يو کار د تر سره کولو لپار ډېر مدد کوونکی څيز اخلاص لرل او په الله باندې توکل کول دی او دا هله منځ ته راځي چې څوک د بدن او زړه په حضور سره د لمانځه ساتنه او حفاظت کوي. دويم خليفه عمر رضي الله عنه به خپلو واليانو او مامورينو ته په خپلو فرمانونو او ليکنو کې د لمانځه دساتنې سپارښنه کوله، او دا به يې ويل چې زما په نزد ستاس لپاره په اړونده کارونو کې له ټولو څخه مهم کار لمونځ دی، څوک چې د لمانځه ساتنه وکړي، نو د خپل دين (منصب او مسئوليت) ساتنه به هم وکړي او که څوک د لمانځه ساتنه نه کوي، نو نورو مسئوليتونو ته به يې د ساتنې پر ځای ضايع کول زيات وي..

همداراز د يو چارواکي د باطن او ظاهر د دواړو د اصلاح کوښښ وشي، د مسئوليت اړونده مسايلو باندې پوهه شي، د رشوت او درغليو اړونده وعيدات ورته بيان شي، همداراز د ډالۍ (تحفې) حکم ورته څرګند شي، چې د مامور او يا چارواکي ډالۍ قبلول هم په رشوت دی، او دغه حکم زموږ په سپيڅلي شريعت کې د لمر په څير روښانه دی.[۲۲۰]

[۲۲۰] وګوره: السياسة الشرعية فی اصلاح الراعي و الرعية ، ابن تيمية ، ص ۱۸,۳۵ ,۳٦ , ۱۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی
# په هېواد کې د عدل او انصاف تامینول

د خپل هېواد او ټولنې تیرو او موجودو بې وزلیو، ګډوډیو، ناخوالو او ستونزو ته په کتلو سره راته دا ثابته او جوته شوې ده چې د نورو لاملو سربیره یو ستر لامل یې بې عدالتي نا انصافي، تیری او ظلم دی.

که موږ ښه په دقت سره متوجه شو، نو دې نتیجې ته به ورسیږو چې که له یوه طرفه په چارواکو کې ظالمان، په رعیت باندې تیری کوونکي او یا د ملت مال خوړونکي وګړي لیدل کیږي، نو له بله پلوه په ټیټه طبقه خلکو او رعیت کې هم په پراخه پیمانه سره ظلمونه روان او د حقوقو ضایع کیدل رواج لري. نو په حقیقت کې ظلم او د حقوقو ضایع کولو پدیده زموږ پر فردي او ټولنیز ژوند باندې برلاسه شوې ده. نو د عدل او انصاف تامینولو لپاره د هر ډول ظلم او بې انصافۍ مخنیوی اړین دی.

او لکه څرنګه چې یې د دې لیکنې په لومړي څپرکې یادونه وشوه، زموږ د ټولنې د فقر او بې ولزلۍ عمده لاملونه پدې توګه دي:

لومړی طبیعي لاملونه چې د هغې مخنیوی په پوره توګه نیکو عملونو ته مخ کول او توبه ویستل دي.

دویم د فقر بهرنی لامل یعنی بهرني یرغلونه (لومړی د روسانو یرغل، او ورپسې دامریکا او ناتو په مشرۍ یرغل).

دریېم لامل داخلي دی چې د حکومتي چارواکو په بې کفایتۍ، کمونستي کودتا، مسلسلې ګډوډۍ، خپلمنځي جنګونه، په پراخه پیمانه درغلۍ او ظلمونو کې خلاصه کیږي.

نو د دې لپاره چې په هېواد کې مو بې وزلي ختمه او اقتصادي پیاوړتیا رامنځ ته شي، امن، استقرار، هوسایي او آرامي راشي، ګډوډۍ، خلپسرۍ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظلم او تیری پای ته ورسیږي، باید چې د هېواد هر خاص او عام وګړی د عدل او انصاف د تامینولو په ارزښت باندې پوه او د عمل جامو اغستلو ته یې اړ کړای شي. هر هېوادوال دې ته وهڅول شي چې لومړی په خپل فردي او بیا په ټولنیز ژوند کې له ظلم او تیري ځخه ځان وساتي، د عدالت،انصاف، همدردۍ او خواخوږۍ پر صفتونو باندې ځان برابر او ګانه کړي،ترځو مو ټولنه او هېواد له موجوده ستونزو او ناخوالو وژغورل شي.

د فردي او ټولنیز ژوند د بدلون،او په هېواد کې د عدل او انصاف تامینولو په پار باید چې د دې موضوع اړونده لاندې مهمو نکاتو باندې ځانونه پوه او پر غوښتنو باندې یې عمل کول پیل کړو:

**۱ – عدل او انصاف یو الهي سنت :**

په امتونو او ولسونو کې د الله تعالی یو سنت او طریقه دا هم ده چې د هغوی ترمنځ پرته له عدل او انصاف آرامي او استقرار نه رامنځ ته کیږي ؛ دا ځکه چې عدل د الله تعالی هغه برابره تله ده چې هیڅ کمی او زیاتی پکې نشته او پر همدې باندې په نړۍ کې استقرار او آرامي راځي. الله تعالی ځمکه او اسمان په عدل باندې اودرولي دي،الله تعالی فرمایي:((وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ۝٧ أَلَّا تَطۡغَوۡاْ فِي ٱلۡمِيزَانِ ۝٨ )).[۲۲۱] الله تعالی اسمان پورته کړی دی او په ځمکه کې یې تله ( د عدل قاعده ) ایښې ده، ترڅو تاسې په تله کې تیری او بې عدالتي ونکړئ.[۲۲۲]

---

[۲۲۱]. الرحمن ۷-۸

[۲۲۲].وګوره: الذريعة إلى مكارم الشريعة , الراغب الأصفهاني , ص ۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تفسير کابلي کې ذکر شوي: له اسمان څخه واخله ترځمکې او د دوی ترمنځ چې کوم کائنات دي الله تعالی پدې هر څيز کې د خپل حقانيت دلايل، عدالت او مساوات قائم کړې اوايښې دی او په اعلی درجه پکې توازن او تناسب ساتي. که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه نه وي، نو د نړۍ او نړيوالو او ګردو کائناتو دا ټول نظام اوساتنه او انظباط به سره ګډوډ شوی وای؛ نو ځکه پرمونږ باندې هم لازم دي چې د عدالت او حقانيت په لارې سم او برابر لاړشو او پرهغې باندې مستقيم واوسو. د عدل او انصاف تلې ته هيڅ هسکوالی او ټيټوالی ورنه کړو.او نه پر چا باندې تجاوز او تيری وکړو.[۲۲۳]

## ۲ – پرته له عدالته يو نظام نه پايي:

لکه څرنګه چې په دنيا کې په فردي توګه يو انسان ته د ظلم او تيري سزا رسيږي په همدی توګه ټولنې هم د ټولنيزو ظلمونو او تيريو په سبب له ستونزو او مصيبتونو سره مخ کيږي. او ددې برعکس عدل اوانصاف داسې صفتونه دي چې د ټولنې د استقرار او آرامۍ تضمين کوي، شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي: ( په دنيا کې د خلکو چارې په عدل او انصاف سره سميږي، که څه هم عدل کوونکي په بيلابيلو ګناهونوکې اخته وي. او په حقونو کې ظلم کول د ټولنې استقرار ته تاوان رسوي. ظالم خلک که څه هم نورګناهونه ونه لري، خو د ټولنی د ګډوډۍ لپاره يې دغه کار کافي دی لکه څرنګه چې ويل شوي دي:((**إن الله يقيم الدولة العادلة وإن كانت كافرة، ولايقيم الظالمة وإن كانت مسلمة**)) الله تعالی عادل حکومت ودروي او پاتې کوي که څه هم کافر وي او ظالم دولت ړنګوي که څه هم د

[۲۲۳]. وګوره: تفسير کابلی ۲/ ۱۳۰۳-۱۳۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمانانو وي.او ویل شوي دي:((**الدنیا تدوم مع العدل والکفر، ولا تدوم مع الظلم والإسلام**))دنیا له عدل او کفر سره پایښت اودوام لري، خو د ظلم او اسلام سره دوام نه شي کولای.او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:(( **مَا مِنْ ذَنْبٍ أَجْدَرَ أَنْ يُعَجِّلَ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا- مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ فِي الآخِرَةِ- مِنْ قَطِيعَةِ الرَّحِمِ وَالْبَغْيِ**)).[۲۲۴] له تیري او خپلوی پرې کولو پرته بله داسې بنه لایقه ګناه نشته چې کوونکي ته یې په دنیا کې په ډېره بیړه سزا ورکړل شي، پرته له خپلوئ پرې کولو او تیري څخه.

نو معلومه شوه چې تیری او ظلم کول انسان له دنیاوي عذاب سره مخ کوي، که څه هم په آخرت کې وبښل شي او د مهربانۍ وړ وګرځول شي؛ داځکه چې عدل د هرشي نظم ساتونکی او بنسټ دی. کله چې په کومه ټولنه کې دنیاوي چارې په عدل سره بناء وي نو پایښت لري، که څه هم دغسې خلک په آخرت کې کومه برخه ونه لري. او په کومه ټولنه کې چې دنیاوي چارې په عدل او انصاف سره نه ترسره کېږي، نو هغه ټولنه بیا پایښت نه شي لرلای، که څه هم خلک یې د هغه ایمان لرونکي وي په کوم باندې چې د آخرت ښه اجر ( او له همیشني اور څخه نجات) مرتب دی.[۲۲۵]

بدرالدین ابن جماعة رحمه الله د هغو حقوقو له جملې څخه چې رعیت یې پر بادشاه باندې لري لسم حق د هغوی ترمنځ د عدل رایجول ښودلي دي، هغه وایي: (( باید چې مسلمان بادشاه په خپل حکومت او په خپلو ټولو چارو کې عدل وکړي؛ ځکه چې الله تعالی فرمایي:(( **إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ**))یقینا چې الله تاسې ته پر عدل او ښېګڼه کولو باندې امر کوي). او

---

[۲۲۴] . سنن الترمذی..

[۲۲۵] - وګوره: **الأمر بالمعروف و النهی عن المنکر ، شیخ الإسلام ابن تیمیه : ص ۲۷-۲۸**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايي:(( وَإِذَا قُلْتُمْ فَٱعْدِلُواْ )).[۲۲۶] او کله چې تاسې وينا کوئ، نو په عدل او انصاف سره يې وکړئ.

او د حکمت په خبرو کې راغلي دي: د بادشاه عدل کول د رعيت لپاره ژوندون او د باچاهي روح دی، او کله چې په بدن کې روح نه وي هغه نه پاتې کيږي. نو هغه چا ته چې الله تعالی پرخپلو بندګانو باندې حکومت ورکړی وي او له خپلو وطنونو څخه يې ورته د کوم وطن او هېواد واک ورکړی وي، ورباندې لازم او فرض دي چې د خپل اعتماد بنسټ او د کارونو تهداب عدل وګرځوي؛ دا ځکه چې په عدل او انصاف کې د بندګانو ګټې پرتې دي او د هغې په واسطه وطنونه آباديږي)).[۲۲۷]

تاريخ دا حقيقت ثابت کړی دی چې ظلم او په حقونو کې تيری کول د ټولنې د پايښت علت او لامل نه، بلکې د هغې د منځه تللو او ګډوډيو لامل ګرځي، پدې اړه يونامتو تاريخ پوه امام ابن خلدون رحمه الله په خپله مقدمه کې پدې نامه يو عنوان ليکلی دی چې ( **الظلم مؤذن بخراب العمران**- تيری او ظلم د آبادۍ د ورانولو اعلانوونکی دی). او بيا د تاريخي پېښو او د انساني ټولنې د واقعيتونو پر اساس يې د نوموړې موضوع تحليل او څېړنه کړې ده.[۲۲۸]

استاديوسف قرضاوي صاحب وايي: (( د قومونو د پناکيدلو، کمزوري کيدو، د هغوی د تاريخی کارنامو د نه ترسره کيدو او وروسته پاتې کيدو ترشاه څه پټ اسباب او علتونه موجود دي، کوم چې قرآني نصوصو رابرسيره کړي دي. قران کريم دداسې قومونو له منځه وړلو څخه په دمار ( ړنګول ) او هـــــلاك( تباهۍ) سره تعبير کوي. او دا يې په زغرده ويلي

---

[۲۲۶]. الانعام ۱۵۲

[۲۲۷]. وګوره : تحرير الأحكام في تدبير أهل الاسلام، للامام بدر الدين بن جماعة، ص۶۹

[۲۲۸]- وګوره: مقدمة ابن خلدون ص ۲۸۶-۲۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې د داسې قومونو د تباهۍ او زوال لاملونه د هغوی د بدچلند په وجه برابر شول، نه داچې پرهغوی باندې الله تعالی زور او جبر کړی دی. دا يو حقيقت دی چې د هغوی له منځه تلل د هغوی د کړووړو په نتيجه کې رامنځ ته کېږي لکه : ظلم ، د عدل نشتوالی، په ټولنه کې درغلي او خيانت خپريدل، په ناجايزه سره د خلکو حقونه خوړل او د شتمنو وګړو غريبو وګړو لره په سپکه کتل. قران کريم دا څرګنده کړی ده چې د داسې ولسونو او ټولنو کې د تباهۍ اسباب يې په خپله برابرکړي دي تباهي حتمي ده ﴿ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيكُمۡ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَيۡسَ بِظَلَّامٖ لِّلۡعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾﴾.[229]

دغه تباهي اوعذاب په سبب د هغه چې ستاسې لاسونو وړاندې ليږلي و او بيشکه چې الله پر بندګانو باندې ظلم کوونکې نه دی.[230]

امام مودودي رحمه الله په خپله يوه ليکنه کې د دې څرګندونه کوي چې کله په يوه ټولنه کې د خلکو ترمنځ په حقوقي مسائلو کې توپير او امتيازي سلوک کيږي او د ظالمانه طبقاتي نظام د رامنځ ته کيدلو لپاره لاره هواريږي، نو لداسې ټولنې څخه عدل او انصاف کډه کوي او له بيلابيلو برباديو او تباهيو سره مخ کيږي، هغه وايي: ((له دنيا څخه عدل او انصاف څنګه ولاړ؟ ځواب دادی: کله چې حاکمې طبقې ( بادشاهانو، اميرانو، پيرانو، او شتمنو وګړو) په ټولنه کې ناوړه تصرفات وکړل، په معيشت کې يې ځانونو ته امتيازات ورکړل، د عامو خلکو حقوق يې تلف کړل او په ټولنه کې وضعي قوانين رامنځ ته شول، نو له ټولنې څخه انصاف او عدل کډه وکړه او همدردي پکې ختمه شوه)).[231]

[229]- آل عمران ۱۸۲

[230]- وګوره: الحل الاسلامي ، يوسف القرضاوي ص۲۸٦

[231]- وګوره: برالأمان ،امام مودودي ص ۳۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ظلم، او بې انصافۍ برخلاف کله چې په ځمکه کې عدل رايج وي، يو پر بل باندې زياتی نه کيږي او نه د خلکو حقونه پيماليږي، نو خلک له ډاډمن ژوند سره مخ کيږي، په روزۍ کې يې پراخي راځي او په ميوو او غلو کې يې برکت اچول کيږي لکه څرنګه چې امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل کتاب ( مسند ) کې د يو حديث په ضمن کې يادونه کړې (( د بنو اميه د خلافت په زمانه کې د حکومت په خزانه ( ګُدام ) کې څه غنم ومونډل شو، چې د کجوري زړي په اندازه غټ و، يوه کڅوړه کې ساتل شوي و داسې ورسره ليکل شوي و: دا هغه څه دي چې د عدل په زمانه کې رازرغونه کيدل)).[۲۳۲]

او کله چې د ظالمانو بدکارانو او خائنانو څخه ځمکه پاکه شي، نو الله تعالى به خپلو بندګانو ته يو بنده (مهدي عليه السلام) راوليږي، ترڅو ځمکه له عدل څخه داسې ډکه کړي لکه څرنګه چې له هغه مخکې په ظلم او تيري ډکه شوی وي.[۲۳۳] هغه به د رسول الله صلى الله عليه وسلم له نسب څخه وي. همدا راز له هغه وروسته به د عيسى عليه الصلاة والسلام د راتګ په زمانه کې هم ځمکه خپل برکتونه او ګټې رابرسيره کړي او دغه مهال به يوټولی خلک له يو انار څخه خوراک کوي او هغه به ورته کافي کيږي.. د لنګې اوښې شيدې به يوې لوی ډلې خلکو ته کفايت کوي.[۲۳۴] په ځمکه کې به داسې برکتونه ځکه راپيدا کيږي چې دغه مهال به له ګناهونو، شرك، کفر او ظلم څخه پاکه وي.[۲۳۵]

---

[۲۳۲]- وګوره: **الجواب الكافي لمن سال عن الدواء الشافي، الامام ابن القيم، ص ۱۰۰**

[۲۳۳]- لکه څرنګه چې په مسند احمد او نورو حديثو کتابونو کې پدې مفهوم حديث ذکر شوی.

[۲۳۴]- دغه خبرې په صحيح حديث سره ثابتې دي، وګورئ ( **صحيح مسلم , كتاب الفتن** ).

[۲۳۵]- وګوره: **الجواب الكافي لمن سأل عن الدواء الشافي , الامام ابن القيم ص.۱۰۰-۱۰۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مخکې ذکر شوو حقایقو ته په کتنه او ځیر کیدو سره، ایا موږ به دا حقیقت تسلیم کړو چې په هېواد کې مو د حکومتي تختونو نسکوریدل، او غیر مهذبانه شکل سره حکومتي نظامونه بدلیدل او ړنګیدل، ولس او هېواد ناارامیو و ښکار کیدل.. د دې ټولو ستر لامل ظلم دی؟

## ۳– پرته له اسلامي عدالته بل عدالت نشته:

الله تعالی ته د خپلو ټولو بندګانو حالات معلوم دي هغه یې ګوري او ورڅخه خبر دی،نو کوم قانون چې یې ورته رالیږلی دی په هغې کې د دوی ګټه او مصلحت دی، همدارنګه د انسانانو حریت او ازادي یوازې د اسلامي شریعت په سیورې کې متحقق کیږي،او د دې برخلاف کله چې هم په یوه ټولنه کې د بندګانو او یا د هغوی د نظریاتو او تصوراتو پیروي کیږي، نو په هغه صورت کې خلک د غلامۍ په ځنځیرونو تړل کیږي چې بیا هلته حریت او ازادي نه وي او نه په ټولنه کې عدل او نه مساوات رامنځ ته کیدای شي، نو هغه چې کفري نظامونه لکه پانګوال ،کمونستي او دیموکراسي نظامونه یې دعوې کوي له عدل او آزادۍ څخه دا تش په خولې دعوې دي چې هیڅ حقیقت نه لري.

موږ په خپل هېواد کې د کمونستي نظریې پیروانو سربېره د غربپالانو او دیموکراتانو کړنې هم ولیدلې، هغوی چې پر مجاهدینو (تش په نامه مجاهدینو) به یې ملنډې وهلې چې همدوی په هېواد کې د ګډوډیو ،چور او چپاول.. لامل دی، اوس نو د لمر په څیر روښانه شوه چې که څه هم د جهاد او اسلام په نامه باندې خیانتونه شوي دي - پداسې حال کې چې اسلام او د هغې ریښتوني پیروان ورڅخه بیزاراه دي- لیکن هغوی چې د سمون، عدالت تامینولو او داسې نورو شعارونو چغې به یې وهلې، د هغوی جنایتونو د تش په نامه مجاهدینو له جنایتونو او چور چپاول څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو چنده زيات دي. که يو مجاهد د ګډوډيو په شپو او ورځو کې د بيلګې په توګه د پنځو سوو په ارزښت يوه قالينه پټه کړې وي، نو اوس معلومه شوه چې غربپالانو او د هغوی همرازانو لدې مظلوم ملت څخه په ميلونونو ډالرو غلاوې وکړې..

يو مسلمان بايد پدې پوه شي چې د خلکو پر عمل او کړنو سره اسلام او يا حق نه پيژندل کيږي، بلکې لومړی اسلام پيژندل کيږي، بيا د خلکو کړنې لکه څرنګه چې حضرت علي رضي الله عنه ويلي: (( **إن الحق لا يعرف بالرجال، اعرف الحق تعرف أهله** - حق د سړو (د وګړو) پر کړنو سره نه پېژندل کيږي، ته لومړی حق وپيژنه، نو د هغې پيروان او پرې عمل کوونکي به درته معلوم شي)).

نو هغه خلک چې مسلمانان دي او د اسلام خلاف کارونه يې کړي دي، د هغې پړه په اسلام باندې نه اچول کيږي، په حققيت کې اسلام له هغې څخه بيزاره دی.

په ټولنه کې عدالت او انصاف هله پلې کيږي چې اسلامي شريعت پکې واکمن وي؛ دا ځکه چې د ټولنې سوکالي او غوره ژوند د اسلام تر سيوري لاندې رابرسيره کيږي، د تاريخ په اوږدو کې هغه خلک او ټولنې چې د اسلامي دولت او خلافت لاندې يې ژوند کاوه همغوی د عدل او انصاف خوږوالی ليدلی ؤ، او کله چې په اسلامي نړۍ کې د شريعت واکمني لمنځه ولاړه او اسلامي خلافت نسکور شو، نو خلک د ظلم او بې انصافيو له ترېخوالي او ناخوالو سره مخ شول..نو مطلق عدل د اسلامي شريعت په واکمن ګرځولو او هغې ته د فيصلو په مراجعه کولو کې دی، الله تعالی فرمايلي: (( إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا (۵۸) )).[۲۳۶]
بيشکه چې الله تعالی تاسې ته دا امر کوي چې امانتونه يې خپلو څښتنانو ته وسپارئ او کله چې د خلکو ترمنځ حکم او فيصله کوئ، نو په عدل سره فيصله وکړئ، بيشکه هغه څه ډېر ښه دي چې تاسې ته پرې الله نصيحت کوي، بيشکه الله تعالی اوريدونکی او ليدونکی دی.

پدې آيت کې حاکمانو ته امر شوی چې د خلکو ترمنځ عدل وکړي او د عدل تامين او راتلل پرته د شريعت له تطبيقه نه ترسره کيږي.او پدې قول (إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ) سره الله تعالی د خلکو ترمنځ د عدل کولو توصيف او مدحه کړې ده، نو ټول خير د شريعت په عدالت کې دی؛ دا ځکه چې په هغې سره د دنيا چارې سميږي، انسان ورباندې جوړيږي او ټولو خلکو ته نيکمرغي او سعادت وربښل کيږي.او همدغه دالله تعالی حکم او فيصله ده، نو ايا لدې حکم څخه پرته بل حکم او فيصله ښه کيدای شي الله تعالی فرمايي: ((أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ () )).[۲۳۷] او ايا (نامنونکي خلک) د جاهليت پريکړې وغواړي، نو له الله تعالی نه پرته بل څوک ښه پريکړه کوونکی شته، د هغه قوم لپاره چې يقين لري. بلکې يوازې الله تعالی ښه فيصله کوونکی دی.

د اسلام دين دانسان د هدايت او لارښوونې دين دی هغه څه يې بشريت ته راوړي چې دهغوی ژوندون پکې دی الله تعالی فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ )).[۲۳۸] ای مومنانو د الله او د هغه د پيغمبر پريکړې او حکم ته لبيک وواياست، کله مو چې راوبلي هغه څه ته چې تاسې لره ژوند دربښي.

[۲۳۶]. النساء ۵۸
[۲۳۷]. المائدة ۵۰
[۲۳۸]. الانفال ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په اسلام کې د مسلمانانو ژوندون دى او اسلامي امت بې له اسلامه نه ژوندى کيږي،او پرته له اسلامي شريعته بل داسې قانون نشته چې د انسان مصلحت، امن او هوساينه دې تامين کړي.کله چې د مسلمانانو د ژوند له بيلابيلو ډګرونو لکه: سياسي، نظامي او اقتصادي څخه اسلامي ښوونې ووتې، نو له ناکامۍ سره مخ شول او لار ورکي وګرځيدل؛ځکه چې پرته د حق لارې د نورو لارو پيروي ګمراهي او لاروركي ده الله تعالى فرمايي:(( فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلَّا الضَّلَالُ فَأَنَّى تُصْرَفُونَ ().[239] - نو وروسته له حقه پرته له ګمراهۍ بل څه نشته، نو کوم خوا ته ګرځولى شې؟)).

## ۴- د ستونزو حل يوازې په اسلام کې دى:

اسلامي شريعت لکه څرنګه چې څوارلس پيړۍ مخکې د تطبيق وړ ؤ، د ژوند د ستونزو حل پکې شتون درلود، اوس هم د تطبيق وړ او د هر ستونزې او هرې قضيې حل پکې موجود دى.

پدې وروستي عصر کې چې کله اسلامي نړۍ له يرغل سره مخ شوه او د لويديځ او ختيځ جنګياليو يې پر سپيڅلو خاورو کې قدمونه کيښودل، نو د نظامي يرغل سربېره يې په فکري او فرهنګي جنګ باندې هم لاسونه پورې کړل، او خپلو لاس پوڅو او مزدورانو (داخلي خاينانو) له لارې يې داسې تبليغات پيل کړل چې ګويا اسلامي شريعت د اوسنۍ زمانې لپاره مناسب نه دى، او نه خو د شتو قضاياو او ستونزو لره پکې کوم حل شتون لري.

په حقيقت کې د استعمار او يرغل دا يوه خطرناکه حربه وه، د دې ترشاه يې غوښتل د اسلامي امت نوي او راتلونکى نسل ته د خپل دين، کلتور او فرهنګ په اړه شک ورواچوي، له خپل تير څخه يې وشلوي، د لادينيت

---

[239] يونس ۳۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او الحاد په دایره کې یې نباسي، د ګوډاګۍ او غلامۍ په ځنځیرونو یې وتړي، لکه څرنګه چې په اسلامي نړۍ همداسې وشول یو زیات اسلام ته منسوب وګړي د هغوی غلامان، ګوډاګیان او لاس پوڅي وګرځیدل.

باید یو مسلمان پدې باندې پوره باور ولري چې د اسلام په سپیڅلي دین او د هغې په روښانه شریعت کې د هرې قضیې او هر ستونزي حل او موجود دی الله تعالی فرمايي: ((وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ.[240] او پرتا مو کتاب نازل کړی چې په هغې کې د هر شي څرګندونه او وضاحت دی)).

د الله تعالی دا قول د ثبوت او دلالت له مخې قطعي دی د دې د خبر ورکوي چې قرآن کریم هیڅ شی مهمل نه دی پریښی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبعوث کیدو وروسته داسې یو څه نشته چې د هغه په شریعت کې یې حکم معلوم نه وي. کوم افعال چې بندګانو پورې اړه لري پر هغې باندې د حکم کولو دلایل په قرآني او نبوي نصوصو کې صراحتاً ذکر شوي او یا پکې داسې علامې شته چې د هغې له مخې پرې حکم کیږي له وجهې د دې قول د الله تعالی (تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ)او د دې قول په اساس چې الله تعالی فرمايي: ((الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا)).[241] تاسې ته مې نن ورځ ستاسې دین مکمل کړ او خپل نعمت مې تاسې ته پوره کړ او غوره مې کړ تاسې لره اسلام په حیث د تګ لارې او دین.

هغه څوک چې وایي په اسلام کې د ځینې معاصرو ستونزو او بعضې قضایاو حل نه شته او یا وایي د بندګانو اړوند ځینې کارونه او افعال شریعت پریښي او اهمال کړي دي، چې نه یې ښکاره دلیل او یا نه یې داسې علامه اوکومه نښه شته چې ورباندې دلالت وکړي، نو دا داسې یو ګومان دی چې ګویا څه شیان او ځینې افعال د الله تعلی کتاب نه دي ذکر کړي او یا

[240]. النحل ۸۹
[241].المائدة ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې د اسلام دين نه دی مکمل.. نو دغسې خبرې او دا ډول ګومانونه بې ځايه او باطل دي.

او هغه دعوه چې ګويا په اسلام کې د حکومت چارې نشته، يا د هغې اړونده احکام پکې لږ دي، يا داچې لومړنی اسلامي دولت او نظام د همغې چاپيريال او د هغه وخت له شرائطو سره برابر او مناسب ؤ د اوسنيو شرائطو او حالاتو لپاره مناسب نه دی، نو دا هم يوه باطله دعوه ده چې شريعت او واقعيت يې په کلکه سره ردوي.

حقيقت دادی کوم شريعت او تګلاره چې د قرآن کريم د نزول په مهال راغلې ده لکه څرنګه چې د همغې چاپيريال او د وخت حالاتو لپاره مناسبه وه د اوسني عصر او د هر عصر لپاره مناسبه ده؛ دا ځکه چې اسلامي شريعت د هر ځای او هر وخت لپاره دی او لارښوونې يې د ژوند ټولو برخو ته شاملې دي چې د بشر د اړتياو په وړاندې هيڅ نيمګړتيا نه لري.

په همغه لومړي دور د اسلام او د قرآن کريم د نزول په مهال الله تعالی خپل دين او سپيڅلی شريعت په تدريج سره ( د درويشتو کلونو په موده کې) مکمل کړ او د ژوند د بيلابيلو ډګرونو لکه سياسي، اقتصادي، ټولنيز او نورو لپاره يې لازمي ښوونې وکړې، نو هغه څوک چې د دې الهي ښوونو يوې برخې يا يو جزء ته هم شا کړي او يا يې په مقابل کې ودري داسې دی لکه د ټول شريعت په مقابل کې چې بغاوت کوي.

اسلام داسې يوه عقيده او نظام دی چې د انسان او د هغې ژوند اړونده ټولو چارو لره شامل او دهغې تنظموونکی دی او اسلامي شريعت د انسان پر ټولو افعالو باندې احاطه کړې ده، د هغې اصول، فروع، کليات او جزئيات يې ټول څيړلي او د هغې اړونده احکام يې معلوم کړي دي.

همدغه نظام لکه څرنګه چې د پخوانيو عصرونو لپاره مناسب ؤ، نن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا او د هر عصر لپاره مناسب دی؛ د دې لپاره چې په پوره والي، بشپړتيا ،له زمانې سره د مسايرت (روانيدو او لګيدو) او داسې نورو د کمال پر صفتونو باندې موصوف دی.

## ۵- د ظلم او زياتي مخنيوی:

د اسلام سپيڅلي دين هر ډول ظلم او تيرې حرام کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم د حِجّة الوِداع (رخصتيدو حج) په خطبې کې داسې وفرمايل: ((فإنَّ دماءَكم، وأموالَكم، وأعراضَكم، عليكم حرامٌ، كحُرمةِ يومِكم هذا، في بلدِكم هذا، في شهرِكم هذا". فأعادَها مِراراً، ثم رفعَ رأسَه فقال: "اللهمَّ هل بلَّغتُ؟ اللهمَّ هل بلَّغتُ؟ هذا، الا هل بلغت)).[۲٤۲] بيشکه چې ستاسې وينې، ستاسې مالونه، او ستاسې عزتونه پر تاسې باندې داسی حرام دي لکه ددې ورځې (لوي اختر) حرمت، پدې ښار حرمت لرونکي (مکه مکرمه) او پدې حرمت والا مياشت (ذو الحجة ) کې -د اوينا يې څوځله تکرار کړه- بيا يې سر (مبارک) را جګ کړ او ويې فرمايل: ای الله ما ورساوه! ای الله ما ددې رسونه او تبليغ وکړ!

په حديث قدسي کې راغلي دي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله تبارك وتعالی فرمايلي دي: (( يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا)).[۲٤۳] ای زما بندګانو ما پر ځان باندې ظلم حرام کړی او ستاسې ترمنځ مې هم حرام ګرځولی دی، نو يو پر بل ظلم مه کوئ.

الله تعالی په قرآنکريم کې دظالم انسان لپاره د آخرت د ډېرې سختې سزا خبر ورکړی دی هغه فرمايي: ((مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾ [۲٤٤] - په قيامت کې به د ظالمانو لپاره نه نژدې دوست او نه کوم سفارشي وي چې په اړه

---

[۲٤۲]. متفق عليه
[۲٤۳]. صحيح مسلم
[۲٤٤]. غافر ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې سفارش منظور شي)).او فرمايي:((وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾[۲۴۵]-او ظالمانو ته به هيڅ مدد ګار نه وي)).

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((اتَّقُوا الظُّلْمَ فَإِنَّ الظُّلْمَ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ)).[۲۴۶] له ظلم څخه ځانونه وساتئ بيشکه چې ظلم په ورځ د قيامت کې تيارې دي.او له بخل څخه ډډه وکړئ، بيشکه چې بخل له تاسې نه مخکې خلک تباه کړي دي، هغوی دې ته وادار کړل چې په خپلو کې يې يو د بل وينې توی کړې او يو دبل مُحَرم حقونه يې حلال وګرځول.

نو ددې لپاره چې د دنيا او آخرت له سزا ګانو څخه وساتل شو، پکار ده چې له هر ډول ظلم او تيري څخه ځانونه او ټولنې وژغورو او د عدل او انصاف په صفاتو باندې خپل ځانونه او خپلې ټولنې رنګ کړو، الله تعالى فرمايي: (( إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٩٠﴾ ))[۲۴۷] - بيشکه چې الله تعالى په عدل، ښېګڼه کولو او خپلوانو ته په ورکړې امر کوي او له قبيحو او بدو کارونو او له تيري څخه منع کوي. پدې سره تاسې ته پند درکوي، نو ښائيږي چې پند او نصيحت واخلې)). او فرمايي: ((يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعۡدِلُواْۚ ٱعۡدِلُواْ هُوَ أَقۡرَبُ لِلتَّقۡوَىٰۖ

---

[۲۴۵]. الحج ۷۱
[۲۴۶]. صحيح مسلم
[۲۴۷]. النحل ۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا تَعۡمَلُونَ ﴿٨﴾)).[۲۴۸] ای مومنانو د الله لپاره په انصاف سره پر ګواهۍ ورکولو باندې محکم ولاړ اوسئ او د یو دښمن قوم دښمني دې پرتاسې ددې باعث نه شي چې عدل او انصاف ونکړئ. عدل کوئ چې هغه پرهیزګارۍ ته ډېر نژدې دی. او له الله نه ووېرېږئ بیشکه الله پوهېږي پر هغو کاروونو چې تاسې يې کوئ.

په ټولنه او هېواد کې د استقرار رامنځ ته کېدلو او د الهي مسئولیت رفع کیدو په خاطر دا ضروري ده چې د هر راز ظلم او زیاتي مخنیوې وشي او د یو مسلمان وینه، مال او ابرو وساتل شي، لکه مخکې یې چې څرګندونه هم وشوه. او د حقوقو د ساتنې او د ظلمونو د له منځه وړلو په لړۍ کې باید په یاد ولرو چې زمونږ په هېواد کې د چارواکۍ او منصب له لارې له پخوا راهسې ځینې چارواکي، مسئولین او قاضیان.. په خیانتونو باندې متهم دي. آن تر دې چې لدې رنځ څخه د جهاد او هجرت سپڅلې مرحله هم پاکه پاتې نشوه، چې ځینو خلکو پکې د جهاد او مهاجرینو په نامه راغلي ډېر مالونه او پیسې په خپلو جیبونو کې واچولې او خپل شخصي ملکیتونه یې وګرځول..او بیا د نجیب د حکومت له نسکوریدو وروسته تش په نامه د مجاهدینو حکومت د ګډوډیو په مهال په هېواد کې درغلیو ، چور او چپاول لا زیات زور واخست.. همدارنګه نن ورځ هم د چارواکۍ او منصب له لارې د مسلمانانو په عامه مالونو او بیت المال کې په پوره جرات سره درغلي او خیانتونه کیږي.

---

[۲۴۸]. المائدة ۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مونږ د هېواد موجوده حاکم نظام ته ځير شو، نو وبه ګورو چې له الف نه تر يا پورې د خيانت او درغلۍ ښکار دی، آن تر دې چې دغسې غرېبې د دنيا په کوز او بر سر کې واوريدل شو!

له حکومت او نظام څه راپديخوا د ولس او رعيت ترمنځ هم بيلابيل ظلمونه او حقوق تلفي جريان لري، کمزوري او ضعيفان د زور او زر لرونکو وګړو د تيريو او ظلمونو ښکار ګرځي..

نو هېواد ته د امن او استقرار راوستلو په برنامه کې د نورو اصلاحاتو ترڅنګ د ظلم مخنيوی، د مظلومانو مرسته کول او حقدارانو ته يې د خپلو حقوقو ورکول هم خورا زيات اړين دي، او دې کار ته بايد چې لومړيتوب ورکړ شي؛ داځکه چې ترڅو مو د مظلومانو او کمزوو خواخوږي او د هغوی دعاګانې له ځانونه سره مل کړي نه وي، نو پر دښمنانو باندې به مو سرلوړي او بريالتوب ستونزمن وي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ((**ابْغُونِي فِي الضُّعَفَاءِ، فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ، وَتُنْصَرُونَ بِضُعَفَائِكُمْ**)).[۲۴۹] تاسې زما خوښي په کمزورو خلکو کې ولټوئ، بيشکه تاسې سره مدد د کمزورو له مخه کيږي او تاسې ته روزي د هغوی په خاطر درکول کيږي.

**۶– مسئوليت اداء کولو ته بلنه:**

د ولس ترمنځ د عدل تامينولو په برنامه کې دا اړينه ده چې لومړی چارواکي، قاضيان، دحکومتي او غيرحکومتي ادارو او موسسو کارمندان او مسئولين له الله تعالی څخه وډار کړای شي ترڅو په سمه توګه خپل مسئوليتونه اداء کړي ، همدارنګه عادلانه کړنلارې ته وهڅول شي او د عدل او انصاف په مهار باندې مهار کړای شي.

[۲۴۹]- رواه ابوداود( سنن أبي داود ، كتاب الجهاد ، باب(۷۷) فی الانتصار بذی الخيل و الضعفة و رواه البخاري في صحيحه ( كتاب الجهاد ، باب من استعان الضعفاء و الصالحين فی الحرب- بلفظ : "هل تنصرون الابضعفاءكم" فتح الباري ٦ \ ٨٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو راځئ چې چارواکي، مسئولین، قاضیان او مامورین له خپل پالونکي څخه ووېروو، د مسئولیت او منصب په امانت کې له خیانت کولو څخه ډډه کولو ته یې اړ کړو، په صدق سره توبه ویستلو، او ولس ته د حقونو ورکولو مسئولیت ته یې وهڅوو! پدې ځای کې د اصلاح او سمون په موخه په لاندې نقاطو کې لازمې لارښوونې او سپارښتنې وړاندې شوي دي:

**الف- د مسئولیت احساس:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**كلُّكم راعٍ، وكلُّكُم مسؤُولٌ عنْ رَعِيَّتِهِ، الإمامُ راعٍ، ومسؤُولٌ عن رعيَّتِهِ**.»[۲۵۰] - له تاسو څخه هر یو مسئول دی ( چې پوښتنه به ورڅخه کیږي ) نو هغه څوک چې د خلکو مشر وي هغه به د خپل رعیت په هکله پوښتل کیږي». او فرمایي: «**مَا مِنْ عَبْدٍ اسْتَرْعَاهُ اللهُ رَعِيَّةً، فَلَمْ يَحُطْهَا بِنَصِيحَةٍ، فيموت وهو غاشٌّ لهم، إلا لَمْ يَجِدْ رَائِحَةَ الجَنَّةِ** ».[۲۵۱]
نشته هیڅ یو بنده چې الله تعالی ورته د رعیت چارې سپارلي وي، او هغه یې د حقونو ساتنه او خیرخواهي ونکړي، او پدغسې حالت کې مړ شي چې له هغوی سره خیانت کوونکی وي، نو د جنت بوی به هم ونه مومي.

**ب- د آخرت سزا راپه یادول:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «**مَنْ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ فَكَتَمَنَا مِخْيَطًا فَمَا فَوْقَهُ كَانَ غُلُولًا يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ** ».[۲۵۲] څوک چې مونږ په کوم کار (ماموریت) باندې وګماره او بیا له مونږ څخه یوه ستنه او یا له هغې څخه کم شی پټ کړي، نو دا به غلا او خیانت وي چې دقیامت په ورځ به یې راوړي. او فرمایي: « **لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرْفَعُ لَهُ بِقَدْرِ غَدْرِهِ**

[۲۵۰]. متفق علیه
۲۵۱. متفق علیه
۲۵۲. صحیح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**أَلَا وَلَا غَادِرَ أَعْظَمُ غَدْرًا مِنْ أَمِيرِ عَامَّةٍ ))**.[۲۵۳] د هر وعده ماتوونکی او دوکه مار لپاره به د قيامت په ورځ کې پر هغه باندې جنډه جګېږي د هغه د غدر په اندازه، او له عام امير (رئيس دولت) نه زيات غدر کوونکی بل څوک نشته (کله چې غدر او خيانت کوي.

## ج– د خائن لپاره بده بيلګه:

هغه چارواکی، هغه رئيس او هغه مامور چی په خپل مسئوليت کې خيانت کوي، د مظلوم حق ظالم ته د پيسو او رشوت په بدله کی ورکوي او يا د پيسو په بدله کی مجرم باندی حد جاري کول ترک کړي.. مشابهت يې د ډاکوانو د مشر او يا د لوط عليه الصلاة والسلام د بوډۍ ښځې سره دی، لکه څرنګه چی شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي: (( **وولي الأمر إذا ترك إنكار المنكرات وإقامة الحدود بمال يأخذه كان بمنزلة مقدم الحرامية .. و كان حالها شبيهًا بحال عجوز السوء امرأة لوط التي كانت تدل الفجار على ضيفه**)).[۲۵٤] کله چې د مسلمانانو چارواکی د مال او پيسو په مقابل کی د بدو کارونو مخنيوی او د حدودو نافذول پرېږدي، نو د لوټمارو او ډاکوانو د مخکښ او مشر په څير وي، او يا د لوط (عليه الصلاة والسلام) د بوډۍ ښځی سره ورته والی لري چی د خپل خاوند له ميلمنو څخه به يې فاجران خبرول او دهغوی رهنمايي به يې کوله.

همدارازنوموړی عالم امام وايي:(( **وولي الأمر إنما نصب ليأمر بالمعروف، و ينهى عن النكر، وهذا هو مقصود الولاية، فإذا كان الوالي يُمَكّن من المنكر بمال يأخذه كان قد أتى بضد المقصود، مثل من نصبته ليعينك على عدوك، فأعان عدوك عليك, أو بمنزلة من أخذ مالا ليجاهد به فى سبيل الله فقاتل به المسلمين** )).[۲۵۵] د مسلمانانو حاکم ددې لپاره مقرر شوی دی چې پر نيکيو باندې امر

---

۲۵۳. صحيح مسلم

۲۵٤. وګوره: لامر بالمعروف و النهى عن المنكر، شيخ الاسلام ابن تيمية ، ص ٥٦

۲۵۵ -مخکينی مرجع ص ٥٧

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړی، خلک له بدیو څخه منعه کړي او په اسلام کې همدا د مشرۍ او چارواکۍ هدف دی، لیکن کله چې یو حاکم او مشر د مال په مقابل کې د منکر او ناروا مخنیوی پرېږدي، نو په حقیقت کې ده د خپل هدف ضد کار وکړ. د دې مثال د هغه چا دی چې ته یې د دښمن په مقابل کی خپل ملاتړ وګرځوئ، خو هغه ستا په مقابل کې د دښمن ملاتړ وکړي. او یا یې مثال د هغه چا دی چې د الله تعالی په لار کې د جهاد او جنګ کولو لپاره مال او پیسې ورکړل شي، لیکن هغه د مسلمانانو په مقابل کې جنګ وکړي.

### ج– د خائن حاکم په اړه بد دعائي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:((**اللهُمَّ، مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ، فَاشْقُقْ عَلَيْهِ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ، فَارْفُقْ بِهِ**)).[٢٥٦] ای الله څوک چې زما د امتي د کومې چارې مسئولیت واخلي او سختي ورباندې وکړې، نو ته ورسره سختي وکړې! او چا ته چې زما د امت کوم کار وسپارل شي او نرمې ورسره وکړي ، نو ته ورسره نرمي وکړې!))امام مناوي رحمه الله د دې حديث په شرحه کې وايي: پدې عبارت (**اللهُمَّ، مَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا**) کې د (**شَيْئًا**) لفظ نکره ده چې عمومیت او شمولیت افاده کوي، یعنې هغه کار چې هر څه وي لکه: د خلافت او بادشاهي، قضاء، امارت او مشري، د نظارت چارې، د وصیت چارې او داسې نور. او دا عبارت چې (**فَشَقَّ عَلَيْهِمْ**) یعنې د هغوی د تکلیف لامل وګرځید او یا یې په وینا او یا فعل سره د سختئ چلند ورسره وکړ، نو (**فَاشْقُقْ عَلَيْهِ**) ته ورسره سختي وکړئ او په تکلیف کې یې وګرځوئ، چې دعمل برابر سزا وويني. او کله چې د دې برعکس ښه چلند وکړي (**فَرَفَقَ بِهِمْ**) معنی داچې په نرمئ، ښه وضعیت او شفقت سره یې چلند ورسره

---

[٢٥٦]. صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، نو د هغوی د دغه چلند برابر به ښه بدله ورکړ شي (فَارْفُقْ بِهِ) معنی داچې ای الله داسې څه ورسره کوي چې د هغه پکې ګټه وي، ددغه ښه عمل په سبب.[۲۵۷] او شيخ ابن عثيمين رحمه الله د حديث په شرحه کې وايي: دا جمله (فَاشْقُقْ عَلَيْهِ- ته ورسره سختي وکړئ) د پيغمبر صلی الله عليه وسلم خيرا ده هغه چا ته چې د مسلمانانو خاص يا عام کارونه ورته حواله شي، او پدې کې هغه څوک هم راځي چې د خپل کور مشري ورپه غاړه شي، همدارنګه يو چا ته د يوې مدرسې يا ښونځې مديريت ورکړ شي، آن تر دې چې يو ښوونکی چې د خپل ټولګي مسئوليت ورپه غاړه دی او هغه عالم چې د مسجد امام وي، دا ټول پکې داخل دي. او (مَن وَلِيَ مِنْ أمْرِ أُمَّتِي شَيْئًا) پدې جمله کې (شيئاً) نکره ده، او کله چې نکره په سياق د شرط کې وي، نو عموم افاده کوي- لکه څرنګه چې د اصولو علماو ويلي دي- معنی داچې هر شی او هر کار چې وي.[۲۵۸]

**د- د عادلو حاکمانو مقام:**

رسول الله صلی الله عله وسلم فرمايي: (( **إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ عَزَّ وَجَلَّ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا** )).[۲۵۹] د قيامت په ورځ به عادلان خلک د نور پر ممبرونو باندې د مهربان ذات جَلَالُه په ښي طرف کې وي او د هغه دواړه طرفونه ښی طرف دی، دا به هغه خلک وي چې په خپلو پريکړو، په خپلو کورنيو او په ورسپارل شوو چارو کې يې عدل کاوه. او فرمايي: (( **إِنَّ الْخَازِنَ الْمُسْلِمَ الْأَمِينَ الَّذِي يُنْفِذُ (وَرُبَّمَا قَالَ يُعْطِي) مَا أُمِرَ بِهِ فَيُعْطِيهِ كَامِلًا مُوَفَّرًا طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ**

---

۲۵۷. وګوره: فيض القدير، المناوي، ۲/ ۱۰۶

۲۵۸. وګوره: شرح رياض الصالحين، ۳/ ۶۳۳

۲۵۹. متفق عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ أَحَدُ الْمُتَصَدِّقِيْن)). [۲۶۰] بیشکه هغه مسلمان امین خزانه دار ( بیت المال مسئول) له صدقه ورکوونکو څخه دی کوم چې په پوره توګه او د نفس په خوښۍ سره نافذوي ( او یا ورکوي) هغه څه چې ورته یې امر شوی دی مستحقینو ته.

نو باید چې چارواکي او مامورین خپل ځانونه عادلان ثابت کړي او په بیت المال کې ناوړه تصرفات ونکړي، همداراز د مئوسساتو مسئولین او مامورین دې ته متوجه اوسي چې د مئوسسو مالونه هم د بیت المال مالونه دي چې په هغې کې هر ناروا تصرف د مسلمانانو په بیت المال کې ناروا او ناجائزه تصرف دی. او د آخرت سزا یې همغه ده کومه چې د بیت المال پر خیانت او غلا کولو باندې مرتب کیږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((إنَّ رجالًا يَتَخَوَّضونَ في مالِ اللهِ بغيرِ حقٍّ، فلَهُمُ النارُ يومَ القيامَةِ. [۲۶۱] ځینې خلک د مسلمانانو په مالونو ( بیت المال ) کې په ناحقه سره تصرف او چلند کوي، نو پوه دې شي چې په قیامت کی به د دوی لپاره اور وي)). او په بل حدیث کې ذکر شوي:(( وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ, فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ)). [۲۶۲] او د چا چې غوښه پر حرامو راغټه شي،نو د دوزخ زیات وړ دی.( چې پکې داخل شي).

## هـ– ځان خادم او اجیر ګڼل :

په حکومت، مئوسسه یا عام المنفعه پروژه کی چی څوک د کار او وظیفې لپاره وګمارل شي که هغه لوړپوړی وي او یا ټیټ پوړی، د ټولنې او ولس په وړاندی د دی حیثیت لري چی ګویا د دوی یو خادم دی، نو باید چې ځان خادم او یا اجیر وګڼي په یو روایت کې ذکر شوي دي: ((ابومسلم

---

[۲۶۰]. صحیح مسلم ، کتاب الزکاة ، باب أجر الخازن الأمین.

[۲۶۱]. البخاري

[۲۶۲]. المعجم الاوسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



الخولاني رحمه الله- چې یو جلیل القدر او د لوړې مرتبې تابعي دی- د معاویه رضي الله عنه مجلس ته راغی او داسې سلام یې واچولو: (( **السلام علیك أیهاالأجیر!** سلام دې وي پر تا باندې ای اجیر او خادمه!)) په مجلس کې ناستو خلکو وویل: داسی وو وایه: ((**السلام علیك أیها الأمیر**! پر تا دې سلام وي ای امیر ه!)) نو هغه دویم او دریم ځل همهغه اولنی سلام تکراراوه، او د مجلس خلکو به ورته د سلام دغه نور الفاظ وریادول. معاویه رضي الله عنه د مجلس خلکو ته وویل: تاسې ابومسلم پرخپلې وینا باندې پرېږدئ هغه چې څه وایي د علم او پوهې پر اساس یې وایي. بیا هغه معاویه رضي الله عنه مخاطب کړ او ورته یې وویل: ((**إِنَّمَا أَنْتَ أَجِيرٌ اسْتَأْجَرَك رَبُّ هَذِهِ الْغَنَمِ لِرِعَايَتِهَا؛ فَإِنْ أَنْتَ هَنَّأْتَ جَرْبَاهَا، وَدَاوَيْتَ مَرْضَاهَا، وَحَبَسْتَ أُولَاهَا عَلَى أُخْرَاهَا: وَفَّاك سَيِّدُهَا أَجْرَك، وَإِنْ أَنْتَ لَمْ تَهْنَأْ جَرْبَاهَا وَلَمْ تُدَاوِ مَرْضَاهَا؛ وَلَمْ تَحْبِسْ أُولَاهَا على أخراها عاقبك سيدها**)).[۲۲۳] بیشکه ته یو مزدور یې چې د دې رمې (انساني رعیت) څښتن (پالونکي ذات) د هغې د څرولو( پالنې) لپاره ټاکلی یې، که ته د دې (رمې له ګډو او بوزو ) ښخه کومه پمنه غوړه کړې اود کومې رنځورې درملنه وکړې لومړنی او وروستنې یې سره راغوندې کړې، نو د هغې مالک به یې پوره اجر درکړي، او که ته یې پمنه غوړه نه کړې، او د رنځورې علاج یې ونه کړې، او نه یې لومړنی او ورستنی سره رایوځای کړې، نو د هغې څښتن به سزا درکړي.

یو سړي دویم خلیفه عمر رضي الله عنه ته وویل: ای د مسلمانانو امیره! که د بیت المال له مصرف ښخه په ځان (او کورنۍ) باندې یو څه پراخوالی راوړې، نو دا به ښه وي، هغه په ځواب کې وویل: ایا ته پوه یې چې زما او د دې خلکو ( رعیت ) مثال څه دی؟ زما او ددوی مثال داسې دی چې یوه

[۲۲۳] وګوره: السیاسة الشرعیة فی اصلاح الراعي و الرعیة ، شیخ الاسلام ابن تیمیة ص ۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډله مسافر يو ځای سفر کوي، نو خپل مالونه او د سفر توښې راټولې کړي او له په خپلو کې يې يو چا ته وسپاري، ترڅو يې پر دوی باندې خرچ کوي، نو ايا دغه سړي ته دا روا ده چې د هغوی له مالونو څخه ځان ته زياته برخه واخلي او خپل ځان ته پر هغوی باندې ترجيح ورکړي ؟ [۲۶۴]

### ۷- له حرامخوريو څخه پاکه ټولنه:

بايد چې مسلمان له هر نوعه حرام مال او ناروا شتمنۍ څخه ځان فارغ کړي او د پاک خوراک او حلالې شتمنې طلب او تکل وکړي لکه څرنګه چې يې الله تعالی امر کړی دی: ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((**أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ فَقَالَ (يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنْ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ) وَقَالَ (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ) ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ**)). [۲۶۵] الله تعالی پاك او منزه دی او پاك څيز خوښوي. او الله تعالی مومنانو ته پر همهغه څه باندې امر کړی چې پيغمبرانو ته يې ورباندې امر کړی دی چې: ای پيغمبرانو له پاکيزو شيانو څخه خوراک وکړئ او نيك عملونه کوئ. او الله تعالی فرمايي: ای مومنانو له هغو پاکو شيانو څخه خوراك کوئ چې تاسې ته مو روزي کړې دي او الله ته شکر ګوزاره شئ که يوازې د هغه عبادت کوونکي ياست. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو سړي يادونه وکړه چې اوږد سفر به کوي، د سر ويخته به ئې ګډوډ ((او غير منظم)) وي، دوړې او ګردونه به ورباندې وي، خپل لاسونه به آسمان طرف ته د دعاء لپاره اوږده کړي وايي به: ای ربه! ای ربه! ((دا څيز او هغه څيز.. راکړئ)) حال داچې د

---

۲۶۴- د مخکينی مرجع ۲۵ مخ .

۲۶۵- **صحيح مسلم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خوراک به حرام وي، د هغه څښاک به حرام وي، د هغه پوښاك به حرام وي، هغه به په حرامو تغذیه شوی وي، نو څرنګه به یې دعاء قبوله شي؟!

دعاء چې یو مستقل عبادت دی د هغې د قبولتیا لپاره یو شرط د مال حلالوالی دی. له امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه پوښتنه وشوه چې زړونه پر څه شي باندې نرمیږي ؟ هغه وویل: د حلالو په خوړلو باندې. او عبد الله بن المبارك رحمه الله وايي: (( **رد درهم من شبهة أحب إلى من أن أتصدق بمئة ألف درهم**)).[۲۶۶] له مشتبه مال څخه د یوې روپۍ بیرته واپس کول دا ماته لدې غوره دي چې سل روپۍ صدقه کړم.

د پخوانیو نیکانو خلکو د مېرمنو او بیبیانو په هکله دا ویل شوي چې خپلو مېړونو ته (چې کله به دکار او کسب لپاره له کوره وتل) داسې ویل: (( **اتقوا الله فينا لا تطعمونا الحرام، فإنا نصبر على الجوع، ولا نصبر على الحرام- وفي لفظ فإنا نصبر على الجوع ولا نصبر على النار**)).[۲۶۷] زمونږ په باره کې له الله څخه وویریږئ! مونږ ته حرام مه راوړئ، بیشکه چې مونږ پر لوږه باندې صبر کولای شو، خو پر حرامو باندې صبر نشو کولای. او یا به یې داسې ویل : مونږ پر لوږه باندې صبر کولای شو، لکن په اور باندی صبر نشو کولای.

او که یو څوک د خپلو کورنیو او اولادونو د خوشحالولو لپاره حرام خورئ او یا یې د هغوی د عیش او عشرت لپاره د عامو وګړو او عام ولس برخه زخیره کړې وي، نو پدې دې پوه شي چې: په خلکو کې هغه څوک ډیر بدبخته دی چې د بل چا د دنیا لپاره خپل آخرت خرابوي. نو ولې یو مسلمان د بل چا د مزو او چړچو لپاره خپل آخرت خراب کړي؟

۲۶۶.وګوره: **جامع العلوم والحكم ، ابن رجب الحنبلي ، ص ۱۹۲- ۱۳۳** .

۲۶۷. وګوره: تعليق اشيخ عبد الفتاح ابو غدة على: رسالة المسترشيدين للحارث المحاسبي، ص ۱۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ چې پدې ځاى کې د پنځم عادل خليفه عمر بن عبد العزيز رحمه الله يو ډېر جالب موقف را په ياد کړو: (کله چې هغه ته د مرګ شيبې رانژدې شوې يو مشاور يې ورته وويل: زامنو ته دې له بيت المال څخه د څه برخې وصيت وکړه! ځکه چې دوى نيستمن دي، نو هغه په ځواب کې د قرانکريم دا آيت ولوست: (إِنَّ وَلِـِّۧيَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْكِتَـٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾)[268] بيشکه زما ساتونکى الله تعالى دى، هغه ذات چې کتاب يې نازل کړى، هغه د نيکانو ساتنه کوي او د هغوى کار جوړوي. بيا يې وويل: زما زامن يو لدې دوو حالاتو خالي نه دي، که چيرته نيکان وي، نو الله تعالى د نيکانو ډيره ښه ساتنه کوي او که بدان وي، نو زه نه غواړم چې په بدکارۍ او فسق کې له هغوى سره مرسته وکړم.[269]

په ټولنه کې د حرمخوريو او درغليو د لمنځه وړلو او مخنيوي په خاطر باندې د حکومت او ولس لخوا دا لاندې مهم ګامونه واخستل شي:

## الف – د هر ډول ظلم پر ضد ريښتيني مبارزه:

د حکومت او ولس په کچه د قضاء، څارنوالئ د اصلاح لپاره هلې ځلې وشي، او خاين قاضيان او څارنوالان، همداراز خاين او ظالم چارواکي له الهي عذاب څخه وډار کړى شي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ((**القُضاةُ ثلاثة: واحِدٌ في الجنة، واثنان في النار، فأما الذي في الجنة فرجلٌ عَرفَ الحقَّ فقضَى به، ورَجُلٌ عرف الحقَّ فجار في الحكم، فهو في النار، ورَجُلٌ قضى للنَّاس على جهلٍ، فهو في النار**)).[270] قاضيان په درې ډوله دي: د هغوى له جملې څخه يو ډول قاضيان به په جنت کې وي او دوه پاتې به په دوزخ کې وي. هغه قاضي چې په جنت کې به وي هغه سړې دى چې حق يې پيژندلى وي او د هغې برابر يې

[268]- الأعراف ١٩٦

[269]- وګوره: البداية والنهاية امام ابن كثير ص ١٣٤ ( مكتبة الشاملة).

[270]- رواه ابوداد، وابن ماجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پريکړه کړي وي. او هغه سړی چې حق يې پېژندلی وي، لېکن په پريکړه کې يې تيری کړې وي دا به په دوزخ کې وي، همداراز کوم سړی چې د خلکو ترمنځ په ناپوهۍ سره پريکړه کړي وي دا به هم په دوزخ کې وي.

دا معلومه خبره ده چې چارواکی او قاضي په ټولنه کې د عدل او انصاف علمبردار ګڼل کيږي، هغوی خو ددې لپاره نه دی چې له ظالم څخه ملاتړ وکړي، بلکې د هغو مسئوليت او دنده داده چې له ظالم څخه د مظلوم حق واخلي او که داسې ونکړي، نو بيا خو دوی هم ظالما شو او د مظلوم د خيرو په وړاندې وګرځېدل، په حديث کې راغلي دی: کله رسول الله عليه وسلم معاذبن جبل يمن ته د مشرئ او قضاء لپاره لېږه، نو يوه ځانګړې توصيه يې ورته دا هم وکړه «اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ». [۲۷۱] او وويرېږه د مظلوم له خيراو څخه، بيشکه چې د هغې او الله ترمنځ کومه پرده (د منع کيدو) نشته دی.

**ب- د رشوت هره لار بندول:**

بايد چې د مصلحو او الله تعالی ويريدونکو چارواکو له پلوه د رشوت د پديدې پوره مراقبت او دا يو ستر قانوي جرم ګرځول شي. همدارانګه په اخلاص او ريښتينولۍ سره د احتساب په نوم ځينې ارګانونه او يا ځينې خلک وټاکل شي، ترڅو د دې ناروغئ پوره درملنه وشي، او پدې ګناه سره ککړ او ملعون خلک لدې لعنتي کار څخه منع کړي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په ژبه مبارکه باندې رشوت اخستونکی او رشوت ورکوونکی ملعون او د الله تعالی له رحمت څخه شړل شوی دي، هغه

[۲۷۱]. سنن الترمذي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايي: ((لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي)).[۲۷۲] د الله لعنت دی په رشوت ورکوونکي او په رشوت اخستونکي (دواړو) باندې.

مرحوم الشيخ مناع خليل القطان رحمه الله وايې: تاسې به د هغه قوم څخه د څه شي ارزو وکړئ او د څه هېله به ورته ولرئ چې رعيت يې چارواکي ته په بډو باندې ځان ورنژدې کوي او يا يې حاکمان او د چارو مامورين خپلې ورسپارل شوې دندې د خلکو د جيبونو وهلو او بډو اخستلو په بدله کې ترسره کوي ؟! ايا دغسې ټولنه چې د داسې درغليو او خيانتونه ښکار وي کوم پرمختګ به ولري او يا به يې د کارونو ميوه او ښه نتيجه واخستل شي ؟!

حقيقت دادی چې رشوت او بډې ستر خيانت، سخت تيری او لوی فساد دی. او پدغه فساد کې متعدد اړخونه کار کوي، که له يوه اړخه چارواکي او د چارو مامورين پدې خيانت کې ککړ دي، نو له بله اړخه هغه وګړي هم سخت مجرمان دي څوک چې دوی ته د نورو خلکو د حقونو ترلاسه کولو لپاره بډې ورکوي. نو رشوت ورکوونکی د رشوت اخستونکي سره په ناحقه د خلکو مالونو په خوړلو کی مرسته کوي، دغسې بداخلاقيو ته وده ورکوي او د ناروا او حرامو کارونو لپاره زمينه برابروي...نو ددې ناوړه او خائن عمل په غندنه کې بايد دا لاندې نکات په ياد ولرو:

أ.غل يوازې هغه څوک نه دی چې د بل چا مال پټوي او غلا کوي يې، بلکې د يو هېواد او ټولنې د آبادۍ او بيا رغونې په پروژو کې رشوت او د مسلمانانو په بيت المال کې ناوړه تصرف هم غلا او د مالونو پټول دي، خو په پورته کچه باندې.

[۲۷۲]- سنن الترمذي، مسند احمد..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب. رشوت د امانت له منځه وړونکی عمل دی، چې لدې لارې د یو شخص له پلوه هغه ته د ورسپارل شوي امانت په ژمنه او وعده کې کوتاهي کیږي او د هغې د تړون په شرطونو کې خلل واقع کیږي.

ج. رشوت ورکوونکی په رشوت ورکولو سره د یو چارواکي او مامور ضمیر د داسې څیز په بدله کی اخلي چې هغه ډیر لږ دی، او هغه څه ورځخه لاس ته راوړي چې دای غواړي او دده حق نه دی.د. رشوت د نفس ټیټوالی دی، د مروءت او میړنتوب د منځه وړلو لامل او په ژمنه کې خیانت دی، چې یوازې هغه خلک یې مني څوک چې سپیره طبیعته او بد اخلاقه وي.

هـ. د همیش لپاره رشوت د خیانت او غدارۍ ملګری وي، چې دغه دواړه صفتونه د ټولنې لپاره یو لوي شراو په دین او اخلاقو باندې ستر جنایت اوتعرض دی، او دغسې مرض چې کله په کوم امت کې پیداشي، نو د زوال زنګ یې ووهل شي او د تباهۍ له کوابښ سره مخ شي.[۲۷۳]

## ۸– حقوقو سپارلو ته بلنه:

باید پدې پوه شو او پوره باور ولرو چې که په دنیا کې یو څوک دچا حق ورنکړي، نو په آخرت کې به یې خامخا ورکوي، نو راځئ چې د آخرت هغه ورځ په را په یاد کړو په کومه ورځ کې چې الله تعالی له ظالم څخه د مظلوم حق اخلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ((**مَن كانت له مظلمةٌ لأحدٍ مِن عِرْضِهِ، أو شيءٌ؛ فَلْيَتَحَلَّلْهُ منهُ اليومَ، قبلَ أنْ لا يكونَ دينارٌ ولا دِرْهَمٌ، إنْ كانَ لهُ عَمَلٌ صالحٌ أُخِذَ منهُ بقدْرِ مَظلمَتِهِ، وإنْ لم يَكُنْ لهُ حسناتٌ أُخِذَ مِن سيئاتِ صاحِبِهِ، فحُمِلَ عليهِ**)).[۲۷۴] پر چا باندې چې د کوم مسلمان ورور د مظلومیت حق وي له پَت او عزت او یا بل څیز څخه، نو نن ورځ ( په دنیا

---

[۲۷۳]. وګوره:الحدیث والثقافة الإسلامیة للصف الثاني الثانوي، الشیخ مناع خلیل القطان، ص ۱۸۸- ۱۸۹( موضوع: الرشوة والخیانة سبیل لهلاك الأمم).

[۲۷۴]. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ) دې ځان ورڅخه فارغ کړي، مخکې لدې چې بيا به په آخرت کې نه ديناراو نه درهم[۲۷۵] وي. او که هغه لره کوم نيک عمل وي د هغه ظلم په اندازه به ورڅخه واخستل شي او حق دار ته به يې ورکړل شي او که نيکۍ نه لري، نو د مظلوم بدۍ به راواخستل شي او پده به بار شي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((**لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنْ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ**)).[۲۷۶] دقيامت په ورځ به خامخا حقدارانو ته د هغوى حق ورکوئ ، آن تر دې چې له ښکرورې ګډې (يا وُزې) څخه به بې ښکرو ته ( چې وهل شوي وي) هم بدله اخستل کيږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((**أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟ قَالُواالْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ، وَيَأْتِي وقَدْ شَتَمَ هَذَا، وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا، فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ**)).[۲۷۷] ايا تاسې پوهيږئ چې نيستمن او تش لاسى څوک دى؟ صحابو وويل: په مونږ کې خو تش لاسى هغه څوک دى چې روپۍ او دنياوي سامان ونه لري. نو هغه وفرمايل: زما د امت مفلس هغه دى چې د قيامت په ورځ به د لمانځه، روژې او زکات عملونه ورسره وي. پداسې حال کې به راشي چې يو چا ته به يې کنځلې کړې وي، په يو چا به يې تهمت لګولى وي، د يو چا مال به يې خوړلى وي، د چا وينه به يې توى کړې وي او يو څوک به يې وهلى وي. نو دې او هغې (ټولو مظلومانو) ته به د ده له نيکيو څخه نيکۍ ورکړل شي، او که نيکۍ يې ختمې شي مخکې لدې چې د هغوى حقونه اداء

[۲۷۵]. دهغې زمانې د دوه سيکو (پولې واحدونو) نومونه دي چې دينار يې د درهم په نسبت زيات قيمتي و.

[۲۷۶]. صحيح مسلم

[۲۷۷]- صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو د هغوی گناهونه به راواخستل شي او پده باندې به واچول شي، بیا به دوزخ ته وغورزول شي.

نو کومو خلکو چې په دنیا کې ظلمونه کړي او دخلکو حقونه یې اخستي دي باید چې هغوی ته یې وسپاري اویا ورڅخه معافي وغواړي، چې دا د بنده په حق کې له گناه څخه د توبې ویستلو یو شرط دی.[۲۷۸]

او که یو چا داسې مال او دارائي ترلاسه کړي وي چې ټاکلې خاوند نه لري، بلکې د ولسونو او ټولنو شریکه پانگه (بیت المال) وي، نو باید چې هغې ته یې ور وگرځوي او که بیت المال موجود نه وي، باید چې په عامه کارونو لکه د سرحداتو د بندولو او پیرئ په انتظاماتو کې، د جهادي لښکرو په لگښتونو او داسې نورو کارونو کې یې مصرف کړي. همدارنگه د مسلمانانو د حاکم او بادشاه دا فرض دي چې کله په غصب او ناجائزه طریقه سره لاس ته راوړل شوي مال او شتمنۍ خاوندان وپیژندل شي، نو غاصبین پدې مکلف کړي چې خپلو خاوندانو ته یې وروسپاري او که خاوندان او د هغوی وارثان نه وي، باید چې د توبې ویستلو سره سره یې د مسلمانانو په عامو مصالحو کی مصرف کړي.[۲۷۹]

د مالي حقونو په باب کې باید د رسول الله صلی الله علیه د غه وینا هم د سترگو په وړاندې وگرځوو: (( وَمَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ , فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ )).[۲۸۰] او د چا چې غوښه پر حرامو راغټه شي، نو د دوزخ زیات وړ دی.

---

[۲۷۸]. د بنده په حق ضایع کولو کې د توبې شرطونه لومړی: د هغه گناه پرېښودنه، پر هغې پښیمانتیاکول، دا عزم کول چې بیا به ورته نه راگرځي، او څلورم شرط دا چې هغه حق ورته واپس کړي یا ورڅخه معافي وغواړي..

[۲۷۹]. وگوره :الأمر بالمعروف و النهی عن المنکر، شیخ الإسلام ابن تیمیه، ص ۳۸

[۲۸۰]. المعجم الاوسط للطبراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه سخت وعید په وړاندې به هغه خلک څه کوي د چا غوښه چې د جوارۍ ( قمار) یا د کهانت د ګټې، یا د کوډو ( جادو ) یا دغیب ویلو، یا په باطله سره دم او تعویذونو کولو له لارې رالویه شوي وي؟ همداراز هغه خلک چې د فاحشو او چټلو کارونو او ډمبازۍ له لارې پیسې لاس ته راوړي. یا د شرابو، مخدره موادو، د ټي وي او فضائي خپرندویه چینلونو، غلا، اختلاس، د حقونو غصبولو، له حقوقو څخه منکریدلو، په خرڅلاو کې عیب پټولو، په تجارت کې چل او دوکې کولو، په وزن او تول کې کمي کولو، سود خوړلو، د یتیمانو مال په ناحقه خوړلو، د اوقافو پر مالونو باندې خیټه اچولو، د رشوت اخستلو او ورکولو، په ناجائزه سره وکالت کولو او یا په داسې نورو ناروا معاملاتو او کارونو کې مشغولیدلو سره مال او شتمني لاس ته راوړي، دغسې وعید ورته متوجه دې نو باید په خپلو کارونو کې تجدید نظر وکړي او د حلال مال او حلالې ګټې په تلاش کې شي.

**۹- مخکې له بیا رغونې انسان جوړونه:**

د موجوده حکومت له رامنځ ته کیدو وروسته دغه لفظ (بیا رغونه) او پدې مفهوم سره ډېرې جملې او خبرې مو ولیدې او واوریدې، خو متاسفانه چې دغسې او دې ته ورته شعارونه چې په ظاهر کې ځلیدونکي ښکاریدل، ولس ته په زیاترو حالاتو کې دوکه ورکوونکي تمام شول.

هغه په ملیاردونه ډالر چې د افغانستان د بیا رغونې او بیا آبادۍ لپاره راغلل، ایا د دې هېواد پوره اعمار ته کافي نه ؤ؟ ځواب دادی چې د هغې زیاتره برخه د ځینو خاینو وګړو جیبونو ته ولاړه.. او پدې خیانتونو کې بیلابیل اړخونه درګیر ؤ، لومړی په خپله بهرنیان او ورپسې ځینې داخلي متعدد وګړي او ما فیایي کړۍ. چې پدې طریقه زموږ په هېواد کې خیانت کول، رشوت اخستل، غصب کول، او د بل حق هضمول دغسې وګړو ته ډېر آسانه کارونه وګرځیدل، او که د دې ستونزې مخنیوی ونه شي، نو د ناسور په څیر لاعلاجه وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بايد وويل شي د اداري فساد پر ضد د اداري اصلاحاتو په نوم سره چې په تيرو وختونو کې کومې اداري رامنځ ته شوې وې، په خپله د فساد اداري ښکار وګرځيدې...

نو ترڅو چې د حکومتي نظام د سمون لپاره داسې کړنلاره اختيار نه شي چې مخکې د هېواد له بيا رغونې د فرد او ټولنې بيا رغونې ته پکې پاملرنه شوې وي. همدارنګه لومړی حکومتي کارمندان او مسئولين سم او اصلاح نه شي، نو هيڅکله به حکومت او نظام اصلاح نه شي، او د هغه واقعيت له مخې چې کله اوبه له بره خړې وي ښکته هم خړې وی، بايد لومړی د لوړ پوړو چارواکو اصلاح ته پاملرنه وشي بيا د نورو.

داصلاح په ميدان کې تر ټولو د مخه په عامو او خاصو هېوادوالو کې ديني بيداري او د الله په وړاندې دمسئوليت احساس پياوړی کول... يو بنسټيز حل دی، خو د دې ترڅنګ وخت پر وخت د چارواکو محاسبه کول، د خاينو وګړو پر ضد عملي ګامونه اخستل هم اړين دي چې دا کار پرته له واقعي اسلامي او بې له عادلانه نظامه ناشونی دی.

همدارنګه په هېواد او ټولنه کې د عامو او خاصو وګړو اړيکه له خپل پالونکي ذات سره ټينګول, د هغوی د عملونو اصلاح د ستونزو اساسي حل دی.

## ۱۰– د لومړنيو خلکو د اصلاح لار خپلول:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:((**صَلَاحُ أَوَّلِ هَذِهِ الْأُمَّةِ بِالزُّهْدِ وَالْيَقِينِ، وَيَهْلِكُ آخِرُهَا بِالْبُخْلِ وَالْأَمَلِ**)).[۲۸۱] د دې امت د لومړنيو خلکو اصلاح او سمون په زهد[۲۸۲] او يقين[۲۸۳] سره شوی و، او وروستني به يې په بخل

[۲۸۱]. الزهدلاحمد,المعجم الاوسط,للطبراني,حديث حسن (صحيح الجامع الصغير و زيادته, الالباني۲/ ۷۱۵).

[۲۸۲]. له دنيا څخه بې رغبتي.

[۲۸۳]. پوخ باور چې شک پکې نه وي او نيک عمل ته هڅونکی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اوږد امید لرلو سره تباه کیږي.او امام مالك رحمه الله ویلي: ((**لن يصلح آخر هذه الأمة إلا بما صلح به أولها**)).د دې امت وروستني به هیڅکله اصلاح نه شي مګر پر هغه څه چې د دې امت لومړنيو پرې اصلاح شوي ؤ.

نو که مونږ پر دښمنانو باندې غلبه، په ژوند کې آرامي او هوساینه، په ټولنه کې عدالت او انصاف او نورې ښیګڼې رایجول غواړو، نو باید چې لومړی د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم پیروي وکړو، دويم د دې امت لومړنیو(صحابه کرامو) او بیا ورپسې د غوره پیړیو خلکو ژوند ته وګورو او د هغوی پسې اقتداء وکړو.

د امت په اصلاح کې د زهد او یقین راتلل بستېز رول لري لکه څرنګه چې یې پدې مخکې نبوي ارشاد کې یادونه شوې، همدارنګه نوموړی نسخه د موجوده اسلامي امت د حالاتو له سمون سره خورا زیات نژدې تړاو لري.

په حقیقت کې زهد په یقین باندې ودریږي. کله چې بنده د آخرت په سزا او ثواب باندې پوخ باور او یقین ولري، نو بیا ورته دنیا او مال سپک ښکاري چې د آخرت په مقابل کې ورته هیڅ ارزښت نه ورکوي. بلکې د دنیا ژوند اووسائل د آخرت د ژوند لپاره توښه ګرځوي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند کې چې کوم زهد ؤ او صحابو رضي الله عنهم چې کوم زهد درلود هغه په پوره توګه د دنیا له نعمتونو څخه ځان محرومول نه ؤ، بلکې هغه زهد د ځان پاکوالي ( تزکیې) او په سختیو باندې یې عادت کول ؤ، ترڅو دنیا او مال د دین په لار کې د مجاهدې کولو ، او دالله د رضاء د حاصلولو په مخ کې خنډ ونه ګرځي.

په ژوندکې زهد او له دنیاوي ګټو او نعمتونو څخه ځان سپکول او بې تکلفه او د سادګۍ ژوند اختیارول د ایمان له څانګو څخه یوه څانګه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:((**إِنَّ الْبَذَاذَةَ مِنَ الْإِيمَانِ**)).[۲۸۴] بیشکه چې په ژوند کې سادګي او تقشف له ایمان څخه دی.

له تقشف مراد دانه دی چې انسان په پوره ډول له نعمتونو څخه ځان بې برخې کړې، بلکې معنايې داده چې بنده باید د ژوند له وسائلو او نعمتونو څخه ځان درونډ نه کړي.. دا ځکه چې که مونږ د مال او نعمتونو په استعمال کې له سر څخه تر پښو پورې ډوب شو او همیش هوسا او آرام ژوند سره ځانونه عادت کوو، نوبیا به څنګه وکولای شو چې خپل ځانونه د الله تعالی په لار کې سرښندنې او قربانۍ ته وړاندې کړو؟ همدارنګه په عیش او عشرت باندې ځان عادت کول انسان حرام مال ته اړباسي، د دې لپاره چې د انسان په حالاتو کې تغیرات او بدلون راځي، کله نا کله له مالدارۍ وروسته پرې غریبي هم راځي، چې بیا ځینې خلک په غریبۍ باندې صبر کولو کې پاته راځي، او حرامو ته لاس اچوي..

د فتنو پدې زمانې کې او د خلکو د فکري او عقیدوي پراګندې پدې حالاتو کې چې ځوانان د بیلابیلو منحرفو افکارو او نظریو ښکار ګرځي. او داچې دنیاوي وسائلو، مادي ګټو او منصب ته د رسیدلو په خاطر ډېر خلک دین او آخرت ته نه ګورئ.. نو پداسې حالاتو کې دا اړینه ده چې یو مسلمان د زهد او یقین دې مفاهیمو ته پوره پاملرنه وکړي.

له دنیا څخه بی رغبتي، له نعمتونو او وسائلو څخه ځان سپکول او په هر کار کې د الله رضا لټول د یو مسلمان د کامیابۍ او فلاح تضمین کوي. الله تعالی ته محبوب او خوښ بندګان هغه دي چې په ژوند کې زهد اختیار کړي او د نعمتونو په استعمال کې زیاتوالی ونکړي، رسول الله صلی الله فرمايي: ((**ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللَّهُ، وَازْهَدْ فِيمَا فِي أَيْدِي النَّاسِ**

[۲۸۴]. سنن ابي داود

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يُحِبّوكَ**)). [۲۸۵] له دنيا څخه بې رغبته اوسه چې الله به دې خوښ کړي او له هغه څه بې رغبته اوسه چې له خلکو سره دي چې خلک به دې خوښ کړي.

**عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ** له معاذبن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی، کله چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم هغه يمن ته ( د والي په صفت) ليږه نو داسې يې ورته وفرمايل: (( **«إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ؛ فَإِنَّ عِبَادَ اللَّهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ**- [۲۸۶] له خوندونو او راحت طلبۍ څخه ځان وساته، بيشکه چې د الله بندګان خوندونه غوښتونکي او راحت طلبه نه دي)). ابو درداء رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله وسلم فرمايلي دي: (( **إِنَّ أَمَامَكُمْ عَقَبَةً كَئُودًا لَا يَجُوزُهَا الْمُثْقِلُونَ» فَأُحِبُّ أَنْ أَتَخَفَّفَ لِتِلْكَ الْعَقَبَةِ**- ستاسې په وړاندې سخته غونډۍ ده چې دانده خلک ورباندې نه شي تيريدلی)). ابودرداء رضي الله عنه وايي: نو زه پر هغه غونډۍ باندې د تيريدلو لپاره ځان له مال څخه سپکوم. [۲۸۷]

انسان د خپل عمر په اوږدو کې له ځان سره جهاد کولو او مجاهدی ته اړتيا لري، پدې معنا چې خپل ځان د شريعت تابع کړي، د خپل هوس پسې لاړ نه شي، ځان په سختيو عادت کړي، د مزو او چړچو زندګۍ ته شاه کړي، او د الله تعالی اطاعت ته مخه کړي لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (( **وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبَ، وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ**)). [۲۸۸] اصلي مهاجر هغه څوک دی چې ګناهونه او شريعت خلاف کارونه پريږدي او اصلي مجاهد هغه دی چې د الله په طاعت او عبادت کې له ځان سره جهاد وکړي.

---

[۲۸۵]. سنن ابن ماجه

[۲۸۶]. مسند احمد

[۲۸۷]. مستدرك الحاكم

[۲۸۸]. مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو مسلمان بايد په لږې شتمنۍ او کم مال درلودلو سره خفه نه شي، او نه مال او دنيا لرل د کاميابۍ او کمال معيار وګرځوي، ځکه چې د انسان کاميابي او ارزښت په ديندارۍ او نيک عملۍ کې دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: ((إِنَّ اللَّهَ قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ، كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ، وَإِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ، وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا لِمَنْ أَحَبَّ، فَمَنْ أَعْطَاهُ اللَّهُ الدِّينَ، فَقَدْ أَحَبَّهُ.. وَلَا يَكْسِبُ عَبْدٌ مَالًا مِنْ حَرَامٍ، فَيُنْفِقَ مِنْهُ فَيُبَارَكَ لَهُ فِيهِ، وَلَا يَتَصَدَّقُ بِهِ فَيُقْبَلَ مِنْهُ، وَلَا يَتْرُكُ خَلْفَ ظَهْرِهِ إِلَّا كَانَ زَادَهُ إِلَى النَّارِ، إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَمْحُو السَّيِّئَ بِالسَّيِّئِ، وَلَكِنْ يَمْحُو السَّيِّئَ بِالْحَسَنِ، إِنَّ الْخَبِيثَ لَا يَمْحُو الْخَبِيثَ)).[۲۸۹] بيشکه چې الله تعالی ستاسې ترمنځ اخلاق ويشلي دي، لکه څرنګه چې يې ستاسې ترمنځ ستاسې روزۍ ويشلي دي، او بيشکه چې الله عزوجل دنيا هر چا ته ورکوي که يې خوښ وي او يا يې خوښ نه وي، اويو بنده چې کوم مال له حرامو لاس ته راوړي او بيا يې لګوي، نو برکت به پکې نه وي، همدارنګه کومه صدقه چې ورڅخه ورکوي هغه به يې ( د الله تعالی په نزد نه قبليږي) او هغه چې له ځانه وروسته يې پريږدي دوزخ ته به يې د لارې توښه وي، بيشکه چې الله عزوچل بدي پر بدۍ باندې نه محوه کوي، لیکن بدي پر نيکۍ باندې محوه کوي او بيشکه چې چټل شی پر چټل باندې نه لرې کيږي.

کوم خلک چې کوښښ او هلې ځلې يې يوازې د دنيا لپاره وي بې لدې چې آخرت په نظر کې ونيسي، او په حرامو لارو باندې مال لاس ته راوړي ، يا دنيا ته په آخرت او دين باندې ترجيح ورکوي پدې دې پوهه شي چې د آخرت له کاميابۍ به بې برخي وي، الله تعالی فرمايلي: ((مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُۥ فِيهَا مَا نَشَآءُ لِمَن نُّرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُۥ جَهَنَّمَ يَصْلَىٰهَا

---

[۲۸۹]. مسند احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَذۡمُومٗا مَّدۡحُورٗا ۝ وَمَنۡ أَرَادَ ٱلۡأٓخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعۡيَهَا وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ كَانَ سَعۡيُهُم مَّشۡكُورٗا ۝ )).[۲۹۰] هرڅوک چې عاجله دنيا غواړي، نو په جلتۍ سره (مخکې له آخرته) په يې ورکړو څومره چې موږ غواړو چا ته مو چې اراده وشي، بيا به ( په آخرت کې ) د هغه لپاره دوزخ وي هغې ته به ورننوځي پداسې حال کې چې ملامت کړی شوی او د الله تعالی له رحمته شړل شوی به وي. او هرڅوکه چې آخرت غواړي او د هغې لپاره کوښښ کوي پداسې حال کې چې دای مومن وي، نو بيشکه د دغسې خلکو کوښښ او هلې ځلې ( د الله تعالی په نزد) مقبولې دي.

بايد چې يو مسلمان په دنيا کې د مسافر په څېر ژوند وکړي، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم زه له اوګو څخه ونيولم راته يې وفرمايل: ((**كُنْ في الدُّنْيا كأنَّكَ غريبٌ، أو عابرُ سبيلٍ** )) په دنيا کې داسې اوسه لکه مسافر اويا لاروی ( په لارې تيريدونکی).او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به ويل: ((**إذا أمْسيْتَ فلا تَنْتَظِر الصَّباحَ، وإذا أصْبحْتَ فلا تَنْتَظِر المساءَ، وخُذْ مِنْ صِحَّتِكَ لمرضكَ، وَمِنْ حياتكَ لموتِكَ**.[۲۹۱] کله چې درباندې بېګا شو، نو د سبا انتظار مه کوه. او کله چې دې سبا کړ، نو د بيګا انتظار مه کوه. او له صحت څخه دې مرض ته واخله او له ژوند څخه دې مرګ ته)). امام نووي رحمه الله وايي: محدثينو د دې حديث په شرحه کې داسې ويلي: دنيا ته ميلان مه کوه او مه هغه خپل وطن ګرځوه چې ګويا ته به پکې ډېر پاتې شې او مه ورته پاملرنه کوه. د هغې له څيزونو سره تعلق مه ساته، مګر په هغه اندازه چې مسافر يې په پردي وطن کې ( د اړتيا په اندازه)

---

[۲۹۰]. الاسراء ۱۸- ۱۹
[۲۹۱]. البخاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورڅخه اخلي. او مه پکې زيات مشغوليږه بلکې ځان داسی وګڼه چې ته پکې يو مسافر يې او بيرته به خپلي کورنۍ او وطن ته ورڅخه ستنيږې.[۲۹۲]

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په پوزکي (بوريا) باندې ويده شوی و چې په اړخ (مبارک) کې يې د هغې (پټو) اثر کړی و، نو موږ ورته وويل: ای د الله پيغمبره! يو نرم فرش به درته هوارو و، نو ويې فرمايل: ((**مَا لِي وَلِلدُّنْيَا، مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلاَّ كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا**)).[۲۹۳] زما له دنيا سره څه کار دی، نه يم زه په دنيا کې مګر د سپور غوندې چې د دمې لپاره د يوې ونې سيورې کې کيني بيا ولاړ شي او هغه پريږدي.

علي کرم الله وجهه ويلي: ((**ارْتحلَتِ الدنيا مُدبرةً، وارْتحلَتِ الآخرةُ مُقْبلةً، ولكلٍّ واحدة منهما بَنُونَ، فكُونوا مِنْ أبناءِ الآخرةِ، ولا تكونوا مِن أبناءِ الدُّنيا، فإنَّ اليومَ عملٌ ولا حِسابَ، وغداً حسابٌ ولا عَمَلَ.**)).[۲۹۴] دنيا شاته روانه ده او آخرت مخې ته راروان دی او ددې هر يوه لپاره زامن دي، نو تاسې د آخرت زامن شئ او د دنيا زامن مه کيږئ. بيشکه چې نن ورځ عمل دی او حساب نشته او سبا ورځ به حساب وي عمل به نه وي.

## ۱۱– د نيکمرغه ژوندون په لور:

نن سبا چې د تيکنالوژئ او مادي وسايلو په پرمختګ سره ټولې نړۍ د يوې قريبې يا کلي شکل اختيار کړی دی، د مادياتو، عيش او عشرت په اسبابو کې يو تربله بيلابيلې سيالۍ او مسابقې روانې دي.. په دنياوي ژوند کې يو له بله اغيزمن کيدل، له پرديو له فرهنګ او کلتور څخه د مسلمانانو د نوي نسل متاثره کيدو پديده او داسې نورې ناخوالی دا ټول

[۲۹۲] .رياض الصالحين، للنووي، ص ۱۸۷
[۲۹۳] .**جامع الترمذي**
[۲۹۴] . **البخاري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لامل شوي چې بايد اسلامي امت لکه څرنګه چې د متې او اسلحې په زور د يرغلګرو مقابله کوي، بايد چې د هغوی په مقابل کې له فکري جګړې څخه هم ناخبره نه شي.

او د مادي مُغرياتو (دوکه کوونکو) شيانو په وړاندې، يو مسلمان د آخرت هميشنۍ ژوند را په ياد کړي، هميش دا فکر له ځانه سره حاضر کړي چې ژوند خو يوازې همدا د دنيا ژوند نه دی اونه يوازې د دنيا مزو، چړچو او ظاهري ښکلا ته نعمت او هوساينه ويل کيږي، دا خو د مادي خلکو تصور او معيار دی، الله تعالی فرمايي: ((يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ﴿٧﴾)). [۲۹۵]هغو (کافران) د دنيا د ژوند په ظاهري اړخ باندې پوهيږي او په حقيقت کې هغوی له آخرت څخه ناخبره دي.

د ژوند په مادي اړخ باندې غوليدلي خلک او يا کمزوري مسلمانان دا تصور کوي چې ولې همیش همدا مونږ مسلمانان له ستونزو او مشکلاتو سره لاس په ګريوان يو نه کفري ټولنې؟!

نو دغسې خلک دې پدې کې لږ غور او فکر وکړي چې کفري ټولنې او په ځانګړې توګه لويديځوال د اخلاقي زوږتيا په وجه پداسې عذاب کې راګير دی چې زمونږ فقر او نيستي ورسره هيڅ پرتله کيدای نه شي. تاسې نه ګورئ چې غربي ټولنه د ايډز د تباه کوونکي مرض ښکار ګرځيدلې ده، هلته کورنۍ نظام له منځه تللی دی او غربي انسان لداسې پريشانۍ او سرګردانۍ سره مخ دی چې له امله يې د خپل ځان په وژلو باندې هم صرفه نه کوي!!!

که الله تعالی ځينې کافرانو ته دنياوي وسايل پراخه کړي، او ژوند زيات وسايل يې ورکړي؛ داځکه چې هغوی د آخرت له نعمتونو څخه محرومه

---

[۲۹۵] ـ الروم ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، که الله تعالی هغوی ته د ژوند لدي نعمتونو او وسائلو پرته نور هم ورزيات کړي، نو د آخرت له هغو همیشنیو نعمتونو سره نه برابريږي چې الله تعالی یې له خپلو مومنو او پرهیزګارو بندګانو سره وعده کړې ده.

الله تعالی فرمايي: (( وَلَوْلَآ أَن يَكُونَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَن يَكْفُرُ بِٱلرَّحْمَٰنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِّن فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَٰبًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِـُٔونَ ﴿٣٤﴾ وَزُخْرُفًا ۚ وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۚ وَٱلْءَاخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ )).[۲۹۶] که نه وای ( دا وېره ) چې ټول خلک یوه ډله ( متفق په کفر) نو ګرځولي به مو ؤ هغه چا ته چې رحمان ذات نه مني کوټو د هغوی ته چتونه د سپينو زرو، او زینه پايي هم له سپينو زرو چې پر هغې چتونو ته ورخيژي. او د هغوی د کورونو دروازې او د هغوی تختونه به هم له سپينو زرو ؤ ترڅو دوی ( پر هغو تختونو ) تکيه کولی. او د سرو زرو ښيزونه او نور د زينت شيان به مو هم ورکړي وای ( خو که داسې نعمتونه مو هم ورکړي وای) بيا هم دغه ټول د دنياوي پاتې کيدونکي ژوند سامان او وسائل دي، او ستا د پالونکي په نزد باندې پرهيزګارانو ته د آخرت نعمتونه دي.

د دنيا دغه وسائل بلکې ټوله دنيا د الله تعالی په نزد هيڅ قيمت او ارزښت نه لري.اوکه ارزښت يې درلودلای، نو بيا خو به الله تعالی دې کافرانو ته (چې د الله تعالی دښمنان دي ) يو ګوټ اوبه هم نه وای ورکړې، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي (( **لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ**

---

[۲۹۶]. **الزخرف ۳۳-۳۵**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ)).[۲۹۷] که چېرې د الله تعالی په وړاندې دنیا د ماشي د وزر برابر (قیمتي) وای، نو کافر ته به یې ورځخه یو ګوټ او به هم نه وی ورکړې.

باید پدې پوه شو چې د دنیا ظاهري ښکلا، دنیا وي وسائل او پراخي د انسان د نیکمرغۍ او خوشحالی یواځینی سبب نه دی، ترڅو چې ورسره د زړه اطمئنان، د نفس موړوالی او قناعت موجود نه وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ((لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ)).[۲۹۸] په زیاتوالي د مال باندې بډاوالی نه راځي، بلکې د یو چا نفس چې موړ (او بې پروا) وي، نو همدا موړوالې دی. او فرمایي: ((قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَا آتَاهُ)).[۲۹۹] په یقیني توګه کامیاب دی هغه څوک چې د اسلام پر دین باندې مشروف شي، کافي روزي ورکړ شي او څه چې الله ورکړي دي پر هغی یې قانع کړی وي.

او د زړه ارامتیا، اطمئان او سکون د الله تعالی په ذکر سره راځي الله تعالی فرمایي: ((أَلَا بِذِكْرِ ٱللَّهِ تَطْمَئِنُّ ٱلْقُلُوبُ ﴿٢٨﴾ )).[۳۰۰] بیشکه د الله په ذکر او یاد باندې زړونو ته ډاډ او اطمنان په برخه کیږي

د دې دریو صفتونو: د زړه اطمنان، د نفس موړوالي او قناعت سره چې د الله تعالی په عبادت کې د خوند او لذت احساس یوځای شي، نو بیایې لرونکی پوره خوشحاله او نیکمرغه و ګرځي، او د (حیاة طیبة - سپیځلي ژوند) واړه صفتونه پکې موجود شي، هغه ژوند چې الله تعالی یې په

[۲۹۷]. رواه الترمذي
[۲۹۸]- رواه مسلم
[۲۹۹].رواه مسلم
[۳۰۰]. الرعد ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل کلام کې يادونه کړې ده ﴿مَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةً طَيِّبَةً ۖ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩٧﴾﴾.[۳۰۱] څوک چې له تاسې څخه نيک کار وکړي که نارينه وي او يا ښځينه پداسې حال کې چې ايمان لرونکی وي، نو په دنيا کې به ورته سپېڅلی او پاکيزه( د خوشحالۍ او نيکمرغۍ) ژوند ورکړو او په آخرت کې به ورته د نيکو عملونو ښه بدله ورکړو.[۳۰۲]

په پای کې وايو: زموږ دا څېړنه يو بشري کوښښ دی چې له نيمګړتياو به خالي نه وي، نو د ليکنې کره والی او مثبت ټکي يې د الله تعالی په توفيق او مرسته ترسره شوي، او کومه نيګړتيا چې لري هغه به زما له ځانه وي، له الله تعالی نه يې معافي او ښښنه غواړم.

**سبحانك اللهم! وبحمدك، أشهد أن لا إله إلا أنت، أستغفرك وأتوب إليك.**
**اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبيِّ الْأُمِّيِّ و على آله وصَحْبهِ وَ بَارَك و سَلِّمَ.**

محصل غازي زاده

نېټه: ۱ اسد, کال ۱۳۹۹ لمريز

---

۳۰۱. النحل ۹۷

۳۰۲. وګوره: تفسير کابلی **۱۵۷۵/۱**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**